# حدیقهٔ ختک

(دیوان د عبدالقادر خان ختک)

مدوّنه و مرتّبه

دِ

سیّد انوار الحق

یونیورسٹی بک ایجنسی - خیبر بازار - پشاور

Collection of Prof. Muhammad Iqbal Mujaddidi
Preserved in Punjab University Library.

پروفیسر محمد اقبال مجددی کا مجموعہ
پنجاب یونیورسٹی لائبریری میں محفوظ شدہ

Marfat.com

Marfat.com

137002


مُدَوِّن و مُرَتِّب :- سیّد انوار الحق - پشاور

ناشر :- یونیورسٹی بک ایجنسی - خیبر بازار - پشاور -

مقامِ اشاعت :- پشاور

مطبوعہ :- منظور عام پریس پشاور

اشاعت :- جنوری ۱۹۶۹ء

کتابت :- سراج الاسلام سراج

تعداد :-

قیمت :-


Marfat.com

# فہرست


| صفحہ | عنوانات | نمبرشمار |
| --- | --- | --- |
| ۵ | دیباچه | ۱:۔ |
| ۲۵ | معروضات | ۲:۔ |
| ۳۴ | مقدمه (عبدالقادر خان خټک) | ۳:۔ |
| ۴۰ | غزلیات | ۴:۔ |
| ۲۰۲ | رُباعیات | ۵:۔ |
| ۲۳۸ | قصائد | ۶:۔ |
| ۲۶۴ | متفرقات | ۷:۔ |
| ۲۸۲ | فرہنگ | ۸:۔ |


Marfat.com

Marfat.com

بسم الله الرحمٰن الرحیم ط

# دیباچه

## عبدالقادر خان اَوْ د هغه کلام

خاص الخاص، عبدالقادرَ پرِ پوهیږی
عام به څه ستا له اشعارَ مومی حظ

**عبدالقادر خان** د نوموړی خوشحال خان خټک ځوئے وو. هسے خو د خوشحال خان شپېتو پورِ ځامن یادیږی، خو په دو کښِ ډیر په وړوکوالی کښِ مړه شوی وُو. اَوْ ډیر پکښِ داسے هُم وُو چه د هغوئ څه قلمی یادکار نۀ شی موندے، نو په تاریخ کښِ ئے بے د نوموُنو نه نور څۀ اهمیّت نۀ ښکاری ـ خو پینځو شپږو ځامنو ئے، البته، د عِلم و فضل په لحاظ، په اَدبی دُنیا کښِ ځان ته ښۀ اُوچت مقام پیدا کړے دے. اَوْ اُس چه ودځ تیریږی، نو د هغوئ نُوم لاسه څرګندیږی اَوْ ځلیږی. عبدالقادر خان هُم د دغه نامتُو اَوْ ځلندهٔ کسانو سر د فتر دے، چه پکښِ ئے د خپلو رُونړو عزیزانو نه علاوه د خپل وخت نور باهرنی مشاهیر هُم شامل دی.

د دهٔ د پیدایش تاریخ ۲۵ر ذی الحجه سنه ۱۰۶۳ھ = (دسمبر سنه ۱۶۵۲ء) دے. اَوْ په "پټه خزانه" کښ ۲۳ر جمادی الثانی سنه ۱۰۶۱ھ لیکلے شوے دے. خو د وروستنی تحقیقاتو نه پس دا معلومه شوه چه "عبدالقادر خان" د دهٔ تاریخی نُوم دے. اَوْ د اَبجدو په حساب د دے نوم نه ۱۰۶۳ راوځی، نو په دے بِنا دا تاریخ زیات موثق اَوْ مستند شو. د پیدایش ځائے ئے د سرائے اکوړه خټک خټل جدی کور دے. د دهٔ تعلیم اَوْ تربیت د خپل پلار په لاس شوے دے، ځکه چه هغه د خپلو

Marfat.com

نورو ځامنو کړے وو. لکه چه په یوځائے کښې عبدالقادرخان خپله هم وائي :-

"په خدمت لرې د مطالعه کوونیو الناس، عاجزالحق احقرالناس، عبدالقادر، ځوئے د خوشحال ختک، چه اگرچه په ضمن کښې د پلار صفتونه محامد بیانول، خپل صفت معلومیږي، لکه بزرگانو ویلی دي سه

گرد نام پدر چه مي گردي ‌ ‌ ‌ پدر خویش شو اگر مردی

اما دے (خوشحال خان) هم ځما استاد وو، هم پلار- د استادانو اوصافو نه، مدح اکثرو مؤلفانو، په خپلو تالیفو نو کښې راوړې دی، ما هم اقتدا په هغو بزرگانو پسے وکړه."[1]

ویلے دا هم د قدرت کار دے، چه د یو لاس گوتې وی، خو په یو انداز او یوه نمونه نه وی. هم دغه د یو پلار اولاد، قول په یو رنگ او یو شان نه وی- څوک سنه او څوک بد- یو کم او بل زیات- خپل خپل مزاج او طبیعت، خپله خپله خاوره او فطرت- په دغه مناسبت، د تعلیم او تربیت اثر هم په تفاوت وی- لکه :- سه

باران که په بارش کښې تفاوت کا ‌ ‌ ‌ سنه خوره زمکه گل کاندی، شوره خس

هرڅوک په قدر د خپل فطری استعداد، د تعلیم او تربیت اثر قبلوی- موږ گورو چه د نورو رونړو په مقابله کښې عبدالقادرخان د کلام نه، د هغه علمیت، لیاقت، ذکاوت، فراست، سعادت او شرافت زیات څرگند یږی-

کله چه وو، له د نورو استاذانو او اتالیقو په ذریعه وو، خو خوشحال خان خپلو ځامنو ته په فارسئ، عربئ کښې د دینی علوم د درس نه علاوه، علی الخصوص په ادب کښې د شعروسخن او د انشا او املا پوره پوره تعلیم ورکړے وو- او ورسره ئے، هغې په فنِ حرب و ضرب کښې هم په سنه شان تربیه کړی وو- عبدالقادرخان، چه جنگ د تاریخ مرقع نه ثابتیږی، په خپل ځلمیتوب کښې، خپل پلار سره، په مختلفو معرکو او مهماتو کښې شریک شوے وو- او د جنگ په میدان کښې ئے د یو تورزن او زړور

[1] "گلدسته" پښتو ترجمه د گلستان سعدی- له عبدالقادر ختک- مطبوعه پښتو اکیډمی، پیښاور یونیورسټی- ص۶۵،۶۶

Marfat.com

سپاهي په شان، د خپلې تورې، همت اَوْ مړانې زور ښيلې وو، خو دا يې ښکاري، چه لکه ميدانِ کارزار ته وتل اَوْ د قتل يا ئې د خپل پلار په حکم شوي وُو، يا ئې خپله اَنده. د خپل پلار سره مُلاتړ اَوْ د کُمک په طور وُو. خپله دے، فطرتاً نبرد پېښه نه وو. بلکه طبعاً، د تورې په ځائې ئې قلم زيات خوښ وو. دغه سبب دے، چه د خپل عُمر زياته برخه ئې په حصولِ علم، ترجمه، تاليف اَوْ تصنيف، په درس اَوْ تدريس کښې تېره کړې وه. اَوْ په آخر کښې ئې بيا په شريعت اَوْ طريقت دواړو کښې ښه محنت کړے دے، اَوْ د عبادت اَوْ رياضت د پاره گوشه نشين اَوْ خلوت گزين شوے دے. لکه چه وائي:-

" پس م له ډېرو فکرونو، مصلحت دا وُليدو، چه باقي عُمر ځان ته د ناستې، اَوْ پېښې د قناعت په لمن کښې نغښتې بهتر دي. مشغولا له کتاب، ورتله په لورې د مسجد، چه سعادت د دُنيا و آخرت د ے غنيمت کنړلے بويه ے" دا وخت د ده عُمر د شپېتو نه اوړېدلے وو.

عبدالقادرخان، خپله خپل حالات اَوْ سوانح چه څنګه پکار دي، نه دي ليکلي، اَوْ نه په تاريخِ مرصّع کښې د ده څه تفصيلي حالات مُوندے شي. خو څومره پورې چه د مختلفو ذريعو اَوْ دستاوېزاتو يا رواياتو نه ټوکړه ټوکړه اَوْ نيمګړي احوال موندلي شوي دي، د هغونه خو دا ثابتېږي چه بے د يَوْ څو موقعو نه، چه د پلار سره په طور د کُمک په جنګي معرکو کښې شامل شوے وو، نورو مُلکي اَوْ سياسي معاملو کښې، يا د حکومتِ وقت سره د ملازمت، موافقت يا مخالفت په سلسله کښې ده ډېر څه نه دي کړي. که څه دا سے واقعات وُو نو هغه به وقتي اَوْ هنګامي وُو. اَوْ څه مستقل شکل به ئې نه لرلو، چه ده بيان کړے وے. د هغه بس دا يَوْ څو علمي اَدبي شاهکار دي، چه د حال په ژبه خپله د ځان شرح، بيان، تاريخ اَوْ تفصيل برخه برخه دي.

د کلام نه ئې هم دا ښکاره کېږي، چه هغه د حصول مرام د کاميابۍ د پاره د مادّي اَوْ جسماني زور اَوْ طاقت د استعمال، جنګ جګړه اَوْ جدال و قتال په مقابله کښې، روحاني قوّت پېدا کول اَوْ بروئے کار راوستل زيات ښه ګڼړله. په دے وجه، هغه، د خپل وخت د يَوْ بزرګ، عارف، حضرت سعدي (لاهوري)[1]

[1] په يوولسمه صدۍ هجري کښې د لاهور مشهور روحاني بزرګ حضرت شيخ رحماني سعدي نقشبندي (مريد د حضرت آدم بنوري (۲) شاګرد د حضرت شيخ مجدد (۳)) چه په سنه ۱۱۰۸ه کښې ئې رحلت کړے دے. ډګوري صفحه ۲۸۰ عبدالقادرخان ئې د وفات تاريخي قطعه ليکلي ده.

Marfat.com

خوا نه راتېر شوے وو. اَوْ د ښځه د تلقين و ارشاد اَوْ توجّه په سبب ئے د قلب اَوْ ذهن ډېره اصلاح وُشوه. تر دے چه خپل مُرشد، دَے په خرقۂ خلافت هُم نما نځلے وو. روايتاً دا هم معلومه شوی ده، چه ده ته خپل تره فقير جميل بېګ، چه ښځه خپله د حضرت شيخ رحمکار کاکا صاحبؒ مُريد او بيا ئے خليفه شوے وو. خپله لور بی بی په نکاح ورکړی وه. جميل بېګؒ د خوشحال خان سکه کشر رور وو، خو د شروع نه ئے د دُنيا مال و دولت اَوْ جاه و منصب ته شا اَوْ فقر و درويشئ اَوْ عبادت و رياضت ته مخه وه. ښځه د کاکا صاحبؒ په مريدانو کښې د لوئے مرتبے بُزرګ، ولی اَوْ مجذوب تېر شوے دے. عبدالقادر خان به يقيناً د ده نه هُم کافی روحانی فيض حاصل کړے وی. خپله اولاده کښې دے تر اُسه پورے احتراماً د "خليفه صاحب" په نوُم ياديږی. په ښځو کلی کښې، د عبدالقادر خان ديوے لور د سلسلے د اولاد، يوَ ټبر اُس هم شته چه ښئ ته قادرخيلی ويلے شی.

د عبدالقادر خان په حالاتو کښې د "پټے خزانے" مؤلف، د نواب محمّد انور په حواله روايت بيکی چه" د خوشحال بېګ خټک تر مرګ پس، عبدالقادر خان په ۱۱۱۳ھ، کابل کښې ليدل شوے وو. چه د خټکو د قوم له خوا، کابل ته راغلے، اَوْ د کاروانونو د تېريدلو خبرے ئے د بنګش پر خوا کولے. بيا ورانډ بيکی." عبدالقادر خان په هندوستان کښې هُم عمرونه تېر کړل..... نقل کا، چه عبدالقادرخان په طريقت نقشبندی کښې خليفه هم وو. اَوْ د پير خلافت ئے کا. اَوْ د مُريدانو ارشاد ئے کا. شيخ رحمانی سعدیؒ لاهوری په خلافت تا کلے وو."

د پټے خزانے د دعوے تائيد، چه عبدالقادرخان کابل ته لاړ وو، خپله د عبدالقادر خان د يوے رُباعئ نه هُم کيږی. وايی :-

| | |
|---|---|
| له خپل بخت وچا ته زار کړو | د چرخ ناسازے وچا ته شمار کړو |
| ډک دے د کشليو د کابل شهر | هُمره څه نيشته چه يوَ تر يار کړو |

خو د دے پاسنی بيان نه معلومېږی چه عبدالقادرخان د خپل وطن نه بهر د نورو ځايونو په مقابله کښې په لاهور کښې زيات وُسيدلے دے. په دے کښې شک نيشته چه په کلام کښې ئے يوَ څو

Marfat.com

شعرونه داسے هم موندے شی چه ترنه د مسافرئ، غریب الوطنئ، د وطن د پاره مینه اَوْ وطن ته د واپس تلو اَرزو ظاهرېږی، خو نه ئے د سفر سبب، نه ئے د مسافرئ وجه یا د ځائے ځائیګی د نوم یا دا چه باهر څومره موده پاتے شوے وو، هیڅ اَندازه نه لګی. که چیرې د خپل مرشد په خدمت کښې وسېدے، نو زړه د اِخلاص به وو. په داسے وخت کښې پرد وطن مینه هیڅکله دومره غالب کېدے نشی چه کنی هغه داسے اَرمان وُکی چه ؎

ګُنډ وی چه سره بیا په یوه ځائے شُو

په هغو د موږ سلام چه په وطن دی

دا یقیناً بله داسے واقعه ده چه په هغه کښې دَے د وطن نه بهر چیرته راګیر شوے دے، یا د ناسازګار حالاتو نه خپله په دَړه شوے دے اَوْ دا اَرمان ئے کړے دے. لکه په یو ځائے کښې غالباً د یوے چیتئ په جواب کښې لیکی :-

اِشتیاق د لیدو ډېر دے — د بیان ترحده تېر دے
دا کمان کړه له زړه لرِ — چه مِ یار له دِلَ هېر دے
زړه مِ غوځ کا، صورت روغ دے — د هجران عجب شمشېر دے
که ژوندون ترېرځه خوږ دے — په ما زهر یا ګندېر دے
هوس نه پرېږدی چه ورشی — د غم کوټ ترزړه چاپېر دے
کشمیر هم په مهجورانو — رنتهمبور اَوْ ګوالېر دے
د زړه سوے دے چه بے یارَ — په کرک یا په بونېر دے

په دے شعرونو کښې د کشمیر نوم دے خو محض مثال د پاره راوړے شوے بنکاری. البته د کرک (کوهاټ) او د بونېر (سوات) دوه نومونه داسے دی چه دے به اوریته وو، خو دا ځایونه نه خو د وطن نه باهر دی. اَوْ نه د اکوړی نه ډېر لرِ دی. کېدے شی چه دا دواړه هم محض د قافیو په طور بیان کړی شوی وی. اَلبته د ذے شعرونو نه د ده، هرچرته چه وو، خو د ډېرے اوږدے مودے

Marfat.com

د مسافرئ اَوُ مهجورئ په ځائے د دۀ نا اُمېدی اَوُ مجبوری زیاته څرګنده‌یږی. څنګه چه خوشحال خان د رنتهمبور په قلا کښې اوږد دوه نیم کاله د قېد تېرکړی وُو، اَوُ په دے ډېره وخت کښې هغه بیا دا سے مایوس شوے وو، چه د وطن د چاړو بوټو، د کا ږوکیتو، اَوُ د کور د کتو لوتو اَوُ د غرۀ، د سمے اَوُ د سیند په یاد کښې ئے اوږدے اوږدے قصیدے، فراقنامه اَوُ وصیت نامه هرڅۀ بیا لیکلی وُو. پښتوانی شخصی حکومتونو کښې صرف د بادشاه مرضی اَوُ حکم بۀ قاعده اَوُ قانون هرڅۀ وُو. په هر کیف په دے باره کښې عبدالقادرخان خپل څۀ نۀ وایی، اَوُ که څۀ ئے ویلی وی نو هغه په لاس نۀ دی راغلی.

د غه شان د عبد القادرخان د وفات صحیح تاریخ یا کال یا ئے د ژوند د آخری مُودے حالات، د مرګ اَوُ د کفن دفن د ځائے پته هُم نۀ لګی. مشهور انګریز مستشرق، کپتان رپورتی لیکی چه عبد القادرخان د خپل وراره، د اشرف خان مشرځوی افضل خان (یا خپله یا دبل) په لاس مړکړے شوے وو. ځکه چه هغه د افضل خان، خانی نۀ منله. خو دا خبره ډېره قرینِ قیاس ځکه نۀ ده چه عبد القادرخان د دوؤ شپېتو کالو په عمر کښې خو د دُنیاوی جنجالونو نه لاس وکاږی اَوُ عبادت اَوُ تعلیم یا درس تدریس د پاره ځان وقف کئ. اَوُ په هغه وخت کښې د افضل خان عُمر هم مېنه پوخ وی اَوُ خانی ئے هم بېنه مضبوطه اَوُ په عروج کښې وی، نو هغه ته د یوُ داسے کمزوری اَوُ بے بدو سری نه ډېره خطره څنګه لاحق شوه چه هغه ئے بدو سر خوړول غواړی. عبدالقادرخان د ځان د پاره په خپله لیکی سه

همېشه عبدالقادر غنی آزار وړی
چه نه څوک آزاروی نه له چا زار کا

اګرچه دا خبره داسے نا شوُنی هُم نه ده چه د منلو نه ئے هیخ انکار وُکړے شی، ځکه چه په سیاست کښې هرڅۀ هرڅۀ شوی دی اَوُ کیږی. بله دا چه د "پټے خزانے" مؤلف، د عبدالقادرخان په حالاتو کښې لیکی چه ..... " اُس چه دغه کتاب تالیف کوم، ما ته نۀ ده ښکاره چه دا خان په وفات

شوے وی کہ نہ، خو ہسے گنړم چہ وفات شوے بہ وی، ځکہ چہ اُس ئے چا د ژوندانہ خبرنہ دے راکړے. کہ بہ مړ وی خدائے دِ وُ بخنشی ئے "پټہ خزانہ" پہ سنہ ۱۱۴۲ھ کښِ تالیف شوی دہ. یعنی د عبدالقادر خان د عزلت گزینیٔ د نیټے نہ اُوتِس اَتلّس کالہ پس۔ اَوُ ہغہ وخت، د "پټے خزانے" مؤلّف پہ دعوہ دا نۂ شی ویلے، چہ کَنِ عبدالقادرخان بہ "مړ" وی، خو چہ ډیرہ مُودہ راسے تِرِ خبر شوے نۂ وو نو قیاس ئے وُکړو چہ گنړہ مړ بہ وی۔ اُس، ډیرہ مُودہ، خو څلورپنځہ کالہ ہم کیدے شی اَوُ شپږ اَتۂ یا لَس کالہ ہُم - بلکہ د پټے خزانے د مؤلّف (محمّد ہوتک) د عبارت نہ خو دا معلومیږی چہ، عبد القادرخان چہ یَوُ زوړ پوخ سړے وو، اُس بہ پہ خپل طبیعی مرگ مړ وی. ځکہ چہ کہ چیرِ د پټے خزانے د تالیف پہ وخت عبدالقادرخان پہ ریشتیا ژوندے وے نو خواوُشا د اَتیا کالو بہ وو۔ کیدے شی چہ د گوشہ نشینیٔ نہ ډیرہ مُودہ پس وفات شوے وی۔ اَوُ چہ دعام اُولس پہ شان کاروباری، د مَنډو رامنډو اَوُ د جړگو مَرکو ژوند خو ہغہ ہسے ہم پریښے اَوُ د خَلقُ نہ ئے ځان لغښتے وو، نو د پټے خزانے مؤلّف بہ ځکہ خبرنہ وو۔ (واللہ اعلم)

د عبدالقادرخان د علم و فضل پہ بارہ کښِ د ہغۂ عِلمی کارُونہ اَوُ د ہغہ کلام خپلہ پرِ دال دی۔ د فارسیٔ د لوئے شاعِر علاّمہ جامیؒ، د یُوسف زلیخا اَوُ د شیخ سعدیؒ شیرازی د گلستان ترجمے (د نثر پہ نثر کښِ اَوُ د نظم پہ نظم کښِ) اَوُ بیا ئے دیوان، کۂ پہ غور وُکتے شی نو د علمیت اَندازہ ئے پہ ښہ شان لگیدے شی، چہ دے د کُمے پایے عالم و فاضل سړے وو، اَوُ پہ شریعت و طریقت، سلوک و تصوف اَوُ اَدب کښں ئے څُومرہ لاس لرلو. پہ دے دیوان کښں ئے چہ ہغہ پرِ خپلہ "حدیقۂ ختک" نُوم ایښے وو، غزلیات زیات دی - بیا رُباعیات اَوُ قصائد دی اَوُ بیا متفرقات دی، چہ پہ ہغو کښِ د فرد نہ واخلہ تر ترکیب بند اَوُ ترجیع بند، تضمینونہ (د مخمساتو اَوُ مسدسانو پہ شکل) اَوُ تاریخی قطعاتو پہ شان ډیر صنفونہ موندے شی. د صنائع اَوُ بدائع ډیرے ښے ښے اَوُ د اُوچتے پایے نمونے اَوُ ہُم د دغہ شان بیا د موضوع سخن پہ لحاظ ہُم د بہار

Marfat.com

حُسن و عِشق نہ واخلہ د عشقِ حقیقی، بیا پہ روحانیاتو، اَخلاقیاتو، مذہبیاتو کښې پند و نصیحت اَوُ بزمیہ، طربیہ، بہاریہ اَوُ داسے نورو کنزو موضوعاتو باندې ئې خپلہ طبع آزمایلې دہ۔ و پلے د تصوف رنگ پکښې ډیر غالب دے۔ اَوُ پہ ډیرو آسانو اَوُ سادہ وُ ټکو کښې د تصوّف اَوُ د روحانیاتو ډیرے باریکے اَوُ اَوَقے مسئلے بیان کړې دی۔ بلکہ دا سے ښکاری چہ څہ ئیلی نو د ذاتی علم و عمل اَوُ د خپلو مشاہداتو اَوُ تجرباتو پہ بنا ئې ئیلی دی۔ لکہ چہ وایی :۔

ہر غزل مې مبرّا دے لہ تکلیف
پہ سادہ پښتو ویل، شیرین کلام ہُم

ہسے خو د بنیادم خاورہ، د مینے محبت اَوُ د عشق پہ اُبو اَخښلې شوې دہ، لکہ چہ خپلہ عبدالقادرخان ویلی دی

ثمرہ ئې خواہ مجاز خواہ حقیقت دے | چہ انسان کښې ئې کرلے د عشق زړے

و پلے، د عشقِ حقیقی د پارہ وایی :۔

عشق، عطادہ اَزلی چہ پہ چا وُشی | پہ ارشاد اَوُ پہ تلقین را غلے نہ دے

نو پہ چا چہ د اللہ پاک دا عطا وُشی اَوُ د عشقِ حقیقی نہ څہ برخہ وُموبی اَوُ د حق تعالیٰ قُرب ئې حاصِل شی، بیا ہغہ چہ څُہ حقیقت نہ نیزدو کیږی، دُمرہ ئې پہ خُلہ د خاموشئ مُہر لگی۔ شیخ سعدیؒ وایی ( ترجمہ د عبدالقادرخان ) ؎

اے د سحرچرگہ، عشق حاصل کړہ لہ پتنگ | وُسوزی پہ اور کښې، ہیڅ اَواز نہ کا لہ ننگ
ہرچہ لاف د عشق کا، بیا لہ عشق گفتگوئے کا | تښتے د عوے کاندې پہ سالُوس ئې جامہ رنگ
گُفت پہ شریعت کښې دی، سکُوت پہ حقیقت کښې | کلہ ویل کاندې، مقرّب د شاہ لہ څنگ

عبدالقادر خان خپلہ ہم وایی :۔

د خپل زړہ پہ تختہ کښہ عبدالقادر | پہ کاغذ د عشق ویل نہ دی د کښو
یا دا چہ سہ حقیقت د عشق پہ خُلہ ویلے نہ شی | دغہ اور بے رِدل نور سہ لے نہ شی

Marfat.com

اول خو د حقیقت ادراک اَوُ احساس هرڅوک کولے نه شی - د ښځے د پاره باریک بین تېز نظر لرے رسید ونکے ژور فکر، وسیع اَوُ فراخه مشاهده، لویه اَوُ د موُدو تجربه، زبردسته مطالعه، د بیان پوُره پوُره قدرت اَوُ په ژبه اَوُ الفاظو شته قابو ېکار دے، خو سره د دے هم لولو خوبیو، د مجرد حُسن، د مینے یا د بل یوُ حقیقت بیان، په الفاظو کښې ناممکن دے. ځکه چه حقیقت چه د مجاز یا د الفاظو جامه واغندی نو بیا بیُن حقیقت کله پاتے شی. ښځه په الفاظو کښې دننه پټه شی، اَوُ چه په څه شکل ښیښېږی اَوُ څرګندېږی ښځے نه مجازی، مثالی، تشبیهی، اضافی یا نسبتی ویلے شی، ښځه جوهر نه وی عرض وی - اَصل نه وی، نقل وی چه په یوُ مشبیهه اَوُ شکل کښې ښیښ شی. لکه څوک چه د یوُ سړی نه پتوس وُکړی چه ته څوک یے ؟ ښځه خپلے سینے ته ګُته وُنیسی اَوُ وُوایی چه " زه دا یم !" وبلے مشارٌ الیه د ښځه سینه یا د وجود بل یوُ ځائے اندام یا حصه وی - هم د غه شان سړے چه په ګم ځائے ګُته کیږدی یا ورته اشاره کئی، نوکه دننه وی که بهر خو ښځه یوُ داسے ځائے وی چه بیل شکل، بیل نوُم اَوُ بیل صفات لری - غرض دا چه سړے دا نه شی ښیلے چه د ښځه "زه" یا "یم" چیرته اَوُ په کُم ځائے کښې دے - د ښځه "زه" "ما" یا "یم" د ښځه په ظاهری وجود کښې پټ وی - یا د خوږو مثال واخلئ - محض "خوږوالے" که څوک بیا نول غواړی نو ترڅو چه ورته څه سره مثال ور نه کړی، لکه ګړه، نابات، کبین یا بل څه خوږ څیز، چه اورېدونکے خپله د خوږوالی نه ئے خبر وی، نو تر ښځے د خوږوالی هڅ کیفیت د بل په ذهن کښې نه شی کښېښولے - خلاصه دا چه حقیقت همیشه ځان پټ ساتی - که څرګندېږی نو مجازی شکل کښې به وی. په دے وجه شاعر په شعر کښې هم د حُسن اَوُ د مینے، عین حقیقت نه شی ښکاره کولے - سره د دے چه شعر، د بیان یوه مختصره، منظمه، جامعه، لطیفه اَوُ شکلی طریقه ده، چه شاعر پکښې هر لفظ په داسے انداز کښې راولی، یا وئے پېری، چه ښځه د لغوی اَوُ اصطلاحی معنو په لحاظ د جزئیات موزون اَوُ مناسب وی - لکه غالب چه ویلی دی ؎

ګنجینهٔ معنی کا طلسم اس کو سمجھئے
جو لفظ کہ غالب مرے اشعار میں آئے

Marfat.com

بیا هم د حقیقت د اظهار د پاره، شعر یَوَ ناکافی اَوْ نامکمل شے دے۔ عبدالقادرخان وایی ؎

د حرفونو لوښے تنګ، معنے دی ډیرے
په بیان نه اَدا کیږی صفت ستا څخ

چه شاعرئے له څه څیز سره تشبیهه کا
همره نه دے لطافت نزاکت ستا څخ

بیا وایی ؎

هیڅ تشبیهه ئے نشته په جهان کښې
نو هیږم چه یار څه رنګه وستایم

هر څو که د عشق حقیقی هغه منزلِ مقصود ته مزل د عشقِ مجازی په لار کولے شی، اَوْ په مطابق د دے حدیث چه المجاز قنطرة الحقیقه۔ یعنی مجاز د حقیقت پوری ده۔ وپلے بیا هم څوره چه حقیقت ته نږدو کیږی همره به مجازی خبرے پریږدی اَوْ تر نه به مستغنی کیږی. په مجازی مینه کښې مین خپل ځان بیل ګڼری اَوْ محبوب بیل۔ په مین لا د نفسانیت غلبه وی اَوْ عن که هغه تش دیدن وی، خو هغه د خپلو خواهشاتو تقاضے پوره کول غواړی۔ د مین د مینے مرکز د محبوب ظاهر وجود وی، نو ځکه ئے په بېلتون درد بوی، آه و فریاد کئی۔ د حقیقت بینو اَوْ حقیقت پسندو په نظر کښې دے عاشق خو وی، خو کچه، خام کار، ناپوهٔ اَوْ نا تجربه کار وی۔ لکه چه وایی ؎

لا د عشق اُوسے لرے عبدالقادره!
چه د یار د جفا زار کوے یا نخوَلے

و نو موز عاشق بلبل دے شور ئے ډیر مینه ئے لږه
که مثال د کامل غواړے، و پتنګ ته نندارہ کړه

اُوم کباب د اور په تاو ژړا فریاد کا
که د عشق له اور آه وُکړم لا خام یم

چه د عشق له اوره تښتی عاشق نه دے
د خپل ځان په سولوشی د پتنګ سوبه

رقص له خامیٔ کا ندِ دانه د دیګ په منځ کښې
یا تو له صوفی شی هاله رقص چه پخیږی

په دے وجه د عشق مجازی نه عشق حقیقی ته رسیدو، یا خپل عشق کمال ته رسولو د پاره د ټولونه روسمے د خواهشاتو ترک کول او پریښول لازم دی۔ اَوْ د دُنیاوی علاقو اَوْ لواحقو نه ځان خلاصول اَوْ آزادول ضروری دی۔ عبدالقادرخان وایی ؎

Marfat.com

عارضی کاروبار پنځه دی، تعلق ورپورې مه کړه — چه جوهر درته حاصل شی همیشه طلب ښه کړه

جوهر څه دے دتا "فقر"، عرض څه چه بے له دې وی — دا ویښا تمام سلوک دے، که دِ نه زده له مازده کړه

که د جاه، که دِ عزت له خوښے، که ورونړه — زړه پر مه تړه عاقل! تش نمائے دے

محبت د مولا کړه، مولا باقی دے — په فانی به محبت کا چه کږ راغے دے

یا دا چه ــ

پر ښو ول د چل خواهش کمال د عشق دے — رضا من د عاشقی یم په کام ناکام یم

د خواهش له کوڅے وځه، دا کوڅه ده ډیر کور تنګه — تړک دِ غوښت وسیع صحرا دے، په دغه صحرا مشه کړه

په پرېښول به د جهان له غم خلاص شے — خلاصه دل د غاش [illegible] په وګشه وی

په یوه زړه کښې دوه درے قسمه مینے په یوه انداز نه راتلے شی اَوْ نه پائے کیدے شی- په یوه زړه کښې خو بس یوه مینه ځائېږی اَوْ چه یوه وی نو بله به اُورته نه راځی. اَوْ په زړه کښې چه د کم څیز مینه وی، هم هغه د سړی محبوب اَوْ صنم وی. نو وایی ــ

محبت چه دِ د څه، په زړه محکم سشه — هم هغه په حقیقت کښې ستا صنم شه

بیت الله په حقیقت د مؤمن زړه دے — چه بے خدایه مینے کا، پکښې صنم ږدی

لاف د خدائے د بندګی محکوم د نورو — د هر چا چه حکم وړے هغه دِ خدائے دے

د پیوند په پرېکولو فقیری شی — ته په دا چه ځبله کښېږدے پیوندونه

چه دِ طمع له چا شی عبدالقادره! — ته بنده ستوے همه ستا خداوندان دی

په عشق حقیقی کښې چه مینه کمال ته ورسی اَوْ بنده ته معرفت، قرب اَوْ وصل یا وحدت حاصل شی، په جذب کښې هغه کامل مجذوب یا فنا فی الله اَوْ په سلوک کښې سالک، درویش اَوْ ولی الله شی، نو بیا د منځ نه د "زه" اَوْ "ته" فرق وځی. وایی ــ

زه اَوْ ته په محبت کښې نه ځائېږی — زه اَوْ ته له منځه ووتے یکتا شوے

بیاد عاشق "ځان" د ځان تصور اَوْ د خودئ خیال هیڅ معنی نه لری. د عاشق اَوْ د معشوق ترمنځ

Marfat.com

خو فرق اَوْ بېلتون پاتے نۀ شي- لکه چه وايي - رُباعي :-

د عشق په کار کښې چه څوک صادق شي     د يار د مهر هاله لايق شي

دوئ دِ د وارو ترمينځه وُوځي     عاشق معشوق شي، معشوق عاشق شي

يار له مانه لا و ما وته نېژدے دے     که ترمينځ حجاب - پاره پاره د "ما" شوے

خودي پرېږده نور راځه عبد القادر     که دِ زړه دے چه زۀ ستا شوے نۀ ځما شوے

که وصال عبد القادر د يار غواړے     يَوْ قدم په "دُنيا" کښېږده بل په "نَس"

"يم" ويل په طريقت کښې کافري ده     د يم يم په قافيه راورل پښيمان يم

هرچه معنوي فقرئے بيامونده له حقه     لا به محبت د زړه په نېست لري تربيت

چه مِ شاکره و ښاديو وته ښاد شوم     چه دِ زړه مُراد مِ پرے ايش په مُراد شوم

د وحدت درياب به وينې کشته پوره     خپل وجود به ورپنکاره لکه حباب شي

د خودئ باد چه وُباسي له سر     د حباب نامه ئے لاړه شي درياب شي

د دويئ خبرے مه کوه مطرب!     په نغمه کښې يَوْ يَوْ وايه نه دو دو

خو دُنيا اَوْ ژوند دواړه دُمره جذب وکشش لري چه د دو نه نظر قطع کول اَوْ تېرېدل که ناممکن نۀ دي نو بے حد گران خو ښکاري- د هرڅۀ نه اول اَوْ د هرڅۀ نه زيات، بنده د خپل "ځان" خيال کوي- خپل ځان يادوي- د هرڅۀ نه ځان مقدم گنړي اَوْ په هرڅۀ ځان ته فوقيت ورکوي- خلق وايي ځان د هرخوږ دے- ځان خپله ځانَ. اَول ځان، پسے جهان- ځان ساتل فرض دي اَوْ داسے نورے ډېرے مقولے، محاورے اَوْ متلونه مشهور دي چه هريَوْ ئے اوري، محسوسوي اَوْ وايي- خو مزېداره خبره داده چه په اِصطلاح کښې ځان وايي جُدا اَوْ بيل نه- لکه "هغه ځان نۀ دے"- يعنې هغه په هر لحاظ دنورو نه بيل دے. په عشقِ حقيقي کښې هُم دغه "ځان" چه جُدايي اَوْ بېلتون ئے د مينځه ايستل غواړي- خو د دے کار د پاره په ځله ويل خو ډېر آسان دي، کول ئے خۀ لوقه نۀ ده- لکه چه وايي :-

ماتول د بت آسان دي مردان کم دي     چه مشغول د خپل وجود په شکستن دي

Marfat.com

بیا وایی چہ ؎

چہ حجاب ترمینځ "ما" "ما د رب" دے ... اول "زه" دویم عالم دریم سبب دے

د "زه" د "عالم" او د "سبب" په دے دریواړو حجاباتو کښې "زه" "خو ځان یا خودی شوه ـ بل "عالم" دے۔ معنے ئے دی هر هغه شے چه د هغے په ذریعه علم حاصلیږی۔ او چه د دے کاینات په لیدو د الله تعالٰی د ذات او د هغه د صفاتو او قدرتونو علم حاصلیږی نو په دے وجه اصطلاحاً ټول جهان ته عالم ویلے شی۔ دریم "سبب" دے۔ سبب پړی یا رسۍ ته وایی۔ او هر هغه څیز ته چه نور څیزونه پرے په خپلو کښې سره راټولځائے کولے او راتړلے شی۔

او د حکماؤ په اصطلاح کښې هغه شے چه د نورو اشیاؤ د وجود یا د حاصلولو دپاره وسیله او ذریعه وی نو معلومه شوه چه د دریواړو تعلق د ظاهری مادی او مرئی کائنات سره دے چه د عناصرو نه مرکب دے۔ بس، عبدالقادرخان د دغه عناصرو نه د وتلو ذکر کوی۔ وایی ؎

د عنصر د چار دیواره چه راووځی ... ارو یده لیده ئے واړه بے حجاب شی

ځکه چه هغه بیا د قرب او بعد او د زمان و مکان د قید نه ازاد شی۔ هغۍ ته بیا مجاز او حقیقت جوهر و عرض او جزاو کل ټول یو شی ؎

قرب وبعد، وصل هجر ورته یو شی ... چه ئے بیا موندہ مکان په لامکان زړه

خو په دے خبرو هرڅوک چرته پوهیږی۔ لکه چه ئے ویلی دی۔ ؎

خو خبر نه دے وګړے له دے راز ... ګنړه بیل حقیقت نه دے له مجاز

یار په هر نوری جلوه کا ... خو بینا نه دی بصرستا

د لیدونیو په نظر کښې تفاوت وی ... او که نه وی جز جدا نه دے له کل

مستعد د نظر، ته نه ئے غافل! ... دلبر کله دریغ کوی له چا دیدار خپل

خفی شرک، لکه جلی ورته شکاریږی ... عارفان کله نظر په جز په کل کا

دلبر ځ راته ښئ په هر آئین کښې ... کهه په تور کښې جلوه ګرشی کهه په سپین کښې

خوځان ته، په دے لارے تګ بے حده ګران دے۔ د بل واقف کار، باخبر، اَوْ کامیاب رہنما د اِمداد اَوْ مرستے حاجت پکښِ ضرور پیښیږی۔ په دے وجه په طریقت کښِ د وَسیلے دلټولو اَوْ پیدا کولو د پاره ہم تاکید کوی چه سه

د بزرګانو په مدد که چیرِ تیر شے ــــ غا شے سخت لرے د ورانډ، تتو لنګ

دا بزرګان ہم دغه د عشقِ حقیقی سرمستان، کامل درویښان اَوْ اَولیاء الله دی سه

چه په تنش کانه ئے مِس د وجود زرشی ــــ درویښان دی، درویښان دی، درویښان دی

لوځکه بیا وایی سه

د ہغه سواره پے ورپه عبد القادره! ــــ چه د اَس ئے د اَفلاک دپاسه پائے دے

د تصوّف علم ډیر دقیق اَوْ عمیق علم دے۔ دلته خو صرف یوځو شعرونه د مثال په طور د عبد القادر خان د کلام وړاندے شول۔ په تصوّف باندِ مفصل بحث د دیوان کاظم خان شیدؔا په شرح و مقدمه کښِ شوے دے۔ په دے وجه دلته د ہغه نظریانو اَوْ مسایلو مباحث دوباره وړاندے کړے شول۔

دا یوْ قدرتی اَمر دے چه ښه اَوْ بد په ہر قوم اَوْ ملّت کښِ وی۔ په یوْ قوم کښِ نه ټول په ہر شه، ښیک اَوْ نیکوکار خلق وی اَوْ نه په ټوله بد، خراب اَوْ ناکاره وی۔ خو د اِسلامی معاشرے اَوْ د اسلامی تعلیم تقاضا داده چه مسلمانان دِ ټول په ښو اَخلاقو مزیّن اَوْ آراسته وے او ہر سرے د بل په شه راتلے۔ اَوْ په خپل خپل ځائے کښِ ئے د یوْ بل د حقوقو حفاظت کولے۔ په دے وجه ہر دینی پیشوا اَوْ مشر، ہر عالم و فاضل اَوْ مبلّغ و شاعر، قوم ته که زبانی وی که د کتاب په شکل کښِ، خو د نظم اَوْ نثر دواړو په ذریعه د اَخلاقِ حسنه تعلیم و تلقین ضرور کړے دے۔ او د ہر قسم پند و نصیحت خبرے ئے پریښی دی۔ د زړو شاعرانو په کلام کښِ د مواعظِ حسنه برخه غالبه وی۔ عبد القادر خان ہم په دے ضمن کښِ ډیره برخه ویلی دی۔ اَوْ په وجه د ګلستان سعدیؒ د ترجمے کولو، د ناصحانه کلام انداز ئے د شیخ سعدیؒ د تعلیماتو سره ډیر مشابہت لری۔ اَوْ په دے

Marfat.com

یُوځو شعرونو کښې خو ئے داسے اُصول بیان کړی دی چه پکښې د اَخلاقو خلاصه یا ئے مغز پروت دے وایی سه

داخویونه که دانا سړے اِختیار کا — په دُنیا به دین بهٔ جوړ پر کاروبار کا
عبادت د حق په صدق په اِخلاص کا — تل له خپله نفسٙ جنګ کوی کارزار کا
په فقراؤ سخاوت کا بے مِننتٙ — په حاجت کښې اِستغنا له دُنیادار کا
و دوستانو ته تل پند نصیحت وایی — له دُشمن سره په حِلم زیست روزګار کا
له تماموخلقو زیست په اِنصاف کاندِ — په رښتیا وییل حاصل خپل اِعتبار کا
شفقت مهربانی کا په زیر دستانو — د بزرګانو په خدمت حاصل وقار کا
جاہلانو سره زیست په خاموشیٔ کا — که ہرڅو په بد وییل ئے زړه آزار کا ۔

په دے کښې ہره خبره په ځپل ځپل ځا ئے کښې لوئے درس دے۔ که په یوه یوه خبره سړے عمل کئی نو واقعی چه دین دُنیا دواړه ئے پرِ سمبڅی۔

ځنے شعرونو کښې ئے لطافت و دلکشی زیاته ده اَو پکښې ئے ښه ښه تشبیهات وتمثیلات راوړی دی۔ لکه :-

ماتے ماتے زُلفے بیا په مخ را غله — د تقویٰ مینه ئے بیا کړه سپېره لُوټه
نه د حُسن نمریسے دا نورکښلی لکه ستوری — کُل به کالعدم شی، که شکاره خپله بقا کړے
د ژوندون چینه یاد پڅی په تیاره کښې — ما ته خدائے راکړه چینه ترخُنګ د نمر
بحرپه کشتیٔ کښې نهٔ ځانیږی سیند دِ اُشیو — څو به زړه په سترګو کښې حیصار ساتم ہمېش
که د زُلفو په سیاہی جهان تیاره کا — په جبین لکه صبا کا بیا جهان سپین
مُرده دِل دِ له تقدٙ زړه ببرون کا — یَو ساعت په کورکښې نهٔ پرېږدی څوک مړے
د لبانو جوړیٔ ہم ورځنه ښته دے — که ئے دواړه تورے زُلفے دی ماروُنه

په یو غزل کښې د محبوب په مخ د خط د راتلو کیفیّت په څلور قِسمٙ بیان شوے دے۔

Marfat.com

چه پکښې تشبیهه، تجنیس، ایهام اَوْ حُسنِ تعلیل ہرځه موندے شي۔ وایی سه

حُسن خط د وېزارئ و مخ ته وړکړه    چه شکاره شه په عذارو د نګار خط
ہېڅ رنګی به ئے په ہېڅ رومي وُنه کا    لکه کاغذِ په سپین مخ باندِ ناتار خط
ستا د شونډو مهره څوک واخلي دلبرَ    چه ترِ پرېوت چاپېره لکه تورمار خط
د ستایست آفتاب ئے پټ شه لیدْ نهٔ شي    چه ئے پاسېدْ په مخ لکه غبار خط

تول کلام ئے شَنه پوخ دے، اَوْ کمال داد ے چه په ثابت دیوان کښې ئے دا معلوموول گران دی چه کُم کلام ئے د رابتدائی زمانے دے اَوْ کُم ئے د عمرد پخْتګئ د مُودے دے۔ په دے مجموعه کښې نَه تا سو یو غزل نیم خو د خالصے فارسئ وُوینئ۔ په یوُ څو ځایونو کښې بهٔ د پښتو سره د اُردو فارسئ اَوْ عربئ ګړون ہُم وُلوئ۔ اَوْ په دوه درے ځایه کښې ئے کلام د خپل اُستاد نه ہُم تېره کئ۔ د مثال په طور دا یوُ غزل چه پکښې یوُ قِسم مضمونْ بیان شوے دے۔ د خوشحال خان اَوْ د عبدالقادر خان د واړو، د لته ورکولے شي۔ موازنه اَوْ مقابله ئے تا خوخپله وُکړئ۔ د غزل په رنګ کښې د خوشحال خان یو نظم دے :-

تلم په خپله لاره راسره مله شوه نګارا    شوخه، غمزه کره، خنده روُیه، خودآرا
رنګ ئے دِ سرې وو اَمّا خوئ دِ ښاپېرئ وو    تن ئے لکه سیم وو، په زړه سخته سنګخارا
راغلله په شهر، لاس په لاس شوه له ما ورکه    کوئ په کوئ جار وُوځُم، پسے غوارم بخارا
دېرے لرې نخښے د صوُرت د زیبایئ    څهٔ خو درته وایم یوُ څو نخښے آشکارا
دنګه تازه کنګه، قد عرعره، مُوکمره    شهٔ ئے تر ګلونو د ګلابو عذارا
غاش ئے دُرګوہر، په لب شکر، اَبرو کمانه    تور بانړهٔ ناوک په دواړو ستړګو خونخوارا
پونه ئے غنچه وه د زَنبق، سبب ئے سپینه زنی    مشک د مخ خالُونه په مخ کښلی مَه پارا
ہار د جواہرو دوه لړئ دِ مرغلرو    تور وربل اود سے، زلفے ئے عنبرسارا
واړه ئے د تن جامے ګلګونے زرنګارے    درسته سره لمبه وه، چا لیدله خدارا

Marfat.com

بیا ئې سې مدد کړه چه خوشحال سره د تل کړه

بخت ؛ د دے ورکے سُراغ بخښه وما را

د غه مضمون عبدالقادرخان په دے شان ترې - وايي

په لاره تللم، په مخه راغله، يوه دلبره پرى رُخساره

د نمر په شان، لا تر روښانه، په کښلي مخ وه ښغه لګاره

په قامت سروه، په تلو تدروه، اَبرو کمانه غښتى مژګانه

په سترګو بازه، خونریزه ساره، په وښتو لیله، په مخ نهاره

غاړه بلنده، خاطرپسنده، عنبرین مُويه، یاسمین بُويه

په شونډو لعله، په زړه اَلماسه، په سپینو غاښو دُرِ شهواره

په زنی سیبه، بے له آسیبه، په مَلا ترخېلو وښتو نرۍ

شیرین کلامه، نازک اندامه، وَل وَل ئے زُلفے، لاله عذاره

بے میو مسته، خُلۀ نیست و هسته، د ګه له نازه خالي له نیازه

سرتر قدمه، ثابته، وغه، له هره عیبه، پاکه بېزاره

مخ ئے حرګند وو، نظرپربند وو، د مخ شُعلے ئے د مخ حجاب وے

په خیال نَالۀ نظر ئے نَه کړو، هرګز و چا ته، له کبره عاره

له ما غایبه لکه برېښنا شوه، په زمکه لاړه که په سما شوه

نه ېئ نه پوهېږم چه چېرته داشوه، راته وُوایه اے خبرداره

هوس ئے یو وړ، غم ئے راپرے یښی، داغ ئے بیا لاړے رابانډِ کښېښ

مقصود دِ دادے عبدالقادر، اُس پسے کړه سینه افګاره

عبدالقادرخان رباعۍ هم ډیرے لیکلی دی اَوٌ قصائد هم . په قصیدو کښې ئے د شاعرۍ ښه زور ښیلے دے . خصوصاً دِ ګل چه کُمه بهاریه قصیده ئے ویلی ده، د ښغ خوجواب نشته .

د دے قصیدے نہ تا څو اندازہ لګولے شئ چہ قادرِ مطلق عبدالقادر تہ څومرہ قادرالکلامی عطا کړی دہ۔

عبدالقادر خان علاوہ د دے مجموعے نہ چہ تا څو ئے کوری یو څو نور قلمی شاہکارونہ ہم پریښی دی، پہ ہغو کښِ چہ تر اُسہ معلوم شوی یا پہ لاس راغلی دی، ہغہ دی:-

۱:- **یوسف زلیخا** :- دا دِ مولانا نورالدین بن احمد جامیؒ د مشہور فارسی "یوسف زلیخا" (منظوم) پښتو منظومہ ترجمہ دہ۔ ډیرہ ښہ آسانہ اَو روانہ مثنوی دہ۔ خواوُشا څلور زرہ بیتہ دی۔ دا کتاب دہ پہ سنہ ۱۱۱۲ھ / ۱۷۰۰ء کښِ لیکلے وو۔ ځنو چاپ کړے شوے دے، خو اُس ئے مطبوعہ نسخے ہم ډیرے کمیابہ دی۔

۲:- **ګلدستہ** :- دا د شیخ سعدی شیرازیؒ د ګلستان ترجمہ دہ۔ حقیقت دا دے چہ دا دہٗ یوہ معیاری اَدبی کارنامہ دہ۔ پہ دے کښِ دہٗ نثر پہ نثر کښِ او نظم پہ نظم کښِ ترجمہ کړی دہ۔ اَو کمال ئے دا کړے دے چہ د فصیحو بلیغو جملو اَو د مسجّع و مقفّیٰ عبارت ترجمہ ئے ہم پہ ہغہ اَنداز کښِ کړی دہ۔ ګلدستہ پہ سنہ ۱۱۲۴ھ / ۱۷۱۲ء کښِ لیکلی شوی دہ۔ اُس پہ سنہ ۱۹۶۱ء کښِ دا کتاب د پېښور پښتو اکیډیمیٔ چاپ کړے دے۔

۳:- **نصیحت نامہ** :- دا کتاب ملّا پہ تجنیس کښِ خو د مثنویٔ پہ طرز کښِ لیکلے شوے دے۔ غیرمطبوعہ دے اَو اُس پہ لاس نہٗ راځی۔

۴:- **څلوېښت حدیث** :- دا تقریباً د پینځوسوو بیتونو یو وړوکے کتاب دے چہ د مثنوی پہ شکل کښِ د څلوېښتو صحیحو احادیثو ترجمہ دہ۔ د چهل حدیث پہ نوم پہ فارسیٔ اَو اُردو کښِ دا کتاب نورو کسانو ہم لیکلے دے خو پہ پښتو کښِ د نن نہ دوہ نیم سوہ کالہ ځنوا دا کار اَول ځل عبدالقادر خان کړے دے۔ دا کتاب ہم کمیابہٗ دے۔

۴:- **آدم اَو دُرخانیٔ** :- د دے کتاب ذِکر مشہور انګریز مستشرق کپتان ریورټی، کړے دے، چہ د آدم خان اَو دُرخانیٔ قصہ عبدالقادر خان نظم کړی دہ۔ بل چا د خپلو تحقیقاتو

137002

Marfat.com

په بنا د دے کتاب په باره کښې لا څۀ شهادت نۀ دے ورکړے۔ شاید چه په برټش میوزیم لائبریرۍ کښې ئے نسخه وی۔ البته د آدم درخانئ په نوم د وروکی بحر په مثنوی کښې یو کتاب اُس یو څو کاله شوی دی چه د پېښور پښتو اکېډیمۍ چاپ کړے دے، خو هغه د عبدالقادرخان رور صدرخان لیکلے دے۔ صدرخان هم په دغه طرز کښې د دے او شاهئ قیصه هم لیکلی ده۔

د دو نه علاوه همدغه کپتان ریورټی د عبدالقادرخان د باره لیکلی دی چه شپېته جلده کتابونه ئے تصنیف او تالیف کړی وو۔ نو که په دے بیان کښې مبالغه کمه هم وی، بیا هم نور کتابونه ئے تر اُسه نۀ دی معلوم شوی۔

۵ :- حدیقۀ خټک :- دا د عبدالقادرخان خټک د دیوان نوم دے، چه هغۀ دخپل منظوم کلام د مجموعے یا د دے دیوان د باره خوښ کړے دے او د دے نوم د لاند ئے خپل دستخط هم کړے دے۔ د پټے خزانے مؤلف، د عبدالقادرخان د حالاتو په ضمن کښې لیکی چه :- " په ۱۱۱۵ھ / ۱۷۰۳ء ئے یو بل کتاب نظم کا، چه نوم ئے "حدیقۀ خټک" دے ـــــ حدیقۀ خټک، دغه کتاب ما په ۱۱۴۰ھ / ۱۷۲۷ء کښې له صدرالزمان بهادرخان ولید چه د مؤلف په دستخط وو۔ بهادرخان دامت شوکته هسے روایت کا چه په ډېره (ډېره اسماعیل خان یا ډېره غازی خان) کښې ما دغه کتاب ومونده، چه د یو خټک په ضبط کښې وو۔ ......" د عبدالقادرخان شعرونه ډېر دی۔ نواب محمد اندړ د دۀ سل غزلونه له کابل راوړل۔ اُس زۀ د لته له حدیقۀ خټک څخه دده یو څو شعرونه نقل کاندم" :-

## غزل

در بغه نور څوک نه لرے شوے له دله ... پکښې غم د خپل آشنا وے تل ترتله

— — — — — — — — — — — — — — —

— — — — — — — — — — — — — —۱ الخ

(دا دا تو شعرونو یو غزل دے چه د دے مجموعے د "ه" په ردیف کښې موجود دے۔)

Marfat.com

بل غزل

مه شه خوش د بادشاهئ په تخت خلو ہمیشه ئے غم کوه ،د، پردیو ستلو

ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ الخ

(دا غزل ہم د دے مجموعے په ردیف "و" کښې شته دے)

بیا ئے د رباعیاتو نه یوه رباعی دا سے نقل کړی ده:-

ومن رباعیاته

وخت د خزان وو، ورم لیدے یو څو بلبلے چه ژړیدلے
خوارے خسته وے، و بے رم سزا ئے؟ چه بے گلو نو وُ پاتے دے!

اُس ہرکله چه د پټے خزانے مؤلف د حدیقهٔ ختک نه د عبدالقادرخان دا دوه غزلے اوُ یوه رُباعی د نمونے په طور رانقل کړے نو معلومه شوه چه دغه د هغه دیوان وو چه نوم ئے پر حدیقهٔ ختک ایښے اوُ لیکلے وو۔ کېدے شی چه نقل اخیستونکو دا نوم نه وی لیدلے یا سهوًا تر پاتے شوے وی۔ بهرحال د پټے خزانے د عبارت نه دا ثابتیږی چه دا حدیقه د عبدالقادرخان بل څه کتاب نه دے، څنګه چه ځنے کسانو "حدیقهٔ ختک" نوم کتاب دَ عبدالقادرخان په تالیفاتو کښې علاوه د دیوان نه نورو کتابونو سره په شمېر کښې راوستے دے په دے وجه ما ہم په د ے کتاب، د عبدالقادرخان خپله خوش کړے نوم کښښو لو۔ اوُ دا څه د تعجب خبره نه ده۔ اُسنو شاعرانو د خپل کلام په مجموعو د ښېدیا ګلونه، باغ وراغ، یا شکور ګلونه، جولئ ګلونه اوُ څه څه نومونه ایښی دی۔ د دے ابتداء د ښخوا راسے شوی ده، چه ګلستان اوُ باغ و بوستان پرے دال دی۔

د کلام نه ئے چه څه اندازه لګی، نو عبدالقادرخان ښه عالم فاضل، د اُوچتے پایے ادیب، مؤلف، مصنف اوُ مترجم، اوُ باخبر صوفی شاعر وو۔ خدائے تعالیٰ دِ ے مغفرت نصیب کړی۔

Marfat.com

# معروضات

غالباً چہ ۱۹۴۲ء به وو، چہ ما ته یو مهربان، یو زوړ وښو خوړلے او لوخړو وہلے خسته حال کتاب چہ د اول او آخِر ډېرے پاڼے ئے ضائع شوی وے، راوړو۔ چہ م وکتو نو ښځه د عبدالقادر خټک دیوان وو۔ خو د کتاب په خسته حالئ ئے، د موندلو او لیدلو د خوشحالئ نه خډه زیات شوم۔ کتاب م ډېر په شوق وکتو او د ځان سره م نقل کړو۔ او څه موده پس م سره د ډېرو شکریو ښځه بوسیده کتاب ورته واپس کړو۔ او د ښځه وخت نه م دا اراده کړی وه چہ که خدائے کړی وی او د دے دیوان چیرته کامله نسخه م په لاس راغله نو دا به زه چاپ کوم۔ او که داسے و نه شی نو دا خپله نیمګړی قلمی نسخه خو به پر مکمله کرم۔ خو په مینځ کښې زمانے تیرے شوے، برابرے ئے و نه خوړو۔ په ۱۹۵۴ء کښې د پیښور پښتو اکیډیمۍ ته د ملازمت په سلسله کښې راغلم۔ دلته خدائے پاک ته منظوره وه نو څلور قلمی نسخے د دیوان عبدالقادر خان په لاس راغلے۔ دوه نسخے شے ډکے او دوه نیمګړی، چہ یوه پکښې د برټش میوزیم لائبریری، لندن نه د مایکرو فلم په شکل کښې راغوښتی شوی ده۔ بیا پروسه کال یوه مطبوعه نسخه (د قندهار چاپ) د دے دیوان ما ته په لاس راغله، چہ ښاغلی عبدالحئ حبیبی په لیتهو چاپ کړی ده۔ نو جوړ ښځه زړه اراده م بیا د سره نوی کړه چہ که د الله تعالیٰ توفیق م رفیق شی نو دا دیوان به زه چاپ کړم۔

ټولے نسخے م سره مقابله کړے او دا یوه مجموعه تر نه سازه شوه، چہ د تا څو د وړاندے ده۔ په دے ټولو نسخو کښې م د ښاغلی حبیبی ښځه نسخه معیاری وګرزوله، ځکه چہ ښځه هم دا د دریو مختلفو

نسخو د مقابلے نه پس چاپ کړی ده. په دے مجموعه کښې چه د تا څو دِ وړاندِ ده، یو څو غزلے رُباعی اَو قطعات زیات دی چه څۀ ما سره زیات وُو. څۀ د حبیبی صاحب هغه نسخه کښې اَو څۀ څیزونه د لندن هغه مایکرو فلمی نسخه کښې زیات وُو. په دے شان، دا خو په دعوه سره بیا هم نه شم ویلے چه گنی دا نسخه بالکل مکمله ده، خو چه څومره ذَرے نسخے راته په لاس راغلی وے د هغو جایزه مې تر وسه په ښه شان اَخیستی ده. خو یو سے خبرے ته مې بیا بیا خیال ځی چه دِ دومره لایق و فایق، اَو عالِم فاضل سړی د کلام مجموعه چه د علمی و فنی دُرو جواهرو نه ډکه ده، داسے لا وارثه اَو په دومره کَس مپرسئ کښې پرته ده چه په خپله علاقه کښې ئے، په دے تېرو دوه نیمو سوو کالو کښې هیڅ ورته د علمی ذوق و شوق په بنا نه دی کتلی. قلمی نسخے هر څومره چه دی کۀ د خوشنویسو په لاس لیکلی شوی دی اَو کۀ غیرِ خوشنویسو لیکلی دی، په اکثرو ځایونو کښې په کښې الفاظ بدل کړی شوی اَو مسخ کړی شوی دی چه په ډېرو ځایونو کښې ترینه پِډو څۀ مطلب نۀ شی اخذ کیدے. د هر کاتب په لاس څۀ نا څۀ ناکړدے ورسره ضرور شوی دی ـــ هغه د خټکو اَو د یوسفزو د لهجے اَو د تلفظ د اختلاف په بنا د رسم خط بدلول خو ئے لا څۀ کوی چه نور قسما قسم تصرّفات په کښې شوی دی. ښاغلی حبیبی سره دِ خدائے ښه وُکړی چه د انتهائی احتیاط نه ئے کار اَخیستے دے اَو ډېر په محنت اَو کوشش سره ئے د کلام صحت، تدوین اَو ترتیب کړے دے. اَو د اکثرو گرانو ټکو معنی ئے په لاندِ حاشیه کښې ورکړی دی. د دے نسخے په کتو اَو لوستو ایله د سړی زړۀ ښۀ شی ـ عبدالقادرخان وُپیژندے شی اَو متعارف شی. ځکه چه آغائے حبیبی پرِ ډېره عالمانه اَو محققانه مقدمه لیکلی ده، چه د عبد القادرخان د ذات، د کورنئ، د هغۀ د شاعرئ اَو علم و فضل بانډِ سېرحاصله تبصره ده. اَو چه څنگه ئے خوشحال خان په ټومبی ځل په اصلی شکل کښې دُنیا ته پېش کړو، هم دغه شان ئے د عبد القادرخان پېژندگلی اَو معرفی هم وکړه ـ ویلے یوه خبره دلته هم محلِ نظر ده ـ هغه دا چه د ښاغلی حبیبی هغۀ اَصل کتاب" چه دۀ د خپلے چاپی نسخے د ایډِټنگ د پاره په طور د اَساس غوره کړے وو، په هغے

Marfat.com

کښې د عبدالقادرخان ژبه تقریباً ټوله بدله کړې شوې ده ۔ خدائے به پر سته خبر وي، چه اورته په افغانستان کښې به دا مهرباني کم یو مهربان کړې وي او په څه نیت خو الفاظ په ډېرو ځایونو کښې، سته په ژړه ورتیا او بے دریغه بدل کړې شوي دي۔ او کوشش دا شوے دے چه د پېښور د علاقے په ځائے، د افغانستان مروّجه پښتو د پکښې راو سته شي۔ لکه د صاحب په ځائے خښتن ۔ د ہو په ځائے ہو کے ۔ د نه په ځائے یه ۔ د زبردستانو په ځائے بے وزلانو ۔ د سنګ یا د کانړي په ځائے ډبر او دا سے په سووئو لور چه د لاندې جدول کښې ئے کتے شئ۔ او د دے لفظونو په بدلولو کښې چه د مصرعے په وزن کښې فرق راغلے دے نو د خپل یو لفظ وپاره ئے ټوله مصرعه بدله کړې ده۔ لکه عبدالقادرخان وئیلي دي:۔

"په محنت موندہ شی کام له سنګدلانو" ۔ نو په بیخه کښې دي چه :۔

"په خوارئ موندہ شی کام له ډبر زړونو" یا دا چه :۔

شفقت مهربانی کا په زبردستانو — د بزرګانو په خدمت حاصل وقار کا

نو ہغه ئے دا سے بدل کړے چه :۔

شفقت مهربانی کا په کوچینو — د لویانو په خدمت حاصل وقار کا

ع۔ قلمی: په خاکونو به ئے دا ګل صدبرګ شی — چا چه زړه پاره پاره وګوره یووړ

اف :- په خاکونو به ئے دا سل پاڼړے ګل شی — چا چه زړه ټوکر ټوکر وګوره یووړ

دا فهرست ما د دے علاقے بیلې مثوې خلورو نسخو د مقابلے نه پس تیار کړے دے او بله دا چه زه خپله هم د دغه علاقے وسیدونکے یم۔ د مره خو به زه هم د خپلے علاقے یا د خوشحال خان د کورنئ د ژبے نه واقف یم۔ او بیا په دے فرق خو هر څوک پوهېدے شی :۔

| اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ | اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ | اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ |
|---|---|---|---|---|---|
| آہو | ہوسئ | پہ سردی کرمی | پہ سڑو کرمی | چشمے | سترگئ |
| آہو چشم | ہوسئ سترگے | پہ لباس | پہ کالو | چمن | بنڑ |
| اَستول | وَرستول | پیش | وړاندې | چہ بیرون کا | چہ وُبا سے |
| اُمید | اَمتہ | پان | پاڼہ | خاروی | څناور |
| اواز | بڼغ | ترک کول | پریښول | خوک | کُم |
| اَول | لمړے | ترمیان | ترمنځ | حبیبان | مینان |
| باغ | بنڑ | تلخ | ترخہ | خاطر | زړہ، زړگے۔ |
| باغبان | باغوان | تلخی | ترخہ۔ تریخے | خام | اُومہ |
| بزرگ | لوے | تونگر | بډائے | خان و مان | ځان اَو مال |
| بزرگان | لویان | تونگری | بډائی | خزان | منے |
| بہہ | بنہ | تیر | غشے | خُشک و تر | وُچ لاندہ |
| بہار | پسرلے | جامہ | کالی | خم | کوږ |
| بیمار | ناروغ۔ ناروغہ | جان و دل | ځان اَو زړہ | خوارالو | کوچینو |
| بیماری | نارو غتیا | جبین | تندَے | خواست | غوښتہ۔ غوښتنہ |
| پارہ پارہ | ٹوکر ٹوکر | جُدائی | بیلتون، بیلتانہ | خور | خپور |
| پَر | وَزر | جگر | ځگر | خوف | ډار |
| پُر | ډک | جلوہ گر | جلوہ کوی | دام | جال |
| پست | کُوز | چار پایو | څارویو | دامن | لمن |
| پَسَہ | وروستہ | چاہِ زنخدان | څاہ د زنخدان | دانا | پوہ |
| پُور | ډک | چشمان | سترگے | دانایان | پوہان |

Marfat.com

| اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ | اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ | اَصل اَلفاظ | بَدل اَلفاظ |
|---|---|---|---|---|---|
| دخوبِ خاطرصحت | دخوبِ خاطرروغتیا | روپوشی | مخ پټے | سینه | ټټر |
| دَر | وَر | روشنائی | رنړا | سیه چشمے | تورے سترگے |
| دَرد | غَم | رېړون | زوړتون | 〃 | تورے چشمے |
| دشمن | غلیم | زخم | پرہر | سیه دِل | سیه زړه |
| دِل | زړه | زر | ژر | شانه | زمنځ - زمنز |
| دُشمنئ | د شمه | زہیربدل | پسخېدل | شکر لبو | شکر شونډو |
| دِل آزاری | زہیروِل | زبردستانو | بے وزلانو | شهٔ | شو |
| دِل بستگی | زړه تړل | زیړ | ژړ - ژیړ | صاحب | خښتن |
| دِل سوزی | زړهٔ سوځے | سایه | سیاړه | صبح و شام | سحرماښام |
| دو ساله | دوه کلن | سرخرو | سُور مخ | صد | سل |
| دوست | خپل | سُرخروئی | سُور مخے | صد پاره | سل پاره |
| دوستان | خپلوان | سَرد | سوړ | صد ساله | سل ساله |
| دوست دشمن | خپل غلیم | سرو | سبر | صوت | بږغ |
| دوستی | خپلوی | سروَ قد | سبر قد | طمع | ہیله |
| دویم | دوہم | سفیدی | سپین واله | طمعه | ټمه |
| دیدن | لیدل - لیدهٔ | سنگدلانو | ډېرزړونو | عالم | خلق |
| د دیدن | د لیدلو | سوختن | سول | عجب | عجیبه |
| د دید نه | د لید نه | سُود | گټه - گټے | عصا | ہمسا |
| دیدن | لیدن | سور | سپور | علاج | دارُو |
| رگ وپئے کنیں | رگ اؤ پلوکنیں | سورو | سپرو | غم | وِیر |

Marfat.com

| اصل الفاظ | بدل الفاظ | اصل الفاظ | بدل الفاظ | اصل الفاظ | بدل الفاظ |
|---|---|---|---|---|---|
| غم خواران | غم خوارہ | گند | گنڑہ | ملیح | ملخ |
| غنچہ | غوٹئی | لب | شونڈہ | منگے | گڑی |
| غواص | مرچونڑا | لباس | کالی | میان | سیخ |
| غیرحق | غیرلہ حق | لبالو | شونڈالو | نادان | ناپوہ |
| فارسی | پارسی | لڑ | لیرے | نادانان | ناپوہان |
| فلک | آسمان | لون لون | ڈول ڈول | نادانی | ناپوہی |
| کبر | بڈائی | لوقہ | بیڈائی | نام | نوم |
| کج | کوږ | لہ | د | ناوک | غشہ |
| کج رائے | کوږ رائے | لہ اولہ | لا لمڑے | ناوکی | غشی |
| کج وراست | کوږ اؤ سم | لیعے یا لیدے شی | لیدل شی | نظر | کاتہ |
| کم | لیږ | چار خوڑلے | مار خوارڑے | نمک | مالگہ |
| کند یا کندہ | کیند - کیندہ | محبت | مینہ | نوشل | خنبل |
| کوشہ | چم | محلت | مالت | نہ | یہ |
| کوئی | چم | محنت | خوارئی | نیک سلوکے | بنہ سلوکے |
| گرجی | خرخی | محل | مہال | نیکو گفتار | نیکو وئونکے |
| گرد | گرز | مردالو | مبرڑولو | وعدہ | ژمنہ |
| گردن | غاړہ | مردہ | مڑے | ہجران | بیلتون |
| گرمی | تاؤدہ | مشاطہ | ڈمہ | یاران | آشنایان |
| گل صد برگ | سل پانڑے گل | معلوم | ښکارہ | | |
| گلہ | مانڑہ | ملا سته | تماسته | | |

Marfat.com

عبدالقادرخان غریب د ے کلام سره چه د ده څخه شوی دی نو د ناپوهئ اؤکم فهمئ په سبب، اؤکه په افغانستان کښی څه شوی نو قصداً اؤ اراداتاً شوی دی. کله د یو ے مخ نه د ے شوی - ګوٰ نو ورسره ترخپله وسه شېګړه کړی ده - خو سره د د ے، د ښاغلی حبیبی دا لوئ اِحسان د ے چه دا ورکه مرغلره ئ را وُلټوله - صفا ئ کړه اؤ شايقينو ته ئ وړاندِ کړه. کنی نو ورکه وه - دا مختلف قلمی مجموعے به ټوٰلے وبنوخټلی وے - یا به دِکوٰ ئ د شاهتیرِ دپاسه یا په لېهرو کښِ به په لوګو اؤ د بارانه په څڅوٰیکی، ورسته شوی وے - څنګه چه د نورو ډېرو کتابونو اُس هم دغه حال لګیا د ے کېږی.

په د ے دیوان کښِ، ما په خپل خیال، صرف د لوستونکو د آسانتیا په خاطر دغزلیاتو رباعیاتو اؤقصایدو ترتیب، د ړومبئ مصرعے د قافیے په مناسبت د حروف تہجی په بِنا راپېښه د ے. په د ے شان که دچا مطلع قدر ته یاده وی نو زر اؤ په آسانه به ئ را اؤباسی. ګران الفاظ اؤ اِصطلاحات اؤ د هغو معنےِ م دِ کتاب په آخرکښِ دِ عامو لُغت نامو په شان د حروف تہجی په ترتیب سره، د فرهنګ په نوم بیل ورکړی دی - اؤ د څنو مصرعو د اِملا فرق، د مختلفو نسخو مطابق م د هرے متعلقه صفحے په لاندینئ حاشیه ورکړے د ے - د خپلو معروضاتو د رسمِ خط نه مِ د "ټ" "ډ" "ړ"، اؤ "ګ" دا زاړه شکلونه په قصد ایستی دی چه دا اُس د پښتو په حروف تہجی اؤ ټایپ هسے فالتو پېښے د ے - اؤ شعرونه م د زوړ رسمِ خط په مطابق لیکلی دی چه څه د عبدالقادرخان دَئ لهجه وه - څکه هغه "یکښِ" وهے اؤ "پکښِ" ئ لیکل نو زه دِ اُس وېلے "پکے" وُلیکم اؤ وُوایم چه دا دِ عبدالقادرخان دِ خُط ټکی دی.

په آخرکښِ زه د مولانا عبدالقادرصاحب ډائرېکټر د پښتو اکېډیمی په خدمت کښِ د زړه د اِخلاص تشکر پېش کوم چه ما ته ئ په زوٰنړ تندی د اکېډیمئ د قلمی اؤ فِلمی نسخو د کتو اؤ بیا د کتاب د تدوین و ترتیب اؤ چاپ کولو اِجازت راکړو ––– اؤ بیا

Marfat.com

د یونیورسټی بُک ایجنسی مالِک و مهتمم فضل منان میاں صاحب ہم ممنون یم چه د دے کتاب د چاپ کولو وعده ئے وُکړه - خدائے پاک دِ ورته نورہم توفیق و استطاعت ورکړی کنی دلته د پښتو د کتابونو د کتو اوّ په بیعه اخیستو نه خو څوک شوق لری اوّ نه رغبت - په داسے حالاتو کښے د یو ناشر د ډمره لوئے خرڅ اوّ تاوان د پاره آماده کیدل لوئے زړه کول دی۔

د عبدالقادرخان په کلام باندِ م ډیره اوږده تبصره په قصد وُنه کړه چه شاغلی لوستونکی ئے خپله بالاستیعاب وُلولی اوّخپله ئے په محاسنو اوّ لطافتونو غور وُکړی اوّ تر ینه محظوظ شی۔ داخو د ہر چا خپل خپل نظر اوّخپله خپله خوښه ده - دِ ما به یوّ شعر خوش وی نو ضروری نه ده چه د بل دِ ہم ہم ہغه شعر په ہغه شان خوش شی۔ مُشک ہغه چه خپله خوشبوئ خپله څرګنده کړی، نه دا چه خرڅونکے ئے صِفت وُکړی۔ اوّ عبدالقادرخان خپله ہم ویلی دی ؎

چه ژوند یه شی ستا بیان؟ عبدالقادرُ!
په رنګ رنګ تر پیدا کیږی نورخوندونه

---

سید انوارالحق - پیښاور ښهر

شپږم - ۲۸ر دسمبر ۱۹۶۶ء / ۱۳۸۶ھ

Marfat.com

# مقدمہ

(عبدالقادر خان خٹک)

Marfat.com

Marfat.com

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ط

چه څوک په زمکه یا په اسمان دی — واړه په حمد د پاک سبحان دی
نقصان په غوږوکښې د سامعانو دی — اَشیاء واړه په حمد د سبحان دی

پس د خدائے تعالیٰ له حمدٌ جلّ جلالهٗ اَوُ د رسول له درودٌ صلّی الله عَلَیۡهِ وَسَلَّمۡ، اَے عزیزه وُپوهیږه، چه بهترین د طاعتونو اَوُ سَر د نعمتونو حق شناسی یعنی اِقرارکول په خُله، چه خدائے یَوُ دے، شریک ئے نشته اَوُ محمدؐ رسول ددهٔ دے، اَوُ تصدیق یعنی د نورَ د زړه دے. —

قربان دِ تر نامه شم محمدؐ پیغمبرَ — چه ئے ستا محبت نهٔ وی د هغو چاره اَبترَ
ځار دِ ترصدیقؓ شم صدقه دِ ترعمرؓ شم — فدا شم ترعثمانؓ بلهاری شم تر حیدرؓ

دِ واړو اَصحابوؓ دوستی دِ رسولؐ دوستی ده، د رسولؐ دوستی د خدائے دوستی ده. هرچه د خدائے دوستان دی، په دواړه جهانَ په اَمان دی. پس له ایمانَ تر واړه طاعتونو بهتر مونځ دے. بویه چه په ښه وخت ئے وُکړے. مونځ په ترتیب اَدا کوه. سپک کُم، چه مونځ ئے سپک وی. یعنی رکوع، سجود نه بیلوی. په مسجد نه حاضریږی. اَمّا اِما متی مهٔ کوه، اَوُ موذنی کوه. دروند بار دے. د مخلصانو کار دے. پس سعی په ښه خصلت کوه. دِ انسان اَوُ د حیوان تفاوت په خوئ دے. خوبونَ کم آزاری ده، څو توانیږے په لاس، په ژبه څوک آزار مهٔ کړه. —

د چا مه اخله آزار عبدالقادر — تر دا نشته دے بدکار عبدالقادر
هرچه ویره د مظلوم له آه نه کا — عاقبت شی هغه خوار عبدالقادر
چه لاس نه نیسی له ظلمه وژاند ورستو — په ظالم شی گرفتار عبدالقادر
خوک چه خوری په ظلم مال د یتیمانو — ډکوی گېډه په نار عبدالقادر

هر چا ته په ښه نظر گوره. هرچه په ځان نه پسندے په بل مه پسنده. که ښه کړے، ښه به موے، که بد کړے بد. د نورو بار وړه. خپل بار په چا مه وړه. له چا سوال مه کوه، د بل مه ردوه. چه مه شکنجه شے چه وُنه شکنجے. س

خپل استادم، خدائے یے قبر منور کا — همیشه به ئے دا پند وایه ما ته
په مقراض که د خوک دواړه شونډے پریکا — چغلی چغلی مشکی مه کوه و چا ته

د هر ورکړه تړ گنړه، تړ ورکړه په عذر زیات کړه. تړ خوره، ډېر بخوه، د چا مه خوره، په نورو خوروه. په هلکانو رحمت کوه. د پیرانو حرمت کوه. د عالمانو عزت کوه. د فقیرانو خدمت کوه. په هر کار کښ، په تله، په ناسته، په گفتار، په خوراک تقدیم د مشر کړه. مشر ورور لکه پلار گنړه. د پلار آشنایان لکه تروه. د چا عیبونه مه شماره، پرده پوش وسه. رباعی

اے چه عیبونه د بل اکثر وینے — خپل ځان تر نورو خلقو بهتر وینے
سر د همه وُ عیبونو دا دے — چه د بل عیب د ځان هنر وینے

غیبت له چا مه کوه. غیبت کوی منع کوه. په ځان بدگمان وسه، په بل نیک گمان. دروغ مه وایه، سړے پرے سپک شی. وعده خلاف او سوگند خور مه سه، بے اعتبار به شے. چغلی د چا مه کوه. د چغل خور غلیم وسه. د بل تړ احسان ډېر گنړه، خپل ډېر لږ. ډېر آروه، لږ وایه. شوایه چه خوک د وېوشتی باله وایه. د لږے نیکئ د بل پر تلافی کړه. په ډېر بد لږ مکافات بلکه عفو بهتر تر انتقام ده. خپله نیکی د بل بدی مه یادوه. ورکړه چه منت مه حبطه کوه. سخاوت په مثال ځدے، میوه داره شجر، چه منت ورسره مل کړے و بخ ئے سکنړی په آره. کامل ستی هغه

Marfat.com

دے چہ تر ورکونی پہ غوښتنیو مین وی۔ چہ ځوک دِ وُبولی ورشہ۔ ګنہ قرار پہ وقار کښِ ناست وُسہ۔ د علماؤ مجلس لازم ګنڑہ۔ ډیر علم لږ عمل کوہ خود بد علم پہ ډیر عمل ګډ کا۔

پر عمل بے علمہ څہ دے د خلئے قہر د خدائے ہیچ
لږ عمل لہ علم ډیر دے ډیر عمل بے علمہ ہیچ

د مشائخ پہ دیدن ورددومہ، نا بیتے ورسرہ کوہ پہ ادب۔ د اولیاء پہ کار انکار مہ کړہ۔ پہ نعمت شاکر وُسہ، پہ محنت صابر۔ نیک و بد واړہ لہ خدایہ ګنڑہ۔ موړ پہ قناعت شہ۔ قناعت ګنج دے، چہ دَ ے نہ فانی کیږی۔ راضی پہ قسمت شہ، چہ ہمیشہ خوش وے ؎

| | |
|---|---|
| پیرم چہ حل ئے واړہ اِشکال وُسہ | پہ دواړہ کونَ خرم خوشحال وُسہ |
| دا نصیحت ئے راتہ ہمیش وایہ | چہ خوش لہ خدایہ پر احوال وُسہ |

حِرص د دُنیا مہ کوہ۔ حرص قحطی دہ چہ نہ ہیریږی۔ حَسد لہ چا سرہ مہ کوہ۔ نقد دوزخ دے۔ حَسد پہ زړہ کبنی د بے حسد و اور دے، تر بویہ حذر۔ بے خرد وی چہ لہ مقبول سرہ دشمنی کا۔ بیغہ سړے دِ پہ شمار د رور دے۔ کبر مہ کوہ چہ خوار نہ شے۔ تواضع کوہ چہ عزیز شے۔ متکبر مہ شہ، متواضع وُسہ۔ آزار مہ اخلہ۔ د ہرچا نافع وُسہ۔ سر د ہمہ و بیندولو داد ے، لہ خپلہ خدایہ ہمیش خاشع وُسہ۔ حلیم شہ زغمونے چہ ورونہ شے۔ ډیرے مسخرے مہ کوہ، بے وقار بہ شے۔ د دُنیا محبت مہ کوہ۔ حُب سرد بَدیو دے۔ سخاوت کړہ چہ د ہرچا محبوب شے۔ بُخل مہ کوہ چہ د عالم مبغوض نہ شے۔ علیم د علیمانو ہم ستا نفس دے لہ شر ئے [illegible] احتیاط کوہ۔ لہ شیطانَ اُنس مہ کوہ یعنی اُنس لہ بدانو [illegible] دوستانو بدلانی چہ رُوبرو دِ صفت کا بیغہ بدخواہ وُګنڑہ۔ خود نمائے [illegible] آزمایلے بیا مہ آزمیہ۔ پہ ناآزمایلی کار مہ سپارہ۔ لہ حکومت لرِ وُسہ، اګرچہ کہ یَو ساعت وی۔ پہ ہر کار کښِ مصلحت کړہ۔

احمق ګم چہ ځان ہُشیار ګنڑی ؎

سړے کہ ہر څو د عقل پُوروی — چہ مشورت [illegible] خوار مغرور وی

Marfat.com

ہم د غہ عقل د دہ کمر شی ځنے بہ پر بوزی درست بہ چور چور وی

کاروندہ پہ خدائے تعالیٰ وُسپارہ - ډیر مہ خاندہ، کشادہ روی اوُ متبسم وُسہ، چہ زړہ دِ سخت نہ شی. اوُ ہر څوک درباندِ مَین شی - ہمیشہ محزون وُسہ. دُنیا کلبہ د اَحزان دہ - غافل بہ پکښِ اَندوہگین وی - خوشحالی علامت د حماقت دہ - لہ گُناہ بیارتہ وُسہ چہ زړہ دِ تور نہ شی. توروالے دِ زړہ نښانی د کفر دہ - د دُنیا مینہ سَر د واړو بدیو دہ - د دُنیا دارو نا ستے زہر قاتل وگنڑہ. خیل لږ ډیر گنڑہ. د بل ډیر لږ. پہ علم دین کښِ ترځان بہتر گورہ، پہ دُنیا پہ دولت کښِ ترځان کہتر. راز وچاتہ مہ وایہ - د چا رازدار مہ شہ، چہ راز بہ ئے فاش کړے، د راز ساتل گران دی - نیکخواہ د خلقو وُسہ، کہ پہ لاس وی کہ پہ ژبہ، کہ پہ زړہ - بہتر د سړیو نافع دے، بد مضر. مشغول د اللہ تعالےٰ پہ ذکر وُسہ - د خدائے عافیت غواړہ. مرگ ډیر یاد وہ - د دُنیا محنت بہ درباندِ آسان شی. د آخرت طالب بہ شے - مړہ عزیزان دوستان مہ ہیروہ - د ہر یو چہرہ تصوّر کړہ. چہ ژوندی څہ رنگ وُو، اُس پہ قبرونو کښِ څہ رنگ پراتہ دی. قرآن دایم لولہ، چہ د زړہ سپین والے د قرآن پہ تلاوت اوُ د مرگ پہ یادولو کیږی. تنہائی عادت کړہ - قرآن انیس لرہ، چہ پہ قبر کښِ دِ مونس وی، پہ قیامت شفیع، پہ جنت کښِ رفیق. ہر صبا یٰسٓ لولہ چہ ځنکدن درباندِ آسان شی. ہر نماز پیښین اِنَّا فَتَحْنَا لولہ چہ کشایش د دین د دنیا د کارونو وُشی - ہر نماز دیگر سورہ عَمَّ لولہ چہ د دُنیا محنت درباندِ آسان شی - ہر نماز شام اِذَا وَقَعَتِ لولہ چہ نہ خوار ہیږے، پہ دواړہ جہانہ آسودہ وبے - ہر نماز خفتن تَبَارَکَ الَّذِی لولہ چہ لہ عذابٗ د قبر خلاص شے - خیرالکلام مَا قَلَّ وَدَلَّ ——

والسّلام مع الاکرام +

Marfat.com

# غزلیات

Marfat.com

Marfat.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# ا

(۱)

ساقي پاسه پياله راکړه پانوے بېد کا
د بهار د رنګونو باغ وننه نوبېد کا

ستا په ميو کښې نشا د يکرنګۍ ده
چه تر فهمه م يکرنګ، سيه سفېد کا

د رقيب خاطر به وېلي، اکه يخ شي
که يار مخ راته ښکاره اکه خورشېد کا

سيه چشمو څخه بوئ د وفا نشته
له دے باب به څوک څه ورته امېد کا

چه په عشق سره ژوندي وي هغه نه مري
خدائ نوانېږي که څما عمر جاوېد کا

زړه ئې درست له مانيوړ لاړئ کوره
چه لا څو سحر دمونه ماړو نشېد کا

دا غزل چه بر ور څخه ښاد عبدالقادر شه
چه به بيا په ښايسته و اعتمېد کا

(۲)

که ګذر د يار په کوئ وکړے صبا
ووايه څوږ پيغام په دِلربا

څو قطرے څوږ په ياد په زمکه توے کړه
چه په بزم د عشرت اخلے صهبا

ستا د زلفو بوئ نسيم په چمن راوړ
له مستئ شو د غُنچے قميص قبا

په ژړا م د ښږو خاروونه توئ شول
په لېمه م قدم ږده بے محابا

لکه ګل په بوئ تر نورو ګلو ښه شي
ښه خصلت زياتوي حسن د خوبا

نصيحت په عاشقانو اثر نه کا
نه د پير نه د اُستاد نه د بابا

تل تر تله به ژوندے وي لکه خِضر
که په خُله ورکا دلبره لام و با

Marfat.com

چه ځې یار له غیږه ګۍ د مرګ ساعت دی — د ګوره مه وړې د وصال د شپې ص...
تر ساعت ځې د جنت خوښۍ مرمی — د خپل یار قامت و ماته ښه طو...
له دې ملک په عزت واته بهتري — ساکنان یې حرمت نه کا د غر...

که رښتیني خبر لرې عبدالقادره
بې رنځه به نه درومې محبوبا

(۳)

چه ښه وليده بشر ستا — کمترین غلام شو نمر ستا
ګل له شرمه خولې پرېږدي — چه په مخ شي برابر ستا
د بادشاه په بادشاهۍ — خندا کاندي قلندر ستا
ګل، شبنم، صبا، بلبل — ثنا وايي هر سحر ستا
تر عنبرو په ما ښې دي — د پله خاورې سمنبر ستا
خود له خوده ښایسته ځې — حاجت نشته د زیور ستا
د هر شي تسبیح به اورې — که غوږونه نه دي کر ستا
یار په هر لوري جلوه کا — خو بینا نه دي بصر ستا
سیاشت اوریځ د مخ نقاب کړه — چه په مخ شوه برابر ستا

تل دا خواست عبدالقادر کا
چه که خاورې شي د در ستا

(۴)

---

له د مخ په "ح" کښې نشته.

...ک چه مینه په دُنیا لا یه عُقبا کا
نه پو هیږی سراسر ډاره خطا کا

د وصل له لذت نه خبر شی
د بهشت و نعمتونو ته به شا کا

زاهد حُله د حُور او د قصور ده
عاشقان نه و دیدن ته تمنا کا

په اَعلیٰ وی په اَعلیٰ به نظر وی
چه ادنیٰ وی همگی چارے ادنیٰ کا

د خزان دُوک نه لید نه وی په سترگو
چه بلبله په گلزار راشی غوغا کا

چه نه شا په شا په کټ کښی ملا نه شی
دا فلک نه په هیواد حُبله جُدا کا

چه صبا به له مجلسه جدا کیږی
شمع ځکه درسته شپه د سوز ژړا کا

چه د وصل په دولت دی سره جمع
زمانه به نه جدا په واویلا کا

هر چه یاد کا هم هغه د دهٔ غلیم شی
ځه به نور عبدالقادر یاری له چا کا

(۵)

طول اَمل چه په دُنیا عیش و آنند کا
په آثار کښی د اُبو په طمع بند کا

لږ راحت به نه په ډیر محنت بدل شی
چه مرگ مځ ورته د ثمر په دود خوږ گند کا

کبرجن چه قهقهه خاندی په شادرومی
په معنیٰ کښی په خپل ځان پورے ریشخند کا

څو د عشق په تیغ واړه شم عزیز یم
قیمت زیات واخلی کنے چه نه بند بند کا

نیک خواهان د پند ویلو صرفه نه کا
نیک بختان بویه چه غوږ د دوی پند کا

رُخصت مه اَخله په غلا راځئ دروهه
کله څوک د خان د ورځو چار پسند کا

---

په ځنے قلمی او چاپی نسخو کښے دا الفاظ په دے شان لیکلی دی ! - [۱] بله [۲] بلبل ځکه په گلزار مړه غوغا کا " بلبل ځکه په گلزار باندِ غوغا کا - [۳] نا حقه ، نما سته [۴] ځله [۵] هر څیز کار ځوک چه یادکا ! - چه په لوری - نور به ځه -

Marfat.com

## ۶

دا خویونه که دانا سړے اختیار کا — په دُنیا په دین به جوړ پړ کاروبار کا
عبادت د حق په صدق په اخلاص کا — تل له خپله نفسه جنګ کوی کار زار کا
په فقراؤ سخاوت کا بے منتہ — په حاجت کښ استغنا له دُنیادار کا
د دوستانو ته تل پند نصیحت وائی — له دُشمن سره په حِلم زیست روزګار کا
له تمامو خلقو زیست په انصاف کاندِ — په ریښتیا ویل حاصل خپل اعتبار کا
شفقت مهربانی کا په خوارانو — د بزرګانو په خدمت حاصل وقار کا
جاہلانو سره زیست په خاموشی کا — که هرڅو په بد ویل ئے زړهٔ آزار کا

همیشه عبدالقادر غُنډ آزار وړی
چه نه څوک آزاروی نه له چا زار کا

## ۷

چه په خپله خُلهٔ بیان د خپل هُنر کا — د چنړے په دود هرګوره بړه چر کا
خپل ګوهر لکه صدف ساتلے بنویه — زمانه که ئے پاره پاره ځیګر کا
امتحان د مرد نامرد په حادثه شی — اور نیکی بدی ظاهره د اکسر کا
عاقبت به رو بینے وړاړی چه خاندی — د شیشه قُلقُل بنادمنو ته خبر کا
دون همت لکه خس بیا پربوزی په زمکه — که ګرد باد ئے د دولت په فلک بر کا
چه فنا خپله هستی کا په شرهٔ اورکښ — شمع ناله نور له نورهٔ منور کا
چه منت ورسره مل وی تر دامن دے — که به سڅونږے د حیات په اُبو تر کا
د بوریا نخښه په تن د مسکینانو — لا ښایسته تر منقش جامو د زر کا

Marfat.com

په دے بزم کښې چه مے د مُراد وُڅښې — په آخر د ناکامئ پیاله ور کا
د دُنیا خوبئ که واړه ورته کښېږدی — دړومنجن دے که پرِ غم داشنا ور کا
چه په وخت د تلو راتلو کا چیغارونه — د ہواد یاران رایاد زانړی اکثر کا
د غمژنو په کوڅه مه ځه خوشحالہ — صاف ساعت به دِ د عیش مکدر کا

ته لا ہسے باد پیچه عبدالقادرہ
دم په دم دِ عمر باد غندِ گذر کا

## ۸

که ہر څو وربانږ غاؤ رقیب غماز کا — عاشق کله غوږ د دیو په آواز کا
په جهان کښې که بدخوئ او گندہ بوئ وی — زمانه ئے مدمل پوش لکه پیاز کا
ناز ته ځ بویه نازک لطیف تر گُلہ — ہر ځ کله ہوښره ځ لری چه ناز کا
ہرچه نه ښیسی نظر له ښکلیه مخه — بویه دا چه ځان ځمږنو ونه ساز کا
باد راوالوت مخالف ناخدائے بیہوش شو — گوره سربه په کُم لوری داجهاز کا
چه ئے نه د میوے سُود نه ئے د سیوری — دا فلک ئے لکه سروُ سرفراز کا

له بے نیازه بے نیازی عبدالقادره
ہمیش غواړه چه له غیرو دِ بے نیاز کا

## ۹

دِلرُبا که راښکاره ښکلے جمال کا — له خاطره[1] به محو د غیر خیال کا
کفایت په عاشقئ کښی نه ځائیږی — محبت بنده زاده د بادشاه[2] سیال کا

په نسخه قلمی او چاپی نسخو کښې دا ټکی په دے نشان لیکلی دی۔ [1] له خاطره مینه محو غیر خیال کا۔ [2] پاچا

د وصال په وخت خبره لوئے حجاب شی — عشق، عاشق کښے گویا کښے ئے لال کا
په بورجل ئے د کال غم را بانډې تېر شو — انتظار یوه گړئ را بانډې ککال کا
که ظاهر له نوره خلقه مشغولا کړم — زړه مې تل د یار له غمه اشتغال کا
سپین و ښېنته د بدنامئ په وسمه تور کا — چه آرزو د صفا ورېو د وصال کا
زه او یار په صورت دوه په معنیٰ یو یو — څوک چه دے خوشحالوی ما خوشحال کا
زمکه تخت، آسمان ئے تاج، ستوری گوهر شی — چه په سر ئے دا د ښینه هما ئے بال کا
د دوران له انقلابه لا بقا شی — اعتماد به دانا څه په دا اقبال کا

د گور سره به په ژړا په نار وگړ شی
که ښکاره عبدالقادر ورته احوال کا

(۱۰)

هرگور ډېره نادانی بورا، بلبل کا — چه خزان ورپسے شته، مینه د گل کا
دا چراغ به بل ترگمه وی په باد کښې — یوه ورځ به ئے صرصر د فنا گل کا
په صبا ئے به زشتی بدل بنائست شی — شب چراغ چه په شپه همنبره تجمل کا
خفی شرک، لکه جلی ورته ښکاره بوی[۱] — عارفان کله نظر په جز په کل کا
په شبنم سره د گل غوټئ غوړېږی — د بخیل غوټه لا سخته نم د مل کا
ننداره چیانو به ئے شرحه د خط وکړه — تحیر ورته آواز د لا تقل کا

ستا قلم عبدالقادر مشک افشان شو
چه ډېر ډېر صفت د زلفو د کاکل کا

(۱۱)

۱ خرگند بوی۔

که د خوبرو په دعا فرېښتې آمین کا — زه به جمع پرېشان رب العالمین کا
د وصال په دولت ناسته شاغلي شه — جدائي د واصلانو ته کمین کا
ترق په وچوي له غمونو که نومید شي — د ښادیو په امید ښادي غمگین کا
د خندا طالب د تل په ورت ورت ژاړي — چه وژاړي خندا ناله یاسمین کا
د قصاب له چړے خوف[1] د لاغر نشته — په رمه کښې تل پوښتنه د سمین کا
قوت خو ہمنبره چه قوت ځنې حاصل شي — که په څوک ئې د اور بشو که غمین کا
جهان څه چه آسمانونه به کړ وړ شي — که د تللیو حال ښکاره ورته زمین کا
د خوبرو زړه داره و په دا عبدالقادر کا
چه د خوبرو په دعا فرېښتې آمین کا

(۱۲)

په خزان کښې که نظر په گلو وُ کا — ښائسته به په خپل حسن زړه ښه نه کا
د جهان ورکول کُل په عاریت دي — عاقلان به تعلق پرې پورې نه کا
د فلک آسیا په رود حمّا د سترګو — چه د یار په فراق دروهي گرزېده کا
یوُ ساعت ئې خوشحالي اندوه وي عمر — آشنائي دې هیڅوک نه کاندې که ښه کا
چه په اصل بوټې نرېخ وي خوږ به نشي — د اوبو په ځائې که تو ئې شهد اوره کا
پل ئې څکه په جهان کښې مونده نه شي — عاشق تله د یار په لوري په لېمه کا
بوئي د مشکو د عنبر په جهان خور شي — مشاطه ئې چه خواره د سر وېښته کا
له غمونو څکه خلاص عبدالقادر شو
چه په خپله بخره خوښ شو حرص نه کا

---

[1] داره۔

Marfat.com

(۱۳)

چه ئے ستا خوږے خبرے زړه صاف نه کا
د طهور شراب ښخو و ته لاف نه کا

خدائے په خپله ستا صفت د بیان کړے
نشته شے چه مدح ستا د اوصاف نه کا

چه ئے ستا په شریعت قدم ثابت کړه
له صراط د ښخه سرے خاف نه کا

چه خلاف دِ له سنت کا ځائے ئے اوردے
که له فرض او له واجبو خلاف نه کا

خدائے به خپل ګنهګار عفو ستا په روی کا
و ے ستا ګنهګاران به معاف نه کا

په طواف ئے مفتخر عبدالقادر کړه
خوار شی څوک چه تر روضه ئے طوافنه کا

(۱۴)

عشق د کُل بلاؤ سر دے خدائے دِ څوک پرِ اَخته نه کا
همکی د غم لښکر دے خدائے دِ څوک پرِ اَخته نه کا

له وطن سرے ورک کا و عالم و ته ئے سپک کا
دا همه د ده اَثر دے خدائے دِ څوک پرِ اَخته نه کا

پائمال مال و منال کا بدے رنګ بد بجے اَحوال کا
خوار کا دے که تونګر دے[2] خدائے دِ څوک پرِ اَخته نه کا

نه ترِ مری نه ترِ رغیږی که دارو کا لا بد بږی[3]
تر نا سور ئے رنځ بتر دے خدائے دِ څوک پرِ اَخته نه کا

هُم تېره دے هُم تاریک دے تروبښته نه لا باریک دے
ګویا جسر د سقر دے خدائے دِ څوک پرِ اَخته نه کا

---

په څنو نسخو کښې دا الفاظ په دے شان لیکلی دی سِلسله ستا په ځ کا۔ [2] خوار کا تا که دِ تونګردے۔
[3] لا خوږ بږی۔

سوزنده لکه آتش دے ، تر آتش لا سرکش دے
په ظاهر که منور دے ، خدائے د ځوک پرے اخته نه کا
چه عاشق عبدالقادر شو ، حال ئے کل ورته ظاهر شو
دا ویل کا ته خبر دے ، خدائے دے ځوک پرے اخته نه کا

(۱۵)

هر عالم چه تن پرست شي کامراني کا — دے به څه رنګ د دین نګهباني کا
چه له خدایه ویره کا عالم هغه وی — که د تخت د پاس ناست وی سلطاني کا
موافق چه ئے عمل له علم نه وی — تر جاهل به عالم زیاته پشیماني کا
د عالم فساد فساد د درست عالم وی — شیطان کله دومره ډیره ویراني کا
د هغه عالم صحبت لکه دارو دی — چه پیدا در کښې خوئیونه انساني کا
اول علم بیا عمل دریم اخلاص دے — دا درے خویه مرد عالم رباني کا
چه بے علمه شیخي کا مریدان نیسي — پیر مرید کاروونه واړه شیطاني کا
لمونځ روژه به ئے په ځان باندې تاوان شي — چه په حکم ئے د نفس نفساني کا
بل ته وایي دنیا پریږده بے وفا ده — دے ئے سعي شپه او ورځ په ودانی کا
نصیحت کا چه غیبت تر زنا سخت دے — په ویل د غیبتونو ځان زاني کا

په عمل د ګیلان سپے ور ځنې ښه وی
په خله ځان عبدالقادر ګیلاني کا

(۱۶)

خدائے به زړه پریشان یار سره یو ځائے کا — بد خوا بان به سره ځي هم به ناستے ناستے کا

په جهان کښې نوې نوې بازۍ کېږي — لا يوه تمامه نه بله برپا ئې کا

د بهار د ګلو ګشت کوے نه شم — څپلے اُبنيے راته زمکه ګل ولاڼې کا

تل به وار د رقيب جوړ رابانډې نه وي — څونږ وار به هم پرِ سازشي که خدائې کا[1]

دا دُنيا راته ښکاره قمارخانه شوه — هر څو ډېر که وګټي آخر ئې بائې کا

بزرګي په وزر نه ده په ښه خوئ ده — بوم به کله په وزرو ځان هما ئې کا

زخمي شوي دي هر لور عبدالقادر
څوک اوه اوه، څوک آه آه، څوک وائې ولې کا

## ۱۷

چه دُنيا ورته ښکاره شوه بے وفا — وه دُنيا ته به مخ نه کا بے قفا

په اصحابو به پرېوانه وه بے حده — په کفا به نه وه زور[2] که ښه وه وے دا

چه ئې مخ وي د دُنيا و لټولو ته — خپل پردي ور څخه ډېره دمي شا په شا[3]

دُشمني ئې ده بهتره تر ياري — په ياري کښې يار خراب کاندې يو ځا[4]

دوا په لاس ئې د خپل يار په ويښو سره دي — نادانانو ته ښکاريږي په حِنا

کله چا سره ياري کانډې تر سره — لګه پس باندې ته هم شه شيدا

د سليمان تخت چه په باد ته آخر بائله — په قارون په ژوندون وشوه تماشا

په سکندر او په دارا ئې وکړے چارے — په شدّاد او په نمرود ئې وکړے لا

د هغو طمعه دا نه وه چه به خوار شو — په دُنيا کښې هسے مست وو بے پروا

په ژوندوني خوارو زارحيران پرېشان شول — اُمته دار دي د ټکړے[5] صبا بېګا

---

په څنګ قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دے شان ليکلي دي:- [1] هر څو ډېر که ګټي اخلي بيا ئې بائې کا۔"

[2] زوز- زوږ- زوړ۔ [3] تل وي۔ [4] خراب کا ترېو چا خراب کا ترېو چا۔ [5] ټکو

چه له کبره ئې سم نه ويل وچا ته    اُس کړے خبرے اورى له هر چا

چه وېښتو ئې تاب ورکړے وو سُنبل ته    د سُنبلو په دود ځائې ئې شته صحرا

چه په خوا ېڅوا پراته وُو له مهرويو    اُس پراته له لرو خاورو خوا په خوا

حال ئې درست عبدالقادر وته ښکاره شو

څکه بسے ندامت کا له دُنيا

## ۱۸

ښتته په جهان کښې ښکلے په دا قد وبالا    څه عجب صُورت دے تبارک و تعالیٰ

هيڅ سودا وُنه شوه ځنے تش لاسونه ولاړم    ډېر دے په دا بنهر کښې لايق د خريد کالا

کله به خپل يار وَته بلیٰ و نَعَم وُکړے    که تل به ئې جواب کوے په سوال کښې لم يالا

هرچه دا سوال کا چه به کرم په کشليو مينه    بويه چه يَوځل د ناموس خونه کا تالا

ډېر په شپوه دے دوے خدائې دِ ژغوره له نظره    زيات تر تورو کشليو خيال دماغ دے دِ تالا

واړه ښايسته که لکه ګُل د يوه باغ دى    لا ځما دلبره په کښې ښان لرى والا

دا څه ويل نه دى، چه عبدالقادر وائى

پېيلى ئې د نظم په تار دى لوَلو والا

## ۱۹

ښکلى مخ ئې مياشت خجله کړه نمر هم لا    قد ئې سرو کړه سرکوزه عرعر هم لا

سرو لبانو ئې قيمت د لعلو کم کړه    سپينو غاښونو ئې بے آب کړه ګوهر هم لا

چه تنها ئې هميشه په سر اخلم    د عشق بار م ګردن خم کړه کمر هم لا

---

په څنو قلمى او چاپي نسخو کښې دا تکى دا شان موندے شي: ولے حال د درست عبدالقادر وته معلوم دے. حال ئې درست عبدالقادر وته ظاهر شو.

Marfat.com

نه یواځې په صورت جدایئ خوار کړم — په دا اور د ننه سوځي ځیګر هم لا
چه نکهت د یار د زلفو نسیم راوړه — مشک خوشبوئ په هغه بوئ شول عنبر هم لا
په نمانځه کښې د یار وروځې را په یاد شوې — د زړه آه م محراب وسو منبر هم لا
څو د زړه عبدالقادر سره جفا کړه
ستا جفا به وړي په سر په بصر هم لا

(۲۰)

په تهمت[1] کښې که خپل یار موندلے ما — د عالم تهمت په سر منلے ما
دہر به نه وو هجران ګران که ئې له غمه — په وصال کښې همیشه ژړلے ما
ما به تل لکه بورا په ګل سینه مښه — لمه پکښې د وفا بوئې موندلے ما
چه بے سوال ورکړه کا منت په ځان بږدي — سخاوت دے د هغو پسند لے ما
حریص څکه هسے در په در جار وځي — چه دے دے له خپله در راتلے ما
ابدي ژوندون حاصل عبدالقادر کړه
د غمزے په تیغ چه دے وژلے ما

# ب

(۲۱)

حاصل کړه مقصود ونه د دنیا له هره بابه — آخر به په ارمان ور څخه ځې سینه کبابه
دا خرابه هیڅ امیر وزیر ودانه نه کړه — سعئ د هغو ودانئ کړه خانه خرابه

[1] دا غزل په "ح" کښې نشته۔

Marfat.com

د ډېرو سترو وچاودے زاړے په ډېر طلب کښې[1] ... تنده ماته نه شوه د هیچا له دے شراب
د سرو ښېښته د سپین شو سپین دِ نه شو د زړه توری ... ځمر په تندی راغے ته لا وِینبس نه ئے لخواب
کانړی دی نه زړونه چه نرمی ورځنه نه وی ... کیتی دی نه ستر گے چه بے نم وی بے آب
حرام وی که حلال وی خو دِ بویه چه اموال وی ... هیڅ ویره دِ نه شی له عذاب له حساب
مست د دُنیا کله بے اَجَلَ هوشیار بوی ... مستی د دُنیا بدْ ده تر بنګ وتر شراب
خاورے خپل وجود کړه خولا نه ئے خاورے شوے ... زده کړه که دِ نه زده دا خصلت له بوتراب

پروت عبدالقادر دے د غفلت په توره شپه کښې
کله به راخپژے د توفیق کښلی آفتاب

(۲۲)

بیا په ځو وُنیو دِل رُبا ئے نقاب ... اِفتح یا مُفَتِّح الاَبواب
ګل شګفته شو په پرلور د بهار ... الصَّبوح الصَّبوح یا اَحباب
رېز ساقی مئے باقی در جام ... را ببانګِ دَف و نے چنګ ورباب
تا چه قدم په خاوروکښېښو فلک ... قالَ یا لیتَ رَبِّ کُنْتُ تُرا ب
چه جدا شوے مین راشی بکن ... سببے یا مُسَبِّبُ الاَسْباب
اورم قبول دے جدائی دِ نه وی ... هجرِ محبوب رأسَ کل عذاب
ذل من طمع عز من قنع ... حکه قانع شده اولوالالباب
بے خدا یه ویره شرک خفی است ... و هوالقاهرُ هوالوهّاب
ربَ! عمل م دے همه دَ بدیَ ... تُب عَلیَّ فَاِنَّک التَّوّاب
ته رحیم و کریمی و غفور ... زه که هر څو نه ځم براهِ صواب

په ځنو قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ په دے شان لیکلی دی :- [1] وُچاده زاړهٔ دَ ډېرو ترو په طلب کښې.

## عبدالقادر چه دا غزل کړه بیان
## خوک به ئے کاندِ په پښتوکښې ځواب

(۲۳)

که خبر شے د رندانو له مشربَ — نور به تېر شے تر څلور واړه مذهبَ
خوک دِ طمع د ادب له مانه نه کا — څه غرض د لېونیو له ادبَ
دا همه سبب ځما د بدبختیٔ دے — چه دا هسے آزرده شے بے سببَ
چه ترخه ویل دِ شونډو ډېر خواږه دی — د خوبرو به دِ څه خوند وی شکرلبَ
په هجران کښې ناقرار په وصال سوزی — د عاشق دِ څه نصیب کړه ځما ربَ
چه نقب ئے د سړی را پاندِ کښېښو — زیارتگاه شوم د فرښتو دے لقبَ
د نمر وصل موندہ ستا په دلالت شی — لا به[1] کله طلوع کړے ځما کوکبَ
ژړنده تاله څه حاصل کاندِ چه گرزی — یو زمان قرار دے مه کړه له طلبَ

یو ساعت د اشنا غم عبدالقادر
بهتر دے د تمام عمر له طربَ

(۲۴)

که هرڅو به ورځ په شپه کاندِ طلب — ورته نه شی تر مطلوبَ بے ادب
تر بے سبینَ په قرآن که نظر وُکړے — د ادب صفت دے کړے په کښې ربّ
ادب څه دے نیک و بد گڼل له خدایه — مستقیم په شریعت په روز و شب
سببونه چه بونه شول د وړاندِ — مسبب نه شی لیدہ په دا سبب

[1] په څنو قلمی او چاپی نسخو کښی دا الفاظ په دے شان لیکلی دی:- لا به کله کړے طلوع د بخت کوکبَ

Marfat.com

چه له ښځې وُنې نه سرے ليے پيدا کا ... که له سرو دمبو بهار کا څه عجب
دواړه لب به ئې ښغه عاشقان کښل کا ... چې له ياره سرومال نه لري لب
ساقي څه خو طربناک اُبه راکړه ... نُوټ څمونو کړو څما دَ زړه طَرب
چه اَثر د بے خودئ ترپيدا کيږی ... تل برجنه وُسه وُنه دَ عِنَب
له خوږوم دواړه شونډے صبا ننبتی ... چه م وُزبېښل په خوب کښېږ دَيار لَب

زړه پياله عبد القادرَ اوِینے ے کړه
د اَشنا په ياد ځ نوشه لبا لب

## (۲۵)

دَر سته شپه ژړا فرياد سترگے بے خوبَ ... دا ہمه کار[1] ونه ستا دی مين توبَ
چه م نوُ له سترگو نه ځی زړه م چوی ... مه کړه خدائے د زخمی زخم بے زہوبَ
ډک څُونه تشوم د عشق د ميو ... لا تشنه سينه م ہيځ نه ده خړوبَ
و منصور ته د دار سر بورجل د يارِ شو ... عاشقان دِ نه کا ډار دَعشق له چوبَ
چه د عشق له اوره تښتی عاشق نه دے ... د خپل ځان په شرلو شی د پتنگ سوبَ
نازپرور[2] دِ خبردار له قدره نه دی ... خو ہم مالره راځه د عشق آشوبَ

چه له دَرده ځان ساتی دوانه ځغلی
له ښغوعبدلقادرَ توبَ توبَ

## (۲۶)

دادُعا م مستجابه کړے مجُيبَ ... چه وصال م بيا روزی شی له حبيبَ

---

[1] په څنو قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ په دے شان ليکلی دی: سله واړه دا کار ونه ستادی مينتوبَ -
[2] ناز پروره دِ خبر نه قدره نه دی -

ستا له فکره خالی نه یم، خالی مه شم ... اَے تر فکر ځما زړه وته قریبَ
د عشق بار د لېونتوب په زور اخستٔ شی ... په قوّت د عقل وړه نه شی لبیبَ
لاس په لاس مراد وَ نورو وته ورکا ... چه په ما باندِ وار راشی وایی بشیبَ[۱]
هم تر ما پورِ سرکوزے، هم یار رد کړِ ... ځځ دِ نور په دواړه کونه[۲] شه رقیبَ
ستا په قدر نا اَشنا کله پوهېږی ... د حرمت اُمید له چا کوے غریبَ
په قسمت ئے د پتنگ د اور لمبه کړِ ... ته ورځه په گلو گشت[۳] کړه عندلیبَ
بے نصیبَ به دِ هیڅ په لاس کښېنوزَی ... بیهوده څه له حرص کړے نصیبَ
چه په سترگو ئے پردے د حسد پرېوزی ... اِمتیاز د یوسفؑ نه کاندِ له ذِیبَ
چه ئے کاندِ، و هرچا ته بد بنکارېږی ... د ځوانی کار ونه نه سبائی له شیبَ

له بد ذات سره یاری عبدالقادرَ
په معنیٰ کښِ دشمنی ده له نجیبَ

# ت

(۲۷)

بل کړه د اِخلاص په غوړ چراغ د عبادت ... موم د عصیان وِیلی کړه په اور د ندامت
سترگے کړه اوښ بارانِ د اوبنکو ځنے دوره ... گُند رِ مېوه کاندِ نِهال د محبّت
بیسے رنگ وُ مېوه چه خپل ځان له خلق خلاص کړ ... نه ئے چه سبب شی د خلاصی ستا رحلت
غم دَ نورو اخله، په چا مه بِرده خپل غمونه ... یا تے به دِ نوم شی په جهان د فتوت

---

[۱] شی یه یعنی وُبه شی۔ په ځنے قلمی او چاپی نسخو کښی دا الفاظ دا سے لیکلی دی۔ [۲] دواړه لوری۔
[۳] ته ورځه په گلو گشت کړه عندلیبَ۔

Marfat.com

م ئې یوځل د کمینئ په خاورو پټ کړه ··· ناله به زر غون شي د لویئ زراعت
بنی په خپله بخره شه، حسد له بېچامه کړه ··· هرچا ته رسېږي خپله بخره، خپل قسمت
ور به هرګز نه شي د حرص[1] قحطئ وېلے ··· بېځکله به وړ ے نه شي مور د قناعت
است په زورکښې بنه ئے نه دی بد په مجلس کښې ··· اور د صورت سوځي[2]، سوځي دین د بد خصلت
سوځي د حسد په اور وجود د حاسدانو ··· خه بنه کرځي محسود له دغه اوره فراغت
ستا تدبیر دوزخ دے، جنت کار سپارل تقدیر ته ··· خلاص شه له دوزخه ځان داخل کړه په جنت
اسه ساقي راکړه پیاله[3] له میو ډکه ··· یار د سیند کنار، وخت د بهار دے غنیمت
ستا پیاله چه وڅښم، ویل کړم له خط و خاله ··· مبنه غزل انشا کړم د دلبرو په صفت
یار م باده خور شو، څه رنګ زه ځنې انکار کړم ··· شرط دے د یارۍ ځوند په دین موافقت
ستا په تنده م باغ د سعادت پژمرده کېږي ··· ډکره د رحمت نسیمه! بیا مراجعت

هرچه له چا اورے غوږ ورته کړه تر تېرېږه
مه کوه عبدالقادر چا سره حجت

(۲۸)

چه بدل په عبادت نه کړے عادت ··· بیا به نه مومے لذت د عبادت
چه سبب ئے د دوزخ ځما کشتن وی ··· بیا به نه مومم دا هسے شهادت
په نکریزو د ناز پښے د لیلی سرې دی ··· موسی دومی د مجنون په عیادت
سیادت به د طاوس نه د هما ئے وو ··· که موندے شوے په چوړۍ سیادت
د استاد په سعی کله ذکا مومی ··· چه مغطور وی بغه خوک په بلادت

په خط قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ یا مصرعے په دے نښان ښکلی دی :- ۱ ........ د حرص د کاختي وړے
او ...... د حرص قحطئ وژ نے - ۲ سوزي سوزي - ۳ ...... بیا پیاله له میو نور - او ...... پیاله د میو پوره
ت خو چه دل په عبادت نه کړے عادت - ۴ خو چه زړه په عبادت نه کړے عادت

چه هیڅوک کې نه پوښتنه، نه ماتم کا
هغه مرګ دې یې هورې دې سعادت

(۲۹)

ما چه فهم وکړه د دې دور په بریست
شکست کې په درستۍ کښې دې، درستۍ کې په شکست
هیڅوک هوشیار نشته د دنیا په خرابات کښې
څوک مستي په دې کا څوک د یار په شونډو مست
مثل څله پیاله د صافو ورکړه، ترې به داوړي
هرچه کې پیاله د دور د نصیب وي په الست
پاتې ستا په ناسته غم اندوه ځما له ځله
چکي جکي تل کړه، دا برخاست او دا نشست
څه نسب د مینې چه فرشته به کې لرسي کا
خاندي و رقیب ته یار همه ځما په قست
هرچه معنوي فقر کې بیا مونده له حقه
لا به محبت د ذرې په نسبت لري تر هست
لوی هډک به واړه آخر تا وته جارو وځي
ځان که لکه زمکه کړې عبدالقادره پست

(۳۰)

په ازل چه کې د بدو وي سرنشت
خواه ناخواه به هغه کا کار و نه زشت
په هرچا بانډې مشوه خپله لار آسانه
څوک په نور د کعبې ځي، څوک د کنشت
په خندا په هوس تله شي و دوزخ ته
په ژړا په غم په لوري د بهشت
سبه و بنا په وخت د لو پاخه دهقان وې
هرکس به رود آخر هغه چه کشت
زاهدان چه بهشت غواړي و عارف ته
دوی غلبه لي هلکان دي په دربشت
پریشاني پر هیشه تاثیر کړي ینه
ځما ستا د زلفو یو دې سرنوشت
د مقصود په لوري څه عبدالقادره!
که په لار د نقشبند ځې که د چشت

Marfat.com

# ج

## (۳۱)

نن ئې بيا کښېښو په سربانډ دستار کج — لکه مست هاتي په لار کوي رفتار کج
څه به چېړ راته سم کړي په ياري کښې — که همېش به ئې لري راته نکار کج
فلک تا غُنډ د هر سم کړه ته ورسته ئې — له غروره به تل څو درېدې پهار کج
دانا وران کار ونه جوړ په دانائي کا — په تعجيل سره نادان کاندې سم کار کج
په راستۍ کښې چه مونده رُستګاري شي — شکه زنهار وچاته مه وايه ګفتار کج
هرچه سم ځي په روزګار کښې غم ئې نيشته — همېش خُشه مومي تاو له اُستکار کج
سروِ! هيڅ په پستو وُنو لوئ مه کړه — ستا به هم ګاندي قامت کاندې روزګار کج

که فلک ورسره کج شي غم ئې نيشته
مه کړه خدائې عبدالقادر سره خپل يار کج

# خ

## (۳۲)

چه ئې سپي کړه د دُنيا له ځانه چرخ — هم هغه کاندې ځان خلاص د ديولاخ
چه ويل د عِرفان کا اثر ئې نه وي — اِبلِيسِک دي ځنې تښتي په فرسخ

Marfat.com

په خُفیه ذِکر ئے زړ مړئ خفه کړه — که شیطان دِ په خاطر کا مشکل بند
د فراق لمبو د ہلیه! رانژدے شه — چه سینه دِ کړم په مشغل د سینے
ستا د یدن رمق راپاتو دے پرِ پایم — څکی څکی یاره ناست ؤسه رانږ

د توبے دریاب ئے تاوته پیدا کړه
سپین کړه ځان عبدالقادره لا د مخ .

# د

(٣٣)

نه دِ تل وینم وزان د سحر بادَا — په مقدم دِ شی سینه د غنچے بنا
چه ئے لاس د دلاسے په تندی کښیږدے — قرارے د بیمار وشی له فریا
نه تنها قبض نثار کړے په گلونو — لا خار ونه اُمیدوار دی ستا له دا
په سبنه بوئ د باغ گلونه معطر کړے — په نفس کړے د غنچے زړونه کُشا
ستا په راغله د باغ ونے زرریزی کا — سروه نه د یار له یاره کړے آزا
پرورش د بهره مندو بوټو وکړے — بے بهره بوټی وکاړے له بنیا
چه تر منځ د قاصدانو لارے بندشی — پیغام یار نه د یار راوړے له ہیوا
د یعقوبؑ ته دِ خبر د یوسفؑ راوړه — نامراد د ہم آغوش کړه له مرا

د وصال په زیری بسک عبدالقادر کړه
پرے یستلے د ہجران له لادَ بادَ

Marfat.com

## ۳۴

که د نورو تونګري په سيم و زر دَ
د عاشق ده په سپين زړه په چهره زردَ

لکه تږے له سرو اُبو حَظ موي
مشتاق لا موي لذّت د يار له دردَ

په سپين مخ دِ وښبنته نه دي تور تورکے دے
چه و تلے دے ځما له آهِ سَردَ

چه د تور ے مخ ئې سور کړه په ميدانکښِ
هم هغه سُرخروئي يوسي له نَبَردَ

بل ګناه ئې بے مردي نه ته ښکاريږي
چه نامرد سرے کينه کاندِ له مَردَ

که په شاه باندِ په خز په سمور تېر شو
ګدا ئې هم په ګنډ کښِ روغ وُوت له بَردَ

په نامرد مُشک و عنبر لو ئے فلک
اُلوده لرے دِ مرد چهرهِ له ګردَ

خپل نصيب کړه په تا خار عبدالقادرَ
يار که هر څو حُسن زيات لري تر ورَدَ

## ۳۵

نا آشنا تر آشنا ښه ئې نن اَو ګاندَ
لا په ښه زړه نه د چاسره مه خاندَ

که ئې لوئې د زړه په وِينو لکه ګُل کړِ
هم ښغه به په زړه درکا لښته تاندَ

چه تر سرے ځان لوګے کړے قُربانيږے
دَجفا په اور دِ سوَځي لکه سپاندَ

خپل پردي ته ځان ئې د طمعے پاتے نه شو
خدائے دِ نه کا څوک په خپله چار درماندَ

د عزت ترڅو ته ځان نيوے نه شے
په خوږ و پسے د پُچ غُنډِ ګرزاندَ

بے اَجلَ به ئې خلاص له درده نه شے
د بد خوئي سياڼ په چا مه شه هراندَ

د ستم په ښکر دِ غوځ عبدالقادر کړه
په ظاهر صورت سړے په خري پسے داندَ

Marfat.com

(٣٦)

اے په زنې ناشپاتۍ په شونډو قندِ — په قامت تر سروِ وُنې لا بلندِ
خوش خرامه، ګُل اندامه، عنبر مُويَ — خود نمايَ، خود ستايَ، خود پسندِ
که زاهد دے که عابد، تر نه خلاصيږي — خلق دِ کړے په تورو زُلفو بندِ
منوّر دِ کړه عالَم د مخ له نُوره — لکه نمر په تمامی عالَم څرګندِ
ستا په تش نظر م رنځ د زړه ورکيږي — يو ځل وُګوره و ماته ستر ګے پرِندِ
په هجران به دِ تر کُومَ خوارو زار يم — په وصال م بهره مند کړه بهره منِدِ

هر قدم په فهم بِده عبدالقادرَ
د عشق لار کو هے کو هے ده کندِ کندِ

(٣٧)

صباحت د ولايت، نمک له هِندَ — د دے دواړو ئے ساز شوے ځما جندَ
د کوثر د اُبو آب دِ مخ لرينه — د مشتاقو ځنے نه ماتيږي تندَ
په دا دوه حرفَ اَدا مسلماني ده — هر چه نه پسندے په ځان په ځانه پسندَ
هر پيوند ئے د دلت قطعيت کاندِ — بادشاهي تر تا قُربان د عزت کندَ
چه ئے اُس په توتو نه مړيږے — هم داخيل دولت به وُکا په تا شندَ

د زاهد له صومعو عبدالقادرَ
وُوزه مراد د خپل خاطر غواړه له رِندَ

# د

Marfat.com

## (۳۸)

چه مې ولیده د یار سره اغیار کړ     په فریاد شوم په ژړا شوم په چیغار کړ
آئینه د زړه صفا له خاکسارۍ شي     هم په دا له تورو خاورو شو خاکسار کړ
عندلیب د زړه له تاوه نارې وکړې     چه یې ولیده له ګل سره خار کړ
پرېوځ ګل مې په زړه خار غندِ خرخبري     چه بې تا شم کله کله په ګلزار کړ
ستا په زلفو کښې مې زړه هر کور پرېشان شو     مسلمان دې نه کا خدای په هندو یار کړ
نادانۍ نادان همېش لري په عیش کښې     هوښیارۍ د غم په سینه کا هښیار کړ

چه آخر ور ځې تله په ډېر ارمان دی
نه به شي **عبدالقادر** په دا بیمار کړ

# ر

## (۳۹)

زړه مې هر کور وو له هجران افګار     شکر حق را که باز آمد یار
سروه سرګوز له انفعال کاندې     چون بخرامد به سوئے باغ نګار
څوک به لاله د یار د مخ کا ځنې     آن سیه دل کجا و آن رخسار
په موافق د محبت شي عتاب     مشو از جور یار خود آزار
متحیر ځې په لیدو د جمال     همه خوبان چو صورت دیوار
خو اتصال دې د عاشق شي نصیب     خواه در باغ و خواه بر سر دار
باغ و شاهد بنه بنه یاران موجود     خېز ساقي شراب ناب بیار

Marfat.com

گوره بیا کله را به شی ښخه وخت        که ږنهم لب به لبّ سشکّر بار

فور د زړه مراد عبدالقادر پرېږده
گر بیابی مرادِ دِل ایں مبار

## (۴۰)

مخ په هر لوری جلوه گر دے د یار        ابصروا ابصروا اولوالابصار
بے محابا راکره کښېږده قدم        لیس فی الدار غیرنا دیار
په بد صحبت د بنی زوے شو خراب        اتقوا من مجالس الاشرار
په ورکول د سر وصال موندّه شی        ابشروا یا معاشر التجار
طعن او پېغور و ماته مه کړه شیخ!        انا عاصی و ربنا غفار
که رقیب ؤوینی له یار سره        قل اعوذ برب لیل و نهار
د خواب خوک دے چه آواز ؤکاندِ        لمن الملک واحد القهار
رَبَ سِنه یار عبدالقادر ته ورکړه
وَقِنَا رَبَّنا عَذابَ النّار

## (۴۱)

که هر څو لعل آبدار لری دلبر        نه شو ښکله پرِیخ د چا څیگر
د ښخو شهلا نرگسو له فراق        همیشه رِم تر نرگسو څی گوهر
هر یو گل ئے د بنایست د باغ منظور دے        وے لا ئے په سمن لگی نظر
راشه ؤگوره څما زیبا صنم ته        که به گورے په یوځائے ہلال قمر
سروِ سر د خجالت په زمکه کښېښو        چه سر ښک کړه په بستان د یار عرعر

Marfat.com

د ژوندون چینه یاد یږي په تیارو کښې ما ته خدائے راکړه چینه ترخنګ د نمر
چه سنبل ئے باد پریشان په نسترن کا په غروب شي دعاشق د بخت اختر
چه غنچه ئے شګفته په تبسم شي له ګوهرو ئے جهان شي منور
که له ډېره رشکه وُچوي حد ئے څه دي چه له ملا سره ئے مُو وهي کمر
که ئے نوش عبدالقادر د شکرے کا
پرې به شي د مرګ تلخي شهد و شکر

## (۴۲)

مُزین[۱] کاندې یوُ څو په افسر سر بیا ئے مات کا د دوران غضنفر فر
اورنګ زیب به څه خلاصے ورځنې موي دا مزرے دارا شکن دے سکندر در
څکه نوم ئے د ذیب وربانډې ښکاره ښو چه د باد غُندې هر دم کا ګوزر زر
نن په څو له توره خاورو سره پروت دے چه ئے ډک وُه همیشه په دلبر بر
ماچه برایه[۲] اَشنا وُلیدو په خوب کښې په ژړا[۳] کړه په اُبنیو بستر تر
که په اَصل واړه یوُ دي، په واخځ شو په قیمت سره سم نه دے ګوهر هر
په معنے کښې بشر نه دے، پرانګ لیوه دے چه د ده د لاسَ مومي بشر شر
هر سړے په خپل مقدار خریداری کا ځنې اَس، ځنې تمو، ځنې خر خر
په شکنځل ئے سرفراز عبدالقادر کړه
د ژوندون له باغ خوړ د سمنبر بر

---

په ځنې قلمي اَوُچاپي نسخو کښې دا الفاظ په دے شان لیکلي دي :- ۱ "مزین ئے کا یوُ څو په افسر سر"
۲ "برایه م اشنا وُلیده په خوب کښې"
۳ "په ژړام کړه راالاندې بستر تر"

Marfat.com

## ۴۳

نه به ستا د ښایست تل وي ښے دوُ — نه به زړه وي د عاشق مدام په څور
چه دا دواړه بقا نه لري تېرېږي — بېهوده هُمره ستم کړے هُمره جور
زړه دِ سخت دے په سختۍ تر څخت کانړے — که درست تن دِ مصفیٰ دے تر بلور
بے جوهره ښایست نه لري هېڅ قدر — د شاهانو په لاس باز کښېني نه میور
چه په بد نظر وکړے اُبه شم — څه حاجت دے په ما خوار د هُمره زور
څو له یاره جار یستل خندل رقیب ته — واوا واوا عجب یار عجب ئے طور

ښے یار عبدالقادر په بخره بیا موند
چه صُورت ئے د سپي خصلت د بور

## ۴۴

یار هغه چه کله مهرکا کله قهر — کله کله نوش دار وشي کله زهر
کاه باران شي د ژوندون اُبه که توئے — کله اور شي سرے لیے کا تمام شهر
که دا ښے یار موندہ شي په طلب کښې — سستي مه کړه هم ئے پټ غواړه هم جهر
شپه او ورځ آه و فریاد سوز و گداز کړه — د هجران له لاسه وران د سترګو نهر
و عاشق ته د یار غم هرګور ارزان شي — که موندہ شي په تمام هوس د دهر
ګوره څو عالم به ورک څو به خراب کا — لور په لور د فتنو سیند دوابه لهر

---

په خطي قلمي او چاپي نسخو دا الفاظ او مصرعے په دے نشان نیکلي دي:- [۱] "دا د دہ عجب یاری دہ عجب طور"
"واه واه واه عجب یاری دہ عجب طور" "وا-واه واه عجب یار دے عجب طور" [۲] په نصیب بیا موند. [۳] خوَي دَ و بَود. [۴] په عاشق دیار غم هرګوره ارزان دے" [۵] ګوره څو عالم به ورک څوک به خراب کا" [۶] ګوره کم عالم به وُرک کم به خراب کا"

Marfat.com

د زړه باز به دِ ځاله د فکر ښکار کا — که بېدار وی په ورستی په وړومبی پهر
که هرڅو عاقل هوښیار وی لېونے شی — چه په خوب کینی ور ښکاره شی پری‌چهر
په ارمان په حسرت لاړل له جهانه — که پرویز وو، که دارا، که منوچهر
د زوال ویره کوه عبدالقادره!
په لویئ نے غلط مه شه د سپهر

# ر

## (٧٥)

راته څه وائے چه "وایه" زړه دِ چا یوړ؟ — بے تا څوک دی ما لیدلی وایه "ما یوړ"
په ژړا ژړا م زړه له کښلیو خلاص وو — په خندا خندا ئے نن را څخه بیا یوړ
چه د عشق جمال جلوه وکړه عالم ته — ترمُقِره ئے د مُنکر خاطر پخوا یوړ
دلبری ته په ښکاره درځم زاهده! — بیا به وایے چه ئے زړه څما په غلا یوړ
شیرین‌ځان شیرینے ځار ترخپل مین کړ — په دا کار ئے گوئے له کښلیو د وفا یوړ
له اجله ئے بهوره خلاصے وُنشه — ځان ادریس له مزکے پاس که تر سما یوړ
د باد وُریو څوک پښتنه کا چه څه شو؟ — بیا په بخت په لاس کښیوزی چه هوا یوړ
چه دُنیا ئے په خپل ځان باندِ تنور کړه — و فلک و ته ئے ځکه مسیحا یوړ
په بوسه م ئے خاطر چېرِ ښه نه کړه
دا ایمان عبدالقادر به ما په خوا یوړ

په څهٔ قلمی اوُ چاپی نسخو کښے دا الفاظ په دې شان لیکلی دی: ۱ـ نه خو ۲ـ در ښکارېږی ـ

Marfat.com

# ز

## (۴٦)

خو خبر نه دے وګړے له دے رازَ — ګنړه بیل حقیقت نه دے له مجازَ
عارفان چه له خودئ ځان خالی کا — تسبیح اوری د شپېلئ له اَو ازَ
که په عشق کښې نسب شرط د محبت وے — د محمود مِینه به نه وه له اَیازَ
اِمتیاز ئې ترمنځ حُسن را پیدا کا — کَنه فرق د بدخوئ نه شی له نازَ
چه ئې وُنغښته لمن له خاروخسَ — سروِ وُنه شوه په باغ کښې سرفرازَ
چه آغاز د چارے ښه انجام ئې ښه شی — دُونا ځکه تل په بیم وی له آغازَ
زه په دا وخپل مین ته پیشکش نیاز وُرم — چه کمے د هیڅ څیز نه لری بے نیازَ
ستا به ساز بے سوزه هیڅ سرور نه شی — اے ځما دِلَ تمام له سوزوسازَ
سیند خونی باد مخالف شپه توره تمه — ګوره چیرته به شے سر ځما جهازَ
نوږه تنده رنځ زحمت لوږے خوارئ — همګی واړه آسمانه دی تر آزَ

چه خپل یار عبدالقادر ته په نیت ښه
لور ئې کمه اندېښنه ده له غمازَ

# س

## (۴٧)

ته وردرومه خپل بوا کوه هوس — ترېخه چه دې ږخوا کړه یو په لس

Marfat.com

که ازله غم ځما د زړه نصيب شه | چه خلاصيږم ځنې نه شي يو نفس
ګل تا د خدائے تازه لري په باغ کښې | اور په مخ د اغزيو د ے دخس
زما ژوندون د محبت له اوره بيامومند | ځکه سوځم په اختيار لکه ققنس
چه خپل زړه راځنې ځي بيو ے نه شم | ستا په زړه به څه رنګ مومم دسترس
ساقي! زه د صافو ميو لايق نه يم | هزار شکر که درد بيا مومي بکس
په سرو شونډو ئے تورخال د ے چه ښکاريږي | که دا نښتے دے په شهدو کښې مګس

که وصال عبدالقادر د يار غواړے
يو قدم په دنيا کښېږده بل په نس

# ش

## (۴۸)

خيال ئے چه په زړه کښې د رخسار ساتم همېش | ننه په کوګل کښې کو يا نار ساتم همېش
بحر په کيشتۍ کښې نه ځائيږي سينه د اُبنيو | څو به زه په سترګو کښې حصار ساتم همېش
ستا چه خوشحالي کيږي ځما په خواريدلو | پس له دے به ځان ترخوار و خوار ساتم همېش
عيش منغض شي په ورتله ځما د خلقو | ځکه له عالمه ځان کنار ساتم همېش
ډير را بانديِ خوږ دے په بل چا رمبېږ زونه شي | پټ ننه په زړه کښې ستا آزار ساتم همېش

په ځنې قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ او مصرعے په دے شان ليکلي دي :- [1] مشه - [2] هزار شکر که داد وګړے د بکس - [3] دلته په يوه زړه قلمي نسخه کښې دا يو شعر ليکلے دے - ح ښايسته ځما مرشد زه ئے مريدم - چه بے عشقه ښکاروي راته عبس - خو دا شعر يو خو د معنو په لحاظ سره درست نه دے، بل عبس چه په اصل کښې عبث دے ښائي چه دا چا پخپله دلته په دے غزل کښې شامل کړے دے - په دے سبب دلته پريښے شو - (مؤلف)

Marfat.com

خوبنں ئے پہ آوازیم چہ فریاد عبدالقادر کا
ځکہ ئے دا ہسے شان افکار ساتم ہمیش

# ښ

(۴۹)

دلبر څ راتہ ښنئی پہ ہر آئین کښں
کہ پہ نورا کښں جلوہ گوشی کہ پہ سپین کښں
کہ پہ زلفو کښں ځائے وُکا ذړہ راکابړی
کہ پہ سترگو پہ رخسار او پہ جبین کښں
کلہ کلہ پہ ترسا کښں څ ځرگند کا
د صنعان پہ دودئے وران کا ایہ دین کښں
پہ چراغ کښں تجلی وُکا پتنگ تہ
بلبلانو تہ ښکارہ شی پہ نسرین کښں
نورا او نار سئے د جمال جلال اثر دے
قہر مہر سئے پہ تریخ او پہ شیرین کښں
کہ اثر ئے د لبانو پکښں نہ وی
نہ پہ وُد ہو نبرہ خوارہ پہ انگبین کښں
یوہ خدایہ! عشق یو څہ رنگ نوئے شے دے
چہ ئے ځائے نہ شی پہ چرخ او پہ زمین کښں
گنج ہمیش پہ ویرانہ کښں ښنځاوہ شی
امانت ئے ځکہ کښیښو پہ کمین کښں
پہ ہر څہ کښں گورہ یار عبدالقادرؒ
کہ د نشتہ شک گمان پہ خپل یقین کښں

# ط

(۵۰)

Marfat.com

چه صادر شه ستا له نوریه په ماخوا خط — له خاطره[1] م انده وه کړه تار په تار خط

معطر له خوشبویئ اهلِ مجلس شو — چه م وا کړه لفافه د عنبر بار خط

په تحقیق چه نیم دیدن ورلره یوسی — له هواده چه یار وکاندِ په یار خط

سبزه نه ده چه په زمکه زرغونه شوه — دا د خپلو راتلو راستاوه بهار خط

حسن خط د وېزارئ وَ ځ ته ورکړ — چه ښکاره شه په عذار و دَ نگار خط

هیڅ زنگی به ئې په هیڅ رنګ ومی ونه کا — لکه کاندِ په سپین مخ باندِ نا تار خط

ستا د شوندو مُهره څوک واخلی دلبره — چه تر پروت[2] دے چاپېره لکه تورمار خط

د ښایست آفتاب ئې پټ[3] شه لیده نه شی — چه ئې پاسېده په مخ لکه غبار خط

د ده کبر ستا انده وه ئې له زړه کم کړه

منت کړه عبدالقادر په تا بار خط

# ظ

(۵۱)

بے ما څوک ځما له یار موم حظ — پرانده کله له گلزار موم حظ

فقیرانو ته ښکاره پړی سرے سکروټے — دُنیادار که له دینار موم حظ

دیار مخ د ے منور د خدائے له نوره — کافر کله له دیدار موم حظ

طالبان د دُنیا سپی، دُنیا مُرداره — سپی هر کله په[1] مردار موم حظ

نفس مکس ریاضت، اور ورځنے تبنتی — زړه پتنگ، پتنگ له نار موم حظ

قلمی او چاپی نسخو کښی دا الفاظ دا شان لیکلی دی:- [1] له خاطره ئے انده وه۔ ...... [2] چه تر پروت چاپېره۔... [3] پټ ئے ... [4] له۔

په مجنون د ہلکانو کانړی ګل دی خوږ ولی ہپوښیره وائ موږ ځ
د آزار قدر د نورو څخه نشته عاشقان دِ له آزار موږ ځ

خاص الخاص عبدالقادرؔ پرِ پوہیږے
عام به څه ستا د اشعار موږ حظ

## ۵۲

که ہر څو نصیحت ښه وایے واعظ
بهتر دا چه ماته نه وایے واعظ

عاشقان په عشق کښِ کله نور څه اروی
وکړو ته وعظ څه وایے واعظ

نصیحت د ہپونی ته لیونتوب دے
که پاخه وایے اومه وایے واعظ

په خاطر بانده سخت ترکانړی لګی
پند که نرم نز ابه وایے واعظ

لا ترما په زړه کښِ ته بانده مین یے
مذمت د عشق په خله وایے واعظ

په خلوت کښِ په خلاف د واړه کار کړے
ہر چه ته په منبر ښه وایے واعظ

ستا ویل را بانده ځکه اثر نه کا
چه ته نه کړے ہر چه ته وایے واعظ

ترکښه برِ دی لا تر څه عبدالقادر ته
که ہر څو ورته خواږه وایے واعظ

# ع

## ۵۳

---

ځئ قلمی او چاپي نسخو کښه دا الفاظ په دے شان لیکلی دی: ۱ بهتر دے چه ... ۲ عاشقانے عشق کله ... ۳ سخت لکانې ۴ په منبرو وائې۔

Marfat.com

په کور کښې دولت ډېر لری طامع — تر حساب تر شماره تېر لری طامع

ل ډېر لږ، د بل لږ ډېر ورته ښکارېږی — د بل یاد لری خپل هېر لری طامع

حرص په زنځیر سپی غند څکاوه شی — زور قوت که زیات تر شېر لری طامع

ځ نه موند هیڅ لذت له خپله عمره — خوږ ژوندون په ځان ګنهګر لری طامع

که ګنجونه د قارون ورته موجود شی
ګمان مه کړه چه زړه سېر لری طامع[1]

# غ

## (۵۴)

په آخر به ځنې دروی سینه داغ — بېهوده باغوان نازېږی په دا باغ

په داخل دی د دُنیا په خرابات کښې — په وار وار به واړه څښی د مرګ ایاغ

ش سائل د ده نصیب نور به ئې یوشی — په دُنیا دُنیادار وے کا د ماغ

بېلو غند کښت په ګلو نه کا — په مُردار باندې ناست وی لکه زاغ

په طلب ئې بادشاه ګرځی ګدا ئې بیاموند — که آرام که آسائش دے که فراغ

په لحد کښې به د شمع رڼا نه وی — مګر یو سے در سره د آه چراغ

سرے سرے اُښه د مجنون دی څڅېدلی — ربړېدلے لاله ګل نه دے په راغ

دَ نښتی په لار ے ځه عبدالقادر
ګنې بیا موے د یار د در سُراغ

د غ په ردیف کښې صرف دا یو غزل چه مقطع نه لری "الف" او "ب" "م" ګښې شته حرف "ح" کښې نشته۔ [1] د ضرور هسته غورېدل۔

## ۵۵

یو ځل بیا ښغه نګار ولیده درېغ — آهو چشم ګل رخسار ولیده درېغ
چه قرار ورځنه لاړ له ډېره غمه — بیا ښغه خاطر قرار ولیده درېغ
د پسرلي ګلونه وا په باغ و راغ شو — د بلبلو پرې چېغار ولیده درېغ
په خندا خندا راغله مستۍ شلېدلی — له مستۍ ئې خوردستار ولیده درېغ
چه له ډېره کبره سم نه ځي په لاره — ښغه ترکه کج رفتار ولیده درېغ
چه په تله ئې نور ځما له سترګو یووړ — بنا ئستنه نور الابصار ولیده درېغ
د ښاپېرو ئې اند ښپېښه له منځه ولاړه — یار نه یار سره کنار ولیده درېغ
په عاشق باندې ئې مهر رنګارنګ کړې — تر نظر ئې رقیب خوار ولیده درېغ
چه په هجر کښې ئې حلق ځما تریخ کړه — په دواړو شونډو شکربار ولیده درېغ
پاس په زړه باندې م هېشت د غم ښکرد ئې — دا ښکر م تار په تار ولیده درېغ

دا آرزو عبدالقادر لري په زړه کښې
چه تر مرګ پخوا خپل یار ولیده درېغ

# ف

## ۵۶

دروغجن و عده خلاف — نه دی کا د مردۍ لاف
شاهدي لي ده دروغو — په خپل ځان باندې خلاف

---

په څنګ قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ دا سې لیکلي دي:- ۱ پرا ښېښتي۔ ۲ .... په .... ۔

Marfat.com

نه يؤ د رنګ د يار په کوڅه ګښې — نه سل کاله اعتکاف
د کعبې تر طوافونو — ښه دے لا د زړه طواف
زړه په مثل آئينه دے — تن په مثل د غلاف
هاله ځکه پکښې ليده شي — چه ئې ځان لري تل صاف
آسمان څونه د نقير ده — تالئي زمکه ئې لحاف
قوت ئې خپل خون جګر وي — منت نه وړي د اجلاف
رګ ئې تار، تن ئې رباب وي — صوت ئې تل د يار اوصاف
تل انصاف ورکوي بل ته — له چا نه غواړي انصاف
صلح کُل وي له عالمه — له خپل نفس ئې وي مصاف
چه په ښه خصلت شريف وي — هم هغه ګڼړه اشراف
په نسب چه څوک ئې بد وي — نسب کله دے معاف
يؤ يؤ ناف دے چه نافه شي — نافه کله شي هر ناف
هاله ونښه حرص څه کړه — که مومن ئې په حاقاف

ستا قسمت عبد القادره!
نون پيوند نه وو له کاف

## ۵۷

چه قانع په يوه څاڅکي شي صدف — قيمتي ګوهر ئې ځي په هر طرف
که عزت غواړے قانع په خپل قسمت شه — ورکړه ګړه که بزرګي غواړے شرف
بنده ول د دنيا بند د جهنم دے — آزاد ځکه ګښېنوله په کف

ځه څلي او بچاپي نسخو کښې دا الفاظ په دے شان ليکلي دي - که بستر پېښګ. که دا شعر په هغځ کښ نشته. که شي

د دُنیا خلق م وُلیدہ په ستڑکو — یوُ ئے جمع په حرص کا بل تلف
چه ژوندون همیشه نشته په دا څشو — په حشمت که سلیمانؑ شے یا آصف
د سړی[2] څربښت په علم په حکمت شی — د چارپایو[3] څربښل وی په علف
که خوانمرد ئے بل آزار مه کړه په کلو — ځان دِ ښو د بدو تیرته کړه هدف

تل له خدایه ترس کوه عبدالقادرہ
حق خایف ته دی ویلی لا تخف!

# ق

## ۵۸

سرو مال م شو تالا په لوټ د عشق — لا م نه د ے لاړ له سره شور د عشق
برائی د عاشقانو په ښخور ده — ما منلے په تندی ښخور د عشق
د ایاز تلی محمود ښکښبول په سترګو — نندارہ کړه کوره زور و ښشور د عشق
څو د یار د قامت خیال ئے ښتی نشی — په لوز څه به نشی هسک نسکور د عشق
له اوله ئے د شمع لرمون ؤ سو — له غه پسه پتنګ وسو اور د عشق
په کوګل کښِ م زره نه د ے که باور کړ — د صورت په خاورو پټ سکور د عشق
پیاده ښه اَبله ته د یار په لوری — د مجنون غنډ به نه وی سور د عشق

که داخل له عشقه خلاص عبدالقادر شی
نوم به وانخلی په ژبه لور د عشق

په ځینو قلمی او چاپی نسخو کښ دا الفاظ په بیښتان لیکلی دی نه بداصبکه ۔ [1] چه کمی ۔ [3] اشارو دیو ۔۔۔ [4] همسا

(۵۹)

له[1] صادقه مخالف دے منافق — منافق له منافقه موافق

لیونے و بیدر دانو ته بنکاریږي — د عاشق قدر په چا دے په عاشق

د عذرا عذار ئې عقل ځنې یوړه — له مجنون شو عذر عشق وو د وامق

شکر نن ئې میَن نوم راباندې کښېښو — له هر څو د دے نامے نه وم لائق

فوقیت په پاس ناستي نه حاصلیږي — کله خس په سر غلړو وي فایق

چه به ستا له درگه د سر په ویره — زه به چیرے په ځان نوم یږدم د آبق

که طالب یئې د وصال عبدالقادره!

لمړے لرے کړه له دِلَه علایق

ک

(۶۰)

خدائے دِ راوله ځما یاره ملوک — بے تا خلاص نه یم یو دم له درد دوک

د زخمي زخم ئې ورځ په ورځ زیاتیږي[2] — ستا شیتي ده شیتي عین د مژګانو نوک

محبت ئې بیسے رنګ په یوه رنګ کا — چه هیڅ فرق د مالک نه شي له مملوک

پرېوتي ئې ورځي تحت الثرا ته — تر آسمان ره لا بلنده د زړه څوک

خدائے دِ لاس د سینه لیندے دواړه پرېکه — چه شیدا بلبل ئې وویشت په مشوک

---

[1] دا غزل صرف په "ح" کښې شته اؤ په "ف" "اک" اؤ "ب" "م" کښې نشته. [2] خور بزی نه ... دپرېکه دواړه لاس کښے لیندے.

دَ کِشمِشو په لذّت بهٔ څهٔ پوهېږي — چه ئے خُلهٔ وي عادت شوی له اَملُوکَ
چه ئے نهٔ وي حال احوال د سالکانو — څه فائده چه قیل و قال کا له سلُوکَ
لکه څوک چه په ویشتل د ګلو خوښ شي — ¹بیسے خوښ شي مشتاقان د یار له سُوکَ
چه بے درد دِ خبردار له دردَ نهٔ شي
پهٔ زور مهٔ کوه عبدالقادره کُوکَ

# ک

## (۴۱)

تهٔ که خپله څېرهٔ نهٔ لرے بد رنګَ — آئینهٔ په کُم ګُناه وہے له سنګَ
چه صبا ئے د بنایست بازار خورېږي — شمع وے رُوپوشي کا له پتنګَ
د بلبلو آوازونو د ګل حُسن — مستغنی کړم ²نوبهار له راګَ رنګَ
بیا طالع راسره روغه کا یو ساعت هم — یوُ زمان چه راسره نهٔ وي بے جنګَ
چه ئے ³رشک په سیوره کړم چه ورسره وي — ترو بهٔ څو ګورم اَغیار دیار له څنګَ
غنیمت ګڼه دادم را څخه مهٔ څه — ګوره اُس به چرخ څهٔ پېښ کا له درنګَ
لاس کچکول مُصله مزکه درته بس دے — که کچکول مُصله نهٔ لرے ملنګَ
لېونے لیونے وایي لېوني ته — لېونی د دُنیا خوُنه نهٔ کړه رنګَ
ششپه تاریکه لار باریکه په کمر کښې
فهم کړه عبدالقادرَ له ګړنګَ

---

په خطي نسخو او چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دے نشان لیکلی دي:- ¹ مهٔ کوه نور عبدالقادره بیسے کوُکَ۔
² کوه د بهار..... ³ هرچه ګوره کوه پوه دم..... غنیمت ګڼم دادم.....

Marfat.com

## (۶۲)

چه په سترګو چراغ ووینې پتنګ — څو ونه مري له ژوندونه وي په تنګ
د وصال په طمع زر تر سره تېر شي — بې جانانَ درته کال بنکاره یې درنګ
غواصان چه غواصي کا په دریاب کښې — یا سر بایلي یا ګوهر راوړي په چنګ
نام د ننګ به آواره د یار په درد کا — هر عاشق چه څه حیا لري یا ننګ
ښځه یار بې رنګه ډېر لري رنګونه — عاشقانو ته جلوه کا رنګ په رنګ
له یوه غمه لا خلاص نه وي بل راوړي — نن م زړه کاوه له سترګو سره جنګ
په دنیا کښې اولیاو ځان مخفي کړو — په خشکه کښې کله ځای شي د نهنګ
په اوږخولو ئې لک شوي عشق بند دي — نه چه کښېني بد کاران د چا تر څنګ
د بزرګانو په مدد که چېرې تېر شې — غاښې سخت لري د وړاندې تمو لنګ
د یار یاد لکه صیقل زړه پرصفا که — آئینې د د خاطر وُ نیسوه زنګ
شاه ګدا ئې په اجل واړه برابر شي — چه له تنه ځان د تلو وکا آهنګ
چه آخر احوال د دواړو سره یو دي — څه نا ستي په تزرو خاورو څه اورنګ
ډېرې ئې تا غندل ځار کړې تر خپل سر دي — دا دنیا لکه مچو غنه ته ئې سنګ
څه ئې پا توشي د ورستو څه به غم کا — فراغت په وخت د کوچ د رومي ملنګ

شهسواران عبدالقادر تر تا تېر شول
ته هم اس کړه په تېنګ د یابو تنګ

---

په څه قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ داسې لیکلي دي: ۔ ع۱ .... شي پرېږدي درنګ ۔ ع۲ ... صفت د یار تر سر کا۔ ع۳ څه ع۴ په رنګ رنګ ۔ ع۵ وُم ۔ ع۶ په چینه کښې .... ع۷ د نویانو ...... ۔

Marfat.com

# ل

## ۶۳

هیڅ خبر نه وی له حاله احواله — غم ښادی مری سړے له خپله خیاله
د محنت په تصور ملال غمجن شی — د راحت په فکرت مست گرزی خوشحاله
بندیوان په بند بندی په خوب کښې وینی — چه بادشاه د ولایت یم بے زواله
تفرج کوم په باغ او په بُستان کښې — هم بالینه یم دلبر پری مثاله
بادشاه پاس په تخت اوده وینی په خوب کښې — چه بندی یم په زندان کښې په څوکاله
وږے تږے خوار خسته په بند کښې پروت یم — کم قوت، بے حجت، بے مجاله
ښخه خوبښ په ښخه خوب کښې، دادلگیر وی — د ویښوالی حال ئے هیر بے قیل وقاله
دا غافل عالم همه په خوب اوده دی — په قیامت به شی واقف له خپله حاله
دا دنیا په مثال شپه، آخرت ورځ ده — نیک او بد به جُبله بیل شی بے اِشکاله
د نسب، د قبیله پُرسش به نه وی — هر سړے به پو ښتېده شی له اعماله
چه عمل ئے د نیکئ وی خوبښ به وسی — د بدکار[1] خلاصے به نه وی له نکاله
عارفانو ځکه ښه ورته ښا کړه — چه هوس د دنیا نه دے بے وباله
له ښخ ښادئ چه زر در ځنے[2] درومی — په صل زر بخرے غم ښه دے حماله

د دنیا مینه په زړه کښې لوے جنجال دے
خلاص کړه ځان عبدالقادر له جنجاله

نُسخے قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ داسې لیکلی دی :- [1] د بد بخت ..... [2] .... له سری دروی۔

Marfat.com

## (۶۴)

په دُنیا کښې کمال نشته بې زوالَ — دَ زوال اندوه کوه صاحب کمالَ

د هجران له غمه تریخ لکه بلتون وو — ما هرګز لذت بیا نهٔ موند له وصالَ

نمر له تا نه منوّر شهٔ، داله نمره — څوک بهٔ میاشت کا ستا له مخ سره سیالَ

ستا په تللو مې اروا درومي له تنَ — یوُ زمان را ځنې مهٔ ځه د یار خیالَ

چه په هجر کښې روند نهٔ شوم په وصال کښې — یار ته غټ نهٔ شم کتے، له انفعالَ

هغه ځا چه ایښې داغ ځما په زړه وو — هُم هغه ورباندې کښېښو له دَ سمالَ

که ګذر ځما د یار په کوڅه وُکړې — دا پیغام هېر باندې وُوایه شمالَ

زهٔ که یوُ ساعت بې تا نه یم بیغمَ — تا د خدائے همیشه خوښي لري خوشحالَ

ډېر مَین په ډېر ارمان په دُنیا بیل شوُه — خدائے دې رامهٔ وَله بیا د غواص کالَ (۱۰۹۷ھ)

تر هر حرف یې بوُئ د مشکو د عنبر ځي

چه ثنا **عبدالقادر** کا ستا له خالَ

## (۶۵)

سحر دا آواز مې غوږ یو ست له بلبلَ — ستا خندا[۱] په ژړا کښېنے یستلے ګلَ

تر مستۍ یې لا لذت د خمار ډېر دے — ستا د سترګو مستي بده[۲] ده تر مُلَ

ښایسته د زمانې دُنیا پرست دي — په کوڅه کښې یې پل مهٔ کښېږده بې پلَ

په چغلۍ مې ستا په یار مینه زیاتېږي — خو دِ زړه ښېره چغلي کوه چغلَ

---

په نسخهٔ قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دے شان لیکلي دي:- ۱ ... هجران ... ۲ ... وَبله ..

۳ په ژړا کښېښته ګلَ. ستا خندا مې ژړَدي ښايسته ګلَ. ۴ بده.

Marfat.com

ساقي! مے چه راکوے په قهقهه خانده — زده کړه دا د صراحۍ له قلقل
د ليدونيو په نظر کښې تفاوت دے — اوکه نه وي جُز جُدا نه دے له کُل
په پريشانو اند ښنو خاطر پريشان شي — جمعيت موجي خاطر له توکل
چه ستا څ ورته حاضر وي ګل ته ګوري — د ښځه سترګے د خدائے نه کا بے ګُل
د مجلس روشنائي ته ئے ته دِ ناست ئے — کُم نقصان دے کۀ صبا کړه ډيوه ګل

دا دُنيا په مثالِ پُل د آخرت دے
تېرشه زر عبدالقادرؔ له دے پُلَ

## ٦٦

په ګلونو آواز ورو کوه بلبلَ — پريشانيږي ستاله شورَ له غُلغُلَ
عقل، هوش، عزيز تر هرڅه پرِشندل شي — ته يو څه رنګ ډير ګران ئے د مُل مُلَ
خدائے دِ نه کا چېرخُرخ به دِ په پښو شي — قدم ورو بږده د رابېلو په ګُل ګُلَ
وَ مُطرِب ته مينا وائي، وايه وايه! — دا معنی ئے پيدا کيږي له قُل قُلَ

صدقه ئے هم تر پل عبدالقادر شه
څه قدرت لري چه وائي له دُلدُلَ

## ٦٧

دريغ دريغ يوځل وُليدے يارخپل — چه ښکاره م کړے وَ دهٔ وَ ته اسرارخپل
نشته څوک چه دلاسے کا د غمجنو — څوک به څه وائي وَ بل يَوه ته زارخپل
سرے سرے اُښکے م له سترګو په لمن ځي — د يارغمُ! راشه ګوره لاله زارخپل

په نخهٔ قلمي او چاپي نسخو کښې دا لفظ داسے ليکلے شوے دے :- ملے سرے

چه پر غم غمطوم دره م محرم دی — یو قلم دوېم کتاب درېم اشعار خپل
له خزان به څه ویره څه به ډار کا — چا چه تو کړه تر خزان ښوا بهار خپل
په هر لوری چه م بیایي لیپه درو مم — ما په لاس د عشق ورکړی دی مهار خپل
که څوک نوم د لباسي ږدي په ما سبنائی — چه م پرې نښنو په یار پسې روزګار خپل
څو د زړه همره ستم کړه دلبرا — ما بخښلې دی وتا وته ازار خپل
له غلیم د نه ویره نه وسواس کا — هر چه وسپاري وخدای ته کاروبار خپل
مستعد ئې په لیدو نه ئې غافل — دلبر کله درښکوی له چا دیدار خپل

کل اندوه به پسې شا عبدالقادر کا
مخامخ که ورته ودري ښکار خپل

## (۶۸)

ښه شول چه ښه نشول هرچه بد دی له ازل — بد به ستا وبد وته بد والی لم یزل
هرچه په نسبت څما وتا وته ترخه دی — بل وته ښه ترخه خواږه دی تر عسل
کفر که ایمان دی وعارف وته یکسان دي — واروه که پو ښېږي دا وبنا څما مجمل
ستا فعل هرګز نه دی خالي له حکمتونو — ته ښه حکیم ئې چه د کار دی بی خلل
واړه موجودات ستا په هستئ باند دلیل دي — هم د په توحید باند تر ماشي تر جمل
هر څه ته چه ګوري ستا جمال به پکښ وینی — تا ئې چه په زړه د معرفت ډیوه کړه بل
هر څه ته نیژدی ئې په قدرت تر هر څه خیره — ذات او په صفات کښ لره همه خیرو نو بیل
تا ته رسیدل د تا په فضل و عنایت دي — کله رسیدل دي څوک تا وته په حل
کله سیلاب اوړي د خځلو په بندونو — ستا تقدیر دریاب څما تدبیر لکه خځل
هرچه په اخر له ښه کار پښېمانیږي — مه کړه ښه کار عبدالقادر له اول

(۶۹)

چه دا ښسے ځی له باغه په شتاب ګل — په بستر د راحت ځکه نه کا خواب ګل
د نسیم له تېزګامۍ معلومېږی — چه به پرېږدی قدم د تللو په رکاب ګل
چه زلفین په عذارو خم په خم کا — تر هر خم لاندې واښی د آفتاب ګل
پس شانې لبرو دهر د خوبۍ لاف وو — رو برو کړه ستا رخسارو لاجواب ګل
چه ښکاره ورته سپین مخ لکه خورشید کا — ښخه دم ورنه پېشکش کا د مخ آب ګل
نورو پټ د سینې داغ ژاله ښکاره کړه — که نه کم د دے باغ نه دے د دل کباب ګل
ګنډ[۲] عطرے کا ښکلی په ځان پورې — هم په دا اُمید ځان وسو د ګلاب ګل

د رېژونو[۳] وېره کوه عبدالقادره!
ورځ په ورځ پژمرده کېږی د شباب ګل

(۷۰)

تر ښاغو لا خوارېږه دی ستا ترخه وېل — دهر د پیر تر د عابهد دی ستا د خلے ښه شګفته ګل
د واعظ په نصیحت مِ مینه لا په یار زیاتېږی — سرګیے دی نه درېوه ده چه به مرېږی په پوکل
ګوره اُس به ئے تر درنګه د عاشق په وینو سره کا — په داخه شو که ئے بیا د خیال سپین نمری واغستل
کله ګل دے د رابېلو چه دا ښسے رنګ ځلېږی — دائے وُچوے ښکارېږی تر پرېشان پرېشان اوربل
په لمن کښې ئے ګلونه د بهار له سبله راوړه — په تارو نوئے ځما د زړه تارو نه وُپېیل
نه یواځے ځما راز او ښو یار رنګ د مخ رسوا کړ — آه[۴] م لا د زړه رازونه و عالم ته ښکاره ول

په زړی کښې به ئے سر عبدالقادر ورته پېشکش کړ
که څوک ښسے زېری راوړی چه نن یار درته نوړل

---

په ځنے قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ په دے شان لیکلی دی:- ۱ راشی ۲ ګنډو
۳ زړېتون پرځ وېل ۴ نن د خیال نمرئ........

# م

## ۷۱

ہر عاشق چه طمع کانډِ له وفا رم ❊ تر وفا رم لا خوښېږی په جفا رم

په ریشتیا ځما د مخ عاشق ښخه دے ❊ چه د مخ رم ننداره کا تر قفا رم

دا د خیال قاصد رم ډېر ملال رادرومی ❊ ګوره بیا په کُم دیار بند شه اَشنا رم

ستا زحمت د محبت دے طبیب دُوہے ❊ بے دیدنَ به روغ نه شے په دوا رم

د ښامار د خلے مهره وُکښل محال دی ❊ ستا په تورو زُلفو بند شوه مدعا رم

د اشنا د اَشنایئ قدر رم نه دَے ❊ که په اور د بېلتانه سوزم سزا رم

ستا د کوئ پُښتنه کانډِ نه یے مُومی ❊ ځکه ہیسے سرګردان ګرځی صبا رم

ځاَ وَصل د ہغو **عبدالقادر**

چه خپل سر شندی د وصل په بهارِ

## ۷۲

تا چه زُلفے په سپین مخ کړے خم په خم ❊ په خاطر بانډِ رم بیا ږدے غم په غم

عاقبت عاشق معشوق، معشوق عاشق شي ❊ ښه چه زه او ته په عشق شو سم[1] په سم

په معنیٰ کښې سخاوت نه دے اِمساک دے ❊ هر چه ورکړه ډېر په ډېر کا کم په کم

بلکه حُسن د دلبرے روز افزون دے ❊ ہسے عشق ځما زیاتېږی دم په دم

---

[1] دا مقطع رم په "ذ" کښې وُموندہ۔ په نورو کښې نشته۔ دا غزل په "ح" کښې د "ے" په ردیف کښې ورکړے شوے دے۔ [2] یُو۔

Marfat.com

که دِ زړه وی چه د زړه غنچه دِ واشی — وَرَوَه له دواړو سترګو نسیم په ...
په هرځائ باندِ چه کښښم لاله زارشی — چه م دېر په سترګو دروی دم په د...
څما دم د یار له دمَ وابسته دے — چا وے داچه تازه نه شی دم په د...
هم په ویر هم په سرود عبدالقادرَ
کور په کور د عشق نارے دی چم په چم

(۷۳)

عجیب خوبش په خواب اُوده وُم د عدم — نه م غم وو د بنیادیٔ نه د ...
یا وُحوُش وے یا طیوُر یا بل اُشیا وَے — کشکه زه نه وے پیدا بنی آدم
یا م مرګ په ښکوالی وے چه خلاص وَے — وُم نه لیدے دا ښونبره دېر اَلم
نه اَول شوم نه دویم شوم نه دریم شوم — خلورم بویه د حق فضل و کرم
چه پیدا یے کړه آدم له ماء اَوَ طِینَ — روح یے کړه له خپلَ رُوحَ په کښِ دَم
له اَولَ یے مسجود د فرښتو کړه — په تکریم د "کَرَّمْنَا" شو مُکرّم
و جنت ته یے روان په دېر اِعزاز کړه. — پر پریوان یے کړه اَنواع اَنواع نِعَم
بیا شیطان یے وَسوَسه وَروَسته زړه ته — په ویل یے د حوا وُخوړ غنم
د جنت جامے یے واتوے له تَنَ — بے لباسَ شو بربنډ په ښخه دَم
له جنتَ یے بېرون په درد اَوَ دُوک کړ — د "عصٰی آدم" نِدا مشوه په عالمَ
ده د زړه له سوزَ دا ناره وَیله — هُم یے دا ناره د زخم شوه مرہَم
چه نسبت یے کرمَ تا وَته ویرېږ م — خو هم ما وُکړه په ځان باندِ ستم

په ځنے چاپ اَوَ قلمی نسخو کښں دا الفاظ داشان لیکلی شویدی :- ۱ تازه ۲ خوبنی ۳ چه مخلوق یے کړه ۴ د عاصی آدم.

Marfat.com

هیڅ حجت[1] له زور ور سره نه شي
کرم پېږه تهٔ عبدالقادر یار ناکرم

## ۷۴

اګمان له دِل وُباسه هم دم — چه به تابه سترګې وُچې کړم له نم
ژړا ژړا م لونډ د سر بالښت شي — چه م اُښکې موج وهي د زړه له یم
په دا حال که م ګذر په چمن وُشي — مستغني به کړم ګلونه له شبنم
په ورځ زیست روزګار کوم له خلق — دُرست شپه م سریکار وي ستاله غم
ښکاره په درست وګړي کښې ځان سوزي — راښکاره شوه د ستی اندیښنه کم
رګ اوُ پلې م خالي نهٔ دي ستاله درده — د پرهار غنډ خندا کړم له عالم
په کانړې هر ذره له اوره ډک دے — بېسے سرتر پایه ډک یم له الم
یوُ داغ م په زړه روغ نهٔ وي بل کښېږدي — آه فریاد له جدایئ ځے له ستم
خلاص به نه شے په ژوندون عبدالقادر
اندیښنې شوه دتا له عمر سم

## ۷۵

در پسے م خېژي دم — له ما مهٔ درومه یوُ دم
زهٔ مرده تهٔ م عیسٰی یې — ژوندے کېږم ستا په دم
د هجران غمونو خوښ کړم — نر وجود په عدم
چه دارُوے هرګز نهٔ شي — بد زحمت دے د ندم

[1] له خپله بادار ....

بنه آدم ترفریبنتو به دے ۔ تر دَدُ بَد دے بَد آدم
د بېدارو په نصیب شه ۔ بنه دولت د صبحدم
خاورے شه **عبدالقادر**
که پرې کښېږدی یار قدم

(۷۶)

څه شو که ظاهر لبِ خندان لرم ۔ زړه د جدایئ په اور بریان لرم
تود تُوکی د خط اُبنیکې د سترګو سرے ۔ دواړه په دا حال باندې ګوا ہان لرم
سیم و زر م' زړه اَوَخ عنئیم پرې ۔ لعل اَوُ دُرَ دیار لب و دندان لرم
زړه م د دلبرے' د جانان دے ځان ۔ عزه خو له جهانَ دِ دل اَوُ ځان لرم
لږ قهر چه وُکړے ہم اُبه شم ستر ۔ کله زه ناتوان د قهر توان لرم
خو پکښې پراته دی د یُوسف غنډې ۔ ډک له کښېلیو چاه د زنخدان لرم
ہو نبره پرتے نه دی چه ئے وُشمارم ۔ ستا کیږے په زړه چندان چندان لرم
کیست که این حلقه بدر مے زند؟
خوار ختک یم سر په دا آستان لرم

(۷۷)

چه منظور د یار صفاجبین لرم ۔ زړه په دا[۱] له نبک و بدَ سپین لرم
کام ناکام ځما په طبع برابر شو ۔ په ترخه[۲] سره تل کام شیرین لرم
د حسد له خُوئ ہسے رنګ خلاص یم ۔ عار راځی چه له سشیطانَ کین لرم

۱ زړه ـ ۲ ترخو۔

Marfat.com

په ویل له وچولی غم وړم له غمجنو — که هرڅو ننه خاطر حزین لړم
په ظاهر و ظاهربین وته مُقیم یم — په باطن براق د تللو زین لرم
دُر ریزی کړم په صفت د یار د لعلو — کلام ځکه ښه رنګ رنګین لرم
نسترن[۱] د باغ ځما په سترګو خار دے — چه په کور د یار د مخ نسرین لرم
په خیال خیال په شپوه ځی په سترګو مشه ـ — تل په دا دُعا آمین آمین لرم

که په بخت **عبدالقادر** نازېږم بناي
که د تا غُنډِ نیازمن نازنین لرم

## ۷۸

له دے پسَ به وَ کُل هوس نه شاکړم — خو یک لحته به غمونه د آشنا کړم
په خپل یار پسے به زه شم لیونے — د دُنیا ودانه خُونه به تالا کړم
چه په مرګ سره له چا نه جُدا کیږی — په ژوندون به ځے له ځان نه جدا کړم
نه به مخ په آئینه بیا برابر کړم — نه به تور اوربل په رومنځ سره صفا کړم
نه به خنړے په فلیل سره کړم غوړے — نه به لوره خوشبوئ په ځان لګیا کړم
نه به سترګے په رانجه کړم نه به پا خوړم — نه به مُهر آویزان په اوربل بیا کړم
شرمنده به په ماتم کښِ بنفشه کړم — په ماتم کښِ به نه ده غُنډِ خندا کړم
دواړه[۲] سترګے م دِ ړکے شی په خاورو — د نرګس په دود که سترګے باغ ته وا کړم
لاس اَوُ پښے م د خپل غم په وینو سره شه — که به نور په لاس اَوُ پښو پورخپا کړم
اَوبهٔ طوق تمبل م خپل کړه خدائے په غاړه — که سے بے یاره په غاړه دواړه بیا کړم

۱ نسترین۔ ۲ دُ بنا علی حبیبی دُ قندهار چاپ نو کښِ ز دے غزل دو مبیتی اوه شعرونه اَوُ شپارسم شعر دُ مقطع (یعنی توول تال اته شعرونه) دی۔ په دوو قلمی نسخو کښِ دا غزل په اتو شعرو شان دے چه ځکه دلته ورکړے شو۔

Marfat.com

خال مې داغ شه که په وچولي ئې بیا کېږدم | سرم پرېوزه که به بیا په سر سرکا کړم
کلکون تمرې مې لټې شه چې پرې سوزم | که مې واغندم هوس کړم یا هوا کړم
هتورے مې شه وښے که مې په لاس کړم | خونے مې شه ګجرے که ئې په پا کړم
که مې یار په مرګ بد رنګ کړه لو روخاو رو | په ژوندون به ځان بتر تر خاورو لا کړم
ستي تېبست وکه له غم ځکه سوزي | زه به ځان په غم تر غمه مبتلا کړم
راته وایه دا بیان عبد القادر | چې د خوږ خاطر دمه په ویل ستا کړم

بیا بیا وایه دا غزل عبد القادر
د غمجن خاطر دمه څه خو په دا کړم

(۷۹)

په هر څه کښې ننداره د یوه مخ کړم | ځکه نور عالم عمونه کا زه سخ کړم
له اندوه مې لړمون شو ړک په وینو | د بلغم په ځائے مې وینې ځي چاخ کړم
نس شیطان لیونے سپے را پسے شوے | مګر ستا توفیق رفیق شي چې ئې څخ کړم
خو تا ووه د محبت لرم په زړه کښې | نور له واړو غیرو چارو سوړ سخ کړم

په دا راز عبد القادر څوک پوهېږي
چې شګڼل دراته کوم دربانډې مخ کړم

(۸۰)

محبت چې د مجنون په نامه یاد کړم | له غه پس ئې د یار په وصل بنا کړم
خاص بنده خطاب ئې هاله و ما را کړه | چې د دوو کونو له بنده[1] ئې آزاد کړم

د څنځ قلمي ادبیاتي نسخو کښې دا الفاظ داسې لیکلي دي:- [1] له قبله ئې ـ له بنده ئې.

Marfat.com

...نه له بد ګوهر کاڼړی نه شي — بیهوده و تیره دِلو ته اِرشاد کړم
...ځ ورکړه په مثقال په خروار اخلي — زه به څه رنګ خوشحالي په بیعی داد کړم
...کنډېر له وُنې کله څوک خواږه خوري — د وفا اُمید به څه له بد نهاد کړم
...ند بختِ م د دلبرد زُلفو پر منځ کا — که فلک ټکړے ټکړے لکه شمشاد کړم
...خوږ کړے یم هُم ته به مِ دارُو کړے — بے له تا به وَ نور چا وته فریاد کړم
...سحر سحر راځي د یار له لوریه — د غمجن خاطر دمه په بخه باد کړم

خپل مُراد مِ د مُراد تر منځ حجاب شو
نور به ترک عبدالقادر خپل مُراد کړم

## ۸۱

کله زه له بیګانه عالَمه زار کړم — زه هُم خپل آشنا له خپله لا سِن خوار کړم
د هر چا خبرے وږم د ده له څخه — په عالم کښ ئے بے قدره بے وقار کړم
چه په خښتِل د خپلو ږینو سُرخ رُو کړم — څه مِنت به د دونانو د دینار کړم
چه په واړه خُله مُوندے شي مدے ویم — که صدف غندِ حاصل دُرِّ شهوار کړم
که بنا دی د کُل جهان واړه څما شي — زه به واړه د خپل یار له غمه خوار کړم
خار بندی مِ د بنړو کړه تر چا پېره — ګنډ خیال د یار په ستړګو کښ حصار کړم
چه ئے رنګ په لړ د هر کرم باد نو لیږي — څه اُمید به د ژوندون په نوبهار کړم
د پیوند ګله دِ هیڅوک له ما نه کا — محبت له خپل ځانه هُم وېزار کړم

چه ئے تل عبدالقادر په دَرکښ پروت دے
عاقبت به ئے مینو سره شمار کړم

ځنے قلمي او چاپي نسخو کښ دا الفاظ په داستان لیکلي دي ۔ ۱ چه زاړکړه ..... ۲ مجروح خاطر ......

Marfat.com

## ۸۲

په خاطر کښې هونبره درد لره که آه کړم    اور به پورې په خرمن د مهروماه کړم
عشق خلعت د غلامئ د شاهئ راکړه    له اوله ئې مریې آخر ئې شاه کړم
د مخ نور ئې لکه نمر د مخ حجاب شو    کښلی مخ د ده ئې نظر په کم نګاه کړم
هیڅ عجب په باد کښېښول د جهان نه دی    چه نظر په خپل وجود په خپله ساه کړم
هدایت به څما څه رنګ څوک کا ندې!
چه په سمه لار کښې خپل دلیل ګمراه کړم

## ۸۳

که تمونه د دے خپل خاطر ښکاره کړم    لوګے هلک به همه واړه په ناره کړم
دا ځکه هسے هجران نه دی په ما کړی    چه به نورے اشنایئ دوباره کړم
د حسرت د اور بخرې را ښکاره به ړی    چه د شاه د تاج د لعلو ننداره کړم
که پاره پاره څما د زړه په شان دی    نسلی د زړه په ګل د هزاره کړم
که وصال موسم د یار په بے ننګئ کښې    نام و ننګ به همه واړه آواره کړم
لکه غم د بختورو له خاطره    قسمت هسے له ښنادیو کناره کړم
که صبا د یار له کوئ نګهت راوړی    ګریبان به لکه ګل هسے پاره کړم
ساز ناساز د عالم اروم غوږ کانړه کړم
محبت عبدالقادر بے چاره کړم

Marfat.com

## (۸۴)

یار م تله د باغ په لور کانډِ پوهېږم — ګل به حُسن څنې پور کانډِ پوهېږم
د صبا اَثر یې ښته دے په قدم کښې — نخښتې ګل به د باغ خور کانډِ پوهېږم
چه په دا حُسن وجمال له کوره وُوځي — ډېر به وران درپسې کور کانډِ پوهېږم
چه نورمخې رقیبان تر ځ ښا ګرځي — د یار زړه به له ما تور کانډِ پوهېږم
شمع[۱] څکه درسته شپه ژاړی له غمه — چه صبا به مجلس خور کانډِ پوهېږم
چه رقیب[۲] ئے ځ تر ګوری زه ئې ګورم — دا کاڼه به ما شوکور کانډِ پوهېږم
مشاطه شانه په لاس ورلره راغله — د اوربل دور به خور کانډِ پوهېږم
هرچه غوږ دی د دُنیا په شپرازیو — زمانه به ښخه سپور کانډِ پوهېږم

کله زړه **عبدالقادر** په رضا ورکړه
ښایسته په زړونو زورکانډِ پوهېږم

## (۸۵)

ځ ئې نکه نمرده ورته څېر کتلے نه شم — څکه ئے د مَدحِ تر عهده وتلے نه شم
زړه م ئے غلبېل کړ د هجران په ناوکيو — راز پکښې د یار د محبت ساتلے نه شم
اُس م په معنیٰ کښې ښه مین د سترګو کسی — کسی به د خلقو په وَیل ایستلے نه شم
زه ئے د زنغ په چاه کښې بند لکه یوسف کړم — بے ئے د زلفښو په رسۍ ختلے نه شم

بند ئے د حواس په پنجره زه **عبدالقادر** کړم
زړه م پرواز غواړی و ے الوتلے نه شم

۱ اوګ ۲ دادواړه شعرونه د ښاغلی حبیبی د قندهار چاپ نسخه کښې نشته - ۲ داګټل م به .....

## (۸۶)

مهر ځما دخپل صنم، مه شه ځما له غمه کم — مه شه ځما له غمه کم، مهر ځما دخپل صنم

غواړه کړزه عرب عجم، نښته ځما دیار په شان — نښته ځما دیار په شان، غواړه کړزه عرب عجم

واړه په ما دیار ستم، شهد و شکر نبات لګی — شهد و شکر نبات لګی، واړه په ما دیار ستم

*مه بړده بیا په سمن قدم، خرخ دِ په کښلیو پښو مه شه — خرخ دِ په کښلیو پښو مه شه، مه بړده بیا په سمن قدم

زُلفې په څخ کړه خم په خم، کښېښه وماتخ په څخ — کښېښه وماتخ په څخ، زلفې په څخ کړه خم په خم

عُمر ګزر کا دم په دم، لویه وُلجه دے دا زمان — لویه وُلجه دے دا زمان، عُمر ګزر کا دم په دم

وُکړه په خوار **خټک** کرم شمار ئې په کُشتګانو کړه
شمار ئې په کُشتګانو کړه، وُکړه په خوار **خټک** کرم

## (۸۷)

نه پوهېږم چه دا د یېنی یم که خواب ویېم — چه دا هسې رنګ کاروند حجاب ویېم

پلار وَ زوی وَته خبرے په نرمئ کا — زوے وَ پلار وَته په قهروعتاب ویېم

په اُمید د مال و ملک چه ئې میراث شی — د مور پلار له مرګه څوئې کامیاب ویېم

چه مقصود ئې ترمنځ وُځئ غلیمان شی — محبت په خپل مقصود د احباب ویېم

واړګوند چارے په دهر کښې لیدے شی — محتسب کړه ښېښه د شراب ویېم

په ښې لاس پیاله د میوے نوشی کا — په کیڼر لاس کښې ئې دفقې کتاب ویېم

که قاضی دے، که مفتی دے، که خطیب دے — د همه وُکړه چنګ اوّ رباب ویېم

په ځینې چاپي اوّ قلمي نسخه کښې دا الفاظ په دا نښان نیکلي دي :- ۱ ځمانه دلې ۲ - ۲ نښان
۳ نښان - ۴ ممانځ - ۵ مخانځ - * دا شعر په "ح" کښې نیشته -

Marfat.com

تُوَلاَّ تَبَرَّا طمعِ ځنې لیوره — عالمان د کا فرانو په باب وینم
که په خوا فضل په علم او په تقویٰ وو — اُس یې فضل د دُنیا په اَسباب وینم
د دوزخ په لور که تله په معصیت شي — نن کافر د مسلم تله په شتاب وینم
ښئې خوږے صافې اُبه نه ځبني پکور کښِ — تشنګان روان په لار د شراب وینم
که په خوا حاکم شبان خلق رمه وو — په دا دور ئے لیوه یا قصاب وینم
لور په لور ئے کړے د ظلم ټپے ټپے — په کښِ زړونه د مظلومو کباب وینم
هیڅ م نه زده چه انجام به ئے په څه شي — په بدیو کښِ د خلقو جواب وینم
شکر شکر چه لا دَر د توبے واد ے — د مشرق په لور ختل د آفتاب وینم
سامعان یې آمنّا وَ صَدَّقنَا کا کړ
ستا گفتار عبدالقادر صواب وینم

(۸۸)

چه م شاکره وَ بناديو وته بناد شوم — چه د زړه مُرادِم پرېښ په مُراد شوم
اُس ځه غم نه کړم له غم بے غم گرزم — راضی مَن چه د اَزل په وېش په داد شوم[1]
چه م طمع د دُنیا ور ځنې پرېکړه — بغه کس که کیکاوُس زه کیقباد شوم
ځان بازید بولی کارونه د یزید کا — د شیهانو څکه زه بے اعتقاد شوم
خدائے م بیا په کښِ بندی مه کړه ترمرګ — اِحتیاج عظیم زندان وو تر آزاد شوم
هُم ئے ځان له غم خلاص کړه هم نیک نام شه — ډیر میَن په وروستی ضربِ فرهاد شوم
باد یې بوئ عبدالقادر سحر راوړه
شگفته لکه غُنچه په دغه باد شوم

---

[1] رضامند یې د اَزل ... ..

Marfat.com

## ۸۹

چه له حاله د وګړي خبردار شوم ‌‌ ‌ له همه وُ[ا] په زړه مور زه وار په وار شوم

ورځ په ورځ م له جهانه زړه سړېږي ‌ ‌ په دریاب کښې له دریابه په کنار شوم

چه پخوا عمر به ما پرې افتخار کړه ‌ ‌ په هغو وارو کارونو شرمسار شوم

ځان م خلاص کړو د دلبرو له نازونو ‌ ‌ بس کړه دهر ځې د نازونو خریدار شوم

په[۲] تندی ځې لاس ښکوم له شفقته ‌ ‌ اُس م کښېنلی لکه زوی زه لکه پلار شوم

معنوی ښایسته غواړم که ځې موم ‌ ‌ صورتی د زړه زحمت وُ وتر و بېزار شوم

چه بې غمه نشته څوک عبدالقادره
ښه چه زه په غم د مینې ګرفتار شوم

## ۹۰

زه د تل ویم د خُوږ خاطر مرهم ‌ ‌ بې تا یو زمان خلاص نه یم له اَلم

په راتله د لکه ګُل شګفته کېږم ‌ ‌ . بربر رایشه آشنا صبا قدم

د عیسیٰ په دم به مړ سړې ژوندی شو ‌ ‌ مړ زړه بیا موی ژوندون د تا له دمه

د مهجور تر زندګی مرګ بهتر دې ‌ ‌ که ستی ستې کېږی نه ده ګرمه

لکه وار د ښادی ځي د غم هم دروځي ‌ ‌ په محنت کښې زړه هرګز مه شه درهم

د یار غم په معنیٰ غم نه دې ښادی ده ‌ ‌ ما د نه کاندې خدای خلاص د یار له غمه

د دُنیا دولت په مثل لکه باد دې ‌ ‌ کله بېخ کا کله څپې کاندې له بمه

---

[۱] په زړه بیارته په وار وار شوم - په زړه بیارته په وار شوم

[۲] دا شعر صرف د ښاغلی حبیبی د قندهار چاپ نسخه کښې دې. نورو کښې نیشته.

Marfat.com

نه خوبنی کړم د احمق سری له مدحه — نه م ژړه مومی اندوه د ډه له دمه
زلفینو تر حلقو د عذار وینم — که نسرین د دے په زلفو کښی صنم
مه کړه خدائے عبدالقادر چه په پښتو ربه
د زړه مینه کا له خپله یاره کمه

## (۹۱)

له هر څو د بیلتانه له غمه دایم — خپل ژوندون م دروغژن کانړ چه پایم
په قد خم په تن ضعیف کوبنه بیوے — په مثال لکه ابرو د دلربایم
لوئے هلک م واړه یو حسبله ښنیینه — ستا په مینه لکه میاشت انګشت نمایم
د پله خاورے م په قدر[۳] تر عنبر دی — هم په دا چه ستا د سپو[۴] خاک پایم
چه حریف د خوشحالئ بے وفا دے — له اندوه سره دایم رفیق په دا یم
د خوبنئ نامحرم د نه رادرومی — نن شپه زه د یار له غمه خوا پخوا یم
چه بے واخسته پرده د ګل له مخه — منت بار د احسانونو د صبایم
تور ستر کے تور زلفے د بلا دی — اخته کړے زه هم تا په دا بلا یم
هیڅ تشبیه تمثیل نشته په جهان کښی — نه پوهیږم چه یار څه رنګ وستایم
د هوس[۵] د منکر برات شوے د یار وصله — بیهوده د و د یدن ته متمنا یم
ستا په حسن سوګند خورم په خپله مینه
چه تر ځان عبدالقادر مین په تا یم

---

خط قلمی او چاپی نسخو کښی دا الفاظ په داسان لیکلی دی:- ۱ ترحلقو د غ بنکاریږی ... ۲ کنسرین دے ستا په زلفو ... که نسرین لرے په زلفو ... ۳ عنبر په بیعه ارزی — عنبر په بیعه خهند ۴ د تلو ۵ دا شعر پرتش میوزیم لائبریرئ د مایکروفلمی نسخه نه (د پښتو اکیډمی) اخستے شوے دے۔

## ٩٢

شکر چه نه خان یم نه امیر یم
نه بادشاه د ولایت نه ئې وزیر یم

نه قاضي یم، نه مفتي، نه محتسب یم
چه د بډیو، د رشوت په زد و ګیر یم

نه مشرف[1] نه کروړي یم، نه فوجدار یم
نه عمال د چا د ملک، نه د جاګیر یم

نه دعویٰ د ملايي، نه د شیخۍ کړم
نه دعویٰ کړم چه صوفي صافي ضمیر یم

نه بنګي، نه شرابي، نه قمارباز یم
نه تګي کړم، نه رهزن، نه غل کاسیر یم

تونګري د زړه لرم دنیا م نشته
سرمایه زکوٰة م نه وزي فقیر یم

قلندر یم په ساده سپین جامه کښې
نه په[2] فکر د درم، د دنانیر یم

په ظاهر خندا هوس کوم له خلق
په باطن کښې ګرفتار[3] د ځان په ویر یم

قناعت، صبر هر ځائې راته ګلزار کا
ګویا ناست لا په کابل یا په کشمیر یم

یو دیدن د ښکلیو کړم ښه اواز اروم
خدائې م وبخښه اقرار په خپل تقصیر یم

که کرم را باندې کا جنت م ځائې دے
که حساب راسره کا اهل سعیر یم

خوشحال م په دیدن د ښکلیو کېږي
چه یې نه وینم یو دم، پېښے زهیر یم

په اواز م ئې د زړه پرهار ګاندهٔ شي
مین ځکه د رباب په بم او زیر یم

په هر ځائې چه قدم ښېنې ښایسته وي
میندار په ښخو خاورو نه عبیر یم

خدائې م روغ عبدالقادر ځنې مه کړه
چه زخمي د خپل مین د عشق په تیر یم

---

په خطي قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ داسې لیکلي دي:۔ ۱ مشرف ۔۔۔۔ ۲ نه په فکر د درم دینار زیر یم ۔ ۳ همیشه ۴ مُقِر ۔

Marfat.com

## (۹۳)

محبت ځما بادشاه زه ئے غلام یم　　سرافراز ئے په خدمت په صبح وشام یم
په یوه نظره ئے سل شرف مومم　　ځکه هسے تر هر چا بلند مقام یم
چه په بوئ ئے له مستئ چرخ خړخیږی　　امیدوار له تا ساقی د یوه جام یم
یوه ورځ م به په حال ترحم وشی　　په امید د صافو مَیو دُرد آشام یم
ترک کول د خپل خواهش کمال د عشق دے　　رضامن د عاشقئ په کام ناکام یم
اوم کباب د اور په تاؤ ژړا فریاد کا　　چه د عشق له اوره آه کوم اوا خام یم
چه شفیع م د گناه خیرالانامؑ دے　　غم م نشته که هر څو شرالانام یم
هر غزل م مبرا دے له تکلیف　　په ساده پښتو ویلی متین کلام یم

دروغزن ورته خپل ځان نیوے نه شی
په رشتیا عبدالقادر تیره صمصام یم

## (۹۴)

چه نیوے ئے د ښیښے په تاوان یم　　ځکه هسے رنگ بهتر تر درست جهان یم
عاقبت به د یوسفؑ عند عزیز شم　　چه بندی د یار په چاهِ زنخدان یم
دخپل یار سروسامان واړه ځما دی　　په داځکه شو که بے سرو بے سامان یم
چه پرتو ئے د بنځ^ع را باندِ وشو　　لکه لعل قیمتی د بدخشان یم
د حریر په کاغذ د سرخئ میم دے　　که ئے ځکه ده و تحقیق تر ئے حیران یم
ستا له لاسه گل داغونه راته بس دی　　مستغنی له تماشے د گلستان یم

ع غم یه کم دے۔

Marfat.com

خدائے م خپل بانړه د دوؤ ستړګو نشترکړه  کړ بے تابه وَ بل ځ نه سنګران
کړ د نمکے غُنډ پست په تواضع یم  په ہمت تر وارو پاس لکه آسمان
د عوامو تر نظر لکه ګدائے شوم  و خاصانو وَته شاهِ کُن فکان
نا آشنا د نا آشنا له قدر څه زده  کړ و نورخلقو ته سپک وَ یار ته ګران
ناپوهې تر ہوښیاری راته ښه شوه  نه پوهېږم چه ہوښیار یم که نادان
یم[۱] ویل په حقیقت کښې مشرکی ده  د یم یم[۲] په قافیه راوړل پښېمان یم

د سخن خوبی ہمه لرم موجوده
زهٔ عبدالقادر محتاج د سخندان یم

## ۹۵

چه څوک بد راسره کا ورسره ښه یم  ہم په داد ښو د بدو نور لیمه یم
له ہغو م څه اندوه چه په خوی اوړی  په خپل خوی کښې نرم[۲] و سرد تر اُبه یم
چه وَ ماته څما عیب پیشکش راوړی  د دے بسے یار له خدای په غوښته یم
فریښته دِ غم څما د عصیان نه کا  کړ مفسد یم که ظالم یم بیا د ده یم
نور څما دے غار څما د نورو څه دی  د پتنګ غُنډ کړ خیر د ځان په سوه یم
په رایرو ځے ځ سپیره شی چه نفاق کا  آئینه غُنډ ځ سپین په زړه[۳] نور نه یم
چیبرِ نه چه وَ بل ځ وَته وګوری  په ہجران کښې خوبش د ستړګو په واته یم

له نورچا کله ګله عبدالقادر کا
زهٔ خوار کړے خپلو ستړګو ہم خپل زړه یم

څنې قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ دا شان لیکلی دی:- [۱] یم ویل په طریقت کښې کافری ده [۲] سوړه ...
[۳] په زړه په څلا یم - او نور په زړه یم.

Marfat.com

## ۹۶

چه مین په پری وشے جانانه یم — څکه سر لکه مجنون په ویرانه یم
نه خپلوی له چا کوم نه ډېر ښکلوی خپل دی — په عالم کښې له عالمه بېګانه یم
ظاهر بین زم په ظاهر صورت غلط شه — په باطن په خاوره پټه خزانه یم
ځائے م پاس د بادشاهانو د سر تاج دے[۱] — پریوتلی په ډېران کښې دُردانه یم
د دے بزم د مجلس ګرمی په ما ده — هم ساقی یم هم شراب هم پیمانه یم[۲]
په سینه د خپل مقصود په لور شور یم — په مثال د وزر سوی پروانه یم
خرابات د خدائے ودان لری تر ډېره — په ویل د دۀ له فیض رندانه یم
بے دنائے کله آواز خبړی له نیه — واړه عشق ئے ویوی زۀ بهانه یم

په ژوندون **عبدالقادر** چه کوروران کا
ډېر په دا خصلت مین د دیوانه یم

## ۹۷

چه تن بسے په هوس په بے غمی یم — اقرار شوے د خپل عقل په کمی یم
سر پېټوب[۳] کړ په سیرت وۀ له مالاړ شه — آدمیت که په صورت دے آدمی یم
که په فضل م کار وسپاری غم نشته — که په عدل م سپاری جهنمی یم
د هجران په لمبو سوے یم فریاد کړم — ما معذور لری عالم اُلمی یم
اهرمن چه لاس وروړی ګټے ئے سوزی — بادشاه شوے زۀ د فقر په غمی یم
د مصنو په ملک پارسی عربی نشته — کم نقصان که عرب نه یم عجمی یم

۱ ځائے م پاسه دبادشاهٔ د سر په ۲.۲ د ے ۔ ۲ ترانه یم ۳ آدمیت۔

Marfat.com

کله ژه عبدالقادر د شعر لاف کړم
مرثیې د تللیو وایم ماتمي یم

# ن

## ۹۸

شکر شکر بیا یو ځائے شول حبیبان ؎ رُوسیاه شول په دا منځ کښ رقیبان
ساقي دریغ د پیالے نه کا له ہیچا نه ترِ محروم شول خود په خود بے نصیبان
په منبر بانډ به سرے ټپے شي بیلے که پر راز د عشق بیان کا خطیبان
چه په رګ ړم ګټے پروي ګټه ستے سوزي ځما رنځ به څه رنګ موحي طبیبان
نن باغبان د باغ ګلونه واړه ټول کړه د زړه سود به په څه کا عندلیبان
طبیبان د دُنیا واړه لېونې دي لېونیو ته ښکاریږي لبیبان
د ژوندون جهاز به غرق دفنا سیندکا که په ځان ئے نوح نبي شي کشتیبان
د دُنیا په ودانۍ عبث مشغول کړي عمارت په سرائے کښ نه کا غریبان
د سوارۍ زیرمه کوه عبدالقادر
په هر لوري د ننداره کا نقیبان

## ۹۹

پرے رم بوده چه ژاړم سپینه اوّ ورځ لکه باران ؎ ګل غُنډ د بڑون کا په واړ وار ګبلي یاران

ؔ ؎ نه کا نه د چاته۔

دی پوہیدلی چہ آخر بہ خاورے کیږی — ځان پہ ژوندانہ کا لتورے خاورے خاکساران

چہ پہ خپل عمر شپہ د درد لیدلی نہ دہ — ځکہ دِ خندا شی چہ زلګبروی[1] کا افګاران

ک ے رغیدن دی د دارو زہر مہ ے مکړہ — خوبن پہ بیماری[2] دی ستا دستر ګو بیماران

ت دے کہ خہ کړے شے بیا بہ وائے وار بہ تیر وی — تل بہ بیسے نہ وی ستا د عمر[3] با کاران

پہ خپل ځان با ندِ پیرزو د سړی بد وی — ځوک شو لہ ازلہ نیکوکار ځوک بدکاران

چہ یار یے نہ وی پہ خپل کور لکہ غریب وی — ناست پہ خپل وطن کښی مسافروی[4] نیسګاران

ہیڅ ملامت نہ دے کہ فریاد عبدالقادر کا
لګیا ے[1] دی پہ زړہ د یار د زلفو تورماران

## (۱۰۰)

ہیڅ عاشق بہ ترِ بیا نہ مومی امان — عشق پیغور دی سرہ دوارہ توامان

بہ ستا پہ نصیحت وَ یار تہ شا کړم — لہ زړہ لرِ کړہ ناصحہ دا ګمان

لہ بنګلیو لہ دیدنہ ماړہ نہ شو — ہرچا وړے دے وګور تہ دا ارمان

ایستہ د مزکے ہیڅ دے پہ خوبانو — لہ پہ ستوریو حسن زیات دے د اسمان

ے وے چہ صبا راشہ خلہ بہ درکړم — مددګار شہ بخت! بیا مہ شہ پښیمان

بہ وخلکوے ملن ځما لہ لاسو — پہ قیامت ځما لاسونہ ستا دامان

ردی تیر راتلونی نہ دی لا راغلی — عاقلانو نہ دنیا شوہ د ارمان

سامان د سر انجام فکر ے نہ وی — نہ سامان د بے سامانو دے سامان

یار درد عبدالقادر د ہغو دے — چہ ہرګز یے فکر نہ وی د درمان

---

[1] چہ فریاد کا ... چہ ذکر وکا ... [2] ناروغتیا دی ... [3] د عمر باغ وڈان [4] مسافر دی بے یاران
آرام ے دی - ہراند ے دی -

Marfat.com

## ۱۰۱

نمر سپوږمۍ زمکه آسمان ځائې په ځائې په ځان حیران
اُبه سر وَهي په کانړیو شپه اوّ ورځ کانډِ فغان
لړمون سوے د آتش دے باد هُم گرځي سرګردان
چه نښان ئے مونده نه شي
څوک به مومي بے نښان

## ۱۰۲

نه پوهېږم څه ئے ګل دے یا لاله دے یا سمن عیا حل شوی په یَوُ ځائے ګلِ لاله دی نسترن
دا ئے خُندَه ده که غُنچه ده که میم کښلے په سرخئ دے دا ئے سترګے که نرګس دی که هوسئ دی دختن
دا ئے زُلفے که سُنبل دی که ښاماره په چندنړزونن دا هلال دے که لینده ده که اَبرو دسیمین تن
دا ئے شونډے دی که لعل که یاقوت دی که مرجان سیب دے داکه ناشپاتئ ده دبخت ستوری که زقن
دا وېښته دے که ئے ملاده که ځما دخاطرفکر دا ئے قد که صنوبر دے که چنار سروِ چمن
دا شراب دی په پیاله کښې که رِد ما دخاطر ونے داکباب په اور ورتیږی که دزړه م شی سوختن
دا ثنا شی دګوهرو که د مشکو د عنبرو
که ثنا عبدالقادر کا دخپل یار نازک بدن

## ۱۰۳

بنایسته چه په خندا کانډِ دندان سپین لویَوی تر سپینے خُلے وُرو مَرجان سپین
ترسپین څه پورِ ئے نور لکه لونګ شي که هر څو رابیل چنبیل دی دبوستان سپین

د زلفو په سیاهی جهان تیاره کا — په جبین لکه صبا کا بیا جهان سپین
جمال به ئې د یار سترګې بینا شي — که یعقوب ړند کا کښې په هجران سپین
راحت[۱] ئې وو په څه کښې ستا له مخه — که هر څو په مخ یوسف وو د کنعان سپین
سپینه بیره د زړه په سپینه نه شي — په سپین والي د مږیو نه شي ځان سپین

نور بوزا دے په ګل ناست عبدالقادر
که ئې بیښے دے لور ګل په زنخدان سپین

# و

## (۱۰۴)

عزد مه شه د دولت په بام ختو — هر زمان ئې ویره کړه له پریوتو
دهر ئې هسک کړه بیا ئې وویشته په مزکه — هسکول د چرخ په نیت دی د ویشتو
له اوله پر پیدا د محبت کړه — که آسمان ته نیت لرې د ختو
چه ئې مینه د بنه مخ په زړه کښې نه وي — د هغو مخونه نه دي د کتو
ځانځې ځان د ده له سپیو سره مل کړه — یوه ورځ ئې راته وُنه ؤے چه لتو
بندے نه شوے د یار په جدائي کښې — خوبه یم اُس د دوارو سترګو په رتو
تونکرې په قناعت شي نه په زرو — سغبدې بویه د زړه نه د ولینتو

خان خوږه کړه تر فارسي عبدالقادر
که پښتو وه ترخه ژبه د بینتو

۱ — ځنې قلمي او چاپي نسخو کښې دا الفاظ په دا شان لیکلي دي۔
۲ دا شعر د بناغلي حبیبي د قندهار چاپ نسخ کښې نشته۔

Marfat.com

## ۱۰۵

دُنیادار په سپېو بولی یا په خرو  ته پرې وے ہونبرو میندکوے ترو

عاشقان د یار په مخ په سترګو مست دی  مستغنی دی د جهان له سپینو سرو

ځکه یار په خوب اوده دے چه ویښ نه شی  په پیاله کښې ساقی مے توی وه ورو

عالم عالم ورته بے بال وپر ښکار ښوی  لامکان ته عاشق ځی د عشق په پرو

توکل ځکه په خدائے نه په طاعت دے  شیخ تا زده، ستا طاعت زده، ستا اثرو

په شامت د دے سړیو باران پرېوده  شکر دا چه اور نه ووری له اورو

بے عملهٔ به د ښه په ځا ونه شی  نه په ورونړو، په پلارونو، نه په ترو

چه د خدائے په یاد مشغول، سړے ہغه دے  وغافل خلق حساب دے په خرو مرو

نصیحت[۲] وایی ہمیش عبدالقادر

مردکان، کړ خوک منی، له اديرو

## ۱۰۶

ستا لبانو بازار سوړ کړه د نشکرو  ہم د غابنو قیمت کم د مرغلرو

نه په زور، په لاس کښېوزی نه په زرو[۳]  خدائے دے نه کا څوک مین په زورورو

مار خوړلی په فریاد پورې خندا کا  ده لا دَرد لیدلے نه دے د ژورو

توتول، کښېښول د زرو ښځے کانډ  ورکول یازل ئے خوی خصلت د نرو

چه ژوندون ئے وابسته په سرو لبو دے  عاشقان دِ په معنیٰ د سمندرو

---

ځنے قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ دا شان لیکلی دی . ع[۱] زامنو ع[۲] دا مقطع صرف په "ذ" کښې ده - په نورو نسخو کښې نیشته . ع[۳] د مار خوړلی ع[۴] بنبرو ( ہمرو) - جوړو .

چې يې ګنج دے دواړه زُلفے ئے مارونه     سر بازان به ګنج اخلی له اژدرو
چه له يار سره واصل تونګر هغه دے
خدايه شمار عبدالقادر کا له تونګرو

## ۱۰۷

مه دِ ويښم لباسی په سترګو تورو
زه په تا بانډِ مين يم نه په نورو
هيڅ حرمت ئے لکه حق دے په ځا نه کړه     مېلمه شوے دے يوسفؑ په کور د کورو
په ښنه خوئ به ځه پروا کړم له بد خويو
قيمت کم نه شو د دُر په اُبو شورو

## ۱۰۸

هم له بدو سره ښه کړه هم له ښو     د شو بدو له عمونو ښه په خشو
خاکساری لره کول دی د خودئ     نه چه کبری خاکساری په خاورو مشو
په جهان چه زلزلے د حوادث شته     تر قصرونو جونګړئ ښه دی د وشو
د خمو مېخونه وکاږه فراش!     فريادونه درته کا جرس د پښو
مرګ له تندے په مذهب ځما بهتر دے     نه ژوندون د دون همت په اُبو خشو
خرخشه د سر له سر ژوندون را کا     زه قربان شم ياره ستا تر خرخشو
کشمکه زه دِ د اوږدو زلفو يو تار وے     چه هېڅ مِ ښه سروے ستا په ښشو
ښه رنګ تويږےم مات دے په خاطر کښی     چه عاجز ئے طبيبان شول له ونښو
د خپل زړه په تخته کښه عبدالقادر     په کاغذ د عشق ويل نه دی د کښو

Marfat.com

## ۱۰۹

مه شه خوبښ د بادشاهئ په تخت ختلو همېش ئے غم کوه د پرېو ستلو
هغه لېندے ورته ناست لېندۀ ځکولی چه باقی ئے سروتېر ځی له ويښتلو
هر دينار پُردے به سکور[1] تا په ځان شی دا چه اُس ئے خوبنی کړے په اَخستلو
چه يے اُس کړے په مظلومو رَڼے رَڼے غافل مۀ شه د ډېو[2] ستړکوله وتلو
چه پېشه ئے همېشه دِل آزاری وی د هغو مخونه نۀ دی د کتلو
ځکه تل کړے په زَر دوزو جامو کبَر چه غافل ئے د کفن له اَغستلو
د اَجل د سورو' تافت ناګهانی دے چه هېڅ کور ئے نه خلاصېږی له ننتلو
چه د باز وَزَرِدِ جوړ وُو بنکارد نۀ کړه د کوزپېر نۀ وی قوت د الوتلو

هغه زړه عبدالقادرؒ چه مُرده وی
په کوګل دننه نۀ دے د ساتلو

## ۱۱۰

داچمن به تل ښایسته نۀ وی په ګلو نه به تل باندِ غوغا وی د بلبلو
نه به تل سروه سرسبزه وی په باغ کښِ نه به تل چنار زَر وېشی په منګلو
نه به تل آبشار دا بهیے په فرياد وی نه به تل د باد نخا وی د سُنبلو
نه به تل نارے سُورے وی د مستانو نه به تل بهیے په جوش وی خُم د مُلو

نه به تل عبدالقادر مُوشګافی کا
نه به تل جهان خوشبو وی په کاکلو

[1] د تا د ځان شی [2] د ددو ستړکو له وتلو.

Marfat.com

## ۱۱۱

شه کوره ننداره د فاسقانو ‌‌ دَم وہی د خدائے د خا صو عاشقانو
ل کردارئے شاہدی لی په دروغو ‌‌ کہ په خُلہ کاندِ ویل د صادِقانو
ه کردار اَہلِ شمال ورځنے عار کا ‌‌ په گفتار کښِ سَبقت کا ترسابِقانو
عصیان بیمار رمق لری په تن کښِ ‌‌ اَلغیاث د دے رنځُورو حاذِقانو
ه گناه په خدا کا ژڑا ئے نہ وی ‌‌ دا خصلت دے د ہمه منافقانو
په دیدن به دِ لا کله مشرف شی ‌‌ اِشتیاق شو ہر کور ډیر د شایقانو
مرگ ئے سل ځله بہتر له حاضرانو
دے بنده **عبدالقادر** له آبِقانو

## ۱۱۲

تر قُربان شه سل بنادیٔ د بنادمنو ‌‌ ربهٔ مه وره خیل غمونه له غمجنو
ر آشنا چه زڑه رایاد کا ځما مرگ دے ‌‌ زه فراق جگر پارهٔ کړم د مینو
بیدَرْدو ته دُعا کړم که دَرْدمن شی ‌‌ خدایٔ دَرْد را ښکارهٔ مه کړه د دَردمنو
ه وار وار به باغ خالی شی له گلونو ‌‌ نن بلبلو دا آواز کاوه په وُنو
دان واړه د بدانو صُحبت بد کړل ‌‌ ډېر چمن دی چمن شوی له چمنو
پر گردونه وی سواره ځنے ښکاره شی ‌‌ د خوارئ نظرِ مه کړه په گردمنو
وَ معنو ته فهم کړه **عبدالقادر**
چه نظر کړے د جهان په اُوږدو پلنو

---

۱ دا مقطع صرف په "ز" کښِ د... په نورو کښِ نیشته.

## ۱۱۳

چا مُوندے دے، نارے وَہی ہُو ہُو    څوک طالِب ځنے پُښتنه کا کُوکُو
عرشیان ئے پُرسِش کا له فرشیانو    فرشیان ہم پسے کړیٔ په سُوسُو
د دُویٔ خبرے مه کوه مطربَ!    په نغمه کښ یُؤیُؤ وایه نه دُو دُو
چه راغلے له عدمَ دے جُود ته    آواز یو تر بَله کا چه بهٔ ځُو ځُو
د ځَوانیٔ شاہین یا ئی شو رابه نهٔ شی
کهٔ فریاد عبدالقادر کاندِ قُوقُو

## ۱۱۴

بارے شُکر چه له ہر څهٔ نن فراغ یُو    ځاځیٔ له یارَ ناست، په لاس اَیاغ یُو
که موسم د چمن تر گلو کمَ دے    د لاله غُندِ سُرخرُو د زړهٔ په داغ یُو
خزانه د قناعت راته حاصل ده    تر شاہانو لا په کبر په دِماغ یُو
تعلق لکه نسیم وردیودِ نه کړُو    ننداره لره راغلی د دہے باغ یُو
نن ځمُونږ جونګړیٔ رنړا د یار په مخ ده    مُستغنی له روشنایئ د چراغ یُو
په ظاہر که مِ خلق ګڼه وینی له خلقَ
په باطن عبدالقادرَ سَرپه راغ یُو

# ة

## ۱۱۵

یوه نظر چه وکړی ساقي ماته ښخه دم م صد ساله توبه شي ماته
فراق لمبو م ننه لړمون وسه آرزوئي م شي ړکوره ستا و ماته
شق م مادرزاد خوئ او خصلت دے داخصلت م خدائے ورک منه کړه نژمماته
ح په مثل د آدم قالب حوا دے فرزندان ئے شول څوک پلار ته څوک اماته
عیسیٰ د تعلق له بار خلاص شه د تجرید په پرو ورغے سما ته
عاقبت به مجاز واړه حقیقت شي اشارت دے جو فروش گندم نما ته

په کبنړ بند عبدالقادر په دواړو پښو شه
خلاص د نه شي ستا د مینے له حما ته

## ۱۱۶

ر وته نه گورم گورم زه وخپل نگارته ګل ته نظر نه کړم نظر کړم ښخه رخسار ته
له ما مه ځه حئ چه ځے ارواح له تن ؤبه مرم که نه مرم کنیودم شه له ما بیارته
غ وته م بولي نه م بولي د یار کوګی ته کوګی ته به ئے درومم نه بد درومم و گلزار ته
ر عالم م ولید وم نه لید ستا په څیر یو چین ماچین ته لاړم ځه چه چین ماچین تاتارته
نه چوی له غم زنهار مه وایه منه وایه راغے خبر راغے طبیب وخپل بیمارته
د به یاری نه کړم کړم آخته په غم یارانو ښخ ئے راپرنه شول غم ئے پرېښو وماخوارته
پیشه چه راپیښی تلاخان عبدالقادرته هرڅو غلاخان کړ تن ته نه راځی په بیارته

Marfat.com

## (۱۱۷)

هېڅ له کبره نظر نه کاندِ وَ خوار ته
بنایسته په معنیٰ زر دروي زردار ته

خوش رُویٔ له خوش خویئ سره زیب کا
وُوایه هیڅ دلبرے دِل آزار ته

خط د خپله پرېشانیٔ پکښې لولم
چه نظر وُکړم د کښلیو وَعذار ته

په اُمید ئے د وصال لکه خلیلٔ ځم
په خندا په خوشحالیٔ په هوس نار ته

ما په خوب کښې میاشت لیدهٔ په کړیوا کښې
مخبر وبے یار به دریښی کنار ته

چه په نشت د دُنیاخوش په شته دلګیر وې
د هغه فقیری مبانیٔ اِعتبار ته

داځو ورځ غنیمت د ګل دیدن دے
و بے نهٔ راځیٔ بلبل وَ نوبهار ته

چه ئے تلم په خندا خندا دیدن ته
هُس ئے درومم په ژړا ژړا مزار ته

لک اؤ کروړ که پسے خرځ **عبدالقادر** کا
هم تېر عمر به راند بیشی په بیار ته

## (۱۱۸)

مخ که واړوی دلبر ځما وَ لور ته
لور به نشا کړم د فانی دُنیا وګور ته

همېشه د جُدائیٔ په دریاب ډوب یم
د دیدن په طمع سر کړم کله پور ته

د زرهٔ زور د صُورت توان م هسے کم شه
چه فریاد له کمزوریٔ نه کړم په زور ته

غم خواران به ځما ځه رنګ غم خواری کا
چه احوال د عشق وایهٔ نه شی غم خور ته

قبرستان به همه واړه لاله زار شی!
که د یار د مینے داغ یوسم وګور ته

تورے زُلفے ئے د مخ په تاؤ تاو پرې ی
وپښته تاؤ شی چه نیږدے کاندِ اور ته

حد د چاد ے چه ئے لاس په رخسار کېږدی
کله کتے ځوک وروړے شی وسره اور ته

Marfat.com

چه دایم تر رنجو تورے بے رنجو دی  پہ حیرت یم ستا د تورو سترګو تور ته

چه منکر ته یار ستا یے عبد القادر
په معنیٰ د نمر صفت کوے وَ کور ته

۱۱۹

د مردانو ښخه شته چه د تا نشته  وایه مَه چه ځا نشته د چا نشته

سترګه وَر به څنه باور پرِ باندِ کاندِ  کۀ راندۀ نارے وهی چه رڼرا نشته

د صبا په حال غُنچے د نوبهار زدلا  د خزان وَلی وایی صبا نشته

د دُنیا زامن په خُوی د خپلے مور دی  بے وفا دی پکښ بُویُ د وفا نشته

په منکر باندِ لیوه په ما یُوسفُ دے  په دره کونَ ځے ځځ د لقا نشته

ستا په بُوی چه هملی راندۀ بیناشول  ستا له بُوی بے یعقوبُ آشنا نشته

وایے خارو خس جارُو کره، چه زه درشم  خارو خس خو به هم زه یم بے ما نشته

هرسحر سترګے د ګل په اُبنیو پُور وی  په دا باغ کښې بے ژړلو خندا نشته

ښځ آندوه د ځاے ځایګی ورځنه نشته  درست جهان د ښغو ځاے چه ځاے ځے نشته

که طلب د کیمیا کرے، کُندِ بیا مو ے
په دا وخت عبد القادر رشتیا نشته

۱۲۰

چه ژوندون د د ے جهان جاودان نشته  په هرحال کښې چه ګُزران شی ارمان نشته

نرم ځے ځکه د جهان په جهان کښېښنو  جهندۀ د ے قرار ے یوَ زمان نشته

۱ دا شعر "ح" کښې نشته.

Marfat.com

هم هغه له زيانَ خلاص، تمامی سُودشو — چه په زړه ئے غم د سُود اَوُ زيان نشته
د هر خان چه نه ډوډئ وی نه ئے تُوره — بېنه حُواب ئے دربان وُکا چه خان نشته
که حاسد رم په زوال د نعمت گوزی — خه[1] م کیږی[1]، تر م وېره چندان نشته
په ژړا که نور د سترگو سپین کرم، مبنائی — د يارانو مجنبے وينم يارن نشته
حان هاله **عبدالقادر** چه جانان وی
په صُورت باندِ حان بار چه جانان نشته

## ۱۲۱

بيا رم نوی مينه وَرغله وَ دِل ته — گويا سرے ملبے رم پرپو تے کوکل ته
چه دا بسے رنگ په سرو لمبو کښِ وُسی — په ځپل زړه پورِ حيران يم ستا اوريل ته
سترگے سرے، لا سوند سره جامے گُلگونے — گوره بيا دروُمی د چا وَ قتلول ته
کم کم بخت سړی پښيمان کړے چه را نغلے — ما ويل چه زه به درلبشم يورجل ته
چا چه يوُ ځله ليدلے هغه ځئ وی — سترگے وُخوره که به وُگوری وَيل ته
د راتلو زبرے دِ باد په چمن راوُړه — سترگے وُختے د گلو ستا ليدل ته
د اوبرو په ژړا لا گلونه وا نشی — کله گوری بنايسته د چا ژړل ته
لا خندا ئے درسته کړی نه وی خوږشی — خه[1] فائده ده د لاله وَ غوړېدل ته
چه وَ ځخ وَ نه ئے گورم ننداره م — هرگز نه پربږدی د سترگو وَزمېل ته
مگر گل[2] به همېشه په باغ کښِ وُسی — چه په خواره سترگه گوری و بلبل ته
دِے تار ئے د زلفينو وَ ما راکړه — چه ئے کښنبږدم د کفن وُ اندرول[3] ته

---

خه قلمی اَوُ چاپ نسخو کښِ واالفاظ دا شان ديکلی دی:۔ ع[1] شتوی کیږی۔ سوی کیږی۔
ع[2] مگرگل به همېشه وی په دا باغ کښِ۔ ع[3] رغول ته۔

Marfat.com

## وایه وایه دا غزل عبدالقادر[1]
دواړه غوږ م دی نیولی ستا ویل ته

### ۱۲۲

خپل[2] مینه لېونی کړم و عالم ته — اُس به څه له چا کړله کوم قلم ته
چه قلم د جدایئ ځما وابه شه — په ژړا م سترګې سرې کړې و شبنم ته
چه د نمر اتلس څ شی په کښېته — مخلوقات به ګوری ستا فضل کرم ته
زه ملنګ په دوېم پروت دوېم خوښه — د دُوېې د لُوګی خوندې و ملنګ ته
هر اُمت چه د رسول پیروی نه کا — سر نګون به بیا ور درومی جهنم ته
زه عبدالقادر[3] بې اوره په اور سوزم
لږ د رب د یاره ووایه صنم ته

### ۱۲۳

په ژړا[4] په زاری وایم و عالم ته — که م ووبخښی یو دم د آشنا غم ته
روغ رنځور کله مجلس په یوه ځای کا — ښاد ښادی ته ماتمی درومی ماتم ته
غوربدل مې شه سبب د پرېشانئ — ګل خپل حال وایه سحر صبا شبنم ته
چه خپل دم د عاشقانو نامحرم وی — تر په څو به د زړه حال وایم محرم ته
لوم رد نه اخلی د مینې بې وفا دی — چه د یار په تیغ زخمی درومی مرهم ته
چه په خپل اقرار وکاندی چه کرم یم — کرم کله قهر کاندی سخه کرم ته

---

[1] بیا بیا وایه دا غزل عبدالقادره [2] دا غزل صرف په "ح" کښې شته په وړو کښې نشته
[3] ح :- زه قادر مې بې آتش په اور سوزم۔ [4] دا غزل په "ح" کښې نشته۔

Marfat.com

د نسیم په گلزار مه ورځه نسیمه — چرِ نه وی بوی ئے راوړے څاشمه ته
سروِ قده رابنکاره شوه څونړچونړ زُلفے — په حیرت یم د سمونو ودے خم ته

د دُنیا یاران بچان **عبدالقادر**
په ورځ ملذدی ځان بنوه نه شی تورغم ته

## ۱۲۴

کَه خبر م شے له خُوبه خاطِرَ ته — شپه اوُ ورځ به په نارو شے لکه زه
شو تاوده باندِ تېرشی چه پښېږی — د پخو په حال خبر نه دی اوُمه
کَه دِ سوے چرِ زړه د عشق په اوروی — ستا به ناله زړه په سوی باندِ سته
شاعران ئے له لذّت خبر نه دی — چه نسبت ئے کا له شونړو لبینه
عام عام له حقیقتَ خبر نه شه — د تقلید خندا کوی لکه کانړه
د دُنیا په تلَه راتلَه پروادار نه یم — غم شادی م شی د یار په تله راتلَه
شه دیدن دے که آواز د روح خوراک دے — ځکه هیڅوک ماړه نه شول په لیده
بنایسته د بچا نه دی د خپل زړه دی — بیخه خوارشی چه وکبنلیو ورکا زړه
خُلهٔ چینه ده د حیات مخ ئے آتش دے — چا وے دا چه یَو ځائے نه وی اور اُبه
گوره بیا د کم کم بخت سری په خُندَ شه — سل شکنځل راته کوی چه غوارم خُله

نَل تر خواست **عبدالقادر** کا دیاری
یار هرگز ورته وُنه ویل چه سته

## ۱۲۵

خدای مه کړه د بچا په کور کبنې غوُته — زر چه غوُته شی یا کانړے شی یا لوُته

ﻉ دا شعر په "ح" کبنی نشته۔

په رنګ د ختکی یې په ...ه شو　چې مزه د ختکی نه لري پوهه
...اقی را پیاله له ښخو میو پوره　چه یې څښنو نه شی خراب له یوه ګوټه
سودا کا بې د کښېلیو له ښنه څخه　عاقبت به د ښخو سودا شی تروته
... د واړو وار په وار راته معلوم شو　مه د ویم په خله ښځ په زړه جوته
...ت مات زلفې بیا راغله په مخه　روغ خلق پهېر ښمارا توبه لوټه

تر ښخو ځمیو زار عبدالقادر نشه
چه دنیا یې کړه د ځان د ورانۍ لوټه

(۱۷۶)

... په پیدا دے هر محنت په دا دنیا څه　په جهان تر بېلتانه نشته بلا څه
...څه دم چه دوه مین ځبله بیلېږي　که باور کړې هېڅ نه سخت نه وي تر دا څه
... زمان تنها له خلق راته ښېښنه　نه بې وایم لرم درته پخوا څه
...ه دا ښسے نن خبرے په ناخوال کړے　چا بد خواه درته ویلی دی له ما څه
... باور سے په وعده باندې ومه کړه　بنایسته څه په وعده باندې وفا څه!
...هوده د ګلو پاڼرے خوړے نه دی　په رموز ورته ویلی دی صبا څه
رقیب خبرے مه کوه وما ته　څه غرض ځما په ده وده په ما څه

سر درله عبدالقادر تر تا ځار کړه
خدائے دې نه کا چه به دریغ لری له تا څه

... قلمی او چاپی نسخو کښې دا الفاظ په دا شان لیکلی دی. ... ګو ښه ... بد خو
دا شعر د ښاغلی حبیبی په قندهار چاپ نسخه کښې نشته.

Marfat.com

## ۱۲۷

لاف [۱] د عشق په خُله وېل له دردَ شورځه — وَ پتنګ نه حوارّه ښځ نه دی تَراورځه
بنایستد بد رنګ په عشق کښې برابرشی — چه د ذرّه مینه پر وپرشی سپین وتورځه

اَهلِ دِل وَته د عِلم نُوُر پکار دے
د چراغ نه روشنائی عرض د کور ځه!

## ۱۲۸

څو د عشق په اَور دِ نه ده وِیلی واژده — که دعوه د عاشقیٔ وُکړے تا زده
نه به څه رنګ په دا ښو ښره شتاب دروے — چه دا [۱] لار د څړه رو اَوُ د یکتا زده
نا امید بیے ښځوک نهٔ دروی له دره — په هر ځائے ئے دکرم دروازه باز ده
د طاوَس وَزر طاوَس له بلا شی — شارُونُ په قفس کړی خپل اَواز ده
ښُزمند د خپل ښُز په نُومه بندشی — دلبری د باز بلا په ځان دَ باز ده
لوییے وُنے سیلیٔ پرے باسی له وبځ — عاقبت سرنګو نی د سرافراز ده
د غمازَ [۲] وبنا وبنا واروه مه اَروه! — چه وبنائے دوستکداز دشمن نواز ده

سر سا تنه په مذهب د عاشقانو
له اَشنا **عبدالقادر** لاجواز ده

---

[۱] دا درے شعرونه صرف د پښتو اکیډیمیٔ په قلمی نسخه کښې وُموندے شول. په نورو کښې نشته.

---

څنې قلمی اَوُ چاپی نسخو کښې دا الفاظ داشان ښکلی شوی دی: [۱] وک:- چه دا لار د څړه رو اَوُ د کړ تازده
بم:- چه دا لار د څړه رو د کړه تازده. ... ح:- چه دا لاره د څړو د یکه تلزده.
[۲] (ذ) د غمازو وبنا واروه تر مه اَروه.

Marfat.com

## ۱۲۹

...مره جور ظلم منه کوه زاری ده / د همه بدیو سر دِل ازاری ده
...چه په بدو نیکی کاندِ مَرد بیخود ے / په نیکی چه نیکی کاندِ خرخاری ده
...تا په سترگو خوب حما له سترگو یوړ / بیا وَیل کړے چه له څه دِ بیداری ده
ساقی همره شراب را چه تمام مَست شم / تر نیمگړی مستیٔ بهه هُشیاری ده
...زمان رم به له ځانَ یار بیل نهٔ کړه / و ے څهٔ کړم لاس رم نهٔ رَسی خواری ده
...قرارے آرام وُکا چه په زړهٔ روغ وی / په نصیب د خوږو زړو نا قراری ده
...ره شپه راسره مل وی په هجران کښې / ستا تر خیال پورِ حما شرمساری ده
...چه ئے نهٔ مومی پرهیز کاندِ له کښلیو / رامعلومه د زاهد پرهیزگاری ده
په سائل د خوږو زړونو نهٔ پوهیږی / د زړه خُور د نادان کښلی یاری ده

خدائے دِ روغ **عبدالقادر** ورځنه کا
چه ئے ستا له سترگو شوی بیماری ده

## ۱۳۰

چه دَ ے هوُرے د مُرد پرده پوشی ده / خاموشی ده، خاموشی ده، خاموشی ده
چه صبا به حقیقت ورته معلوم شی / چه نن شپه د تا له چا هم آغوشی ده
په کوشش چه نهٔ زیاتیږی دچا برخه / سکه بهتر وَ سړی ته کم کوشی ده
له لب په لب د یار کله د جام بړدی / هسے رنگ د نیک بختانو مے نوشی ده
په قیامت به له قیامتَ خبر نهٔ شی / چه ئے ستا له سترگو ستوی مدهوشی ده
...ئے یاد په هرساعت په هره سا یے / له هغو نه و ے ستا فراموشی ده

Marfat.com

ترناقصه هوشیاری عبدالقادر ته
په سل زر مرتبې بهه بې هوشي ده

(۱۳۱)

دا وینا م د بیمار خاطر شافی ده    یوه زړه لره یوه مینه کافی
په ازل ئې ځما دُرد د نورو صاف کړه    له ساقی سره ځما سینه صافی
د هر گل احسان بیے داغ په تهتر ایښے    د ځوانمرد تهتر داغ داغ په تلافی
چه له نورو د انصاف طمع لرې نه    په مذهب ځما هم دا بے انصافی
سخندان به ئې په کمه خُله بیان کا .    ستا د خُلے تشبیه راوړه موشگافی
ابلهان به ئې باور په آشنائی کا    د هرچا چه په وعده کښې خلافی
د[1] زلفتو په اودو نه ځه پوهېږی    چه پېښه ئې همېشه کرباس بافی
هیڅ پیغور د عصیان مه کوه وما ته    ترگناه م د دوست زیاته معافی
مرد مې مه گڼه چه لافې بے کردے کا    مرد کرده بے لافو کا بنځه لافی
د خپل ځان د پاره نیم درم اسراف دے    چه په بل خونه شنندے بے اسرافی
خو هم دا عبدالقادر ته بیا بیا وایه
یوه زړه وته یوه مینه کافی ده

(۱۳۲)

که خانی که ملکی که سلطانی ده    که ئې گورے بیهوده سرگردانی
مرگ ژوندون بے کښلیو واړه مساوی دی    بنایسته وته پکار زندگانی

---

[1] په نورو نسخو کښې دي " د زلفینو په اودو" ........ _

په نصیب ځما د زړه د یار د زلفو — له ازل بخره شوې پریشانی ده
له مستئ م شیشه پرېوته له لاسه — ساقی قهر راته مه کوه ځوانی ده
د هوښیار په غلطئ قهر عتاب شي — معذرت د ناپوهانو نادانی ده
یا به سوزی د چا څونه یا به ځون کا — چه اغستی ئې جامه ارغوانی ده
د عشق بوئ به ئې د کور له خاوره درومی — د هرچا چه د ښکلي یار مینه جانی ده
خرابات له به ځم له صومعې نه — چه په کښې د دوارو کونو امانی ده
تر غمی د قناعت لاندې جهان دے — که دا کتې کړے په کته سلیمانی ده

سرے سرے اوښنے دي په مخ **عبدالقادر**
وښکلي یار ته د یاقوتو مهمانی ده

## (١٣٣)

په لارے تللم په مخه راغله یوه دلبره پری رخساره
د عمر په شان لا تر روښانه په کښلی مخ وه ښه نگاره
په قامت سروه په تلو تذروه ابرو کمانه غشی مژگانه
په سترگو بازه خونریزه ساره په وښتو لیله په مخ نهاره
غاړه بلنده خاطر پسنده عنبرین موبه یاسمین بویه
په شونډو لعله په زړه الماسه په سپینو غاښو دُر شهواره
په زنی سیبه بے له آسیبه په ملا تر خپله وېښتو نرئ
شیرین کلامه نازک اندامه ول ول ئې زلفې لاله عذاره
بے میو مسته ځله نیست وبسته ډک له نازه خالی له نیازه
سرتر قدمه ثابته روغه له هر عیبه پاکه وبزاره

Marfat.com

مخ سې خرګند وو، نظر پرِ بند وو، د مخ شُعلې ئې د مخ حجاب وې

په خیال خیال تللہ نظرې نہ کړه هرګز وَچانته له کبرُ عاره
له ما غایبه لکه بریښنا شوه، په مزګه لاره که په سما شوه

هیڅ نپو هېږم چې چرته دا شوه، راته وُوایه یَه خبرداره
اُس[1] څه چاره کړم چې سې بیا مومم، ځما د یاره روشن ضمیرَ

چې چېرته دُروسم چېرته ئې غواړم، هدایت وُکړه د خدائے د یاره
هوش مِ سې یوَوړَ غم ئې راپرې یش، داغ ئې بیا نوې راباندِ کشیش

مقصود دِ دا وو عبدالقادرَ اُس په کړه سِینه اُفګاره

## ۱۳۴

زړه[2] دِ په سِینه ځما داغلې دې نګاره — ښُبتنه نه کړې چې چې څه رنګ یې بیماره
د زلفو مینه دستا، د پښو زنځیر شوه ځما — تغافل مه کړه له ما، خبر مِ اخله یاره
ګُل شګفته شه شتا شان، نه ساقي شته نه ځان — اَفسوس اَفسوس دې ارمان چې څه رنګ تېر بهاره
ځما زیبا دِلبرَ په مخ تابان تر نمر — په کبنلی قد عرعرَ، په درست جهان اوځاره
ځما زیبا صنمَ، روزګار مِ شه له غمَ — اُښنې مِ ځي له زړمَ، سینه مِ شوه اُفګاره
اے ځما جان و دِلَ، مه کړه جفا تر تله — کړه په ما کله کله مهر د خدائے د یاره
راکړه د مینې شراب، چې جان و دِل کړم کباب — بل په نغمه د رباب، له سوخته وُکړم ناره

چې سې زخمي وي سِینه پرِ به پوهېږي ښخه
عبدالقادر چې په شپه له درد کا چیغاره

---

۱ دا شعر په "ح" کښ نشته۔
۲ دا غزل په "ح" کښ نشته۔

Marfat.com

## ۱۳۵

اے چه د ښنا یست په باغ کښې ګل لرې بےشماره — هیڅ به دِ کم نه شی که یو ګل ورځنے ماره
شونډے دِ مهرو زلفے ښهمار ترې چاروتلی — بویه سرباران چه مهرو اخلی له ښهماره
ستا ځنا ترمیان ځما ستا وینا نه بویه — نه شی په یاری کښې همارا او ښماره
سخت دے د نیمګریو طبیبانو ناز ترمرګ — مرګ ته غاړه کښیږده خو دارو مه کړه بیماره
پاس په بام ولاړه دغمزے ناوک په کرت کښې
زړه به دِ زخمی کا په دا لارے مه ځه یاره

## ۱۳۶

بیل[1] له یاره نه یم بل بے غم دے راسره — خدائے دے جدا مه کړه ښه محرم دے راسره
لار د محبت لوړه ژوره شپه تاریکه — ترس د پرهولو په هر قدم دے راسره
تل مِ سایبان لکه اوریځ د آه لوګے دے
په عمر د جدائی دا علم دے راسره

## ۱۳۷

نن په رازوائی رازدار له ما سره — بویه دا چه غیر نه وی را سره
په بستان کښې غوټئی څکه بیے وا شوه — چه پرې راغے د تا بوی صبا سره
بادشاهانو سره عمر د درست جهان دے — د یو بے روتیا عمر ګدا سره
لږ اوره کانړ د عمر روشنائی کم — بد دِ نه شی یو زمان له چا سره

[1] د ځینو غزل دا دریے شعرونه پیرح "ښه نشته۔ [2] په بستان کښې غنچې څکه شګفته شوے۔ [3] روزی

صرافان بہ یے ځما پہ مخ راوُلی دا ځما عمل روپئ دی را سره
بېنايسته کله له چا سره وفا کا
چہ بہ کا **عبدالقادر** تا سره

(۱۳۸)

کہ ترخہ دی ہم شراب دقہر نغره ظلم جور پہ چا مہ کړه ځگر وره!
باز چہ وینې د ځگر خوری مرگ ئے زړوی له دے وینو ځان ساتہ ځما ځگره
هیڅ حاجت د بند زندان ورلره نشته بند زندان دے د دانا د ځلے خبره
د دوران د حادثو غشی بہ نہ خوری هر حلیم چہ واغوندی د حلم زغره
چہ د زړه ترکړ پربوزی دبزمریز شی ځنیا ئے د پرے نہ باسی ځوک له دے کمره
کہ سری پہ اصل یو دی فرق ئے ډیرے یو پہ یو دی یو پہ سلو یو پہ زره
مرغلرے سل اخستے پہ دینار شی ہم پہ سل دینار اخستے شی مرغلره
کہ بادشاه کہ امرا ځان بہ سیال کړے
چہ امید نہ کړے لہ چا **عبدالقادر**

(۱۳۹)

بربره راپیشه ځما د سترګو لوره خدائے م مہ کړه د زړه مینه لرتا لوره
ځما ستا له مینے دیر عالم خبر شہ ځہ بہ ویره کړم له شرم له پیغوره
عاشقان له تہمتونو نہ خلاصیږی همیشه بانډ عوغاوی لور د لوره
مسپی کہ هر څو عیبا ډیره کا مزری تہ مزرے هیڅ نہ کا پروا د دوئے لہ شوره

ع ہم پہ سل دینار موی مرغلره۔

Marfat.com

مجنون ویل د نه کیږی وَ ما ته ... کله کله راته کړه خبره سپوره
چه رقیب وَته شکنځل کوے زه سوزم ... جګی جګی بے له مانه بل مه زوره
زور قوت د زورورو د زړه زوم کړے ... یوه خنده بده بلا یے د عشق زوره
مستغنی یم د جهان له بادشاهی کړم ... د همائے ترسیوری بهه دے ستا سیوره
څو یم نورے سترګے، نورے خاورے نه دی
تل پرے غم عبدالقادر د یار ګوره

## ۱۴۰

زړه مدام راته ویل کا ندیم چه ژاړه ... په ژړا ژړا بیل شوی مین غواړه
په طلب ئے د دنیا ودانی پربږده ... لیونیو غند سرشه په ویجاړه
مصلے د بے ننګئ ورپسے ننګ کړه ... د ناموس[2] بیچاو نړه تاو کړه ویے نغاړه
یار ځما د سترګو نور پر برګزیدم ... په بجران یم ئے د سترګو رنړا لاړه
مبایست که د کشمیر که د بل ملک دی ... ترپوه بانړه قربان شه دیار واړه
د مکه زنځیر د نور نیسی په لاس کینه ... ما نیولی دی د یار ز لفینے دواړه
په خواری موندہ شی کام له سنګدلانو ... په محنت سره سره زر خیژی له کاڼه
که رضا د ده ځما په سر لوینی ... په خندا خندا راځه په لکه غاړه
تل د یار په سترګو مست عبدالقادر دے
که نور مست وی له شراب یا له تاړه

---

خط قلمی او چاپی نسخو کښې د الفاظ په دا مثال لیکلی دی. [1] کر ځه په اوجاړه
[2] د ناموس پروا یے مه کړه ویے نغاړه

## ۱۴۱

چاچه بایلود دِ دِلبرے په وربل زړه ‌ ‌ ‌ پریشان ئے کړه په بخوه تَل دخپل زړه
کهٔ یو ځل د یار د زلفو په تار بندشی ‌ ‌ ‌ خلاص ئے مکړه، خدایَ پښدم لړه تل زړه
په جفا به دِ زړه بد نشی که ئے وکړم ‌ ‌ ‌ تر خپل زړه پورې ته قیاس وکړه د بل زړه
په ښرلو[۱] بورا نهٔ دروحی له ګلو، ‌ ‌ ‌ ستا له څخ به ولاړ نه شی په ښکل زړه
چه صورت د ښنو یارانو پرې لیدهٔ شی ‌ ‌ ‌ په وجود کښې ځکه غوړه کړه کتل زړه
کهٔ دولت دے کهٔ حشمت پکار ئے نهٔ وی ‌ ‌ ‌ په جهان کښې خو ئے کېښلی وپسندل زړه
لکه باد د صبا نغښتی غنچے وا کا ‌ ‌ ‌ غوړېده شی د دلبرو په لیدل زړه

ورنه تېر عبدالقادر تر سرو مال دے
کهٔ خوښېږی دِ دلبرو په ښکل زړه

## ۱۴۲

چه آخر ځنے شلوه شی په ارمان زړه ‌ ‌ ‌ څوک به څهٔ لره تړی په دا جهان زړه
د دے باغ له ګلو بوئ د وفا نهٔ ځی ‌ ‌ ‌ تر ناحق پرې بایلی دا بلبلان زړه
چه په خیال د یار د زلفو پریشان وے ‌ ‌ ‌ جمع مهٔ شه تل م وسه پریشان زړه
سخت بے رحم بے پروا لکه چه ستا دے ‌ ‌ ‌ په جهان کښې به بل نهٔ وی د ښاپیریانو زړه
دې هر ځائے چه ئے دلبره هم هورے وی ‌ ‌ ‌ په کوکل کښې ساقی کله بېد لان زړه
خدای خهٔ دِ په نادان کښلی مین کړم ‌ ‌ ‌ چه بےجرمهٔ بیهٔ وی په هر زمان زړه
قرب او بعد، وصل هجر ورته یو شی ‌ ‌ ‌ چه ئے بیا مومندهٔ مکان په لامکان زړه

---

[۱] په ښرلو مکسهٔ دروی له قندهٔ ـ ستا له شونډو به لاړ نهٔ شی په ښکل زړه ـ

دوزخ آتش مِ سل ځلُ قبول دے    خدائے مِ مه کړه د هجران په اوربریان زړه

بنګ، شراب، سرود کوه عبد القادرُ
خو یُو مه کړه آزرده د مسلمان زړه

## ۱۴۳

ته ور ورومه اُس څپل ځان لره څپل کار کړه    چه دِ زړه بانډِ ښه کېږي ښه یار کړه

موبږ ماړه شُو، ستا له نازُ ستا له عیالُ    نه دے پَس بل پیدا د ناز خریدار کړه

په باطن لکه اَغزے په صورت ګل دے    دا سزا ځما چه سینه مِ په خار کړه

چه خبرِ دِ په وار وار شوم له اَحوالُ    منفعله د نولئِ د بازار کړه

په وعدهٔ[1] په سوګند هیڅ پروادارنه ئے    په دروغ دروغ ویلو اِفتخار کړه

عاقبت به ئے پیاے د ندامت څښنی    آشنائ چه له نادان سره هوښیار کړه

بے اِختیارَ زړهٔ د کښلیو په لور دروی    ما به مینه په تا کله اِختیار کړه

لهٔ وفا غواړے یاری کړه له اُصیلَ    زړه چه مینه په بدذات کوی ځان خوار کړه

کهٔ په طمع آشنائ کا -یا له ویرے    د هغو له آشنایئ ځان وېزار کړه

که په ځ وی لکه ګلُ چه بے وفا وی
هغه یار عبد القادر ترسی خوار کړه

## ۱۴۴

چه سهٔ زړه ځما سُورے دعشق په تیر کړهٔ    تر هغه سوری مِ مخ د آشنا څیر کړهٔ

ستا د مخ آفتاب پرِوُخوت، پرِ رڼا شوه    چه ئے ستا په تورو زُلفوکښِ شبګیر کړهٔ

[1] هیڅ په ژمنه په سوګند پروادارنه دے۔

Marfat.com

له هوسه په خندا خندا په شا ولاړ — سخندانو چه ګل ستا د مخ نظیر کړه
چه هم زړه د یار په وصل کښې خوشحال وو — یو په سل تر هغه هجران زهیر کړه
له د بې اوره سوزان اور د بېلتانه دے — ځکه ځان بند وے سولو وته خیر کړه
په سپین مخ باندې خط دے چه ښکاریږی[۱] — که یې شونډو ته مېږیو جور بهیر کړه
نامراد[۲] چه مراد پرېږدي په مراد شي — بې خبر سئ بې خبرۍ په حال خبیر کړه
بې محنت[۳] راحت نشته په دنیا کښې — خوشحالی نصیب د چا چه سئ دلګیر کړه
له هجرانه به څه ډار عبدالقادر کا
چه ئې خیال د یار د مخ په زړه تصویر کړه

## ۱۴۵

جنګی جنګی آواره څما تقصیر کړه — عنایت مهر په ما په روئ د پیر کړه
هر ستم څما قبول شرط د دې وی — ما داخل د خپلو سپیو په زنځیر کړه
ګرد غبار د ماڼې لرې کړه له دل — لکه وو تر هغه زیات صفا ضمیر کړه
د غمزې په تیر د دهر عالم پرهر کړه — ما[۴] هم یار سرفراز په یوه تیر کړه
دا کم مهر کم انصاف کمه یاری ده — په ویلو د دشمن مین زهیر کړه
د وصال عمر د برق غندې زر تېر شی — یار چه اُس درته حاضر دی بنده بې ځیر کړه
یار[۵] ته وے عبدالقادر چه زه دلګیریم
وېے سئ شکر! خدائې د لا تر دا دلګیر کړه

---

۱، ۲ او ۳ درے واړه شعرونه په "ح" کښې نشته. ۴ په "ح" کښې دا مصرع داسې ده: نسه
سوبه هم یار سرفراز په یوه تیر کړه. ۵ په "ح" کښې دا مقطع په دا شان لیکلی ده:
یار ویله عبدالقادر ته چه دلګیریم — وے ئې شکر خدائې د لا تر دا دلګیر کړه

## ۱۴۶

اے ځما خاطرہ ترک هوا هوس کړه
د عقبیٰ د تلو سامان په هر نفس کړه

د دُنیا له خوانه هیڅوک ماړه نه شول
په دا خوان دِ دېر ځه وُخوېل نور بس کړه

مُقدّم د تل په دین د دنیا کار وو
اُس د دین کاروَنه وړاندِ دُنیا پس کړه

ملامت په ځان کوه په هیچا مه کړه
تا په خپل وے صینه په ناکس کړه

د عسس ویره هغه کا چه پردی خوري
خپل خورو به کله ویره د عسس کړه

خس ته هم په خواره سترګه نظر مه کړه
ما په سترګو لیده سترګه ړندخس کړه

چه دوزخ دوزخ یادېږی دوزخ نس دے
وَ دوزخ[۲] ته خلق روانه نس کړه

چه ئے ماوته پېغور کاوه د هینے
هغو لا ورباند مینه لوبه نس کړه

قافله د عشق منزل ته پوشیده تله
برهنه و خاصو عامو ته جرس کړه

جوانمردی[۳] ئے پېښېدهٔ له جوانمرده
وبے ئے عفو په هنګام د دسترس کړه

که لائق عبدالقادره صافو نه دے
څو قطرے ورعنایت د خُم بکس کړه

## ۱۴۷

عارضی کاروَنه هیڅ دی تعلق ورپورِ مه کړه
چه جوړ درته حاصل شی همیشه طلب هغه کړه

---

[۱] دا شعر په "ح" کښ زیات دے۔ [۲] په "ح" کښ دا مصرع داسے ده :۔ وَ دوزخ وَته روان وکړے نس کړه

[۳] په "ح" کښ دا شعر داسے دے :۔ ۔۔۔

چه غلیم ئے تبنتېده له جوانمردهٔ ۔ دے ئے عفو په هنګام د دسترس کړه

Marfat.com

جوہر څۀ دے دِ تا فقر عرض څۀ چې بې لۀ دۀ وي

دا وینا تمام سلوک دے کۀ دِ نۀ زده لۀ ما زده کړه
دَ خواہش لۀ کوڅې ووزه دا کوڅه ده ہر کور تنګه

ترک د خواست وسیع صحرا دے ہم په دا صحرا مېشته کړه
حقیقت روښن آفتاب دے په لیدۀ ئې سترګې پرېښې

د مجاز رانجۀ کړه لور پرِ روښن دواړه لیمه کړه
چې د مخ د دلبر یاد شي په تنا صفت دګل شه

د زلفینو لۀ فراق په سُنبل د زړه دمه کړه
شونډې غابښ ئې چې دریاد شي مذکور کړه د لعلو دُرو[1]

د خپل زړۀ وینو ته ګوره خپل اُښکې ورسره کړه
خپل صورت چنګ ورباب کړه پر تارونۀ اُښکې څاڅه

حرفي صوت د خُط پرېږده پرِ د ځینې[2] زمزمه کړه
نو آموز عاشق بلبل دے شور ئې پر مینه ئې اوره

کۀ مثال د کامل غواړې و پتنګ ته ننداره کړه
لکه کاږې د کڼ اوره هیڅ اثر ئې لیدۀ نۀ شي
هسې رنګ عبدالقادر پته ته د عشق طلبه کړه

(۱۴۸)

چې همت د د تپوس دے ځان باز مه کړه ځان په رسم د جانبازو جانباز مه کړه
چې محتاجو ته محتاج وي د ہر خسیس دے بې بې نیاز وَ بل ہیچا ته نیاز مه کړه

---

[1] په مثال د لعلو دُرو [2] د ځینې ـ

سپا بونه د ناز راوړه ناله ناز کړه — ستا چه هیڅ احباب د نازنشته نازمه کړه

متیاز د دوست دشمن و بلهګران دے — بے له خپل دل هیڅوک همراز مه کړه

یا تمام سعی کوه چه کار شروع کړے — یا هرګز چر د چارے آغاز مه کړه

د خبرو په لذت که خبردار ئے — بیهوده بېروت له شونړو اواز مه کړه

که د لوستے د "لا ترکنوا" آیت دے — نسکه هرګز د ظالمانو اعزاز مه کړه

تولاً او تبرّا د ایمان څانګ دی — چه د دا څانګونه نشته پرواز مه کړه

په تندی به ستاجفا عبدالقادروړی
چه سټړل ئے په مراد د غمازمه کړه

## ۱۲۹

سو د بیا هجران د هر عالم په غم کړه — کور په کور د په د هے ملک تو ماتم کړه

چه څو کال ئے قول کړے په خوارئ وو — هم بغه عیش د بدل په غم په دم کړه

له پیچونی د د غم سوارہ منکاره شول — د هوس سبنکر د درست برهم درهم کړه

نور تو کے د آه له هر ځای خپری — وڼرا ورځ د په عالم باندې تورتم کړه

لکه تاکړه د امید غنچے سر لتوی — خزان کله په ګلونو دا ستم کړه

بلبلان ئے له فراق په نارو شول — له دے غم د د سرو ګردن خم کړه

سن زرسل د جدائی خوارلس د پاس — دا غزل م په بیاض باندې رقم کړه

نور به څه عبدالقادر له چا خندا کا
تا سبز کال د آشنائی قدر کم کړه

Marfat.com

## ۱۵۰

چې په کښليو مُبتلا شي لکه زَه — هميشَه په واويلا شي لکه زَه
سرګشته حيران پريشان ګوند په ننګ — خوار خسته تر مجنون لا شي لکه زه
د هر چا ناسازِ وړی په تورد مينے — خانمان به ئے تالا شي لکه زَه
نه به آه نه به فرياد نه به ژړا کا — ګُل روزګار به ئے په غلا شي لکه زَه
محبت به ئے پرے نږدی و مانړے ته — بے رهبار به پُخلا شي لکه زَه

لا به شي تر دا بتر عبدالقادرؔ!
چې اَخته په دا بلا شي لکه زَه

## ۱۵۱

خوښ له وَصل نه شوم د هجران له غم زَه — نه کرم په ګُل مينه د خزان له غم زَه
خلَق راته وايي چه زحمت دِ لا دوا دے — لا ښه چه ئے خلاص شوم د دَرمان له غم زَه
سر دے په جهان کښے د همه واړه ښادي[1] — نه دِ شم بے غمَ د جانان له غم زَه
زَه چه د جانان په کوڅې کښے کښېنستم مقيم شوم — کښېنستم بے غمَ د جهان له غم زَه
اُس به له د ے پسَ د چل ځان په غم اَخته شم — د بر په زړه زهير شوم د جهان له غم زَه
غم دے له اَزل په نصيب د عاشقانو — څکه نه خلاص يم يَو زمان له غم زَه

ما عبدالقادر چه دا غزل د فِراق وُوے
رشک به کرم په اُشنيو د ياران له غم زَه

---

[1] دا شعر په "ح" کښے نشته
[2] دا مقطع په "ب م" اَو "اک" دواړو کښے نشته۔

Marfat.com

## ۱۵۲

چه ئې رنګ په رنګ د ګبنلیو د رخسار شه — په ګاونو کښې ګلاب څکه آبدار شه
چه تشبیه ئې ستا له قد سره وشوه — سربلند په نورو ونو کښې چینار شه
که طالع د عاشقانو تور نه وے — تور وربل ئې په مخ ولے تار په تار شه
په عاشق به ئې همېش جور و ستم کړه — ښه چه تېر د ښایسته د ښایست وار شه
چه له عمره ئې بر نور وکړے وخوری — هم هغه له خپل عمر برخوردار شه
هیڅ منت د بل ربابه په ما بار نه دے — عشق ځما او د معشوق ترنم رباب شه
اُس د ځان وغم ته ساز عبدالقادر کا
چه د درست جهان بدخوی وو، د ده یار شه

## ۱۵۳

یا مجنون شوم خوی م نور شو یا ستا عشق راباندې زور شه
یا ستا عشق راباندې زور شه، یا مجنون شوم خوی م نور شه
غم ناله ځما په کور شه، چه په تا باندې مین شوم
چه په تا باندې مین شوم، غم ناله ځما په کور شه
بیا د خیال په سمند سور شه، څو وکړی به پایمال کا
څو وکړی به پایمال کا، بیا د خیال په سمند سور شه
راښکاره د زورو شور شه اُس به څه له ما خلاصیږے
اُس به څه له ما خلاصیږے، راښکاره د زورو شور شه
په معنیٰ ژوندے په ګور شه، چه لیدل د ښکلیو نه کا

Marfat.com

چه لیدل د ښکلیو نه کا، په معنیٰ ژوندے په گور شه
له کلو نو م زړه لور مشه، پکښې بوی د وفا نشته
پکښې بوی د وفا نشته، له کلو نو م زړه تور شه

عندلیب وے په شور شه، په وصال کښې نارے نه شی
په وصال کښې نارے نه شی، عندلیب وے په شور شه
درست صورت م لکه اور شه، زنهار مه بلوسه راباندې
زنهار مه بلوسه راباندې، درست صورت م لکه اور شه

په دریاب کښې کله شور شه، چه په اصل گوهر خوړ وو
چه په اصل گوهر خوړ وو، په دریاب کښې کله شور شه
خیال د یار د وروځو لور شو، پر ربې م د زړه ولی
پر ربې م د زړه ولی، خیال د یار د وروځو لور شه

چه ورېل ئے په غم خور شه، رنړا ورځ راباندې شپه شوه
رنړا ورځ راباندې شپه شوه، چه ورېل ئے په غم خور شه
د ښخو[1] چه وے سپور شه، څه ئے مه کنړه چه ښځ دی
څه ئے مه کنړه چه ښځ دی، د ښخو چه وے سپور شه

چه نظر ئے په بل لور شه، خوار شوے اُس **عبدالقادرَ**
خوار شوے اُس **عبدالقادرَ** چه نظر ئے په بل لور شه

(۱۵۴)

چه دَ بخرو وښو په ورځے د میثاق شه - د چا وصل په نصیب د چا فراق شه

[1] دا شعر یے تولو نسخو کښې په بیل بیل انداز لیکلے شوے دے په دے وجه معنے ئے گډے وډے شوے۔

Marfat.com

د آشنا له لوریٰ خط راباندې[1] راغے | بیا م اور په زړه تازه د اِشتیاق شه
خدایٔ نور د یار بېلتون رابنکاره نهٔ کړے | د زړګی قوت م لږ طاقت م طاق شه
هر محنت چه ئے په عشق کښې ووځکوے | هم هغه سبب د قُرب د عشاق شه
د لیدو لذت ئے څو دے نهٔ پوهېږم | چه په یاد م ځ دا ښه خوږ مذاق شه
چه د نس په نخته دروی زړه آزار کا | وَ دوزخ وَته بیا ر شي هغه عاق شه
د عقبیٰ د ناوی عقد ځکه ګران دے | چه ئے مهر هم د دے ناوی طلاق شه

جان و دِل عبدالقادر وَر لهٔ یار کړوه
نور حساب به ځئ ځه غواړے بے باق شه

## ۱۵۵

له هم واړه عالمٔ صلح کُل شه | وَ هنو بدو خوشبوئ ووکوه کُل شه
تعلق په تېرېدونی هوس مهٔ کړه | په بهار کښې په نارو لکه بلبل شه
دُنیا جسرِ آخرت ده یاده شوی | د سیلیٔ عنٔد زر تېر تر دغه پُل شه
د سبب قونګری عینِ نیستی ده | تونګر په خزانو د توکّل شه
اضطراب به دِ خلاص نهٔ کا له قضا نه | مستقل ورته په صبر و تحمّل شه
ځان د عشق په اور لوګے لکه سپند کړه | هُم په دا بهانه ځار ترسنه کاکل شه
په تاخیر کښې آفتونه پیدا کېږی | معطّل[2] مه کوه ساقی به داد مُل شه
سترګے مه وُچوه ګو زمان له نمٔ | تل به زړه تر و تازه لکه سُنبل شه

خوځیل نیت عبدالقادر یار ته سم کړه
بے پروا له بدګویئ د چُغل شه

---

[1] راالوه ـ [2] معطّل مهٔ کړه ساقی په دا دُرمُل شه۔

Marfat.com

## ۱۵۶

محبت چه د خدای پهٔ ذره محکم شه / هم هغه پهٔ حقیقت کښې ستا صنم شه
پهٔ دا لار تلهٔ پهٔ سترګو پهٔ تندی شی / ځکه پاتو د ناقص ځنې قدم شه
چه هر دم ئې پرېکوی د عمر ونه / پهٔ مثال لکه اره د سری دم شه
کشکې ما مهر د یار لیدلے نهٔ وے / پهٔ هجران کښې ئې هر مهر راته غم شه
چه ژوندے پرې ګرځېدم د اشنا دردوو / اوس پهٔ ویېږم. وَیه مرم چه درد ئې کم شه
کږ و راست پهٔ خپل ځائې واړه زیبائی کا / د دلبر وروځې کږې قامت ئې سم شه
چه پهٔ هجر کښې ئې ونهٔ مرے لا پایې
پهٔ تحقیق عبدالقادر هر یار کرم شه

## ۱۵۷

پهٔ فراق چه م روان د سترګو جوئې شه / لږ م پاتو وَ اشنا وَته ابروئې شه
سبنه چه باد وَته پابوس د ګل حاصل شه / پهٔ طلب ئې کښېته پورته تګ و پوئې شه
پهٔ خبرو معنی کله ادا کېږی / خبر ځکه پهٔ حیرت له ګفتګوئې شه
مرتبه د هر څهٔ خو چه ئې معنی وی / جسم ګل عرض ئې رنګ معنی ئې بوئې شه
پهٔ تمثیل ئې چه د یار د قامت راوړه / پهٔ هم ونو کښې سر د سرو لوئې شه
د کریم له خوانه مزکه نصیب مومی / پهٔ ساقی ملامت نشته کړجا توئې شه
چه[1] د عشق لاف وہے عبدالقادر
...... له زردی آلوده روئې شه

ع۱ دا نیمګړی مقطع صرف پهٔ "د" کښې وموندے شوه۔

Marfat.com

## ۱۵۸

دریغ نور خونه ړوند شوے له دلَ — په کښې غم د خپل آشناوے تل تر تله
شبنم وصل د گل بیا مونده خاموش شو — تر محرومه شوه چه شور کاندِ بلبله
سبه چه ژبه دِ قلم شوه په مجلس کښې — شمع تا چه د خپل سوز قصه وَیله
عاشق هیڅ نهٔ وو خبر د عشق له سوزَ — دا لمبه پرِ معشوقے وُلگوله
د فانوس په پرده څراغ کله پټیږی — که ئے مخ په پلوَ پټ وو ما لیدله
که په زړهٔ مِ د یار یاد و مبشته وُکړه — د یار خیال نهٔ ... پاس په سترګو مله
په ماتم د پروانه چه ځان ئے وُسو — شمع اور په تندی بل کړهٔ ژړیدله
که په[۱] مخ ئے خط ښکاره شه په داغه شو — په ننوبر آئینه کله چا غندله

درست شپه دِ په ناروعبدالقادر کړه
نهٔ بے غمه په پالنگ باندِ ځمله

## ۱۵۹

چه له خپل آشنا نهٔ لری ګله — له نور چا نه به په څه لری ګله
نه عارف د چا په ښو شکرګزار وی — نه په بدو د دشمنه لری ګله
انگوری ترخه شراب ورلره بویه — ے خواران له کبینه لری ګله
چه بے تا ئے غرۆم د بل وَ مخ نه — په دا خویَ له ما بیمه لری ګله
هیڅ ابستاد ئے پکښې وَنه کړهٔ تر په بوت — له ناوک ئے م زړهٔ لری ګله
چه جاړو م ستا د دَر د خاورو نهٔ کړه — سبهٔ له بدو بد له سبه لری ګله

۱ په "ج" کښې دا شعر نشته.

Marfat.com

ښه که سر تر قربان **عبدالقادر** کړه
بیا ترو ولے یار له دَه لری کله

## ١٦٠

ساقی ښے پیاله راکړه رِندانه — چه په څښل ئے لا یعقل شم دیوانه
سرزده له خلق تښتم وَ صحرا ته — د مجنون غُندِ خپل ځائے کړم وِیرانه
د مقصود میوه تاله ورځنے وُخوری — چه په خاورو کښې ځان نېست کاندِ دانه
چه پکښې د ښا یستوُ د مخ خیال دے — دے ځما خاطر د چین نِګار خانه
له غیرت ئے م زړګے پاره پاره شی — چه ئے ګټے په وېښتو وَہی شانه
د بهار په وخت محتاج د مطرب نه یم — راته بس ده د بلبلو ترانه
هره شپه هنګامه ګرمَ کړم په کوڅې کښې — ګُندِ راشی ښایسته په دا بانه
سر به سل ځله تر زار **عبدالقادر** کا
که د سر په ښندل مومی جانانه

## ١٦١

ننداره لره راځُ چه ښے څُونه — په اَختر به زلمی جُونه کا سبلونه
ته به وایے څخ ئے ګُل دی ښخبر دے — چه ئے دِمد په مخ وُوَہی خالوُنه
سره[1] اوُ زیړ نمری اَغُستی مُګل رُخا لو — ته به وایے سروِ وُنیول ګلونه
چه په سبل د بهار د ګلو ګرځَ — ځلمی[2] ګُل په پګړی بِدی په وریل جُونه
ځنے دواړه زُلفے ږدےکا له ګُلو — څوک په غاړه کا د سرو ګُلو هارونه

[1] دا شعر په "ح" کښې نشته. [2] "ب م" اَوُ "اک" - "سره اَوُ زیړ کا په ګلونو وُربلونه"

چه ګلونه تولوی سندرے بولی ... شرمنده کا د بلبلو اوازونه
ذرست[1] صحرا په خوشبوئی سره خوشبوئی کا ... په بنغو مزکو چه کښېږدی قدمونه
په[2] خندا خندا تری رېښتے د ګلو ... استوی وَ خپل خپل یارته پېښکشونه
چه له سپلَ راروانه شی وَ کورته ... ګل لمن بلبلے نیسی آشتینونه
چه له بېسے ننداره نه ځان وُبا سے ... شپے وُرک شه ستا بے وَخت خِلوتونه
چه دیدن د بنایستوَ په کښې نه وی ... چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که آواز دے که دیدن د روح خوراک دے ... نفسانی دِ باندِ نه کا غرضونه

تېر شو وار عبدالقادرَ رابه نه شی
که ژړا کړے که فریاد کړے که آهونه

## (۶۲)

رایشه چه رایشی بنادی ځما په خونه ... مه دروِمه چه نه دروِ می ځما په زړه سیغونه
نه ګورے که وګورے احوال بهِ معلوم کړے ... ځی چه ځے په مخ ځما د سرو اښنو ورخونه
مه خانده چه نه خاندی په ما پورِ اغیار سره ... مه کړه په ما مهرکړه که ډار کوے له خونه
نه ویم چه نه ویم دلبرَ جهان په سترګو ... مه لیدے چه نه لیدے هرګز کښلی مخونه

کښېنوی چه کښېنی ګرد عنادِ د ویر له دلَ
مځی چه نه شی را په بېد لالو ستوا خونه

## (۶۳)

موږ ته څه ناحق عالم وایی پندونه ... په خپل عقل هر سړے کا آنندونه

---

[1] په نکهت سره ځے درست دامان خوشبوئ شی۔ [2] په لاچی لونګ په ځانے د بتے دګلو۔ ورستوی د خپل خپل یارته په ملکو۔

د نور چا په مونږ خدّ کارچه امتناع کا | کهٔ دیار په مینه سر اوٗ مال شندونه
محبّت لکه دریاب په زړهٔ راوُخوت | د دریاب په مخکښې خوک تړی بندونه
د پیوند په پرېکولو فقیری شی | نه په دا چه حُبله کېږدی پیوندونه
بے اختیار ورکاوه شی زړهٔ وَکېنلیو | نه داکار په مصلحت شی په سندونه
بهایم په خوراک شخوندکا د سرېلو | د خبرو په معنیٰ بویه شخوندونه
چه ژویڼه شی ستا بیان **عبدالقادرؔ**
په رنګ رنګ تر پیدا کیږی نورخوندونه

(۱۶۴)

ناز پروره چه په غاړه کا هاروُنه | پهٔ سینه ئے د ګل وُشی پر هاروُنه
تهٔ بهٔ وائے په ګُلابو شبنم پریوت | چه له قهره ئے خوے شی رُخساروُنه
کهٔ یوُ ځل چیرِ غلط شوم توبه وېږم | په ورځ سل غلطئ کړے نهٔ ئے شماروُنه
ما بهٔ تل د یار تاوه کېښېنول په سترګو | کهٔ م نهٔ در لے باڼزه لکه خاروُنه
په لیدل د بناګوښه غزل انشا کړم | عندلیب په ګلو کاندِ چېغاروُنه
د لبانو جوړ هم ورځه شته دے | که ئے دواړه لورِ زلفے دی ماروُنه
په بنځائے بانډ ئے ګڼے ایږدے نه شی | دغه دوه سترګے ئے لا کا ګُپاروُنه
راغے وار د تا د تلو **عبدالقادرؔ**
په وار وار یارانو تېر کړهٔ خپل واروُنه

---

ع۱ په سینه ئے کا ګلونه پر هارونه ع۲ دا شعر په "ح" کښے نشته
ع۳ ماتارونه۔

Marfat.com

## ۱۶۵

ډېر م وليدل په سترګو ګور باغونه — د فلک په ګرد شو نو شول راغونه
ګو سپوږمۍ ئے پليته په لاس نيولى — په وار وار بړدي په سينو باندِ داغونه
ډک جامونه د حسرت د ندامت ښبنى — چه ئے تل لوښل د ميو اياغونه
د لحد تيارَه په شمع د انصاف ځي — پکار نۀ دي په ټيانو چراغونه
فراغت، ساقي، وچه ډک پياله راوړه — جهان نه پرېږدي تل چا ته فراغونه
هغه باغ چه تل ماوى وو د طوطيانو — اُس ئے ګوره چه پرِ ګشت کاندِ زاغونه

ښبنه شراب د محبت **عبدالقادر**
څو لا ستا د خاورو ساز نۀ دى، جامونه

## ۱۶۶

په خاطر م هُمره نۀ دى المُونه — چه ئے ډُشمېرم وَچا وَ ته نۀ مُونه
چه نور مينه کا په کبنليو زۀ ئے ګورم — درست لږه‌ون م له ځنساک شوګرمُونه[1]
محبت موافقت دے چه واقع شي — نه په سِحر، په افسون دى، په دمُونه
چه دِ غم د بېلتانۀ ګمونږ نصيب کړه — ګکر نۀ وُو په جهان کښ نور غمُونه
لوى مياشت به ئے نعلونه، ستورى مېخ کړم — که نازک د يار سمند لرى سمُونه
لۀ د درد دِ په بے قدرو قدر نشته — ستا د دردُونو به پرسترګو موږ زغمُونه
چه پايمال د ننداره چيو زړونه نۀ شى — په ورو ورو بږده په دا لارے قدمُونه[2]
همره اور درکښې بلېږي، اېرے نۀ شوے — بلا سخت ئے د عاشق ننه لرمُونه

[1] کرمونه [2] ح۔ په ځا کښې قدمونه۔

Marfat.com

چه طالع د سړی نه وی څه په کاز که — څوک افزون لری لبنکرے تر ہامونه

څښه شراب د محبت **عبدالقادر**

څو لا سنا د خاورو سماز نه دی جامونه

## (۱۶۷)

رینړه که اصیله وی که توره وی که سپینه — کینلی شی ترحورو چه پرورشی د زړه مینه

شهد که نابات وی که څه مشته شیرینی نوره — مینه ده که کورے چه تر هرڅه ده شیرینه

خیال ئے د زلفېنو لکه مار وریاندے پروت دے — نه پرېږدی و زړه ته بله مینه چه ورځینه

مسل زخم که وخوری ترنه یو څاڅکے پرنه وځی — ہسے رنګ وچه د صورت کا مینه وینه

خوب به ئے بدل په بیدارئ خوبنی په غم شی — ہرچه ئے په زړه کښی د دلبرو مینه وینه

یار په ہواد نه دے که د زړه مینه پیدا کړے — مینه ہسے څیز ده چه نېژدے لرکوینه

څه **عبدالقادر** په خلهٔ مینه مینه وایے

څو دِ لا ویجاړه نه ده مینه نه ده مینه

## (۱۶۸)

که دِ نه ده د خپل مخ څبره چرکینه — آئینه څما د زړه نه ده زنګینه

چه و لور وته نېژدے شی ہغه تورشی — پسته را څخه کرځه تکه سپینه

چه ئے زړه د محبت په لمبو وسو — د دوزخ له اور څه پروا لرینه

لوره سپه به په عاشق باندِ سپوږمئ کا — که پلو له مخ واخلی مه جبینه

وار په وار م له زړه واره مینے لاړے — بے له کښلیو چه ہرګز ځنے نه ځینه

---

۱ـ که دِ نه ده خپله دا چهره چرکینه

بلبلو له آوازه ئے اثر دے    دا غنچه چه گریبان پاره کوینه

غیرِ حق پیشے ہمه واړه حجاب دی
مهٔ کړه نور عبدالقادر عنبره مینه

(۱۶۹)

په زړه کښې ئې پرته وی د سرمینه    بیا به نهٔ موی هرگز د دلبر مینه
په تلخی د هجران اُشته وُبه ئے نهٔ کړم    کهٔ خوږه ده لا تر شهدو شکر مینه
زر تر خاص و عامَ پورِ زر د وی    هر سړے چه کانړ ډیره په زر مینه
ته بوئی د خپل آشنا د زلفو لیښ دے    کهٔ نور خلق کا په مشک و عنبر مینه
په لباس د گدائئ لکه بادشاه دے    په هر چا بانډِ چه وُکا اثر مینه
ور خاورے ئے مسند شی اورنگ پر پروی    شاه جهان د زمانے کا نفر مینه
دُنیا مین همیش په زړه رنځور وی    حُکه نهٔ کا په دُنیا قلندر مینه
پیغور ناوک هیڅ اثر پرِ نهٔ کا    عاشقان لری په مخکښِ سپر مینه

نور تمام له عیب ډک عبدالقادر دے
یوُ لری په خپل وجود کښې هنر مینه

(۱۷۰)

لکه آفتاب وَ خپل مین ته خُلوه    زړونه د غمازو لکه موم پرِ ویلوه
ستا تر خه وَیل په ما خوارډه لگی تر قندو    بے له ما مشتاق ئے په بل مهٔ خُلوه
وری وَ آسمان ته هیڅ نظر نهٔ کا وَ بینو نه    ډیر په کبر د روی خدائے ئے مهٔ ډرغلوه

۱ نشته دے ۲ مه ئے ویم۔ ۲ ش ۳ دل داده

Marfat.com

ډېرے کښلی جونه ما ليدلی دی په سترګو
روند شم که د تا غنډ په حُسن ئيله وو

زور د غابښو مه کړه ځکے صاف تر آئينه دے
زخم به پرِ وشی په ورو ورو ئے کښلوه

عمر مِ به کم شی که يو تار د زلفو کم شی
فهم کړه اے ډے! شانه ورو ورو چلوه

لاړے ترميان بند شوے هيڅ اِدراک د ورتلو نشته
اُس د يار په لور قاصدته اُښيو زغلوه

ګل دِ د مقصود د باغ که زړه دے چه غوړيږی
تل سحر سحر شبنم د اُښيو ستلوه

زړه ئے چرِ نه وی رقيبان له تا نه لور کا
يو زمان له ځان خپل دلبر مه بيلوه

دا غزلِ خواب د خان د ختک غزل کيږی
خدائے له خپل يار نه هيڅ يار مه بيلوه

پرېږده چه پتنګ غنډ پرے سوځی خاخلاص کا
ځراغ د ځ ښکار عبدالقادر ته بلوه

## ۱۷۱

چه راوړے ئے له اصل دے له ځايه
بوئ به څه رنګ ځی له مشکو راته وايه

د شيشے قلقل سرود دے د مستانو
مستغنی له دف او چنګ دی له نايه

نور عالم وته صفت کوه د حورو
مُلا ماوته بے ياره نور مه ستايه

خو هم تا ته ښکاره ښه دی پرده پوش
دا ځما عيبونه نورو ته مه نمايه

چرے نه عزيز ذليل ذليل عزيز کا
په نا اهلو سيوره مه کوه همايه

په افطار کښی ئے د زر روژو ثواب دے
يار چه نيسی درته ے روژه پرِ کشايه

مرګ ئے سل ځله بهتر دے تر ژوندو
په هجران کښی عاشق مه پايوے خدايه

چه د يار په ليدو مور عبدالقادر شی
که ئے بيا يے له دُنيا ځاله ئے بيايه

۱ زمنز پرورو ورو چلوه. ۲ دا غزلِ م خواب د خان د ختک غزل کړے ۳ خال دځ پريوه عبدالقادر ته بلوه ۴ ځ په بيلتون کښی ....
مين مه ببيوه خدايه۔

Marfat.com

۱۷۲

نن په خوا راغله مَه رُویه، سمنبره َسنبل مَویه

سمنبرهَ سنبل مویه، نن په خوا راغله مهرویه

وے ئے مَه مِ څه له کُویه، چه ذلیل بیقدرَنهٔ شے

چه ذلیل بیقدرَ نهٔ شے، وے ئے مَه مِ څه له کُویه

کهٔ د ما دے عاشق بویه، بے له ما بهٔ بل نهٔ کوری

بے له ما بهٔ بل نهٔ کوری، که د ما دے عاشق بویه

د عشق چار ده هرکور لویه، سربازان دی چه ئے اَخلی

سربازان[1] دی چه ئے اَخلی، د عشق چار ده هرکور لویه

صفت شی د کُل له بُویه، د سری له بنهٔ خصلت

د سری له بنهٔ خصلت، صفت شی د کُل له بویه

دریغَ دریغَ بدَ خُویه، تریوُځهٔ رنگ بد غلیم ئے

تهٔ یوُځه رنگ بد غلیم ئے، دریغَ دریغَ بدَ خُویه

د توبے له شُست و شُویه، مکدر خاطِر صفا کره

مکدر خاطِر صفا کره، د توبے له شُست و شویه

صحر بوغ وُخوت له جُویه، لاہو بیارتهٔ بهٔ رانهٔ شُو

لاہو بیارتهٔ بهٔ رانهٔ شُو، سحر بوغ وُخوت له جُویه

څهٔ حاصل له گفتگویه، عمل کره **عبدالقادره**

عمل کره **عبدالقادره**، څهٔ حاصل له گفتگو یه

---

[1] سربازان به ئے اَخلی۔

Marfat.com

# ی

## (۱۴۳)

نه په باغ نه په بوستان په گلزار گرځی
خراب زړه م هوری دے چه م یار گرځی

دواړه سترگے ئے شاهین دی قهرولئ
سور د ناز په اس د زړونو په ښکار گرځی

په مقدم ئے د صحرا خار و نه گل شی
چه په سیل څما یار د بهار گرځی

چه پرون د رقیب وار وو نن څما دے
د آسمان د ژرند ے دوره په وار گرځی

که رنځور شے خود به ورشی طبیب کور ته
طبیبان په طلب تل د بیمار گرځی

د ښرو په ناوکو ئے زړه خوږ هروی
عاشق څکه آهو من ناقرار گرځی

د هوسئ غُندِ خپل خوب په مېږتون کړه
د اجل ښکاری په نیت د گزار گرځی

Marfat.com

دولت د گدایانو له ور بیاموند — که نور خلق د بادشاه په دربار گرځي

په وصال به آسوده عبدالقادر کړے
که همېش به يې په هجر کښې خوار گرځي

## ١٤٤

په فراق کښې د گلونو چه گلزار ځي — د بلبل تر خلّه په تل نارے چېغار ځي
د وداع په وخت گرم نه يم که فرياد کړم — روح چه له تنه اسان نه دروي دشوار ځي
په فراق د يار د سرو شونډو ئے رنگو — سرے سرے اوښے م له سترگو په رخسار ځي
په دوو سترگو م تياره شوه نه پوهېږم — چه م دونه د سترگو ونښه کنه لکار ځي
حال له ډېره غوبوه هيڅ ويلے نه شم — خو هم هسے چه کله خوا له يار يار ځي
په ورو ورو يې جدايئ مرگ نژدے کړم — اکه ساه چه له صورت په وار وار ځي
د عشق اور د سوختگانو په زړه لگي — په سوخته تر لور څه زر شررډنار ځي
پوخ استاد بويه چه زلفے د يار نيسي — د ناقص يا پوه دم کله په لوړ مار ځي
چه سرکوز په تواضع دروي په لارے — نه به وايے سرو زن په رفتار ځي
هيڅ په بيار نه نظر نه کا پسے دروي — دا د عمر آشنا شنه بېيانه دار ځي

ستا د آه لوخړے دی عبدالقادر
لړے نه دي چه په غرو د کړه مار ځي

## ١٤٥

د خبيث په سېنه صحبت خبث په خوځي — د ماهي بد بوئ کله په اُبو ځي

---

عله د نادان پاړو دم کله په مار خوار ځي. — دا دواړه شعرونه په ح کښې نشته

---

Marfat.com

له اَصلی بدَ بَه لاړه بدی نَه شی کَه د ښو په ښَه دیدن په ورځو شپو ځی
لاکیسیه لا بازیٔ ښکاریږی بد ته د کامِل د نصیحت اَثر په مڼو ځی
د مزرلیو په لوے ښکار بانِد نظروی شلانړو ګیډرکو لرو ترورے یا پیشو ځی
هر چه شوی په ازل ښغه بۀ کیږی عبث ځمَر په عَبثٔ اَندیښنو ځی
خۀ نظر بۀ کا دِلبر په اُفتادهٔ چه دا ښے بد دماغ په کرشمو ځی

په ښو به ستاپه نورعبدالقادر ځی
کَه یارانو لره نوَر عالم په ښو ځی

۱۷۶

چو زلفِ عنبرین را پیچ و خم کردی کرم کردی دِلم را از سرِ نو بندِ غم کردی کرم کردی
چو بکشودی نقاب از رُخ نمودی عارضِ زیبا شب اندوہ ما را صبحدم کردی کرم کردی
بحمد اللّٰه چو تنام را بدیگرکس نه فرمودی سرم را چون بدستِ خود قلم کردی کرم کردی
بروئے عاشقانِ زار حسرت درفزون بادا جفاہا گفتی و جور و ستم کردی کرم کردی

سراسر محنت و غم بود در مُلکِ وجودِ ما
چو بازم ساکن ملکِ عدم کردی کرم کردی

۱۷۷

چه دا ښے اَشنایان پکښې هر دم وړدی په غفلت په مزکه وے خوک قدم وړدی
په حیل لاس. ہرم ماران اَستوی کورته چه په مزکه کښې دینار وړدی یا درم وړدی
بیت اللّٰه په حقیقت د مومن زړه دے چه بے خدایٔ مینه کا پکښې صنم وړدی

۱ "بم"، "اک":- ترو به زمکه زړه ورو وے خوک قدم وړدی ۲ "بم":- دینار ویا درم وړدی۔

Marfat.com

چه ذلت ئے په عزت د دۂ اختیار کړ — د سائل منت په ځان اهلِ کرم بړدی
بنے خبرے دُرګوهرَ خاموشی مهر — دانا تل ځله په خُلهٔ د غمه خاتم بړدی
هر چه دلته مستقیم په شریعت شی — په صراط بانډ نه هوُرته قدم سم بړدی
چه داغونه په زړه بړدی بنایسته دیړدی
نشته یوُ **عبدالقادرَ** چه مرهم بړدی

## (۱۷۸)

پیښتانهٔ کوته اندیش دی — سود غلیم نه زیان د خویش دی
نوشدارو په کښې نایاب دی — واړه زهرَ واړه نیش دی
حریصان، طامع سترګ وړی — په پړ خوی نمک د ریش دی
ملکان ئے آدم کُش دی — کافرکیش دی چه درویش دی
پیر مرشد ئے جهالت دے
نه په دین دی نه په کیش دی

## (۱۷۹)

که په لعل اوُ دُرو نور دولت مندٔ دی — لعل و دُر، ځما د یار، شونډے دندان دی
د همت سرکوزے نهٔ کا وَ بادشاه ته — په جامه د ګدا یئے سربلندان دی
د ساقی د پیالے قدر زاهد څهٔ زوه[۳] — چه په کوُت ئے سرو مال شندکړی رندان دی
چهٔ په حال د فراقٔ جنو نهٔ نرمیږی — بغه زړونه زړونه کله دی سندان دی

[۱] "ب م" "ذ": لږ ځه شه؛ یدان ئے بیش دی۔ [۲] "ب م": نه زده۔
[۳] "ذ" فراق صنونه ګهیږیا۔ [۴] "ب م": چه په آه۔

Marfat.com

وایې خولې ځما په زړه دا غونه ترحساب ترشماره تېرچندان چندان دی
که ساقي د پیالې دور بیا گردان کا په مجلس کښې یو څو پاتې هوشمندان دی

چه د طمع له چاشنۍ عبدالقادره
نه بنده شوې بېخه ستا خداوندان دی

۱۸۰

چه له مخه ئې آفتاب ماهتاب رخشان دی په جهان کښې خوک ځما د یار په شان دی
جمعیت ئې د خاطر په لیدهٔ ستا شي په دا طمع ورته جمع څه پریشان دی
چه ئې خوک په گوشه تېرشي لېونی شي شېخ مه څه په دالار پری وشان دی
نه یوازې دواړه زلفې زړه راکاږي د کاکل وښېښه ئې لاخاطرکشان دی
د راحت بښېښې نه تښې عاقبت کا بېخه خوک چه د محنت جرعه کشان دی
چه په تش کا نه ئې مس د وجود زرشي دروېشان دی دروېشان دی دروېشان دی
له آفت به د لې هورې خلاص نه شي چه بد گوئې آزار رسان بد اندېشان دی
خود پرست د یار له وصل بېگانه دی له خودۍ بېگانه دړه خوېشان دی

تر مشکرو نه دی کم عبدالقادره
تر لباتو که خواږه ویلی خان دی

۱۸۱

د اجل داتله سری ته بغتةً دی ناگهان بېلېدل د روح اوتن دی

---

۱ «الف» ... دروېشان ... «ج» «او» «ب م» ... جرعه چشان ... «الف» «ب م» «او» «پ» «ذ» کښې دا مصرعه اولې د مقطع په شعر کښې په ... شان ده ... خود پرست عبدالقادر بېگانه دی ... «ب» کښې دا مقطع په دې شان ده خود ... قافیه بده ده.
غالباً په نورو نسخو کښې په غلطۍ دا شعر په ... غزل کښې شامل کړې شوې دی.

Marfat.com

گُند وی چه سره بیا په یوه ځای سی شو — په ښځو زمونږ سلام چه په وطن دی
په صبا به ئے باد کوره چرته یوسی — دا گلونه چه نن ورځ په شگفتن دی
دا خندا ژړا م خوئ د لیونی د ے — چه هوشیار دی همېشه په گریستن دی
هر گدا چه آزاده وی تر قربان شه — بادشاهان[1] د روم د هند که د ختن دی
ماتول د بُت آسان دی مردان کم دی؟ — چه مشغول د خپل وجود په شکستن دی

نن نسیم عبدالقادر ته سحر وُوے
بوئ[2] ئے واخله دا گلونه په رفتن دی

## ۱۸۲

تور زلف د نگارے بے ځه نه دی — په سپین مخ ئے تار په تارے بے ځه نه دی
په لیدل ئے روغ ناروغ شی بیمار روغ شی — دواړه سترگے ئے بیمارے بے ځه نه دی
ډیر هوشیار به لیونی کاندِ یو هېرم — کرشمے د پری وارے بے ځه نه دی
د هجران په اور ئے نند زړه ورتېری — د عاشق سترگے خونبارے بے ځه نه دی
درست شپه ځما د آه لوگے وردرومی — د فلک سترگے بېدارے بے ځه نه دی
په جهان کښې هیڅ ترخه نشته بے گټے — د دُنیا گرانے دشوارے بے ځه نه دی

څو به مینه پټو ے عبدالقادره
ستا دا تل نارے چیغارے بے ځه نه دی

---

[1] الف ک که بادشاه د شام و روم یا دختن وی
[2] الف ک ب م بوئ اخله۔

Marfat.com

## (۱۸۳)

بیا ئے نیت د جنجال وُښو چه نور کېښلی راته شماری
یار چه تل پسے جفا کا ما به مرګ وَته وُسپاری
بل که هرڅو ښه ایسته دی خدائے دِ نه کا چه ئےګورم
تر یوه بانړه د ښکلی دا جهان ښه واری واری
ستا چه هیڅوک اَشنا نشته فراغت کړه هوس کړه
په هر ځائے چه اَشنائی کا جدایی محصل ګماری
د دُنیا په باغ کښې ځائے د همیشه استوګنے نشته
عاقبت به له ګوے باغ طوطیان وُځی په چیغاری
د بلبلو د طوطیانو په ګلونو سیل کیږی
په ګندګئ اَوُ په مُردار تل کارګان کرځی مُرداری
هر چه ښه ئے له ازل نه په فطرت کښې ښېښی نه وی
چه به بد کاروته نه کا نور به څه کاندِ بدکاری
هر سړے په موافق د خپل همت نظر لرینه
په وړو چارو هیڅ کله نظر نه کاند لوئے چاری
که غمزے د دلبرانو بیرے تورے د خرخ کړی
هم ورځی په تېرو تورو ئے بے پروا بے اِختیاری [۲]
زړه د ښېچا اَلبته عبدالقادرَ آزار مه کره
چه په دین او په دُنیا به آخرخوار شی دِل آزاری

[۱] ذ "یار چه پسے جفا کاندِ [۲] ذ" هم ئے وروځے دی راکښلی، د بڼړو غشے ګزاری۔

(۱۸۴)

که ګلاب لکه باران وربانډ وورې | د ګلابو بوئ به لاړ نه شي له اورې
صباحت ئې د یوسف همېش منظور وو | خله سپین شو د یعقوب د سترګو تورې
هر یو ګل په خواست تر وړه خان ئې خوشبو کړه | چه صبا خوشبوئ راوړه ستا له لورې
مه کړه خدائے چه د وفا خوئیو نه لور کړم | که هر څو م یار جفا کا تل م زورې
که زاهد دے که عابد که شیخ ملا دے | ټمکی د خپل مقصود په لوری شورې
پاس د دار په سر منصور د رو غوږن نه دے | چه عاشق شي بیا به سر د عشق شورې
پس شا د سوګند وبه خوری و سر ته | هم هغه چه ځانځ د سر په لورې
قراضے د زرو څه لره په ځ بزدے | په وجود د عمر نمانځه نه کانډ ستورې

تر ژوندون مرګ دے بنه عبدالقادره
چه ئے یار رقیب ته خاندای دے ئے ګورې

(۸۵)

که د عشق په لورم کانړی په سر وورې | زه به وایم واړه دُر او ګوهر وورې
په چرګ بانګ محل ئے داد د بوسے وکړه | مرغے بستکال تل په عنبر وورې
په تاثیر ئے د قدم خاورے خوشبوئ دی | که په کوئ بانډ ئے مشک و عنبر وورې
سرے سرے اُبنے م له سترګو وینے نه دی | دا ګما د زړه له اوره شرر وورې
د رحمت سزاوار نه چه ګنهګار یم | باران بویه چه په تږی شجر ووری
د ظالم د سر د تاج لعلونه نه دی | په تندی ئے له دوزخ اخګر وورې

۱۔ ب م ۔ داند واته برشهر کړه۔

Marfat.com

د حاسد جفا زغمهٔ عبدالقادرَ
تل د غم کانړی په سر د غمر ووری

(١٨٦)

کهٔ هر څو بنایسته ډېر وو د وکړی — موږ نهٔ غوره کړے، نور، نورو غوره کړی
نهٔ هم هسے دِل آزار جفا کار شوے — چه تل ستا له لاسَ ناست یُو په زړه ستړی
آزاری که چیرِ کړے بېزاری مهٔ کړه — اُس یُو موږ اوَ نهٔ په خلقو کښ نومړی
چه په بې جور دا هو نبره ډېر مانړے کړے — مګر لږ دی، موږ ستا جورونه وړی
همیشه د حال په ژبه له ما زار کړے — ستا له حالَ م هېڅ نهٔ دی چانهٔ سپړی
څوک چه نن ګانده وفا له یارَ غواړی — ډېر ابله دی چه د شګو پړی غړی
اَشنایی د دین کوه عبدالقادرَ
د دُنیا اَشنایان واړه دی نیمګړی

(١٨٧)

په وار وار سے په هر چا وکړے بازئ — د جهان په ورکړه هېڅوک مهٔ نازئ
چه آخر به ئے له تا سے غلیمان وړی — په خپل لاس ئے په دوستانو وُبازئ
د اِخلاص امید هیچا ته پاتو نهٔ شه — اَشنایی ده اُس همه مهمتازئ
بېهوده ګله منډی کا له آسمانَ — جهان ډوب کړه د غمازو غمازئ
سرفرازے سرنګون دروهی په کښېنته — رابنکاره شو ے د دُنیا سرفرازئ
په صحنِ کښې مرګ ئے نشسته تل ژوندئ دے — د هغو چه پاتو ش نیک اوازئ
کوره څهٔ رنګ ناز بردار د خاص و عام شول — چه ئے تل کول کبرونَ طنازئ

Marfat.com

له اولَ بلبل باز وے اُس باز بازشوے
عمُر وُلاړ عبدالقادرَ په بازئ

## ۱۸۸

ستا سترګو وژلی به تر درنګ اُس ښځېږی — راشه زړه پر یخ کړه که په داد زړه یخېږی
رقص له خامئ کاندِ دانه د دیګ[۱] میان[۱] کښې — پاتو له صوفی شی رقص حاله چه د[۲] یخېږی
ستا تر سر ځاریږی ستا په سر ځاسوګند دے — بل مطلب ئے نشته چرخ چه ہسے رنګ څرخېږی
خوب ئے باندِ نه ښه لټ په[۳] لټ په بله اوړی — ګل د نهالئ[۴] ئے په نازک بدن څرخېږی
وے به له مزکه نه شی ګل عبدالقادرَ
تل چه تر ګلونو ښایسته پکښې ښځېږی

## ۱۸۹

که هر څوئے د دنیا دولت ډېرېږی — څه په کار چه بقا نه لری تېرېږی
بادشاہی د اورنګزیب و آزاده ته — چه تل نه وی په خسَرِی[۵] نه پېرېږی
چه یو دَم م له خاطرَ جُدا نه وو — دم په دم م اُس ہغه یاران ہېرېږی
عجب وار د ناپوہئ[۶] د ځوانئ وو — په پېرئ م اُس دا دواړه ارمانېږی
تلهٔ عمر ہرګز نه راځی په بیا رته — که د اُښکو په ځائے تل وینے بہېږی
مرعاشق[۷] چه وېره کاندِ له پېغورَ — تو ہغه د ډېر عمونه چاپېرېږی

۲ "ک" ګل ئے د نهالئ پا نازک تن باندِ څرخیږی ۔ ۳ لیټ په لیټ ۔ ۴ "ذ" په ګړیو نه ارزیږی ۔
۵ "ح" - کودکئ ۔ ۶ "ح" په سرو ګرځئ ئس دواړه ازانبیږی
۷ "ذ" ۔ دا شعر صرف په "ذ" کښې وو چه تر نقل کړے شو ۔

Marfat.com

د بانړو ناوک سره پښه په ځان لګ دی — چه ئې زخم په دارو هم نه رغیږی

وَ نااَهلو[1] ته وفا د یار جفا شی — چه په لبِ تغیر له یاره نه سپړیږی

بوالهوس[2] دِ وَ وصال ته طمع نه کا — چه په عشق کښې به په سرومال ویریږی

که هغه وار وو که دا عبدالقادرؔ — ننداره کوه چه څه رنګ تیریږی

سر لوئی[3] د عاشق ده عبدالقادرؔ

چه د یار په غم کښې شپه اوُ ورځ زیړیږی

## (۱۹۰)

داځه اوردے ښو هیږم چه په زړه ځما بلیږی — دا سیلاب له کمه راغے چه تر سترګو مِ چلیږی

نن ځما د زړه په ښهر کښې نارے دی نه پوهیږم — چه مِ روُح له تن درومی که آشنا له ما بیلیږی

څه پښتنه کړے له ما نه چه د زړه احوال دِ څه دے — په مثال لکه ماهی دے چه په تبلو کښې تلیږی

د ښه څ صفت ئے بیجا لکه ئے حق دے[4] ادا نه کړه — واصفان ئے همه وار ه، د هغه غُنډ ټلیږی

ځکه هسے رنګ بے قدرَ صبا در په در چاروځی — چه په کوئ د دلبر راشی تر ګزر کاندِ تیریږی

فریادونه کړه بلبلے د ببنے ژاره خو په تاشی — د آهار سیلئ راغلی د ګُل پاڼرے به تلیږی

دا آسمان چه په تندی دِ پاس ګرځی لکه ژرنده — د دانو په ځائے سرونه شپه اوُ ورځ پکښې دلیږی

نه یوازے زه اوته د جدائئ په تیغ زخمی یو — په هر لور عبدالقادرؔ پرهار ژلی دی ګلیږی

دغم شپه دِ په صبا بدله شوه عبدالقادرؔ

چه جبین ئے لکه نمر تر لور وربل درته څلیږی

---

۱۔ ۲۔ ۳۔ "ذ" داشعرونه صرف په "ذ" کښې وُو چه ترینه نقل کړے شول۔

۴۔ "ب م" :- ادا نه کا۔ "ک" :- لکه حق دے، کړے نه دے۔

## (۱۹۱)

په سحر د یار له لوریٔ شمال راشی — دا بیمار خاطر مِ څهٔ خو په حال راشی
بس خو وار د وصل تیر شو هجر راغے — یا نصیب، چه بیا نوبت د وصال راشی
زړه مِ ډوب شی پسِ بنتید ے سے هرګز نهٔ شم — چه رېبار د یار له لوریٔ ملال راشی
نور مشغولونه به دِ ووځی له خاطرَ — که په زړهٔ کښ دِ د کښلیو اِشغال راشی
د دیدن د وریلو تږیو طاقت کم شو — لا بهٔ کله پرو مبیٔ ورځ د شوال راشی
د خپل یار له وصالتَ امېدوار شم — چه صُورت د یوسفٔ مأ په فال راشی

په هجران کښ خوار و زار **عبد القادر** شو
بیا بهٔ کله په شبوهٔ[1] په خیال خیال راشی

## (۱۹۲)

چه په زړهٔ بانِدِ ے وا د عرفان باب شی — دا جهان به سے تر فهمٔ یوٗ سراب شی
د وحدت دریاب بهٔ وینی کښنته پورته — خپل وجود بهٔ درښکاره لکه حباب شی
د خودیٔ باد چه سے وُباسی له سرَ — د حباب نامه سے اِاره شی دریاب شی
څو وجود د ذرے شته همبره ذره ده — خو چه محو خپل وجود کاندِ آفتاب شی
د هستیٔ نوم هاله وربانِدِ مبنایی — آمیخته چه له محیط سره سیلاب شی
د عنصر د چار دیواله چه راوُوځی — آرو بده لیده ئے وارِه بے حجاب شی
وَ هر لوری ته چه مخ کا مونځ سے کیږی — چه قبله سے د یار مخ ورو محراب شی
په ځنبل د سترګوځی تر مشرقَ غربَ — تر نظر د عارفانو تله شتاب شی

---

1. ک په شبوه اَوُ په خیال راشی۔

څپل به هاله دیار شي عبدالقادر
که په تا باند ئې مهر یا عتاب شي

(۱۹۳)

چه ترغوږ م د جرس ناره فریاد شي — ستا د عشق په بیابان وړک راته پیدا شي
یو په سل به ئې غم د زړه نصیب شي — هر نادان چه د فلک په ورکړه ښاد شي
نږ شیرینې دی را کښلي لا شیرینې — وې ځوک دی چه په عشق لکه فرهاد شي
چه په راغنه مراوي ګل د باغ تازه کا — په تاثیر به د صبا کله هر باد شي
نور چه بوس و کنار کاندِ عبث ئې نه وي — زه چه تش کاته کوم ځما امداد شي
هر سړي چه ګټنې کا لویې موي — هم په دا خادم مخدوم شاګرد استا شي
چه پرِ نه لګی ویل د نیک خواهانو — عاقبت د علیمانو په مراد شي
په همه د مریدانو پیر شفیق وي — تربیت ئې موافق په استعداد شي
چه اساس ئې د ژوندون دې په باد یښې — پرِ به څه د عاقلانو اعتماد شي

د منصور[1] غوندِ په دار عبدالقادر شه
که به عشق یل ګناه ور باندِ زیاد شه

(۱۹۴)

د[2] سخو چه ستا په کوې باندِ ګذر شي — قرار به ئې لکه باد څنې بدر شي
همیشه به یک تنها له خلق کښېني — د مجنون غوندِ په لوړې په ژور شي

---

ع۱ "ب م" "ح" :- د منصور غندِ سنګسار عبدالقادر کا۔

ع۲ دا غزل په "ح" کښ نشته۔ د "ک" او د "ب م" نه اخستې شوې دې۔

Marfat.com

هم بخه به د طلب افسر په سر کا — چه ئے سر په ژوندون خاورستاد درشی
چه د عشق په تورې سرلدتن پرے کا — سرمدی ژوندون بخه نه میسر شی
چه یوځله ځان پیشکش کا وسره اور ته — خوشبوئ لاله روانه د اکرشی
چه ئے بار د تعلق له غاړے پرېوزی — په خزان کښې لکه سرو تازه ترشی
سرخرویی به ئے د وصل بخه مومی — چه په هجر کښې ئے رنګ لکه اصفر شی
په تجرید کښې به ئے موے مجرد شه — تعلق خو هم دا خیال چه د دلبر شی
چه آرام په ځان حرام کا په طلب کښې — هم بخه به تر مطلوب پورے ورشی
هرچه شا کا د دنیا د بهار ګل ته — د شبنم په دود ئے ځائے سترګو تر شی

په محشر به سر بلند **عبدالقادر** کا
که د یار د قدم خاورے یے په سرشی

## (۱۹۵)

که فلک لکه آسیا دانه ئے سر شی — عارف نه دے چه ئے زړه په کښې لړ بر شی
که آسمان د ممسک سترګے مزکه نس شی — وابسته ئے مخلوقات د بحر و بر شی
په زر کاله ئے ژوندون دے ګمان نه کړه — چه په کښې د توکل ځنبنت مدنظر شی
خاورے زر چه ورته یوشی له غه پس — په کانه ئے کانړی بوټی واړه زر شی
که اصلی فقیر ئے سیوره په سر وکا — بست و نیست به ورته واړه برابر شی
چه خپل ځان د تلی خاورے دګډا کا — د پله خاورے ئے په قدر تر عنبر شی
چه خپل ځان تر خراغ ځار کا بیا وسوځی — کم منځے به د پتنګ تر ځای ورشی
د زاهد مشرب جدا د رند جدا دے — له ماهی به کله کار د سمندر شی

ب م: چه آرام په ځان حرام کا په طلب کښې. ۲ بخه. ۳ شمع ۔ ملغ

Marfat.com

بالہ لاف د ہینےکرہ عبدالقادرہ
چہ ترخہ د یار پہ تا شہد و شکر شی

(۱۹۶)

حقیقت د عشق پہ خُلہ وَیلے نہ شی
دغہ اور سبے دِلَ نور سبطہ نہ شی

ہسے دروند ورے ئے بار پہ ما ضعیف کڑ
چہ آسمان ورتہ خپل ځان نیولے نہ شی

درستہ شپہ نارے وَہم دیار لہ دردَ
ہمسایہ م پہ شپہ خوب کولے نہ شی

د زڑہ مست لرہ د زلفو زنځیر بویہ
پہ اُسپین زنځیر دامست تڑلے نہ شی

پہ دا باغ کښې دہر گلونہ شگفتہ شو
پہ کښې یوٗ دیار پہ رنگ لیدلے نہ شی

ما دیار دمخ پہ باغ کښې دے لیدلے
ځا وے دا چہ نور نرگس موندلے نہ شی

پہ ہر دَم عبدالقادرہ ہسے پیالے څښی
چہ یوٗ گوٹ ئے کاینات زغملے نہ شی

(۱۹۷)

کہ شکنځل دِ پہ بے دردو ترخہ لگی
ما تہ کرہ ! پہ ما تر شہد و خواږہ لگی

مشتاقان د تیغ پہ آب سرہ سیراب کڑہ
تر ژوندون ئے بہے پہ تږی اُبہ لگی

بستر گے پٹے زڑہ بیدار لکہ غنچہ شہ
د دولت نسیم د وینبو پہ زڑہ لگی

سنگدلان ئے لہ ناوک بے بہرہ دی
پہ مشتاقُ تر گلونو پاستہ لگی

چہ ئے داغ ځما د زڑہ د داغ پہ شان دے
پہ لالہ م ځہ خو ځہ خو لیمہ لگی

د بنڑو اَغزی م لر پہ ژڑا کڑہ
چہ د یار پہ قدمونو تیرہ لگی

یوٗ ساعت عبدالقادرہ خلاصہ دے
ہر زمان د عشق لبنکرے پہ دہ لگی

Marfat.com

## ۱۹۸

خدائے م مهٔ کړه یوُ زمان ځنے خالی — ستا اندوه م دے سبب د خوشحالی
نهٔ له خیال خال هیڅ بښایسته نه دی — وے تا غُندِ بهٔ نهٔ وی بل خیالی
چه بے ځای آواز کا په انجمن کښې — د رباب غُندِ به موبی گوشمالی
د سړی لکه همت پسے ئے فکر — د عالی سړی فکرونه وی عالی
سل جنجال سل فتنے راسره د ے کا — بیا په ما بانډِ توم کښېږدی جنجالی
خان و مان ترجانی یار صداقه شه — نه یوُ دے[1]، نه سل زرلکه ، کړو پیالی

چه خپل یار د خادمانو سره شمار کړ
څوک به کا عبدالقادر سره سیالی

## ۱۹۹

ساقی ے بویه چه وی پرتکالی — خواه پیاله وی مرصع خواه سفالی
علامت د یار د دیرے مینے درد دے — روغ دِ نهٔ کا له دردمن سره سیالی
مقدم په ډکېدل خالی کېدل دی — ډک[2] سغه شی چه له زړهٔ کا ځان خالی
چه[3] یوځل په ېل وېل کا مزکه سازه — د امید تخم نالهٔ کړی مالی
آشنایی کول آسان دی پت ئے گران دے — یوُ یوُ مرد د آشنایی پت پال
عاقبت بهٔ تهٔ هم راپیښے دے خاځه تهٔ — که په مزکه یم پروت تهٔ په نهالی

---

[1] "ح" :- نه یوُ دے ، نه سل زرلک چه دی مالی۔

[2] "ح" :- ډک هغه شی چه خپل ځان کانډِ خالی - "ب م" :- ډک هغه شی چه د زړهٔ کانډِ خالی۔

[3] "اک" :- چه یوځلے ئے په ببل کا مزکه سازه ، د اُمید تخم ناله کړی مالی، "ب م" :- چه یوځلِ په دېل کا زمکه سازه ..... مالی

Marfat.com

## شپه اؤ ورځ عبدالقادر په جدایئ کښې
## دواړه سترګے کړے اوره پشکالی

### (۲۰۰)

ماچه لب د شکرلب دی څښلی
لا م اُس له خوږو لب څښله نشلی

ستا د سترګو په خیال ہے رنګ مستیم
لکه چاوی صد سال باده نوشلی

که له سترګو راوان شی سیند د اُښو
وران به نه شی هرچې ستا په جبین کښلی

د عاشق د صورت خاورے د یار مینه
په ازل سے دواړه دی سره آختلی

له توبری سره م ځان ځی چه وکښښ شی
ځکه ما د یار توبری نه دی وګښلی

شکایت د ښایسته ؤ دخوئ مه کړه
تر وفا د بل جفا ښه ده د کښلی

که بدرنګ مخ پټوی بارے یو روځ دے
ښایسته د هرګز نه وی مخ پوشلی

یو دلدار چه دلداری کا بیا م نه موند
په غوښته م دی ملکونه پسے ګشلی

چه مین شوے دږد زغم عبدالقادر
په غمونو عاشقان دی همېش نشلی

### (۲۰۱)

د قیامت په ورځ به سپک پاسی سپک تللی
په صبا به دروند پاسی چه دروند ځملی

تنها هغوک کورستان لره لاړ نه دی
چېل عمل غاړه غړیئ درسره زغلی

چه م سترګے بانډ وا د بصیرت شوے
د عالم ودان م ولیدل نتلی

نه دانا به سے باور په ودانئ کا
چه په طمع د سیلاب د اُبو ملئ

د دُنیا کاروند ضد د آخرت دی
د دُنیا قبول په دین کښې دی رټلی

Marfat.com

نه صحت موی نه مری ښه تاوېږی — چه په زړه وی د حسد منګور چیچلی
چه نظر م ئې په شونډو باندې وکړه — وے ئې وشرېږه له وړه بېغه بللی
د قیامت له جوکه دار عبدالقادر
نه کا چا چه خپل مېنه بد دے تللی

## (۲۰۲)

له[1] جهانه ښه رنګ دی یاران تللی — ته به وایه چه هرګز نه وو راغلی
نشا ئې ځی په جهان کښې موندے[2] نه شی — ښه ورک شول د هجران سورو نتلی
د بربښنا غنډې ښکاره شول بیا فنا شول — په ځیر ځیر م ورته هیڅ نه وو کتلی
نه م سترګے په لیدو سره مړے کړے — نه م وو په ډکه خوله سره خندلی
نه م زړونه ځبله تش کړل په خبرو — نه م پټ رازونه وو سره منبېلی
ناګهانه هجران مخ ورته ښکاره کړ — له مونږ بېل شول په ارمان سینه داغلی
له احوال ئے خبر نه یم چه څه شول — څوک په بیار ته ځنے نه دی جاروتلی
که خاکونو ته ئې ورشم نارے وکړم — په خواب ئے راته هیڅ نه دی ویلی
یا له موږه مړور شول جواب نه کا — یا ئے چا په خوله مهرونه دی وهلی
که ئې وعوارم خبر له خبردارو — دوی پرې هم لکه موږ نه دی پوهېدلی
که قبرونه وړانوم په کښې ئې غوارم — ما هے خاورو په کښې هیڅ نه دی موندلی
نه پوهېږم چه له کومه لوریه راغله — بیا ئے دی وکم مکان لره بیولی
اے یوه خدایه زر وران د دُنیا سرائے کړه — چه آشنا عالم ترے ځی ناآشنا ملی
چه پردم جرس د کوچ ورته ترغیږی — فراغت عبدالقادر څه رنګ تملی

[1] "ب م" :- ښه شان ده له جهانه یاران تللی - [2] "اک" پاتو نه شوے -

Marfat.com

(۲۰۳)

په طلب ئې چه د تنده وچ شي کومي
غم د نه کا د حيات اُبه به مومي

د طلب مصطفے دهرو پيسے سنگ کړے
کوره څوک به د دلبرو شونډے چومي

چه تلخي ئے د هجران کړه په ځان تيره
هم هغه به ئے د وصل پياله شومي

څښه خښوه شراب ساقي پيابه ارماکړے
عندليب نارے وهي چه بهار دروي

معشوقے وژلي مړه نه دي ژوندي دي
په دا تيشه نامه څه شوکه مړه نومي

جُدا شوے چه له يار عبدالقادر دے
په هيڅ رنگ ئے اُبه نه دروي ترکومي

(۲۰۴)

که خبر شے په لذت د ويراني
اور به پورکړے په خپلے ودانۍ

ستا په تله م غم اندوه نصيب د زړه شو
دريغ دريغ رابه نه شے ناداني

جمعيت م د خاطر په ليدو ستا شي
بے تا خلاص نه يم يوځم له پريشاني

ناکامي ور ځغے هغه ده په څو. رنگ
چه م وليدے د دهر کامراني

غوهر تيره کا آئينه غبارئے صافه
دخ آب زيانوي گرد د دهقاني

عاقبت به دنيادار له دُنيا دروي
تنش لاسونه زړونه ډک له پښيماني

په هزار دشواري کښيوزي په لاس کښې
راشه گوره څه رنگ ځي په آساني

چه په عقل غوبانه سپيانه ترسندي
په دا دور هم هغه کاندي خاني

دانا ځان ناپوه گڼري عبدالقادر
نه چه ځان نه داناوائے ناداني

Marfat.com

## ۲۰۵

ستا چهره لره خدائے تل ارغواني — کۀ د غم چهره م ده زعفراني
سر په لاس ور پسے دروم نۀ قبلیږي — نصیب مۀ شه دچا دا سرګرداني
ے بوشي تمام شپه کاندِ له لورو — په صبا به ئے په ما وي سرګرداني
خوخو ګرانے م آسانے په زمان کا — زۀ بۀ چیر پریږدم عشق په آساني
اشارت ئے د دُنیا ناله کول دي — چه صوفي په رقص کا دست افشاني
چه لاړ نۀ شے په غفلت بیابۀ ارمان کړے — هر نفس کړه د خپل نفس نګهباني
چه په مخ ئے کاروانونه د خط راغله — اُس بۀ وُشي د شکرو ارزاني
له دُعائے اُس هم نۀ یم فارغ شوے — کۀ د کمبلیو په خدمت لاړه حواني

ورته عرض سلام د خوار **عبدالقادر** کړه
چه په کوئ باد ګزر کړے د فلاني

## ۲۰۶

چه پیدا وي له یوے قطرے مني — ورته نۀ ښنایي چه کا کبر و مني
چه خلقت ئے د صورت له خاورو شوے — په هر حال دِ خاکساري کا کۀ مني
له خزانَ بۀ نۀ ګل د صحرا خلاص شي — نه بۀ پاتے شي ګلونه چمني
په نازک بدن ئے ښکنے د ململ خړڅي — څما یار نه جامے بویه سمني
تنګ خُلۀ ئے مینا یسته حلقه د ګُتي — دواړه لبه ئے نګینے دي یمني
تۀ چه پسه زعفراني جامے اغوند ے — زر بۀ کړے د یار چهره ګورکمني
ستا جهاد تۀ ئے هم ستا نفس پیدا کړه — کۀ ئے کړے **عبدالقادر** دُشمني

[illegible]

Marfat.com

(۲۰۷)

گوره بیا څما تر خنگ لا کله کښېنې — چه په ناسته م ئې غم له دِله کښېنې
چه خندا کا په فریاد د فراق جنو — کښکلا دے په اورکښې تل تر تله کښېنې
یوُ یوُ بوټے د گل بویه په چمن کښې — چه په ښاخ نه ئې شیدا بلبله کښېنې
همه واړه ستا د مخ ثنا صفت کا — په هر ځائے چه کښېنې یوله بله کښېنې
له اَدَبَ درته نهٔ وایم چه مهٔ څه — ښایسته په خپل ځئ په خپله کښېنې
هو دیا لے دے چه ئې کښېنوم و لاړ شی — چه د ملاستی[1] ورته وایم پاسی کښېنې

له وصال دِ محروم عبدالقادر شه
که بے تا ئے په ذرّه مینه بله کښېنې

(۲۰۸)

نور عالم خپل خوب کا رنځوران اَخته په نول وی
مزکه نو ده کمه ده ، چه اور ورباندِ بل وی
نر نا حق ستړگے و رنځو په بار ورنے کا
کله د هو سیو ستړگے نورے په کجل وی
بل مرادِ م نشته په دُنیا کښې بے له دانه
خاورے د غه ملک شوے چه محبوب پرِ لیښے یل وی

---

[1] "ح" چه په وخت د ناستی وایم څه کښېنې
"ک" چه وایم په وخت د ملاستو څه کښېنې۔

Marfat.com

هرچه اول ښوی دی آخر به ښخه کېږی
څوک به ئې اول کا چه پس ښوی به اول وی
کله به لا دروځې له ما اې د سحر خوبَ
خوب بې غمَ نهٔ کا چه به مخکښې ئې منزل وی
فکر لېونی د صبا نهٔ کا څکه خوښ وی
غمَ د هر سړی به اندازه د طول امل وی
هرچه محبت لری د یار د تورو زلفو
تل به ئې به زړه کښې فکر لړونه مطول وی
ما به زړه ویشتلیه! فریادونه کړه به زور
ستا سوی نارې به ما شیرینې ترعسل وی
څهٔ وایې وماته، ما نهٔ لاره ده خطرناک
ښخ پروا م نشته کهٔ دِ خیال راسره مل وی
تل که آه فریاد **عبدالقادر** کاندِ کرم نهٔ دے
بیل له فراغتَ همېشَ له یارَ بیل وی

(۲۰۹)

لوئے لوئے غرونه دِ به واورو تل ودان وی | چه رودونه ئې به مزکه را پرېشان وی
په ښخو مزکیوخوځه وورهٔ باران ! | ښې اُبهٔ کانډِ ترخ بوئې به روان وی
په چمن کښې ئې بد بوئی گل شگفته شه | زاغان ورشی، بلبلان ترکرېزان وی
په ښخه چمن ورځه د سحر بادَ! | چه نسیم ئې به هر ځائے عنبرافشان وی
چه به راغلہ ئې د باغ گلونه واشی | همېشه د ښخه باد به ملک وزان وی

مل «ح» هرچا - «ب م» - هر ملک.

چه پتنګ مشرب پیدا کړي په معاش کښې ... د هر چا چراغ چه بل شي په دا مشان وي
مبارک هغه بنده چه آخر بین وي ... کل محنت راحت و ده وته یکسان وي

په رموز د ده هر څه وویل په لږ کښې
پرې به پوه عبدالقادر سخندان وي

۲۱۰

بیا م شي زاړه غمونه په زړه نوي ... چه د یار په بورجل رالیشم یارانه وي
حال کړ وایم و عالم ته منصور یوم ... که یې پټ ساتم په زړه کښې زړه م چوي
د عالم له ویرې آه وکښلی نه شم ... په ګوګل کښې م د دنه وشول لوي
په صحت یې ناوضا په درد بې صبر ... د ګڼې هسې رنګ زحمت علاج به څه وي
فرهاد غر په عشق کښې کند زه صورت کنم ... و منصف ته به څما زیاتې تر ده وي
ده که یار ته ولړ جوړه د شودو کړه ... تل روان د وینو رود څما تر زړه وي
چرې نه وي رنګ یې هیر کړم په هجران کښې ... په وصال کښې به م خیر یار ته کاته وي
ستا د سترګو خیال پرې وو ري څکه ژاړم ... نرګس تل تروتازه وي چه اوبه وي
په پرېښول به د جهان له غم خلاص شې ... خلا صیدل د غا بښ له درده په وکښه وي

وبه وینې د یار مخ عبدالقادر
که د تل ود پسې دواړه لیمه سره وي

۲۱۱

د ژوندون به یې څه حال حلاوت نه وي ... هر سړې چه په دنیا بې یاره ژوي

ع ‌"ح" پراګنشان وي.

صا دِ خدائے پہ دُنیا نہ لری بے یارَ — لہ دُنیا تر یار پہ خوا دِ ځا تلہ وی
چہ یَوُ غم را باندِ تېرشی وایم خلاص شوم — نور غمونہ را پیدا شی نوی نوی
یَوُ مجنون شوے اَوُ نورے دعشق نہ وو — مینے ډېر کړل تر مجنون شوی او نوی
څہ حاجت چہ ئے پیښتنہ کړے لہ حالَ — خود ښکارہ دی د ہجران د لمبو سوی
چہ پہ کښې نہ مہر مینہ نہ اِخلاص وی — تر ودانَ لا وران ښہ دی ہغہ زړوی
محرم [illegible] چہ خپل حال ورتہ بیان کړم — نا محرم تہ وایہ نہ ښی زړہ م چوی
مسل [illegible] چہ بیداری کا بیدار بېږی — بخت ئے ویښ شی چہ پہ غېږ کښې اُوده وی
پہ نور څہ عبدالقادرَ نہ رغېږی
پہ ہجران کښې د یار یاد دارُو د زړہ دی

(۲۱۲)

بُوئَ ئے نہ ځی لہ خبرو د بہی — چہ تشبیہ د یار د زنی کا بہی
لاس م ورو نیسہ پہ لاس کښې لاس دِ ماتشہ — چہ پرِ وُنہ شی ز څونہ د بہی
دَ دُنیا څرببنت آماس دے و دانا تہ — و نا پوہ وَ تہ ښکارېږی فربہی
مشتاقان کلہ تمیز د نیک اَوُ بد کا — کہ صاف نشتہ ساقی را صحۓ تہی
پہ اُمید د خپل مخدوم د ستاری — واقع کېږی لہ خادِمَ کوتہی
اِمتیاز ئے د سپین تور لہ خاورو نہ شی — چہ ئے نہ پرېښو لږ گرد پہ یک تہی
کہ ئے ډوب کا پہ دریاب کښې تش بہ ووځی — چہ تَنکے ئے لہ ازلَ شہ تہی
ہغہ بارچہ آسمان نہ شی اَخستلے — پہ کمُ زور بہ ئے عبدالقادر سہی

(۲۱۳)

Marfat.com

که بنېږې کاله شګفته هر چه وایي    هیڅ مه وایه ښایسته دے بانډ ښایي
د بهار په وخت هم دا وایه مطرب    چه په کښلیو مینه نه ښایي نه پایي
خلق ئې انتظار دي ولیدو ته    ګوره څه به د دلبر کم یوه ته نمایي
هر مرغه د د چمن په خپله ژبه    ستا ثنا کا ستا صفت کاندې تا ستایي
په دُنیا به مینه څه عبدالقادر کا    چه آخر ئې خواه ناخواه ورځنه بیایي

ے

## ۲۱۴

وایم دائم چه چا نه وے بیا به وایې    مل عمل د ښو کوه عمل به بیایې
چه په دېر مښود دولت د دُنیا قبول کړے    واړه سعی د ضائع ده چه نه پایې
د نعمت کتل آسان سائل ئې ګران دي    فهم وکړه چه کتلی نه کړے بایې
ځان غُبار کړه د سحه د صبا لارے    چه ګُزر په کُوڅه کا د دلرُبایې
د واړه ښینې ځا په خوږو سترګو کښېږده    چه د خوږو سترګو ښے دي ستا پایې
ستا په مینه باور څه عبدالقادر کا    چه هیڅوک درنه پوهېږي چه د چایې

## ۲۱۵

چه ببرون کا له خاطره غبار یاتے    هم بعد به ئې په مخ کا سترګې لواتے
چه ئې نه په نورو خوری نه ئې په ځان خوری    عاقبت شي د بعو خونے میراتے
رب مرګ د خاکسارانو عند راکړه    چه وارث ته م سپېرې ایرے شي پاتے
تا ییبانو بیا توبے کړے چه دلبرے    لورے زُلفے په سپین مخ کړے ماتے ماتے
د هر څیز رجوع و اصل وته کېږي    ځکه دروهي و بدذات و ته بدذاتے
ښے نه شي په درګاه د دلبرانو    که ورځي عبدالقادر په ننواتے

Marfat.com

## ۲۱۶

کہ د درست جہان بادشاہ شے پہ ہوا ځې — عاقبت بہ لہ جہانہ بے نوا ځې
کہ حشمت دِ د سکندر تر حشم ډیر شی — خالی لاس بہ ځنې بیا د روے یوا ځې
چہ پہ تا باندِ میَن ورتہ دِ ښا کړه — لہ غلیم سره دا ښہ خوا پہ خوا ځې
د غفلت پنبہ را وباسہ لہ غوږو — چہ کنړو غنډ کوڼ نہ روے ښنوا ځې
ستا پہ دا خندا خندا شی د ہوشیارو — چہ آخر بہ ډیر ژړا پہ ډیر ژګیروا ځې
کہ خاطر د تعلق لہ بار خلاص کړے — د رحلت پہ وخت بہ لہ بے پروا ځې
پہ عزت پہ حرمت راغلے و دنیا تہ — پہ بد خوی تر شرمنده خجل رسوا ځې

ځو قاصد لا د طلب راغلے نہ دے
بہتر دے **عبدالقادر** چہ پہ خوا ځې

## ۲۱۷

پہ وَیل د کم بے رحم ځیګروَر ځې — چہ دا ښہ ډیر پس را پښے بیا زر ځې
د عاشق د سترګو غر نہ حجاب پړی[۱] — وے ښہ شان ځ نښتے پہ معبر ځې
د لویئ پہ مقام بہ نالہ کیښنے — کہ د ورکړو د صراحی پہ وزر ځې
د ہوسیو سترګے توری، د باز سترګے وی — خونریزی تر تورو سترګو کالا زر ځې
در پو ہیږم چہ بہ زر مصطفے لنګ کړے — چہ دوہَی وتہ ډیر ډیره قلندر ځې

تصدیع مہ کړه کښتن کاه وتہ پہ سر ځې
کہ پہ وړلو د بدل **عبدالقادر** ځې

---

۱ حجاب کېږي۔

Marfat.com

## ۲۱۸

نن په درست جهان کښې غوره يار ځادے
په ديدن ئې سرشنډ کار ځادے

د خزان ويره ئې نشته تل تازه وی
کښېنې ئې هميشه بهار ځادے

په وار وار نو رو پيالے د ميو نوش کړے
ساقی اُس ئې وما رالږه وار ځادے

وُ ئې مه شلوے ځا له غاړے خدا ئ
د خپل يار د زلفو تار زنار ځادے

د هر ځا په گردن پروت د ځينے بار دے
تر هغه وارو چه درونددے بار ځادے

چه يوُ دم م له خاطر نه بيلېږی
لا له تا نه د تا غم غمخوار ځادے

درست شپه ئې عشق بازی کوم له درد
په دا خه شو چه جدا نگار ځادے

که دسته د گلو راکا هم به خارشی
په ازل چه نصيب شوے خار ځادے

بنايسته لکه گلونه د پسرلی دی
پر هميش لکه بلبل چغار ځادے

که کرم راباندِ کا عبد القادر يم
که حساب راسره کا زيار ځادے

## ۲۱۹

چه حجاب تر منځ ځما ځما د رب دے
اول زه دويم عالم دريم سبب دے

تر شيطان چه لا غليم ځوبر د دين دے
اول نفس دويم شيطان دريم غضب دے

چه سرے پر دوست دشمن وته عزيز شی
اول حلم دويم جود دريم ادب دے

دا در[1] دردخوا به واخلے له دردو منو
اول غوږ دويم ليمه دريم سرويب دے

چه دا درے څيزونه پرېږدی مراد موحی
اول نام دويم آرام دريم طرب دے

---

[1] د آشنا

ودانی د کاینات ده په درے خَیزَ اول صبر، دویم غم، دریم عنب دے

چه مطلوب ته رسوی عبدالقادرَ
اول صِدق، دویم شکیب، دریم طلب دے

۲۲۰

نن مِ بیا تر بلوعثالالو زیات دماغ دے چه ساقی راته ولاړ په لاس اَیاغ دے
چه ئے داغ د غلامئ را باندِ کښیښن اِفتخار مِ په دوه کونَ په دا داغ دے
رنړائی ئے نه په نمر نه په سپوږمئ شی د عاشق د غم د خُونے غم چراغ دے
د امید گلونه زر پژمرده کیږی چه دایم تروتازه دے دیاس باغ دے
د تشویش په تله ئے لا تشویش زیاتیږی فراغت مِ د خاطر په نه فراغ دے
بنه په بنه باندِ مین وی بد په بدو طلبگار د بازو باز، دزاغو زاغ دے

چه دَ خلے وعدے کوے عبدالقادر ته
دا ویل دِ په رشتیا دی کہ دلاغ دے

۲۲۱

د یوه په غولی وِیر، د بل سرود دے چرته غم چرته بنا دی، ددُنیا دود دے
په نور خنُه ئے صحت نه کیږی له دردَ په ہجران کښې د یار یاد د خاطر سود دے
په دیر والی ئے لا غم په سری ډیر شی بیہوده دِ په دُنیا پسے مسبود دے
رنگین شعر مِ مه گڼره خبرے دا روان حمّا د زړه د وینو رود دے

چیرِ نه چه خالی لاس ور ځئے وُوزے
خرید کړه عبدالقادر بازار تود دے

Marfat.com

## (۲۲۲)

نه[۱] پوهېږم چه په څهٔ دِ زړهٔ آزار دے ــ چه دا هسے خپل پردے له مانه زار دے
چه د زړهٔ جفائے وړم ورباندِ سپک شم ــ ګڼړه ګُم سرے له ما نه وفادار دے
وے ئے نن بهٔ آزمايش کوم د نورو ــ سبهٔ حاضرخواب م کړه بندهٔ تيار دے
له پتنګ محبت د شمعِ دېر دے ــ چه اول ئے په زړهٔ بل د مينے نار دے
په رشتيا وَيل دلګير په دروغ خوښ وی ــ همېشهٔ د منافق سړی دا کار دے
عاقل څکه مقام نهٔ کا ترِ تېرېږی ــ دنيا پُل د آخرت دارالقرار دے
نندارهِ م د جهان د چمن وُکړه ــ په هر دم په چا خزان په چا بهار دے

هيڅ پروانهٔ کړم له چا **عبدالقادرهٔ**
په ښکاره نارے وهم فلانام ياردے

## (۲۲۳)

چه په واړه کښليو بر دے ــ هم هغه څما دِلبر دے
برخوردار به څنے ډېر شی ــ سر تر پايهٔ واړه بر دے
مخ ئے نمر شونډے ئے لعل ــ قد ئے سروصنوبر دے
چه قانع په خُشک وتر شی ــ هغه شاه دبحروبر دے

چه په بدو باندِ ښهٔ کا
هغه وُګڼړه چه بر دے

---

[۱] دا غزل صرف په "ح" کښ درج دے په نورو نسخو کښ نشته

Marfat.com

## (۲۲۴)

اِشتیاق د لیدو ډېر دے — د بیان نه حدَ تېر دے
داگمان کړه له زړّه لرِ — چه مِ یار له دِلَ بهر دے
زړّه مِ غوځ کا صورت روغ دے — د هجران عجب شمشېر دے
کَه ژوندون تر هر څهٔ خوږ دے — بے اَشنا زهر گنهبر دے
هوس نهٔ پرېږدی چهٔ ورشی — د غم کوټ تر زړّه چاپېر دے
کشمیر هم په صهبورانو — رنتمبور اَوّ گوالیر دے
د زړّه سوے دے چه بے یارَ — په کُرک یا په بُنېر دے
سترگے[۲] سرے عبدالقادر کا
د هجران په غم کښِ کېر دے

## (۲۲۵)

د رحمت دریاب بغه وَته په جوش دے — کَه دایم ژړا زگېروے کا په خروش دے
"لاَ تَخَفْ" اَوّ "لا تَحْزَنْ" د هغه بخره — چه له دېرَغمَ نېش وربانډِ نوش دے
له پښتو ئے ویره شی له مزری نهٔ شی — چه بے خدایَ ویره کا بےمعنیٰ موش دے
د دنیا په سرائے کښِ ځ و آخرت ته — کاروانو نه ملی لېږدی پوشا پوش دے
چه بهٔ پروت وو لب په لب له شکرلبٔ — نن په څو ل، لتّرو خاورو هم آغوش دے
په[۳] بها ئے دوارهٔ کونَ ورکول شی — کَه پیاله ئے څوک اَخلی مے فروش دے

---

[۱] "اک":- وَ زړّه ته — [۲] د مقطع دا شعر صرف په "ذ" کښِ وموندے شو۔

[۳] آخری څلور شعرونه بسره د مقطع په "ح" کښِ نشته۔

Marfat.com

بیا به نه مومی زنځیر د یار د زلفو ... چه په سر کښې ئے لا پاتو عقل وهوش دے
د سکوت[1] هنر له ګل واخله بلبل ... چه په سل ژبے[2] آواز نه کا خاموش دے
اُس هنکاره عبدالقادر مے نوشی کړه
چه صاحب دِ ګُنه بخش وخطاپوش دے

(۲۲۶)

څه دِ لکه نمر دے تر نسبت ئے نمر مثال دے ... خوک به یسے وایی چه نمرستاد څه مثال دے
هاځے د خدائے د پاره یو دم مه درومه له ما نه ... یو زمان بیلتون د په ما خوار بیلتون کال دے
سخت وی په سړی باندِ نیږدے بیلتون تر لرِ ... یار چه لیده نه شی تر دکن بهتر دیوال دے
خلاص دِ له یوه جنجال نه وم بل را واخلے ... هره زمان دِ ما سره په سل رنګ جنجال دے
وایی چه وبال دے چه نظر کا وَ سپنه څه ته ... ما په دواړو سترګو قبول کړے دا وبال دے
حُسن یو اثر دے چه په محکښن د چاوُشی ... نه چه کړه وړه مینه لری ښځه صاحب جمال دے
دم که م همدم دے هیڅ پکار څما را نغے ... لر چه د لا سه م دِ خاطرکا دیارخیال دے
څه برکت ناک دے د عشق څم ورنه حیران یم ... څو خلق پر مست شه دے لا یسے لااوبال دے
هر چه سو ختګان دی په خاطر به ئے لګیږی ... او رم د سینے چه سروهلے تر معال دے
زړه لری لو نګر عبدالقادر تر بادشاهانو
څه شوکه په کور کښے دنیا نه لری کنګال دے

(۲۲۷)

د هغو چه اور بل شوے په کوګل دے ... د زړه سود ئے د آهونو په وګښل دے

[1] اک ۔ ب م ۔ ادب [2] ذ ۔ رنګ۔

Marfat.com

زړه مې ئې سره بېل کړه نه صبر پرې — بېلتون پسې رنګ لا خير په بېلول دے
زړه مې لا د جدائۍ په اور وړتېږي — که په زړه کښې مې د يار محبت تل دے
څوک څما تر يار ښه دي په خلقت کښې — که جفا راسره کاندې بخت مې خپل دے
ترو په څو به ئې خلاصے له مينه کېږي — په ازل چې اور نصيب څما د دل دے
له يوه چراغ نه دروي بل چراغ ته — پروانه وته وصال څکه حاصل دے

څه باور ئې په يارۍ عبدالقادره
چې چا پير تر هر هر ګل لکه بلبل دے

## (۲۲۸)

د همه ښاديو سر د يار الم دے — چې فرياد ور څخه کاندې سخه کرم دے
خودې زړه هو ښږه ستم کوه دلبره — په تندي مې قبول کړے ستا ستم دے
شکسته په شکسته باندې عزيز وي — څکه زړه مې ستا و زلفو وته خم دے
مکر ستا د څ ثمر وخېژي رنړا شي — کنږه درست جهان په ما باندې تورتم دے
د ښادۍ امېد دې لرې کړه له دله[1] — چې په تا باندې مين شه تل ئې غم دے
آئينه چې ستا د مخ کوري سکندر شي — چې په لاس کښې جام د ميو لري جم دے
عاقبت به مخ تورن لکه قلم شي — هر سړے چې دوه ژبان لکه قلم دے
ترا ئې نه لا پخوا سزا د کړو ده — په معنیٰ کښې ظالم مار دے يا لړم دے

منت بار د يار د خيال عبدالقادره
چې همېش ورسره مل په غرّه په سم دے

[1] دا شعر په "الف" کښې نشته۔

## ۲۲۹

محبت[1] په لوړ په سپين راغلے نه دے — په اصيل اَوُ په کمين راغلے نه دے
صد ساله مؤمن کافر، کافر مؤمن کا — په مذهب په کيش په دين راغلے نه دے
عشق عطا ده اَزلي، چې په چا وُشي — په اِرشاد اَوُ په تلقين راغلے نه دے
بيهوده په عشق کښې خواست کوي د صبر — د دے خواست هرګز آمين راغلے نه دے
په[2] دا تله ئې ښايسته و مزکے ځ شه — په دا شان څوک په زمين راغلے نه دے
په دُکان د عطّار هونبره خلق بند دي — څو په زلفو عنبرين راغلے نه دے

نه تنها عبدالقادر له تازه خوږين وګړي
څوک له تا نه په زړه خوږين راغلے نه دے؟

## ۲۳۰

د خاطرِ له اَندوه څه اَندوه دے — په سيلئ جُنبش د کاه شي، نه دکوه دے
خالي لاس، د ننه زړه ئې دک له مينه — بے پيوندَ آزاده عجب ګروه دے
د فقير له غمَ څه، چه غم ئې وُسي — په خاطر د دُنيا دارو غمَ اَندوه دے
چه خبر ئې شي له مکرَ څنه تبنتي — د دُنيا ياري، ياري مه کړه درده دے
مال[3] و مُلک حشمت ئې هيڅ پکار وا نغله — هر باد شاه له دُنيا لاړ په آه و اَوه دے
مراد بخش مراد وُنه موند، نامراد لاړ — سينه داغ څنے جُدا دارا شکوه دے
خُسرَي د شاهجهان، جهان پرے نه شوه — اورنګزيب به څه خوبنې کاندِ که يوه دے

---

[1] دا غزل صرف په "ح" اَوُ "اک" کښې شته - په "ب،م" اَوُ "ذ" کښې نشته۔

[2] دا شعر په "اک" کښې نشته۔ [3] دا آخري درے شعرونه په "ح" کښې نشته۔

Marfat.com

(۲۳۱)

نه یوازې د لاله په سینه کې دې — په دا باغ کښې چې بې کې دې ښخه کې دې؟
چې په تخت د قناعت د پاس کښېناست — کمینه بنده د ده کاؤوس اؤ کې دې
هرچې ووړې ښخه ستا شي لور به پرې بوډې — دا دُنیا د مهمانۍ ښا کې دې
په صورت ئې پرهار نه زړه م سوړې کا — د هجران په لاس کښې ښه ناوکې دې
چې به خوئ د رکښې پیدا شي زر ئې ورکه کړه — بوټې وخېژي له مرکې څو تنکې دې
په ورکړه ئې مه شه خوښ بیا به ئې اخلي — دا جهان تر هلک لا په خوئ سپکې دې

گنډ ستا په فضل خدای عبدالقادر شي
په طاقت کښې خو هر کوره تپکې دې

(۲۳۲)

بېهوده د چا په چا باندې هائې دې — په خپل ځان که ژړا کا د ژړا ځائې دې
گزشته عمر همه په لهو تېر شه — آینده که به دا شان ئې ځما وائې دې
که د جاه که د عزت که ځوئې د روزه — زړه پیر مه تره عاقل تشه نمائې دې
محبت د مولا کړه مولا باقي دې — په فاني چې محبت کاندې بې رائې دې
نن سحر صبا بلبل ته نصیحت کړه — ښخه گل ورپسې غواړه چې دېرپائې دې
د هوا په اس سوره په فهم د روسه — په دا لار چې هاتیان نښلي ښه لائې دې
لاف د خدائې د بندگۍ محکوم د اورو — د هرچا چې حکم وي ښه دې خدائې دې
که ئې شپږ اقلیم وي چې اوم غواړي — و ښخه ته بادشاه مه وایه گدائې دې
د همائې د سیوري څه پرواه لري نه — چې قانع په خپل قسمت شه خود همائې دې

Marfat.com

د هغه شهسوار پسے وُره عبدالقادرُ
چه د اَس ئے د فلک د پاسَ پائے دے

## (۲۳۳)

*کهٔ په ژبه دِ نُوُم نهٔ اَخلم بیچرے — په تتش نُوم بهٔ دِ هُم سودکوم دِلبرے
اسے له سترګو بیرته، هرزمان زړهٔ ته حاضر — نه له تا زهٔ نرِیم، نه تهٔ ځما نه لرے
*د زاهد د سترګو آب هم په ځائے دے — څو ئے سترګے باندِ نهٔ دی برابرے
قرارے آرام ئے ورک شی تل تر تلَ — چه په زړهٔ ئے ستا د غم شتیَ شی سَرے
شونډے ستا لکه نابات هسے خوږے دی — تلخ ویل ځنے نه بنائی لب شکرے
کهٔ م سیخ په سترګو بنخ کا خدائے دِ نهٔ کا — چه بهٔ سترګے کړم له تا نه لرے برَے
د بنړو سیوره دخار په زړهٔ څرخبږی — له حیا چه کوږ کوږ ګورے نازپرورے
د خطا د مُلک نافے واړه خجل شی — باد چه ستا زُلفے خورے کا مُعنبرے
*کهٔ دِ چبرِ د آشنا په کوی ګُزر شی — د صبا بادَ ځما سلام پرِ ورے
*زهٔ بهٔ څهٔ ځنے صانړه کړم، یَوُ زهٔ نهٔ یم — په غمزو ئے خلق کړے ډېرے

خُشک وتر عبدالقادر د دُنیا پرِښول
ورته بس دی وُچے شونډے، سترګے ترے

## (۲۳۴)

زهٔ که په رنګ بد یم کښلیه عار وَلے له ما کړے — چارے د قسمت دی زهٔ ئے زشت تهٔ ئے زیبا کړے
یوُ ځلهَ بیا راشه په ګلونو ګُزر وُکړه — اے د صبا بادَ چه بیا نخښتی غنچے واکړے

---

۱ دا شعر صرف په "ی" کښی دے۔ ۲ * دا خلور شعرونه په "ح" کښی نشته

Marfat.com

گل دِ په هجران کښې صد پاره خپله سینه کړه — سرے دِ له فراقه لاله سترګے په ژړا کړے
وے له شیدا بلبله څه چار با یسے ګله! — ته په دا خوبۍ هم دده نارو رسوا کړے
لا خوشبوئ ورکا عوده چه واچوے واوره — زه به وفا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړے
ته د حسن نمر ے دا نور کښلی لکه ستوری — کل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړے
تل لباس وایے درویجن عبدالقادره
کشکے بل تر دده نه مخلص یار چیرِ پیدا کړے

## ۲۳۵

لا مانړے دِ زړے نه وی نوی بیا کړے — خدائے خه غم لره له ما سره اشنا کړے
یو زمان راسره نه ئے بے جفا نه — په هر دم راسره سل رنګ جفا کړے
نه دِ ویره شی له آه نه شرمیږے — په هر څه چه زه څښبرم بیغه زا کړے
له اغیار سره ناستے په مجلس کښې — چه ما ووینے روان شے راته ښا کړے
وایم مه خانده بل چا سره زه سوزم — ته څما له کُشته لا زیاته خندا کړے
هم را خوږیه تیره تیغ د تغافل کړے — بیا ویل کړے له نا خواله چه خوږیجا کړے
په ترخه ویل مِ کله زړګے بینه کړه — که په بتو خوږو خبرو عار له ما کړے
چه په ژمنه د راتللو درویجن ے — دا د نه راتلو وعده وے رښتیا کړے
بے تا نه وینم په سترګو لا به کله — په دیدن څما ړندے سترګے بینا کړے
یو ځل راشه څما خوار کره میلمه شه — چه په راغله مِ د غم خونه رڼا کړے
چه د حینے لاف کړے عبدالقادره
لوید دا چه ترکه خپله مدعا کړے

Marfat.com

## ۲۳۶

بیا دِ زُلفے پہ فلبلو سرہ تر کړے — کم نیک بخت وی چہ بہ غنچے معطر کړے
لہ نظرہ م پہ حال کړہ ذرہ تمثال یم — پہ دا شُکر چہ ئے تہ دحُسن نمر کړے
باد گرد ئے د کوڅے رالرہ راوړہ — چہ محلت م پہ عنبرو معنبر کړے
شُکر خدائے لرہ چہ سرۓ کړے دکبنلیو — بیا لہ پسہ ئے ځما د زړکی سر کړے
بوۓ بہ ستا د محبت ځنے روان شی — کہ پارہ م د نافے پہ دود ځیگر کړے
پہ نازکو ستونو بار د پالو مہ ږدہ — خدائے چہ شونډے تا سرے پالوگا کړے
صنوبر غندِ پرِ زړونہ اوبزاند شول — پہ سینہ قد ئے پہ مثال دصنوبر کړے

سر ئالہ لرے سوومن عبدالقادر تہ
کہ پہ تور د محبت ئے چرتہ ور کړے

## ۲۳۷

پہ ورځ[۱] لاف وہے د سولوځا پتنگ کړے — پہ ماہنام چہ چراغ بل شی ځاپہ څنگ کړے
پہ راحت کبنِ تل ځما پہ غنچوکبنِ پووتے وہے — پہ نکہت کبنِ اُس ځما لہ یارئ ننگ کړے
د یارئ اول قدم سوافقت دے — د ملنگ یار ځان بویہ چہ ملنگ کړے
د نظر صیقل سینہ ځ وتہ کتل دی — لہ نظرہ م بہ کلہ لرِ زنگ کړے
آشنا ستا لہ بے رحمئ م زړہ ځوی — زہ حاضر لہ بیگانو سرہ جنگ کړے
خفتگان بہ د قالین پہ رقص کړم شی — کہ تر غوږو ئے د پایلو نرے شرنگ کړے
ستا پہ لاس د غمزے تورہ زہ تسلیم یم — بیا پہ کُرم گناہ ځما لہ وژلو ننگ کړے

[۱] دا غزل پہ "ح" کبنِ نشتہ۔

Marfat.com

نور به یار پسے جاے په خاورو رنګ کا ... ما په تا پسے په خپلو وینو رنګ کړے

باله لاف د عشق کوه عبدالقادره

که په یار پسے جوړکور د دُنیا په ننګ کړے

## ۲۳۸

نه چه د واړه سترګے تُدے په کجل کړے ... سپه چشے د کشمیر واړه خجل کړے

د چوړے آواز دِ لا عقل رُبا دے ... څه حاجت چه په داریال کښے جلا جل کړے

خاورے شوی ګُلرُخان مِ زړه راياد کا ... نن نارے د نوبهار په ګلو جل کړے

ګُلَ! کښکه په دا باغ راغلے نه وے ... ځما زړه به د فراق په لمبو جل کړے

لکه خوک د لاله زار په سبل دروی ... و سره اور ته به درځم که دے بواجل کړے

د هوا لړے دِ پرپوتے په سترګو ... چه په پسے سمه لار کښے دے اوجل کړے

بَر ورځ عبدالقادر نصیحت کا

که ته غوږ په وعظ کړوینو د اجل کړے

## ۲۳۹

ربِّ ستا قدرت کمال دے که کرم کړے ... وران کا رُونه مِ به ساز په يوه دَم کړے

حَتم زه، حَتم مقصود، څه ځما کار دے ... په زمان پوره کارونه د عالم کړے

لکه غر په سرے بردی لکه خس اخلی ... سپک درانه کارونه واړه سره سم کړے

د بمه چارو اسباب درته موجود دی ... ستا ګدا ئے بادشاه ګدا ئے د او ئے حشم کړے

په قدرت پسے نور يو سے له آفتاب ... ستوری و برپښی عرمه جهان نور تم کړے

---

ا چوړ، چوړے - ۲ دا غزل په "ح" کښے ونه موندے شو.

د بر بناد من په عشرت درستنه شپه کا رونړه په صباح د عشرت په ځائے ماتم کړے
شپه له ورځ را پیدا کړے ورځ له شپے نه
وَ مُرده ته ورکړے دَم ژوندے بےدَم کړے

(۲۴۰)

لا به کله باران وُکړے، چه به سوی بوټی شنه کړے
ستا وَ رحم وَته ګوری، په کریابو رحم وُکړے
په درګاه درته پراته دی، هم له تا نه په غوښته دی
ستا وَ داد ته په کا نه دی، په خپل دادے زړونه ښه کړے
نامراد که په مُراد وی، که بنادمن وی که نابناد وی
واړه تا ته په فریاد دی، د همه و زړه ته کړے
مُسلمان که کافران دی، عاصیان که مطیعان دی
رزق خوروِنی ستا د خوان دی، رزق له هیچا دریغ نه کړے
پیدا کړے آتش له خسَ، ورځ پیدا د شپے له لمَس
بنکاره شهد له مګسَ، په قدرت وِ ینے شوده کړے
چه په چا نه شی په تا شی، چه په تا کیبری په چا شی؟
په حیرت ورته دانا شی، رب هسے رنګ کړه کړے
زه عبدالقادر بدکار یم، معصیت کړم ګنهګار یم
بیا له تا نه اُمیدوار یم، په خپل فضل م زړه ښه کړے

(۲۴۱)

Marfat.com

چه یوځل ئې د غمزې په تېغ زخمي کړې — له احوالہ ئې بیا وې بې غمي کړې
ستا په راغلو م د خوږ خاطر صحت شي — په خالي راتلنه بیا بې رحمي کړې
یوه ورځ به د ذرّه تور کاندې له مانه — چه غماز سره دا همبره محرمي کړې
ځما ذرّه لکه غمي وو د یاقوتو — د ازل نقاش ته ئیک په داغمي کړې
شیخ ! درغلم سرې شونډې سترګې تورې — راته څو د پارسایئ محکمي کړې

په هر دم د منت بار یم د یار غمه
چه له دم سره م بیا همدمي کړې

## ۲۴۲

محبت په کمبلیو کا تمام وکړې — چا دا اورد دې بنکاره کړې څونغرې
ثمره ئې خواه مجاز خواه حقیقت دې — په انسان کښې ئې کړې د عشق زړې
ځما داغ عارض نه دې چه به ورک شي — د لاله غنډي م داغ ځاتي راوړې
ګل ګریوان په نغمه خیرې د بلبل کړه — نسیم نه دې ګریبان د غنچې سپړې
را به ووزي عاقبت د غم له چاه — چه نیولې ئې په لاس د مینې پړې
نه دې مرد چه واخلي ورکا مرد هغه دې — چه ګټي په خپلو غړیو پوخ کا غړې
چه څوک نه کاندې آزار نه له چا اخلي — تر کسری نر حاتم خان هغه تېرکړې
که سفله ښتن د جاه شي په دا څه شو؟ — په معنی بربوکي پورته کړه خسرې

زه **خټک** د یار په غم تازه شم
غوریه خېل رحمان که شو ور څه سترې

## ۲۴۳

Marfat.com

ما د ښینې خوی له ځای دے راوړے — تهمت اُس را بانډِ وابی عام وکړے
په ښخه نَفَس کۀ وُخپژی راضی یم — چه م بے د یار د یادو سره نغړے
مُرده دِل دِ له سینې نه زړهٔ بېرون کا — یَوُ ساعت په کور کښېنِ نۀ پرېږدی څو مړے
مینه چه رازم د خپل یار وَته ښکاره شو — نه اَغیار نۀ چه هر چا وَته ئے سپړے
ستا د رحم تر سیلابَ پورِ څهٔ دی — دا څما گناه مثال لکه خسړے
په مانړے ئے ښځه هم را څځنه یَوړ — چه راپا تو وو د صبر خمړے پړے
جمعیت چه له دنیا په دنیا غواړی — ښځه غړی په معنیٰ د شلګو پړے
په حرص به ئے نۀ کم نه به ئے زیات کا — خپل قسمت ئے دے هر چا له ورکړے
په خاکونو به ئے دا گلِ صد برگ شی — چا چه زړهٔ پاره پاره وکور نۀ وړے

کۀ درست عمر د یار غم عبدالقادر کا
خدائے دِ نۀ کا چه بهٔ شی ورځنے ستړے

## ٢٤٤

دا څۀ خوی دے مبایستُوُ عادت ستا — چه همېش وی له عاشق شدت ستا
سرومال ښندل زینت د عاشقانو — عنایت، مهر، نمنځنه زینت ستا
نتیجه ئے نور څۀ هیڅ نۀ وی بے سوزَ — په معنیٰ کښېنِ لکه اورځ قربت ستا
چه پتنگ غنډِ ځان وسوزی اِیرے شی — هم ښځو ته میسر شی وُصلت ستا
د حرفونو لوښنے تنګ معنیٰ وی ډېرے — په بیان نۀ ادا کېږی صفت ستا
گل څۀ، خارو خس به هم واړه خوشبوئی — کۀ نسیم په چمن راوړی نکهت ستا
چه شاعر ئے له څۀ څیز سره تشبیه کا — همېره نۀ وی نزاکت لطافت ستا

ح: په سحر

Marfat.com

ترحم ئے پہ اَحوال څۂ خو بایدہ دی      چہ ولاړ وی سپہ اَو ورځ پہ خدمت ستا سے

کلہ توان عبدالقادر لری د شعر

وَیَوی م ہمبرہ د پر محبت ستا سے

۲۴۵

کۂ مښکارہ شی درو ہشانو عزت ستا سے      کہ ایان بہ شی شاہان پہ دولت ستا سے

د دُنیا نوبت، نوبت پہ نوبت درومی      ہمیشہ وی بے زوالَ نو بت ستا سے

څۂ شوُ نن کۂ مُ څوک نۂ پرہیږدی وَدَر تہ      خبردار[1] دی پہ قدرو قیمت ستا سے

صبا ورځ چہ اجتماع د خلایق وی      پہ ہرچا بہ شی ظاہر منزلت ستا سے

ہم سخہ بہ د نجات پہ لور روان کا      چہ پرِ شی مہربانی عنایت ستا سے

عم اندوہ شہ پہ نصیب د دُنیا دارو      فراغت د زړہ خوبنی پہ قسمت ستا سے

ستا سے ہمبرہ د پرحُرمت پہ جِل صاحب دے      چہ بہ نور شی پہ عزت پہ حرمت ستا سے

پہ نصیب بہ د ہغو شی چہ نیک بخت وی      د دوو کونو سعادت دے خدمت ستا سے

د راحت اُمید کویٔ اہلِ محنتو!      خدائے بہ نہ کا ندِ ضائع مشقت ستا سے

مددگار د گنہگار عبدالقادر شئ

گندِ بیاموی خلاصے پہ ہمت ستا سے

۲۴۶

لکہ زۂ پہ یار مفتون یم، بل بہ نہ وی مفتون ہسے

لکہ زۂ ہسے محزون یم، بل بہ نہ وی محزون ہسے

---

[1] "اک" - "ب م" - خبردار نۂ دی پہ قدر و قیمت ستا سے -

Marfat.com

پرون غیږ په غیږ له یار سره نن تر منځ نه نرِ مُلکو نه
دا انصاف د زمانے دے چه نن بیسے پرون بیسے
په قیامت به هم په هوش د محبت لیونے نه شی
چه به روغ شم بے دیدن ځما نه دے جنون بیسے
خط په مخ د دلبر راغے شور د زړه په ښهر کښ شو
چه د حُسن بادشاه لیږدی د دے خط دے مضمون بیسے
آئینه د خپل زنګون وَ ماته جام جهان نما شوه
څکه سر لرم ټل ییښے د فکرت په زنګون بیسے
په کا ته د سترګو زړه وهے په خبرو ځنے صبر
د جهان په مخ به نه وی سحر بیسے اُفسون بیسے
د دُنیا په دشمنیٔ کښ عیسیٰ وُخوت و اسمان ته
په دوستیٔ کښ ئے لا ځی تحتُ الثّریٰ ته قارون بیسے
د ژوندون فایده داده چه دیدن کوی د ښکلیو
چه ئے دا فایده نه وی مرګ بهتر تر ژوندون بیسے
دا غزل په پښتو ژبه چه بیان عبدالقادر کړه
دروغژن یم که بے ځانه وایی بل یَوَ پښتون بیسے

(۲۴۷)

څه په سیل د باغ لاړ ته ئے چه راشے
چه مِ وُوینے له وُرایه په خندا شے
زه له شوقِ استقبال ته دروان شم
ته له ما غاړه غړیٔ خوا په خوا شے
رنګارنګ د باغ ګلونه مېوے راوړے
ماجرا د تلوراتلو وایے ګویا شے

Marfat.com

کهٔ په زړهٔ باندې م غم و اندوه پروت وی — په نَفَس ئې تار په تار کړے غم رُبا شه
زهٔ دِ دړسته شپه ځېر ځېر وَمخ ته کورم — ته ناظر و خپلو پښو ته له حیا شه
چه خوب ورشي سر ځما په زنگون کښېږدې — د غُنچې غُنډ اُودهٔ په غېږ ځما شه
زهٔ دِ مخ ته نظر کړم په ورځ ورځ ژاړم — چه آخر به یوه ورځ له ما جُدا شه
ځما اُښکے په رُخسار دِ تا پرېوځي — وینې له خوب لکه گل په شبنم بیا شه
په رویمال م اُښکے وُچے کړے داد راکړے — زهٔ فریاد کړم ته ځما په دلاسا شه
تېښتوے ژړا ځما د زړهٔ د پاره — چه عزلیو زور درباندې وُکا په ژړا شه
زهٔ تر تا مړے مرگ غواړم ته تر ما نه — زهٔ وَ تا ته، ته وَ ما ته په دُعا شه
ښے ملک لره ځما مینَ لا ړے — چه به کله لا په خوب کښې راغما شه

وی به کله دا ساعت عبدالقادر
چه له یارَ مشرف په وصال بیا شه

## (۲۴۸)

هم هغه م دے دا داغ په ځیگر ښے — چه ئې خال دے په سپین مخ د دلبر ښے
په قامت د مؤذن قیام په څو کړم — بنا یسته م په وُرانهٔ باندې سَر ښے
د لویې په تخت به هغه قدم کښېږدی — چه له سره ئې د کبر افسر ښے
هغه یار په صورت حُور په خوئ فرښته دے — مصلحت ته ئې پرِ نوم د بَشر ښے
د بهشت به بستر به اوړ ورځ گندېږی — چه پهلو ئې د نهشتئ په بستر ښے

غم هوس ئې د هجران د وصال تول کړل
پرِ ئې نوم دے د جنت، د سقر ښے

Marfat.com

## (۲۴۹)

خزانه دِ ده دکور دننه یَش یے [۱] ... ځکه مار غُندِ تا وېرے ځره وَش یے

همنشین د نفع نۀ مومی بےزیانَ ... په بد فعل بد خصلت دکاڼدیش یے

په تش کش لکه هوسیَ راځنے ترپلے

له یاریَ مِ دِ توبه سته چه دکښ یے

## (۲۵۰)

مرغلرِه وُلیدَه شوه په پېزوان کښے [۲] ... کۀ غوټیَ وَه د شبنم په ارغوان کښے

د خطا د ملک کبلی ئے دواړه سترګے ... ءچه تل ځرکا په سُنبل اوُ په ریحان کښے

ستا د وُروځیو تشبیه نۀ مومم په دور ... لېز و ډېر مِ دے موندلے په اَسمان کښے

ځۀ نسبت د یار د غابښو په کو ہرو ... دا په نس کښے د صدف غایښ په دهان کښے

چه له شونډو ئے نسبت کړۀ سخندانُ ... شرمندۀ شۀ لعل نَنوت په کان کښے

د لذت بیان ئے څوک کولے نۀ شی ... د جنت د خوږو خوند ستا په لبان کښے

ستا رُخسار وته حیران د خدائے وکړه ته ... چه وېښته ساقی لۀ اورَ په اَمان کښے

تماشے مِ د جهان د ګُښلیو وُکړے ... نشته تا غُندِ یوُ ګُل په ګُلستان کښے

په دا شُکر چه اوږدے زُلفے ئے دوکړے ... پرِ وُکاږه ډوب په چاهِ زنخدان کښے

حاضران د حیرت ګُته په خُله لال دی ... غایبان دِ تمثیل راوړی په بیان کښے

سترګے غوږ عبدالقادرُ دواړه بند کړه ... دا ښځۀ بۀ دواړه وُوینے په ځان کښے

---

[۱] دا دے غزل صرف دغه درے شعره دی چه په ټولو نسخو کښے وموندے شول۔

[۲] دا غزل صرف په "ک" کښے وموندے شو۔ په "ذ" "ب م" او په "ح" ده دے وارو کښے نشته۔

Marfat.com

## ۲۵۱

په حسن نه دی دا کښلی ملوکے — ترو ئے وے ښورے حورے شوے مملوکے
عاشق تر زړه ئے وویستو منګلے — دواړه سترګے ئے شاهین باڼړه ئے نوکے
فراق په نیزو زړه سورے سورے شه — چه ښکاره ئے کړه و ښنتو تر زنی سوکے
هجران له درده هیڅ سرے خلاص نه دے — څوک په ورو ورو آشنا ژاړی څوک په کوکے
به کله د چمن په لوری راپیشے — چه دِ پَست تر قامت شی سروِ ښوکے
ئے وته میانه ځموږ دلبر — و نور خلقو وَته پربښی لنړے ښوکے
اقبت به خپل بدیره کړی ککره — چه په لوری د آسمان غورزوی توکے

په جفا ئے صبر کړه عبدالقادره
په جهان کښِ کمبلی نشته نیک سلوکے

## ۲۵۲

هرگز به درست جهان کښِ نورے سترګے — لکه ستا لیدلی نه دی تورے سترګے
بیهوده په غزاله وُ بیسه کرزے — ځما یار لره راځه که ګورے سترګے
فایده ئے د سینه څخه لیدلی نه وی — د ښغو سریو بینے دی کورے سترګے
ورد مشوم شی له پیره نه له میره — ستا به دور به د چا نه وی سپوږ سترګے
ثابت ئے تر نظره ستیاره شی — چه ئے سروی کرزیدے تورے سترګے
په جهان م پرلیده په سترګو لا پرشه — نور م خدا ئے کړه له عالم پورے سترګے
دے سترګو به ئے خبر عبدالقادره — نه کړے نور په خپل مخ کړه پورے سترګے

ط دا شعر په "ح" او "ذ" کښِ نشته، په "الف" او "ب" م کښِ نشته.

Marfat.com

## ۲۵۳

صدقه شم ساقي ستا تر پیالے | چه د خلاص کرم د جهان له کشاله
چه ډېر ډېر د جدايئ د غم ژاړم | په رخسارو کښے م سارے شوے ناله
په ياريئ کښے به ناله صادق بالہ شے | چه ترمرګ د ياري پت وپاله
يار ښه چه په محنت کښے ياري وکا | ډېر ياران دي په ساعت د نواله
محبت د عاشقانو عظيم کوټ دے | پروا نه کا د پيغور له اتاله
ساحران ئے د چشمانو دين ايمان وړي | سحر کړ که زړونه وړي د بنګاله

په بنګاره نارے وهه **عبدالقادر**
په خاطر کښے به څو غم د عشق کاله

## ۲۵۴

نن سحر صبا نارے وکړے بلبلے | د بهار زېرے کاوه يوے په بله
دے وے زېرے م درباند خزان تېر شه | بهار راغے پانړے وښيوے وله
وارد غم د محنت تېر شه خوشحالي کړه | د غنچو غنډ خنده ننوتله
اُس را دو مه چه په ګلو باند ګشت کړو | لور په لور د ګل غوټيئ دي غوړيدلے
وے ئے تا د بهار غم ليدلے نه دے | هم بهار په ما لمبے وکړے
د خزان د بهار ورځے راته يو شوے | چه م دواړه تېريدولي وکنړے
له دے پسه به پسرلے په ځان حرام کړم[۱] | د خزان خوبئ م زيا تے وليدلے

---

۱ دا الفاظ په "ح" کښ دی او دا سے بنکاری چه لکه مبنا علی حبیبی د ځان نه لیکلی وی۔ ځکه چه دلته په قلمو لسخو کښ دا الفاظ کېږو د لیکلی شوی دی منا بیے او موزونے معنے نه ورکوی۔ لکه په "ب م" کښ دی له متاے۔ په "اک" کښ دی "له بستانه" او په "ذ" کښ دی :۔ "د بېست ناے"۔

خوشحالی به لکه زہر در بنکاره شی کۀ د غم پیالے دِ یوٗ ځلی وُڅښلے

نصیحت عبدالقادرؔ ځنے واخله
دا وینا بدیلو تا وته و بینه

(۲۵۵)

ے په حُسن تر ہمه کښلیو اوَے بیا دِ وا ځښتے نا ستائے په لاس ولے
په وار وار د دپرو زلفو دور تیرشو ستا په څو به تل پرتے نه وی وُل ولے
دا سبق چه تل له یار سره جفا کړے راته وُوایه له کمُ مُلا لوے؟
عشق سر دِ سلامت وی کښلی دپردٗی چه سر وِی په جهان بوے نهٔ دی خوے
درلو بہیرم په خبرو م تیر باسے چه ویلے شی دا بیسے مطوے

لا د عشق اوُمه لرے عبدالقادرؔ
چه د یار د جفا زار کوے یا څوے

(۲۵۶)

خود کرده بهٔ مانړه کا له نورو وے دٗه په خپلہ په خپل ځان کړے لمبه بلے
هٔ مقصود ته رسیدهٔ په عنایت شی وے نه بویه سستی له سعی ځلے
ذره شیم چه وریار کرم ستا له لاسَ ستا له جورَ د عالم بیپنے دی چلے
عاشق کمال سوختن دی دپربنه وُشو چه پتنګ د عشق په اور څه چلے بلے
په وصال ئے یا نصیب څوک مشرف شی د وکړی پیسے وُختلہ تلے
شیخ لوړ ځا لوبه یاری به نه کړم په دُعا کهٔ آشنا بیا موسم دا ځلے
موند و وسواس ئے مه کوه طالبَ کهٔ دِ پینے و طلب نه دی د واړه څلے

Marfat.com

په دوه کونه به سرخروی عبدالقادر شی
که ئې وینه شي د يار له لاس تله

۲۵۷

حال م تا ونه معلوم دے تر م وینه
چه ژوندون م دے د خپل مین په مینه
عشق م ځائے په رګ او پے کښ ځاونیو
تر به ووزی ناله چه ووزی وینه
دا زهوب ځما د زړه له داغ دروی
که م سرے اُبنه له ستر‌ګو ئې که پیینه
چه د غند زړه ئې خوړ شی زړه م خوړ شی
چه خبر به شی ځما له پینه خوږینه
چه صفت د کوثر کاند رنځوران دي
ستا له خطه لاړے ترې ځد دی شیرینه
ملوکان ئې هیڅ له قدر خبر نه شول
ترعلمل دی ٴ عباری جامه مینه
په کوږ کوږ کاته ئې شیخ غلط نه شه
سل فتنې لری لا ستر‌ګې سترګینه
د نګاه په تبغ د ځغ عبدالقادر کړه
پرمرهم د ښوندو کښېږده زړه سنګینه

۲۵۸

داچه نور بناپسته ماته یاد وے
در پو هیږم بیا ستم بنیاد وے
پے له دے چه مدعی یم ستا د مینه
نور به کم ګناه وماته زباد وے
چیر نه وی چه ما هم ورسره خلاص کړے
چا وے نن چه خپل بندیان ازاد وے
انتظار ئې د مبادی اندوه دو تا کا
لا به کله اندوهګین دل ښاد وے
چه آخر ئې بیا هم ته په مزکه توئے کړے
باد ګل د چمن څه کشاد وے
په خالی فریاد به هیڅوک فرهاد نه شی
ترځان تېر شه که خپل ځان فرهاد وے

Marfat.com

ستا دا خوئ، فلک! اُس شه دے ځائ دے | چه ابله د زمانے په مراد وے
چه خبر په حقیقت د علم نه یئے | په لږ علم ځکه ځان اُستاد وے

لږ حجاب عبدالقادر ته دغه واخله
که بنیاد ئے د هستئ برباد وے

(۲۵۹)

ته چه زلفے په رُخسارو شورو ے | در په هېږم جهان شورما شورو ے
چه دِ وا غُټے د خیال جاے کلکو نه | خپل مین په سرو لمبو نسکورو ے
زرکے! سر ځا د یار په قدم کښېږده | که خوبئ له رفتار پورو ے
هغه ځ چه د وصال په غوږو غوږوی | د هجران په تاؤ ئے وے سپورو ے
که د عشق په تورم وُوژنے راضی یم | ځما عشق د سر په ویره لورو ے
سپین غاښونه په خندا راله راشه | که به ځ د رقیبانو تورو ے

بس دے، یؤ د آشنا غم عبدالقادر
نور غمونه باندِ څه تهندورو ے

(۲۶۰)

دریغ بیا په کلو کښت وکړے صبا شو | چه په باغ کښِ رنګارنګ کلونه واشوے
د شبنم پیالے ئے نوشِ لبالب کړے | له مستئ د هر کل قمیص قبا شوے
تور بورا تر هر هر کل قربانېد ے | د بلبلو په هر لور باندِ غوغا شوے
ځما ځ له یار کښېناست یؤ ځله | د بیلتون غمونه وار په ستا شوے
که په کانړی د بیلتون میده شم څه شو | د حنا په دود خو وصل ستا دپا شوے

Marfat.com

ما به ځان لکه پتنګ ترِصدقه کړه ــــ که چراغ ئې د جمال رانه تما شوے
یار له مانه لا وما وته نژدے دے ــــ که تر میان حجاب پاره پاره دِ ما شوے
"زهٔ" "اوٌ" "تهٔ" په محبت کښې نهٔ ځائيږي ــــ زهٔ اوٌ تهٔ له منځٔ وُوتے یکتا شوے
خودی پریږده نور راځه عبدالقادرهٔ
که دِ زړه دے چه زهٔ ستا شوے نهٔ ځما شوے

(۲۶۱)

چه را بسے رنګ په لغته دچیل نس شو ــــ ځکه بند د غافلئ په قفس شوے
شهبازان په دغه دام کښېوتے نهٔ شی ــــ نهٔ د غنړی په جال بند لکه مکس شوے
چه هوا دِ غورزوی هورے تهٔ دروے ــــ بے وقار په خوښیک ترخاوروخس شوے
که په اور د محبت وخپسر وُسوے ــــ لغه پس به ژوندے لکه ققنس شوے
چه دِ وُپیښتی خوک هاله څه وُوایه ــــ بے هنګام وياند څه لکه جرس شوے
که پيښتی عواړے ځان کم کنړه تر بله ــــ هم به هاله پيښتی بيا موڅه کړپس شوے
چه اَسره دِ وُو لسان هاله دِ عم وو
هوس کړه عبدالقادرهٔ چه بيکس شوے

(۲۶۲)

چه وېلے مِ هرګز راخبر نه شوے ــــ ستا له غمٔ درستے شپه ژړا چغارے
راشه ګوره ننداره کره څه رنګ لګ دے ــــ ستا د غمٔ غشے دِ ما په زړه لګارے

---

ا "اک" وبلئ وُسو.

۲ دا غزل صرف په "ذ" کښې دے - په نورو نسخو کښې وَنهٔ موندے شو.

Marfat.com

چه وُکاږے ئے هرګز سهیدے نه شم د غمزے توره په میان کښې کړه خونخوارے
تا چه راکړه زه پرِ بے حسابَ مستَ شوم سپینُ خله په دواړو شونډو شکر بارے
په منځ منځ به ئے و هم پرے به ئے نږدم زه به ستا په غلیم وُکړم بیسے چارے
چه ئے وازه کړے هر ګوره بنایسته شی په خندا کښې سپینَ خله پری رُخسارے

کلک ئے وُنیسه په لاس کښې چه خلاص نه شی
دِما زړه که دلداری کوے دلدارے

## ۲۶۳

پښے برمنډے سر برمنډ ګریوان پاره وے په طلب ئے په مُلکونو اَواره وے
پَستنه شوے د دُنیا له کارو بارَ نا ګڼرے نا شمارے هیڅ کاره وے
له دے عقلَ هیڅ فایدهٔ حاصلَ نه شوه لا یعقل د لیونیو په شماره وے
د اَشنا د غم په سیند کښې م شنا کړے د جهان له سَوَسونو کناره وے
د عالم په نیک و بد غرضی نه وے بے خوابَ بے جهتَ بے چاره وے

په هر ځائے چه ګښلی وے **عبدالقادرَ**
په حیرت ئے د جمال په ننداره وے

## ۲۶۴

تا یاری له مانه پرېکړه که پښېمان یے بیا رادرومه هغه زړه هغه م ځان یے
هیښتَ حما د باغ زرغون طوطا وے اُس خبر نه یم طوطا د کُم بوستان یے
که طامع په سریر پاس کښېنې ګدا ئے دے که اَرزو وَته دِ شاکره لور سلطان یے
غم اَلم به درته نه رسی اے یارَ که د ځلے ژبے هر کله پاسبان یے

Marfat.com

(۲۶۵)

یار را ځنې لاړ شه اُس به کړم ګُفتګوئے — ګلاب د ګلاب لاړ شه بوئ اخست شي له بوئے
ځو وته نظر کړم چه رایاد د اشنا مخ شي — نوی میاشت ته ګورم چه رایاد ئے شي ابروئے
پاس[1] کښېږده قدم په سر ځما د چا مبېل ګلَ — سپین نازک په مثل ته ځما د یار په روئے
یا راغلے د یار د کوځے یا راغلے له خلدَ — اے د صبا بادَ! ته چه دا رنګ خوشبوئے
ښندۀ ئے ونه مۀ شے چه فایدۀ ترمونده نۀ شي — وُنه شه باردارۀ د خپل یار په ملن توئے
غم اندوه په بخرۀ د ښخو چه عاشقان دی — خوش ګرزه زاهد چه له عشق ئے بېخوئے
نۀ شتائ[3] وسپو ته د انسان خبرے بزد ګے — ته چه له رقیب سره مدام په ګفتګوئے
واوره بله نښته داوبنا وایه خر ګنده — یا به ئے خله کښېنل کړم یا به وینے کړم رتوئے
زر[2] کے د خجل کړے تر یا نۀ پورِ ګل واره — ته چه په انګنر کښې په خرام په تګ و پوئے

ستاد ژویل نۀ ده ځاځله **عبدالقادر**
ولے ئے دا ہیسے د حرص په حله ژوئے

(۲۶۶)

اے چه په قد سرو کړے په ښۀ مخ ګلزاره یے — ته په دا ښایست دلم نېک بخت نګاره یے
سره نمری اُ غستی، و نول زلفے ستر ګے تور — خَبر دِ وی! بیاد چا په تاخت تیاره یے
بېخوک دِ د مخ د ښایست نښته په جهان کښې — ہی توبه له تا چه ته د ډېرو یاره یے
تل دِ دواړه شونډے په نوشل د وینو سرې دی — زړه په چا نۀ سوزے ته یوځه خونخواره یے

[1] "ب م" - "اک": ـ ځه رنګ م ښه یشے په باغ د چمبېل ګلَ.

نوټ: ـ شعر نمبر ۲، ۳ او ۴ په "ح" کښې نشته. د "اک" او د "ب م" نه اخستی شوی دی.

حُسن دے کہ خیال دے کہ دماغ کہ مکبرونه — تہ پہ دا خویونو پہ عالم اوچاره یې
نہ مِ پہ بل ښکلی نظر کړے نہ پہ گل دے — بیا پہ کُم گناه دا ہسے شان ازاره یې

خه رنگ بہ باور ستا پہ یاری عبدالقادر کا
یو ساعت مِ یار بیا پہ بل وېزاره یې

## (۲۶۷)

گاه پہ خانقاه کښې کہ مقیم پہ میخانه یې — ہیڅ درنہ پوہېږم چہ عاقل کہ دیوانه یې
کله له ہندو له مسلمان سره خپلوی کړے — کله له ہمه واره عالمه بېگانه یې
تہ کہ لیونے د آہو چشمو مینے نہ کړے — ولے شپہ او ورځ لکہ غرځه پہ ویرانه یې
وایی رانہ وایه چہ د جان کہ د جانان یم — ځار شم ستا تر سترگو ہم مِ جان ہم مِ جانانه یې
شونډے دِ یاقوت دی مرغلرے سپین غاښونه — سرتر پایه درست د بادشاہانو خزانه یې
څوک دِ لہ لیدو څوک لہ خبرو مرادمومی — څوک دِ لہ وصاله د ہمه خلقو ستانه یې
باغ دِ خه پہ کار دے خود دِ مخ لکہ گلزار دے — یار لره راغلے د گلونو پہ بانه یې
لږ بہ ستا لہ مینے پہ رموز درته ووایم — مینه پہ اروېدو کہ د مجنون پہ افسانه یې

مے دِ دخپل یار د شونډو ښنبلی دی پوہېږم
ځکه پہ ویل عبدالقادر مستانه یې

## (۲۶۸)

تہ خه ہسے بے نظیر دلبر نہ یې — چہ ښکاره پہ درست جہان لکہ نمرنہ یې
پہ ہر کلی پہ محلت خبرے ستا شی — ہسے نہ چہ پہ عالم کښې سمرنہ یې
پہ پیاله چہ شونډے کښېږدے نوعسل شی — بیا بہ وایی چہ پہ شونډو شکرنہ یې

د سپوږمۍ بنا یست په ستورو نه زیاتیږي — حاجتمند د لعلو د دروګوهر نه یې
اسمانونه م د آه په لوګی تور کړل — نه لا هیڅ څما له سوز خبر نه یې
که د زړه دے چه تونکر شے طمع پرېږده — څو د طمع چانه شته تونګر نه یې
پهوره کچکول شړۍ خو دېر متاع دے — څو د ستن په کنډ کښ شته قلندر نه یې
په جهان د ګله بوئ د خوبۍ نه ځي — چه بېدار لکه غنچه په سحر نه یې

سبنه غزل درته بیان **عبدالقادر** کړه
له معنو ے لذت واخله که کرنه یې

(۲۶۹)

چه دا ہسے ہوشیاری کړے مجنون نه یې — لا په څه د بنا یستو مفتون نه یې
بیا به نه مومے وصال د الف قدو — چه په مینه کښ لا خم لکه نون نه یې
ستا په سترګو م سوګند دے خپل یار — چه یو دم م له خاطر بېرون نه یې
د رقیب وېل اثر درباندې وکړه — مهربان نن په شان د پرون نه یې
عاشق شوے پېچا نه یې معلومیږی — چه په غم د عاشقانو محزون نه یې
په جذبه د عشق م وخلوے ځان نه — ما موندے په تعوید په افسون نه یې

څو سخته د زړه لرے **عبدالقادر**
ټمبره تاؤ د عشق زغے ځنے ستون نه یې

---

ط "ب م": چه په بنګلیو پسے ځے ځنے ستون نه یې۔

Marfat.com

# رُباعیات

Marfat.com

# ا

## ۱

په دهر هوس ئې سره آشنا کا
په درد او دوک ئې ځېله جدا کا
چه دا احوال دے په دا دُنیا کښې
څوک به څهٔ مینه د زړهٔ په چا کا

## ۲

زړهٔ م له رشک هر کوره درد کا
چه کږوے چارے فلک کج کرد کا
جوانمردان ناست دی آښونه سرد کا
ذوق او هوس د دُنیا نامرد کا

## ۳

ذکر هغه دے چه ذاکر فرد کا
دننه زړهٔ ئې ذکر په ورد کا
کهٔ مے د ذکر باندِ غالب شی
دواړه جهان وربانډِ سرد کا

## ۴

چه په نابود دُنیا اعتبار کا
د پښېمانئ ژړا بار بار کا
چه لږ غبار ئې په خاطر نهٔ پسندے
هغه به خاورے په تا انبار کا

## ۵

سړے هر کوره طمع درازه کا
چه ورته نهٔ رسی، هسے آغازه کا
په څلوېښت کال کم زیات، چینی شی
پلاو ئې خمیر کا، هسے ئې سازه کا

## ۶

ساقی راپاسه ګل غوړېدنه کا
نعره ونه به بهار زرګنره کا
که روکه نهٔ وی چه شراب راوړے
صوفی به خپله خرقه ګانړه کا

Marfat.com

(۷)

نن ګانده چرخ عجب څانګونه کا چرګان ککړے چرګے بانګونه کا
له مستۍ وازده ترورې کیده نه خوری نورے په غار کښې مزرې پړانګونه کا

(۸)

چه هوشیار نا ست وی نادان خبرے نه سپے دے تمبړې خوک دے ګرے کا
چه څوک ئے نه پوهېږی خاموش دِ وُسی که هرڅو نوئے تر خُلے شکرے کا

(۹)

ناراسته بنځه غنم اُربشے کا لا تر پیغاړې اُربشے تشے کا
پیشو تِر پئ څټی دا ورته کورې تمبره پرِ نه شی چه پیشو پشے کا

(۱۰)

له زمکه خپل کېږه پاره کا حال د نغرلیو ورته سبکاره کا
خوب و خوراک به له خلق ولاړ شی تمام جهان به یوه ناره کا

# ب

(۱۱)

دېر شُو غمونه دېر شُو آشوبَ زړګے په غم کښې سترګے بے خوبَ
که دا ځلی وُشی په عشق کښې سوبَ بیئ توبه توبه له میَن توبَ

# ت

(۱۲)

په ورځ توبه کړم په شپه ئے ماتَ لا اِ شی مینه په بدو زیاتَ
شکه نور بایده دی چه توبه کار شم له دے توبے نه څه زیان و ماتَ

Marfat.com

(۱۳)

مهٔ کړه هیڅ اته ګله له بخت مراد نهٔ موی هیڅوک بې وخت
شُکر وُکاږه په هر احوال کښې بلا ئې لاده تر بلا سخت

# د

(۱۴)

اے د بې زادو د لارے زادٔ د نامرادو د زړونو مرادٔ
محتاج یم مهٔ کړه د بل وَ در ته راکړه وَ ما ته له خپلٔ دادٔ

(۱۵)

ستا په دوران کښې اے بې بُنیادٔ نامراد بهتر دے تر بامرادٔ
په خندا ورکړے په ژړا راځي[۱] څوړ توبه دهٔ له هسے دادٔ

(۱۶)

اے چه په غږ وړے خوبی له وردٔ خالی یٔو دَم نهٔ یم زِ تا له دردٔ
نهٔ بې آسیبٔ بهیٔ سبب وُسے کهٔ تر نارنج یم چهره ده زردٔ

(۱۷)

څوک چه بې خدای غیر محبوب کاندِ باطل اِختیار کا واړه ناخوب کاندِ
غیر به پرېږدی کهٔ د زړهٔ فهم وُکا په ضعف الطالب والمطلوب کاندِ

(۱۸)

لکه عامل ستول ترخاورو لاندِ عمل هم ورک ستو په زمکه باندِ
اُس په خبرو پړَول وُړَول دی دا بیت بازیٔ دی عالم ئې کاندِ

---

[۱] "۹۳": واخلے "۹۴" راپیږے.

Marfat.com

(۱۹)

چه به ترِ نۀ وُو کلونه لانڈِ خوب بۀ ئې نۀ شو په پالنګ بانڈِ
اُس په لحد کښې پرانۀ په خاوروڈی پرِ زرغونۀ شول ګنډیری سپانډِ

(۲۰)

زار شم قربان شم د پلار تر پندَ راته ئې وُوے ځما فرزندَ
لذت د ورکړے تر ساتلو ډیر دے خو ئې خبر نۀ دے ممسک له خوندَ

(۲۱)

راشه کۀ ګورے سری بے پندَ بندی په لاسو په پښو بے بندَ
په رنړو سترګو ړانده دی نۀ وینی ښنوا غوږونه کانړه له پندَ

ر

(۲۲)

بیلتون دِ سخت دے په ما تر نارَ پکښې وُرتیږم د خدائې د پارَ
یَوُ دم له ما نه مه جُدا کیږه له تا قربان شم مینَ یارَ

(۲۳)

چې بے تا پاتیم بیل شوِیَ یارَ ژوندون هرګور دے په ما دشوارَ
ډیر ښۀ په غم کښې د اَشنا مړه وُو کۀ د چا مرګ وے بے خپلَ وارَ

(۲۴)

څۀ زده بے نیازو دِ تا په قدر سپی لا عنیا کا چه میاشت شی بدر
کۀ کښلی واړه لکه کلونه شی نه د ګلاب یې نور کل د بدر

Marfat.com

(۲۵)

په چا چه مهر کړے په چا چه قهر　　زهر[1] نا زهر کړے ، نا زهر زهر
بحروبر دواړه د تا په حکم دی　　په بټ[2] ئے لار کړے په بطے نهر

## ز

(۲۶)

په زړه مزري ، په سترګو باز　　له ناز ډک ، خالی له نیاز
ترتالا کښلی ، فلک بدرنګ کړه　　زنهار بخپل خوبی مه ناز

(۲۷)

که هرڅو خوږ یے د کښلیو ناز　　تریخ شی چه تېر[1] شی زیات تر انداز
که په لذت کښې شکرے ښے دی　　په ډېر خوراک کا بلا درساز

## ش

(۲۸)

درد دِ مه وینم ساقی مهوش　　په شونډو مېئ په مخ آتش
له خاص خُم خاص ے رانوش کړه　　زړګے م خلاص کړه له غل وغش

## ښ

(۲۹)

ښکارېږی تا ته دُنیا په سخ کښې　　خوځو ښناوے لرے په مخ کښې
په کانړی ؤکا ، اثر خبره　　تاثیر ایځ نه کا په ساړه سخ کښې

## ع

(۳۰)

---

۱ "ب م" :- زهر یا زهر کړے زهر یا زهر　۲ "ب م" په بسبطه لار کړے ، په قبطی شهر

Marfat.com

ځوانمرد ښځه دے چه لکه شمع — د ځان په سولو مجلس کا جمع
وبل د پاره که په خندا وی — په مخ ئے دروی باران د دمع

ک

(۳۱)

اَرمان اَرمان دے کجرو فلکَ! — عینِ په زړه ده د هر چا لکَ
ستا له گردشَ خونه دِ ورانه شه — د جدایئَ تبره کسزلکَ

ګ

(۳۲)

مین رایاد شو د تا له رنګَ — که یَوُ درنګ کښینه ځما تر څنګَ
که اَشنا نه ئے دِ اَشنا ښاٗ لرے — ځار شم قربان شم تر تا ملنګَ

ل

(۳۳)

پرچه له ځانَ سره مِ ښځه لیدل — خوئے که ورونړه، وارهٔ مِ وُلیدل
ښځه په ښچا نهٔ شیَ نفسا نفسی ده — ما ځپل بے خدایَ ښځوک وُنهٔ لیدل

(۳۴)

سپین مِ د بویرے په لورو زوورشول — زړونه د کښلیو راځنے نوَر شول
چه په ځوانئُ کښِ ځما پرِ فخر شهٔ — ښځه کارونه مِ اُس پښغور شول

م

(۳۵)

خوارَه . حیرانَ بنی آدمَ — صوُرت دِ روغ دے تمام له غمَ
ژوندے غمجن یے، مُرده غمجن یے — راغلے مهٔ وے کاش له عدمَ

Marfat.com

(۳۶)

فریاد فریاد دے لہ ہغہ دمہ    چہ رابنکارہ شی اجل لہ ہمہ
ما بہ یوازے روان کا گور لرہ    پہ ډیر ارمان اوپہ ډیر المہ

(۳۷)

زہ پہ خپل ملک خو یو خپل زرہ لرمہ    ہم ہغہ مات دے چہ روغ ئے نہ لرمہ
کہ دِ پکار وی درتہ پیشکش دے    دریغ ئے خدائے مہ کړہ چہ لہ تا زہ لرم

(۳۸)

ځکہ لہ دردہ ځبلہ شورم    باران د وینو لہ سترګو وورم
وار مِ د ښکلیو دلیدو تیر شہ    پہ خال و خط ئے پہ چشمو ګورم

(۳۹)

خلق ګرم نہ یم کہ وینے وورم    شپہ ورځ لہ دردہ و بلا شورم
محروم د ښکلیو لہ ننداروشوم    چہ چشمے ښکنیږدم خال وخط ګورم

(۴۰)

خندا[1] لہ تا نہ تل پہ ژړا غواړم    ورکړہ دِ خوئ دے، زہ ئے پہ دا غواړم
لہ مصرو واخلہ د سر حرفونہ    تہ ئے کړہ جمع ہغہ لہ تا غواړم

(۴۱)

ترڅو بہ یارہ لہ تا نہ صبر کړم    یا ږم بہ یار شے یا بہ ځائے قبر کړم
عشق مِ پہ مثل د خونی ببر دے    زړہ، تا پہ خلہ کښں د خونی ببر کړم

(۴۲)

زور کړم ځمونږ د آشنا زور کړم    لہ کل ہوس ئے د دُنیا سوړ[2] کړم
څو څو تاوونہ را باندِ تیر شو    لوڅ ږم ئے وُچ کړہ ہجران نجوړ کړم

[1] دا رباعی سوال دے۔ اوجواب ئے ګوری پہ رباعی ۱ پہ ردیف "ے" کښں۔ [2] "ہم"۔ موړ۔

۴۳

کۀ ھیشے کول کړم عالمَ نۀ پیژنم  بیا تر عالمَ اَشنا سبنه پیژنم
دا اَشنا نۀ دے د اَشنا رنګ لري  کۀ اَشنا راشي اَشنا زۀ پیژنم

۴۴

کۀ نور ہیڅ نۀ دی چہ مَریۓ ستا نوُم  بس دے وَماته چرته له نا دروُم
تۀ بۀ څما غُندِ مریوُنه دیر موے  کله بۀ تا غُندِ صاحب زۀ بیا موُم

۴۵

الله مِ رب دے، زۀ ئے مربوب یم  بنده د دۀ یم، که خوب ناخوب یم
غرق به اُبوکښې کله اُبۀ وینې  نعمت ئے نۀ وینم پہ نعمت ډوب یم

۴۶

زۀ ہیسے نۀ وایم چہ نیکو کار یم  شیخ یم، عالِم یم، یا پرہیزګار یم
تۀ پہ ویلو څما ځان پاک کړه  زۀ کۀ ناپاک یم ګنده مُردار یم

۴۷

د یار له غمَ پہ زړۀ اَفګار یم  له غمَ څۀ وایم دردمن یم خوار یم
پہ زړۀ دردمن یم ہرګور بیمار یم  اَفګار یم، خوار یم، بیمار یم، زار یم!

۴۸

کۀ ہرڅو خوښ یم دردمن پہ زړۀ یم  قوّت مِ ابر دے د خواب نۀ یم
چہ یارمِ وُیښتی" وایه څۀ حال لرے؟  خواب ئے ورکړم وایم چہ "سبنۀ یم"!

۴۹

د یار له غمَ، خالی یوُ دَم نۀ یم  ہیڅ ساعت نۀ دے چہ پہ ماتم نۀ یم
پہ زړۀ مِ زخم پہ زخم کیږی  کۀ آه فریاد کړم ولې پیه ګرم نۀ یم

Marfat.com

۵۰

بد یم، دا نۀ وایم چه زۀ ښاغلے یم په مرېې والی د تا دا غلے یم
مرګ رم قبول دے شپړل دِ نۀ وی تښتے بنده یم، در ته راغلے یم

# ن

۵۱

د میرو میرَ د خانُ خانَ د جهانیانو جان و جهانَ
دا رنګ لوئ به الله روزی کړے کۀ وے نېک نیتَ اَوُ نېک زبانَ

# و

۵۲

فخر لوئ کا خلق، په بدو په بد خصلت شول، بتر تر دَدو
رَد شول رسمونه کا، شرع ئے پرېښوۀ رَبَ ما مۀ کړے په شمار دِ رَدو

۵۳

حسد په زړۀ کښ د بے حسدو اور دے، تِرِ بویه حذر بخردو
چه له مقبولو سره د ښنے کا بغه سرے دے په شمار د ردو

۵۴

ژبه عادت کړه په ښو خبرو خبرے ښے دی، ښے تر شکرو
د خوند مثال ئے شکرے وایم قدر ئے ډېر دے تر مرغلرو

۵۵

سۀ دِ ویښم په سترګو لورو په خلۀ ځا ئے په زړۀ د نورو
غول دِ په نورو یارانو وخوړل زۀ دِ غلط کړم په کیسو سپورو

۵۶

Marfat.com

خه زده په قدر د لعلو کورو — زه دِ قربان شم تر سنزګو تورو
که کښلی جمع د درست جهان شی — ته دِ خا یې نورے د نورو

۵۷

له خپل بخت وچا ته زار کړو — د چرخ ناسازے وچا ته شمار کړو
دک دے د کښلیو د کابل ښهر — سمبره خه نشته چه یو تر یار کړو

۵۸

ځوانی چه ولاړه بیا نه ځوانیږو — وبهار شو بویه چه ودانیږو
په مخ استواځی د طلب راغله — تا سے خدائے سره ساته موږ روانیږو

۵۹

په اوراډونو د خلور قلو — عنوایم له خدای فرحت د ګلو
صحت د ځان د یارانو واره — کښلی دلبره ښیښه د صُلو

۶۰

لارم و باغ ته په نیت د ګلو — د پربکونو آواز بلبلو
د ګلو دَ ستے م له لاس پرېوتے — بے رنګ مست شوم لکه په ملو

۶۱

نسیم چه راوړه د باغ د ګلو — بوئ د دلبرو د ښنو کاکلو
له ښغه بوی هم ګل بوئ دارشه — هم بانډ وکړه مینه بلبلو

۶۲

مه کړه وکړه سامان د تللو — بخوا تر ښغه چه د بللو
استوائے راشی چه اُس رادرومه — وخت د حساب دے وخت د تللو

۱ ب م: اُس چار ښه بویه چه ودانیږو ۲ ج: آو اک :. کړی د ستے م

۶۳

بندی په تار یم د دوو زلفینو
مست ئې په جام یم د دوو عینینو

د طهور مے به بانډې نرخه لګی
نوش ئې چه مے کړل د شفتینو

۶۴

که عقل پوهه که تیغ که دبګ وو
په پښتانه کښې د خوشحال بېګ وو

زړه ئې همت وته په شمار د سلو وو
زړه ئې سخا ته د صحرا ریګ وو

۶۵

چه ننګی لښته وے وخت د نماځ وو
هر حرکت دِ ځما په رائې وو

چه ښنا م شو شوخ شوے تېرتر ښځ غواړے
محنت م واړه ضائع بے ځائے وو

۶۶

عمرم تېر شو واړه په لهو
بدی په قصد کړم نیکی په سهو

تُف په دا عقل لکه ځما دے
جنون بهتر دے تر هسے صحو

ه

۶۷

اے بخه شاه چه دِ وزیر نشته
ستا له درګاه دچا ګزیر نشته

ستا له کمال فضل امید لرم
که په تقصیر کښې ځما تقصیر نشته

۶۸

دا چه ښکار یږی که دا هم دا ده
دا په ظاهر په باطن کښې دا ده

دلے سورے ئے خلاصی نصیب نه شی
چه خوار شی خلاص شی دے له داو

---

ل "اکب آو ب م" — خلاصی نصیب شی۔

Marfat.com

۶۹

پیخ نهٔ پوهېږم دا څهٔ بلا ده     چه لګیا شوی په زړهٔ ځما ده
لرمون مِ سوزی قرار مِ نهٔ شی     اور دے کهٔ مینه د دِلرُبا ده

۷۰

ځوانی عاقل ته لکه دُنیا ده     پیری په مِثل لکه عقبا ده
چه څهٔ عمل ئے په دُنیا کړے وی     د هر عمل ئے په پیریٔ جزا ده

۷۱

نادان بهٔ وایی مینه آسانَ ده     چه مِینه کا ندِ مَینه ئے ورانَ ده
په نام و ننګ کښِ د سرشِندَ نهٔ شی     له نام و ننګَ وَتنه ګرانَ ده

۷۲

نن په دا مُلک کښں عجیبَ چِن ده     په رنګ د حُورو په خوی دجن ده
په سوال کښں هوکے بے له نه نهٔ کا     پیخ نهٔ خبرېږی د چا له جِنده

۷۳

په زړهٔ مِ ستا نه اندېښنه ډېرَ ده     واړه خوښی مِ له دِلَ بهرَ ده
هرچا ته تېره ده دُنیا بود نهٔ لری     اُس پرِ پښهٔ پوه شوم چه تحقیق تېرَ ده

۷۴

لَب مِ په خوب کښں د دلبر وُلیدَه     ډیر مِ نرلعل و تر یاقُوت سرهٔ وُلیدهٔ
چه وِیښں له خوبَ شوم سترګےمِ وُمښه     پوُرمِ له وینو دواړه ډمهٔ وُلیدهٔ

۷۵

یارمِ په خوب کښں دېر رنځوُر وُلیدَه     ځمَ مِ په اُښنیو د فراق سوُر وُلیدهٔ
په خواب نامه مِ د دے تعبیر وُکته     د دهٔ صحت مِ د زړهٔ سرُور وُلیدَه

دا رباعی صرف په "ځ" کښں په ګښان ده - د دغه رباعی وُګوری په ردیف "ی" کښں ښنه — چه په داسے نښان ليکل شوی ده۔

Marfat.com

۷۶

د دُنیا ناوی کۀ ہرڅو کښلی دہ — پہ اُوہ رنگ زیور پسوللی دہ
نور دِ ئے آخلی بہرہ لہ وصلَ — موږ پہ اوجاړہ مَینہ بیولی دہ

۷۷

شیخ بیہ ما باندِ د رب د پارہ — نظر د مہر څۀ خو کُمارہ
عاجز یم توان د ځمونږ نہ لرم — نور م ځمونږ وَتہ مۀ سپارہ

۷۸

شابش شابش محبوبَ تالرہ — راغلے پہ خپلَ د عاشق خوا لرہ
د عاشقانو ځنځنہ مَینہ کوے — خدائے دِ تر ډیرہ پہ دا دُنیا لرہ

۷۹

واروہ دا پند د ہوښیارو وروره — تل ئے د زړہ پہ غوږونو ژغورہ
د ہرکار وخت ښتہ خبرہ ځائے لری — وارخطا مۀ کړہ وَ وار تہ گورہ

۸۰

ربَ لہ غبرو چارو م وُژغورہ . — باران د فضل راباندِ وُورہ
زۀ کۀ بدکار یم لایق د ناز یم — تۀ ځان تہ گورہ وَ ماتہ مہ گورہ

۸۱

اے پہ ہیڅ خوښَ پہ ہیڅ دلگیرہ — دا وینا واروہ لہ ما پہ ځیرہ
ہیڅ خبر نۀ یے چہ څۀ یے څۀ بہ شے — وے غافل یے د ځان لہ وِیرہ

۸۲

ہرڅوک چہ یو کا زړہ ځنہ خپلوارہ — دویم پہ نیت ښی ثابت لہ وارہ
کلہ کۀ ورځے پہ دین دُنیا کښِ — تاوان ئے وارہ ځما پہ غاړہ

Marfat.com

٨٣

له دېر څۀ درکا وربانډ مۀ ویاړه — له خدای نور څۀ بې خدای مۀ غواړه
ژړا د قُرب ژړا د بُعد ده — وَ خدائے ته ژاړه ، له خدای مۀ ژاړه

٨٤

دا پند له مانه په زړۀ کښې یاد کړه — څو چه دِ وَس رَسی مُروت داد کړه
زړونه د هرچا په احسان ښاد کړه — آزاد بنده کړه ، بنده آزاد کړه

٨٥

ربه! په کار مِ د نېکو کارو کړه — په رُوی مِ عفوه د پرهېزګارو کړه
عمل د نېکو راځنې وُنۀ شۀ — حوالی مِ تېره په خوشیو چارو کړه

٨٦

ربَ د لُطف نظر و ماته کړه — بې تا مِ مینه له هر څۀ ماته کړه
چه صورتونه ځنې پېدا شی — نظر د مهر په ځاځکی ماته کړه

٨٧

پېمرمِ ، چه حل ئے واړه اِشکال وُسه — په دواړه کونَ خُرّم خوشحال وُسه
دا نصیحت بۀ ئے راته همېش وایه — چه خوش له خدایَ په هر احوال وُسه

٨٨

له کښېبیه[2] وُچاوده وخت د صبا شۀ — په هر مسجد کښې اَذان اَدا شۀ
راشۀ[3] چه کښېنو دِ کرم اُس بۀ بیلیږو — په ځان حموږ صبا بلا شۀ

[1] دا صرف په "ح" کښې ده.

[2] "اک" :- شپه شوه چاوده ..... — "ج م" :- ځیرے شوے ..... 

[3] "اک" راشه ځنله راکړه ..... "ب م" مېنه راشه چه سره ژاړو.

۸۹

راشه راشه ښايسته راشه — ځما د غم د جونګړے رڼا شه
په ښخے لارے چه ته را درومے — د ښخے لارے بلا په ما شه

۹۰

چه باوجود د پیرۍ مرید شه — صدیق[رض] تر نورو ځکه مزید شه
عمر ئے تېر کړه په عبادت کښې — په لږ کبر ابلیس مرید شه

۹۱

بل م په زړه کښې د مینے اور شه — ځکه فریاد کړم روزګار م شور شه
د یار د سترګو سیاهی پرې پرېوته — د صبر صاد م په سترګو کور شه

۹۲

غم پر هر کوره د هجران زور شه — دننه زړه م راځخه خور شه
راغلم ناګاه په آشنا کلیو — کلی هغه دی عالم ئے نور شه

۹۳

د غم لښکر م تر زړه چاپېر شه — خلاصے ئے نه شی اوس پکښې ګېر شه
سرائے د غمونو دے خه شو که یو ځل — د خوشحالئ کاروان پرې تېر شه

۹۴

د جدائی مدت د ډېر شه — زیات تر حساب تر شمار تېر شه
هېر شی له دل چه ولاړ له سترګو شی — نوم م دِ یاد دے رنګ م دِ هېر شه

۹۵

که سنه خوراک وو خوراک هم ډېر وشه — که سنه پوشاک وو پوشاک هم ډېر وشه
رب اوس راکړے د دین خوشئ — که ډېر ژواک سنه وو ژواک هم ډېر وشه

Marfat.com

— ٩٦ —

مه شه چه جاه ئے په افزونی شه    سفله فرعون یا قارونی شه
د مردګانو په غوښو مست وی    ورځنے ځان ساتی ګیدړ خونی شه

— ٩٧ —

په لارے تللم په مخ را غله    په مخ تر ګل ښایسته آغله
داغ ئے بیا لوے را باندې کښینښ    ځما خاطر ! پیدا یے داغ له

— ٩٨ —

هیڅ نه پوهیږم چه لا به کله    بندیان آزاد کړے څښتن خپله
حاجت د ځله د عرضونو نشته    ته خود خبر یے ځما له دِله

— ٩٩ —

فریاد فریاد دے له هغه دَمه    چه رانښکاره شی اَجل له همه
ما به یوازے روان کا ګور له    په ډیر اَرمان اَوُ په ډیر اَلَمه

— ١٠٠ —

نه ما ځه کړی دی نه به ځه کړمه    چه راکوے ئے هغه کومه
نوم د ژوندون م نوم د علم دے    مریم عالَم مریَم مریمه

— ١٠١ —

په مجالس کښی بیرون له همه    دا اَواز وُخوت د خُم له فَمه
چه زه هم ستا غمِ مخمور ځلے وم    ځما له حالَ مه شه بے غمه

— ١٠٢ —

لکه اَرواح حق له چا له ځانه    چه جُدا کیږی آشنا له مانه
بیے ساعت دے بلکه تر دانه    په ما لا سخت دے تر له تا نه

ملا دا رباعی صرف په "ح" کښ ده۔

Marfat.com

١٠٣

چه زړه راياد کا تېر ساعتونه    اوښکې م توئې شي په رخسارونه
وار د دلبرو د ديدن تېر شو    اُس م نصيب شه ساړه آهونه

١٠٤

دريغ دريغ واړګون ګردونه    د ښځې له مرد کړې دوستي له دونه
په نااهلانو باندې عنبر لوڼې    لوڼې په اهلو پاندې ګردونه

١٠٥

واه واه سرير د تا کارونه    په خپل حکمت کړې څه کوپارونه
په دام له سينده ماهي وکاږې    په دم له سورې اژدر مارونه

١٠٦

مونږ پانده يو ځوبڼ فعلونه    همسا ګلګونې دي ورپسې ځونه
که فعل سپنه لرې اندوه ېې ځ مه کوه    که لار کوهې لري يا ګرنګونه

١٠٧

په وخت د ګلو اوّ د ګلونه    ځائې ئې کاوه شي د زړه دننه
چه بهار تېر شي خزان پرې راشي    بېسه رنګ سوه شي لکه څوک غنه

١٠٨

چه دا نا سازې د چرخ زخمونه    لرمون م درست شه سره کړمونه
يو ئې جدا کړو له خپل ملک    بل ئې راپېښ کړل د عشق غمونه

١٠٩

صينه خو رنګ صره لرينه    خود به پوهېږې چه ئې کوينه
کله تر وارو ترخو ترخه شي    کله تر وارو خوږو شيرينه

Marfat.com

۱۱۰

چه رم به طمع د دُنیا چاته شوه ‏ ‏ ‏ له همه وارو په وار وار ماته شوه
اَشرے د خپلو پُردیو پاته شوے ‏ ‏ ‏ اُس رم یواځے اَشره وَ تانه شوه

۱۱۱

چه حاضر نهٔ وی ورځنے بنهٔ وایه ‏ ‏ ‏ کهٔ هر څو بد وی ورته لیمه وایه
کهٔ لږ ډیر عیب په یار کښې وُوینے ‏ ‏ ‏ چه مخامخ شی ورته ئے وُوایه

۱۱۲

ثنا د کُل شی، له کښلی بُویه ‏ ‏ ‏ صفت د مرد شی له نیک خُویه
اَہل به نهٔ کا ستاینه ہیچرے ! ‏ ‏ ‏ د کُل له رنګ د مرد له اُویه

## ی

۱۱۳

یار رم کهٔ هر څو راته ناساز وایی ‏ ‏ ‏ پرے خوشحالیږم چه ئے له[۱] ناز وایی
چه راته وُکا بنیرے شکنځلے ‏ ‏ ‏ وایم کهٔ تل ئے راته باز باز وایی

۱۱۴

عام و هر چاته شُبنتن د ساه وایی ‏ ‏ ‏ په تخت چه کښینی ورته بادشاه وایی
ژوندے ښخه دے، بادشاه ښخه دے ‏ ‏ ‏ چه تل په[۲] ژبه اَلله اَلله وایی

۱۱۵

اُروے[۳] بلبل د بہار څه وایی ؟ ‏ ‏ ‏ چه ہمیشه نه پائی مینه پرے نه بنائی
نن خو د ګلو ښایست کمال دے ‏ ‏ ‏ دریغ تر ګاندهٔ پورے کهٔ وُپائی

۱ "اک" :- اَز روځے نازوائی. "بم" :- از راهِ نازوائی — " ۲ "ح" :- په ژبه کښے.

۳ "اک" یلیله د سحر "بم" بلبلهٔ دا بہار....

۱۱۶

چې ښه وي خلق ورته ښه نه وايي ۔۔۔ ښه دي چې بد وي ورته ښه ووايي
نظر په خدائے کړه خلق مه ګوره ۔۔۔ که درته بد وايي که درته ښه وايي

۱۱۷

څه شو که پيښے دي د دواړو پيئ ۔۔۔ د غوا' د غوا دي' د شپې د شپې
پاک ځائے بويه له پاک ځائ ۔۔۔ چې واخلي حمل ځنے سپينې

۱۱۸

د غم لښکر م په زړه هر دم راځي ۔۔۔ يو تلے نه وي بل پرے پسې راځي
په خوب کښې کله ښه ساعت وليدې شي ۔۔۔ اند پېښنے زور شوے سخه سم کم راځي

۱۱۹

باران وريږي، څوبکے ځاځي ۔۔۔ نسيم راوالوت سنبل پرے ناځي
اسباب د عيش واړه موجود دي ۔۔۔ ساقي نه ګورو که دے راپاځي

۱۲۰

دا سنبل نه دي وپيښته مشکباردي ۔۔۔ دا لاله نه دي کښلي رخسار دي
دا نرګس نه دي سترګے دکښليو دي ۔۔۔ چې خاورے شوي په خپل خپل وار دي

۱۲۱

په زړه م هومره نمونه ډېر دي ۔۔۔ چې م وختونه د خوشئ پېر دي
دردمنئ روغ نه له دردمه وايه ۔۔۔ وايه وماته راباندې تېر دي

۱۲۲

چې فرمايلي د خدائے رسول دي ۔۔۔ واړه په سترګو ځما قبول دي
په بل څه اېه ، څوب څه کار دے ۔۔۔ چې بانده کار لري ظلوم جهول دي

Marfat.com

۱۲۳

دشمنان دی کهٔ ئے دوستان دی — واړهٔ آفت د سرې د ځان کوی

شنے دوستۍ له هیچا نهٔ کا — په دین دُنیا کښې سخه کامران دی

۱۲۴

یار ځمونه څه هوصره نهٔ دی — چه ئے ووایم خو هم پټ ښهٔ دی

حق بهٔ لورکړم اَخته په زړهٔ کښې — هم بهٔ ئے زهٔ ساتم د نوروځهٔ دی

۱۲۵

چه پکښې ښې ښهٔ صورتونه دی — ځکه په مزکه ښکاره ګلونه دی

قدم پرې وُرو وُرو په احتیاط ږده — دا نورے خاورے کښلی مخونه دی

۱۲۶

یوَ دوه ورځې د دنیا ساتلی دی — چه پیر وَماته ترخُلے یستلی دی

سینه بے خدایَ په هیچا مه کوه — بے خدایَ ځینے واړه باطلے دی

۱۲۷

هرچه د هجر مزری داړلی دی — کهٔ ساه پکښې وی، په مړهٔ شمارلی دی

لارے د تلو د راتلو بندے شوے — غایب له سترګو په خدایَ سپارلی دی

۱۲۸

دا دوه خبرے ځما په ځائے دی — پرې بهٔ پوهیږی چه روشن رائے دی

مقبول د خلق وَ مردود د حق ګڼړه — مردود د خلق وَ مقبول د خدائے دی

۱۲۹

هنرمند دے هغه حاسد لری — اَغزی ګلونه، رقیب شاهد لری

له بهٔ ښهٔ یشی د بومو زاغو — باز چه مسکن د شاه په ساعد لری

واړهٔ آفت د سریه په ځان دے۔

۱۳۰

بحر خاموش دے سیلاب غُرغُر لری — سیلاب تش لا سے سیند دامن پُر لری
د سیلاب کېږه له کانړیو ډکه ده — بحر په کېږه کښِ قیمتی دُر لری

۱۳۱

بادشاه چه عدل انصاف تمیز لری — خدائے به ئے د لے ہُوسے عزیز لری
چه دا خویُونه ورځنه نه وی — آخر به خوار شی که نور هر څیز لری

۱۳۲

هر څوک چه عقل دانائی هوش لری — راز به په زړه کښ همېش سرپوش لری
تنها به هم نه کا د راز خبرے — که هیڅوک نه وی دیوال هم گوش لری

۱۳۳

ځنے هوس کا مینه په باغ لری — څوک مے پرست حاجت د ایاغ لری
دا دواړه گروه بوالهوسان دی — عاشقان مینه د زړه په داغ لری

۱۳۴

چه شجاعت کا دُنیا په کف لری — نوم به د نېکو په هر طرف لری
هر چه حاصل کا دا دواړه خُوی — هغه میراث د شاه نجف لری

۱۳۵

مردان په سوال کښ د سائل نعم لری — چه لن لما و لا و ما لم لری
لکه په لن کښ الف محذوف شه — هسے به ورک شی که ډیر نعم لری

۱۳۶

د گل له غمه بلبل فغان لری — گل له خزانه خاطر پریشان لری
دا گناه ستا دے د صبا باده — نه ئے گلونه نه ئے خزان لری

Marfat.com

۱۳۷

تقدیر دریاب دے موږه خسړی　　پہ حال ہیڅ نۂ یُو چا خبر کړی
چہ دا دریاب مُ بۂ چرتہ بیائیَ　　ہُم ئے لہ کُمَ لوریَ راوړی

۱۳۸

یار مِ کۂ ہرخو و سرتہ لوری　　قہرو ستم کا ہمیش مِ زوری
لا تر دا زیات مِ وارہ قبول دی　　خو یَوُ دِ نورو وَتہ نہ گوری

۱۳۹

سحر سحر چہ نوبت غږیږی　　دا رنګ آواز کا کۂ څوک پوہیږی
چہ زۂ د بل وُم، بیا بۂ د بل شم　　پہ ما ناحقَ څوک ہوسیږی

۱۴۰

لږ دہ لہ نیکو نیکی چہ څوکیږی　　نیکی کہ بدو، بدی لہ ښو کیږی
د اُمید تخم پرِ بانډِ مۂ کړه　　لہ بدے مزکے بۂ گل پہ څوکیږی

۱۴۱

گورہ نن گانډہ روزگار پہ څوکیږی　　نیکی لہ بدو، بدی لہ ښو کیږی
ہرچہ بدخویَ بد فعل، کم ذات وی　　د خلقو مینہ ہم پہ ہغو کیږی

۱۴۲

څو لہ پرہارَ زوے بسہیږی　　پیږ ئے صحت شی رنځُور ښہ کیږی
ہمدرد مِ نشتہ چہ ورسرہ وژاړم　　لہ ډیرہ غربوہ مِ حلق خوږیږی

۱۴۳

غمجن کۂ گرځی کۂ کښینی پاځی　　آہ و فریاد کا اُبنہ ئے څاځی
دۂ تہ مینګادیږی لکہ ویرونہ　　کۂ نور وگړے ہوس کا، ناځی

ﻣﺜ ٭اکی لذاہد وی۔

Marfat.com

۱۴۴

چه ئے د سترګو شرم رقیب شی　　خلاص له اغیار ځاله حبیب شی
د ګل طمن به ګکړه نه کا　　ګل ته که هرڅو اغزی قریب شی

۱۴۵

اول ئے مینه په مخ د یار شی　　بیا ئے په طمع د ښه ګفتار شی
فکر ئے بیا د بوس و کنار شی　　په عشق کښې کله صبرو قرار شی

۱۴۶

چه نور وګړے له تا وېزار شی　　خپلوی د خپل ځاله پکار شی
کنه د ورځ د راحت ترخپل　　بیګانه لا تر سړی زار زار شی

۱۴۷

له غم امان وُشه چه په چا زور شی　　رو ښان جهان ئے په سترګو تور شی
په ورځ غم په یارانو وُوېشم　　په شپه یوازے په ما تنډور شی

۱۴۸

مخ چه د حُسن له غوړو سپور شی.　　عاشق کرم نه دے که زړه ئے تور شی
ګل چه تازه وی ځائے ئے په سر کیږی　　خزان وهلے لایق د اور شی

۱۴۹

غم دِ که هرڅو په خاطر ډېر شی　　نه وی چه زړه دِ پکښې تېر بېر شی
لکه چه وار د ښادی ولاړ ستّه　　هسے به وار د غمونو تېر شی

۱۵۰

د عشق په کار کښې چه څوک صادق شی　　د یار د مهر ځاله لایق شی
دوئ د دواړو تر منځ وُوزی　　عاشق معشوق شی معشوق عاشق شی

۱۵۱

خوږ ئے په فقر معنوی حلق شی        ځکه اطلس ئے بدل په دلق شی
نظر د عامو پرِ بانډِ بند وی        بنده د ځینې بادشاه د خلق شی

۱۵۲

زوړه م تر هوسره ګنولو پایمال شی        ګمان م نه شی چه بیا خوشحال شی
و نا محرم ته احوال وایه نه شی        محرم ته نه وایم چه پرِ ملال شی

۱۵۳

که ورکړه خبر دے چه هر شی ګل شی        که هر څوګم وی چه یاد شی ګل شی
چه با عوان تخم په خاورو پټ کا        پیدا ترِ هاله بنایست ګل شی

۱۵۴

که د پرِه سعی کوشش کړے څه شی        په وخت چه نه کړے بے وخت څه شی
که هر څو مټ په ببرئ ملاح کا        په تانک چه کښینوزی پورِ هاله شی

۱۵۵

خندا هوس شی له جاہلئ        حزن اندوه شی له عاقلئ
که لږ بیدار شی خونه به ورانه کا        جهان ودان دے په غافلئ

۱۵۶

چه نوم ئے وشی د محرمئ        خوب به په څو کا د بے غمئ
په یوه تکی محرم مجرم شی        ویره دِ کا نډِ د مجرمئ

۱۵۷

چه کښته پورته قطار قطار دروی        نارے فریاد کا په اضطرار دروی
زانړی بیل شوی یاران رایاد کا        په غم م اوښکے لکه رود بار دروی

ه ب م پر بنا ملال شی۔

Marfat.com

—— ۱۵۸ ——

چه ښکلته پورته څوک نفس دروی     هر څه ئے هېر دی په یاد د نس دروی

حاصل د دین د چارِ هیڅ نشته     حیف صد حیف اوقات عبس دروی

—— ۱۵۹ ——

که په دولت کښې په شان د جم دروی     لا ام تر جم افزون حشم دروی

هیڅ به ښکاره نه وی دانایانو ته     چه له سرچه په تله دلرم دروی

—— ۱۶۰ ——

جوړ به ترکم زیبا صورت وی     آخر به خاورو سره لت پت وی

که نن مات نه شه صباځ کوره     د خاورین لوښی ښکاره مدت وی

—— ۱۶۱ ——ع

په دهر عالم کښې که زړه م څوی     هم م به اوښے د ستړګو نه وی

زه به تا ژاړم په هسے ځائے کښې     چه یو د غم وی دویم م زړه وی

—— ۱۶۲ ——

روژے شوے تېرے صبا به عید وی     هوش به کاندِ هر چه سعید وی

سعید هغه دے چه یار تر څنګ لری     شقی هغه دے چه تر بعید وی

—— ۱۶۳ ——

زر ئے که هر څو په کور انبار وی     چه ورکړه نه کا په خره زربار وی

چه پکښې نه وی اوبه د رحم     وریځه نه وی یو تش غبار وی

---

ع ! "ح" هوس به کاندِ چه څوک سعید وی ،

"ب م" هغه به عید کا چه به سعید وی.

Marfat.com

۱۶۴

چه ظاهر غوړ وي په باطن سپور وي — په ژبه خوږ وي په زړه کښ شور وي
ورسره مه کښېنه تا به تباه کا — سپين زر که سپين وي اثر ئې تور وي

۱۶۵

که اشتها د سړي د سېر وي — خوراک ئې بويه چه کم نيم سېر وي
چه ډېر خوري کله ډېر خوري — هر څوک چه لږ خوري خوراک ئې ډېر وي

۱۶۶

که په حکمت کښ تر هر چا پاس وي — اصل نجيب چه خالي لاس وي
پروت به په خاورو لکه الماس وي — سپک په نظر د عوام النّاس وي

۱۶۷

که ښه ښه ښځې ښه ښه پوشاک وي — که ښه اسونه که نور املاک وي
څومره نقصان ئې سړي ته نه رسي — ځان ته اوّ دين ته بد ډېر خوراک وي

۱۶۸

که سپين او سره ئې په کور کښ تل وي — چه نه ئې علم نه ئې عمل وي
بنياد ئې نشته، آخر به خوار شي — بخت به نر کم ورسره مل وي

۱۶۹

هر چه امير د ښکر ښه دل وي — يا پر خبره د داد مشکل وي
تل به رټلے شړلے ګرځي — په هر محفل کښ به منفعل وي

۱۷۰

په خوشحال کښ هوښيار عمر وسي — چه صبا کېږي بويه چه نن وسي
درد ئې دومره وينم که درد ئې نه وي — چه د دردمنو په درد دردمن وسي

Marfat.com

۱۷۱

داګمان مه کړه چه ستا دی تل به وی　　د بل دی ستا شی ستا دی د بل به وی
د ذرو کالو سړی مرګ پرے نشول　　ته که ډیر پایے نهایت سل به وی

۱۷۲

چه ځ په یار پسے د چا بد رنګ نه وی　　ځ ئے ونه ویم چه هیڅ ئے رنګ نه وی
بالښت په ډیرو ژړلو لوند کړم　　چه ویښ له خوبه شم یارم ترڅنګ نه وی

۱۷۳

چه محبت کا له چا چه تل نه وی　　تر هغه هیڅوک کم عقل بل نه وی
ځما څه کار دے له خوشحالیو　　خوښی هغه کا چه څوک ئے خپل نه وی

۱۷۴

چه دروغجن دی له حق لرے وی　　هغو ته زهر رښتیا خبرے وی
مُشک نجاست وی وَ ناکسانو ته　　خاورے خورو ته خاورے شکرے وی

۱۷۵

دوئی په کورکښې وچ ملوک به ژوی　　څوک ئے له لوږے کوئیلی کوئی
دیشتیا مثل دے سوهنیار ویلے　　دنیا خوږه ده تر ځان ترځوئ
ے

ته چه له ما نه کنار کړځے ۱۷۶ ځان نا آشنا کړے بیګانه وار کړځے
نه بنایست یم مشتاق م ډیر دی　　ته به بے یاره همیشه خوار کړځے

۱۷۷

که د دُنیا دے که د عقبیٰ دے　　وَ ما را کړے نعمت مولیٰ دے
شماره ئے ځکه کوے نه شم　　چه لا یَعدُّ وَ لا یحصیٰ دے

Marfat.com

—— ۱۷۸ ——

یار م په مثل لکه آفتاب دے · هم بے حجاب هم په حجاب دے
د مخ شعلے ئے د مخ پرده ده · نور د آفتاب د آفتاب نقاب دے

—— ۱۷۹ ——

که د عجم دے که د عرب دے · هم بے ادب دے چه رد درب دے
سیل م وکړه د کتابونو ! · مقبول هغه دے چه په ادب دے

—— ۱۸۰ ——

کار کوه کار، بېکار هم کار دے · تاوان په ځان باند خالی گفتار دے
عقل څه بل دے، خبرے نور څه دی · کوتره گُنگه، طوطا طرار دے

—— ۱۸۱ ——

دانا په مثل د شهسوار دے · پروت که په مزکه وی هم قدروار دے
ناپوه سرے په مثال غبار دے · لاړ که آسمان ته شی هورے هم خوار دے

—— ۱۸۲ ——

نن چه په حُسن د کښلیو سردے · هم هغه کښلے ځما دلبر دے
څوت ئے تر مخ ښایسته تر دے · خدائے ئے راپرېږده عجب بشر دے

—— ۱۸۳ ——

تر هر څه بد د لجئ خطر دے · لجی به نه کا چه دانشور دے
اَلِف چه سم شی لجی ئے وښته · ځکه تر نورو حرفونو بر دے

—— ۱۸۴ ——

ډک م دننه لړمون په اور دے · زړه سمندر دے پکښې ئے کور دے
چه ستا د نورو زلفو په رنگ دے · له بخته خوښ یم چه بخت م تور دے

Marfat.com

۱۸۵

چه عاقبت به له دُنیا لیږدے　　وے دا ہونیره طولانی بلہیږدے
چه وُخورے وُخورے، چه ورکا یوسے　　لور به ئے یوسے چه زر دے ږودے

۱۸۶

لښکر په مثل لکه ښه آس دے　　سردار ئے سوږدے چه سور پرِیاس دے
که ہر څو جلد وی چُست و چالاک وی　　چه سور ئے ښتی د آس څه لاس دے

۱۸۷

چه کُل ہمت ئے خوراک لباس دے　　په تحقیق ښخه اَرذل النّاس دے
شرف په خوئ دے په دیانت دے　　که څوک شریف دے یا څوک کناس دے

۱۸۸

اَدَب په تله کښې، اَدَب په ناست کښې دے　　ہم په ولاړ کښې اَدَب په ہماست کښې دے
اَدَب په ہیڅ کښې له سړی نه دروی　　لور څه لا پرېږده اَدب په زغاست کښې دے

۱۸۹

د عاشقانو دخطے یو بول دے　　چه خال و خط د ښایسته پسول دے
خدائے دِ دلگیر مه کړه نه چه دلگیرنه شے　　د غم و ہښتنه دِ د میاشتِ شپول دے

۱۹۰

چه پیدا شوے ظلوم جهول دے　　ہوس ئے سود دے اَندوه ئے مول دے
چه عاقلان دی پرِ به پوہېږی　　نا معقول نه دے دا قال معقول دے

۱۹۱

که یاس له حقَ تحقیق حرام دے　　یاس له مخلوقَ د حق اِنعام دے
اَصیل بنده کا خلاص شوے بند کا　　طمع له خلقَ د خلقو دام دے

۱ ح ۲ برنول ۔

۱۹۲

زاہدَ ! وے راپورِ خاندے مخلوق پہ خپلَ کلہ خہّ کاندِ
چہ ئے رابیلِ اَوْ چنبیلِ پیدا کڑہ ہغہ پیدا کڑہ گندہ ہری سپاندِ

۱۹۳

صُورتِ م ہر شو کہٗ دہر زبُون دے کہٗ م د مزکے د لاندِ یُون دے
زہٗ بہٗ پہ لور د اَشنا روان شم یُون کہٗ م ہر خو پہ شواخُون دے

۱۹۴

چہ دہر م کوے باندِ گناہ دے ہر ہر مقامٔ م پہ گناہ گواہ دے
تورِ م د بزیرے وَ نزہٗ نہ پرہواتہ بزیرہ م سپینَ زرہٗ م سیاہ دے

۱۹۵

کہٗ ہغہ یارِ م ظاہر پہ بیارتہ دے خیال ئے راغلے حُما کنار تہ دے
خائے بہٗ دِ پاسَ پہ خپل تندی کوم کلہ چہ رنگ دِ حُما ویار تہ دے

۱۹۶

چہ خوش لہ گلَ دلگیر لہ خارَ دے عشق لہ دوبینَ بے اعتبار دے
نہ شکایت کرم لہ چا، نہ شُکر دَرد م لہ یارَ درمان لہ یار دے

۱۹۷

سپین چہ بد خوئ وی ترہنکوی تورسنہ دے چہ ستا پہ راۓ حئ پردے ترورورسنہ دے
مبنہٗ ہم ہغہ دے چہ ستا پہ خائسنہ وی تر سرو کلونو پہ زمی اور سبنہ دے

۱۹۸

پہ دردِ م نور شوک بیمار دردمن نہٗ دے بے ما پہ غمٔ کبنی حُما غمجن نہٗ دے
کہٗ پلارَ کہٗ خوے دے کہ وروَر کہٗ یار دے تر ما نہ ہیچُوک ہہ ما مینَ نہٗ دے

ط اک: ہر ہر مقدم م ......

Marfat.com

۱۹۹

که لب د لال کړم لال خو شیرین نه دے — که غاښ د دُر کړم ځاېسے سپین نه دے
که مخ د نمر کړم د نمر کره وږه نشته — که دِ سُنبل کړم زلفِ مشکین نه دے

۲۰۰

چه یارم لاړ شو په لویے لارے — را بانډِ راغلے ورځے دشوارے
لړمون م سوزی روغ عالم — څه کړم چه نه کړم نارے چغارے

۲۰۱

د کړلو نه دی دا دوه خبرے — دواړه هر کور دی له عقل لرے
په نامرد څوک چه نغارے وہے — بل په بد رنگے ناوی سندرے

۲۰۲

که زر دوستان لرے یو غلیم شوم لرے — زړه ئے له غم عاقل مغموم لرے
که لور ځان روغ وی یو غاښ رنځور شی — په فراغت کښی به اندام کم لرے

۲۰۳

مخ که تر نمر هر څو رخشان لرے — شونډے سره لعل د بدخشان لرے
ستا له یارئ ځمونږ توبه شه — چه خوئ خصلت د خاروی په شان لرے

۲۰۴

که هر څو خوئ او خصلت یو شان لرے — همېش فتنے کا عاشق پریشان لرے
راشه چه دواړه سترگے دِ کښل کړم — ځما د یار څه خو نښان لرے

۲۰۵

رب زړگے م له غیرو سوړ لرے — هر دم م خپلے بندگئ ته جوړ لرے
زړه م څه لاس م دواړه خالی دی — د قناعت په خزانو ئے موړ لرے

Marfat.com

— ۲۰۶ —

غافلَ ! وُخورے دا سترگے تورے	زهٔ تا ته گورم تهٔ بل ته گورے
ځما د مینے لاړے ناله	وَ به	کهٔ زړهٔ له غبرو مِینو وړغورے

— ۲۰۷ —

بېگا نڑدے شو د غرونو سیورے	په سم راپرېوتے له سپینے تورے
دېر ډېر ویرېږم یارَ نړدے مشه	چه څېر دِ گورم هم م څېر گورے

— ۲۰۸ —

اےٗ چه له مانه تل په ژړا غوارے	خور به ئے بیا موے کهٔ تل داشا زارے
له مصرعو واخله د سر حرفونَ	سعٔ جواب دے چه بانِدهٔ ویارے

— ۲۰۹ —

چه په دا لارے صبا بېگا کړے	تلنه آهونه فریاد ژړا کړے
کلی محلت بهٔ واړه خبر شی	ما بهٔ خراب، ځان بهٔ رسوا کړے

— ۲۱۰ —

تهٔ چه دا ہسے له ما کنار کړے	کښینے ہرچا تهٔ له مانه زار کړے
یا دروغجن وے منزل دِ لنډ وو	لا دِ نیت بل شو بل یؤ بهٔ یار کړے

— ۲۱۱ —

بهار خزان کړے، خزان بهار کړے	مالدار نېست کار کړے، نېست کار مالدار کړ
د چا دارُو کړے، د چا تبر وارکړے	څهٔ څهٔ کارونه پروردگار کړے

— ۲۱۲ —

آبشارَ وے دا ہسے ژاړے !	له چا فریاد کړے څوک لپسے غوارے
کهٔ تل فریاد کړے له کاڼړی سر وہے	بیا بهٔ رازهٔ شی اُبهٔ چپ ولاړے

ما دا رباعی جواب دے د رباعی مثل چه ردیف م کښد .

Marfat.com

۲۱۳

ځما شوے وُچے د غمَ لاړے   هم مِ په زړه کښې څړیکے وَلاړے
زهٔ دِ په هسے اَحوال کښې پرېښوم   تا راته ښا کړه ، راځئ وَلاړے

۲۱۴

هغه چه ستا دے چه ئے ساتل نهٔ کړے   ویره مِ کېږی چه ئے د بل نهٔ کړے
کهٔ دا دِ خوئ دے، دا دِ خصلت دے   خپل بهٔ پردی کړے پردی بهٔ خپل نهٔ کړے

۲۱۵

اے چه په فکر د پیچا نهٔ وی کړے   زاړهٔ بهٔ کله د خوارو نوی کړے
باران د رحم وربانِدِ وُو ورېږه   چه پیاله مزکے زرغونه سوی کړے

۲۱۶

راشه کهٔ کورے د عقل ویږے   وُچ ئے له تندے د ننه سوړے
کله په دریاب شو اُبهٔ ئے نهٔ څښنے   ورځئ راځئ، هم هسے تږے

۲۱۷

مَست یم دُعا کړم کهٔ تهٔ هم مَست شے   راسره کښېنے، باده پرست شے
پیاله د میو په لاس کښې واخلے   د نام و ننګ د ښیښے په شکست شے

۲۱۸

دَ باده فروشو په پُوکی دړه شے   کښېنه د ځان په ستاینه کړه شے
خود بهٔ دِ هر څوک ثنا صفت کا   کهٔ د هما غُندِ قانع په هډه شے

۲۱۹

خبر د تللو د کُم اَشنا راغے   چه قاصد هسے دِلګیرَ بیا راغے
په وار وار واړه یاران روان شول   اَس بهٔ زهٔ درومم چه وار ځما راغے

Marfat.com

۲۲۰

نن مِ پہ زرّہ کښې د کښلیو خیال راغے　　　پہ خُلّه وایہ نہ شی یُوُ ہیسے حال راغے
مکر یار راشی چہ مِ تر خلاص کا　　　کنڑہ پو ہیږم چہ لوئے جنجال راغے

۲۲۱

وخت د سحر شو پرہونہ تلے　　　لہ کښنتہ لوری[۱] راوُختلے
د یار د راغلو وعدہ شوہ تېرہ　　　پہ ډہرِ کتل مِ سترکے وتلے

۲۲۲

عشق مِ خاطر دے ځکہ پسند ے　　　چہ عشق کښې سوروُم بے عشق پخے
پہ عشق بادشاہ وُم پروا د چانہ کړم　　　بے عشق کہ رحم لکہ نتلے

۲۲۳

وخت د خزان وُہ وُرم لید ے　　　یُوُ څو بلبلے چہ ژړید ے
خوارے خستہ وے ومِ سزائے　　　چہ بے ګلونو وُ پایَید ے

۲۲۴

څو شکر خوارے خاورے خورے شو لے　　　ډیرے ئے ځنړے د خیال خورے شو لے
چہ تل سورلی ئے پہ عراقیانُ وہ　　　اُس تورِ خاورے پرِ پاس سورے شو لے

۲۲۵

اے چہ عیبونہ د بل اکثر وِینے　　　خپل ځان تر لورو خلقو بہتر وینے
سرد ہمہ وُ عیبونو دا دے　　　چہ د بل عیب د ځان ہنر وینے

۲۲۶

ډیر څہ مِ وُکړہ ویے مِ آشنا شوے　　　لکہ زہ ستا یم نہ ہُم ځما شوے
یا نہ بد خوئے ئے یا مِ بخت بد دے　　　لا تر غلیمُ دِ سعہ خوا شوے

[۱] ب م ... ہیسے حال راغے۔

Marfat.com

۲۲۷

له اُبنیو ډکے سترګے نظر کوے
د خپلو تللو واته خبر کوے
چه د جوګیا نو جامے دِ وا غوستے
پوهېږم لږِ مُلک ته سفر کوے

۲۲۸

په زړه مزرئَ په سترګو بازے
سترګے منګلے خونریز ته وازے
سازے ناسازے چارے په ما کوه
په ما دِ واړه ناسازِ سازے

۲۲۹

په زړه عزرئَ په سترګو بازے
سرو تر قدمَ له خوبئُ سازے
هر شهٔ دِ ښه دی عیب دِ دادے
چه له نیازمنَ مرکور بے نیازے

۲۳۰

په وَنه سروه په مخ ګلزاره یے
په دواړو زلفو عنبر نثاره یے
خوبی د حسن زیاته ترحد لرے
عیب دِ دادے د ډېرو یاره یے

۲۳۱

از بس چه تل مِ جارې په خُلّه یے
یاد مِ دلبره هسے په زړه یے
چه څوک له وُرایه راته ښکاره شی
خوشحال خوشحال شم وایم چه ته یے

۲۳۲

اے چه ویل کړے ماته ښهٔ نهٔ یے
ښهٔ چه زهٔ بد یم ښهٔ چه تهٔ ښهٔ یے
زهٔ به هغه کړم لکه چه زهٔ یم
تهٔ هم هغه کړه لکه چه ته یے

۲۳۳

ښایست دِ لاړشو، په خوئ ښهٔ نهٔ یے
یا خو، غڅکے یے یا پړانګ لېوهٔ یے
اُس له ما لرِ په ځنګ ځنګ ګرځه
نه هغه زهٔ یم، نه هغه تهٔ یے

Marfat.com

# قصاید

Marfat.com

Marfat.com

# قصیدهٔ (حمدیه)

په تن د هر و ښښتهٔ ژبې هزار کا بیا د ژبې ئې هزار هزار گفتار کا
سیند ونه د جهان واړه سیاهي شي قلمونه د جهان واړه اشجار کا
ښنتې، سړي، پېریان وبله قول شي په بیان په کښېو هزار ځل تکرار کا
خپل خدائے د نعمتونو په حساب شي گمان مه کړه چه ئې یو نعمت په شمار کا
د نور چا څهٔ زور قوت چه اولوالعزم په خپل عجز کښې له دے باب اقرار کا
غه خدائے چه برکمال دے په قدرت کښې چه په خوا په خاطر نه وي هسے چار کا
اُبو باندې یوه کرښه محال ده چه ئې وُکا ځان که هر څو اُستکار کا
یمان کهٔ واړه جمع د عالم شي په هوا بهٔ یوُ ورق کله قرار کا
ه اَساس د درست عالم په اُبو کښېښې د نور چا کله قدرت چه هسے کار کا
ئې بے ستنو اَسمان دے درولے حیرانېږي چه نظروَته هُشیار کا
ان اَسان د دهٔ قدرت وَته یکساندي نه خلقت د چا اَسان د چا دشوار کا
ته یوُ خلقت د ماشي، د اَسمان دسے کاه او کوه په یوه آن کښې پدیدار کا
د اوُ خاورے اور اُبهٔ کهٔ هر څو ضد دي په یوهٔ مکان کښې جمع هر چهار کا
په خپله اور غالب وو په لرگیو تروئې ولے په لرگیو کښې حصار کا
خلور دي کهٔ ښځهٔ کهٔ شپږ اُوهٔ دي همگی په حکم کار د کردگار کا
کات د هیڅ اَشیا نهٔ شي بے حکمٔ سکنات کله په خپل اختیار کا

ک :- سکنات کله په خپل حکم اختیار کا۔

Marfat.com

جهان ډک کاندِ په ورځ د نمر له نُورَ — بیا په شپه نابُود د دهٔ واړه اَنوار کا
ښایسته کاندِ آسمان په شپه په ستورو — په ورځ مزکه ښایسته په لالزار کا
د خزان په وخت زینت له مزکے یُوسی — ښایسته ئے بیا په وخت د نوبهار کا
د اُبو تفاوت ہیځ وَبله نهٔ وی — تر پیدا رنګا رنګ کُل اَلوان اَثمار کا
نه د ګلو رنګ و بوئ په یوهٔ شان وی — نه لذّت د سیبُ وُنه د اَنار کا
له یوهٔ باغٔ میوے له یوے مزکے — تفاوت ئے د لذت ترمنځ بسیار کا
په ہمه کانړو تابش د نمر یکساں وی — ځنے کانړیٔ ځنے لالٔ یاقوت آبدار کا
له یوهٔ ځاځکی پیدا کا مرغچے — له یوه ځاځکیٔ پیدا دُرِ شهوار کا
له یوه اَصلٔ نطفه پیدا انسان شی — ځنے ځنے مسلمان ځنے کفار کا
څوک بد رنګ چه له لیدو ئے نفرت موی — ځنے ځنے ښایسته کښلی نګار کا
څوک تونګر د قناعت په خزانو کا — څوک د طمع د حرص په خوارئ خوار کا
څوک توفیق د طاعت بیا موی له دهٔ نه — شپه اَوُ ورځ ئے خپل طاعت وته بیدار کا
چه توفیق د عبادت ورځنے واخلی — مخ ئے تل په ہیخوارئ لا په قمار کا
له اَزله چه طالع د چا ترنجے وی — له حلالٔ ورته لاخوارهٔ مُردار کا
خزانے ئے لایعد اَوُ لایحصیٰ دی — وے ورکړه و ہر چا په خپل مقدار کا
نیک و بد له دهٔ ہر چا وَته رسیږی — خوار ہغه شهٔ چه په دا باندِ انکار کا
په طلب ئے څوک په دَوُ څوک په تلوارځی — څوک په سر څوک په سینه پسے رفتار کا
د میږی د پښو آواز اَروی بے غوږو — چه په توره شپه په تورکانړی ګذار کا
نژدے لرے ئے لیدو ته برابر دی — د نظر حجاب ئے غر نه ئے دیوار کا
د نفس ځښتن ہمه واړه ہُو ہُو کا — نه یوازے ذاکران د دهٔ اَذکار کا
تسبیحات ئے نه یوازے فرښتے وایی — تقدیسات ہمه اَشیا د خپل داوار کا

Marfat.com

د دُنیا عمارتونه چه لیدل شی  د دوران په زلزلو به ئے مسمار کا
همیشه به ئے چیچی پرې به ئے پاندوی  په بخیل به د بخیل خزانه مار کا
چه د ظلم اور ئے بل کړه په عالم کښی  ظالمان به ځان سوخته په ځنه نار کا
په خپل ځان باندې ستم کا نه پوهیږی  چه ستم په زبردستانو ستمګار کا
مکافات به یو په مثل ځنې واخلی  چه بے شرعه لږ د چا خاطرآزار کا
عاقبت به وړے ټړے ځنې دروی  که هر څو لئیم په ګور کښې زر انبار کا
چه بے ځایَه ظلم کا په مظلومانو  ځان ظالم په طوق د لعن ګرفتار کا
حسنات به ځنې واړه خصمان یوسی  پر انبار به د خصمانو بدکردار کا
دا دنیا لکه مزرع د آخرت ده  پکښې کر ځنې د ګلو څوک د خار کا
د اخستو ورځ ئے ورځ د قیامت ده  هم هغه به ورېبی چه کښت وکار کا
د جهان ورکول ګل په عاریت دی  تعلق به دانا څه په مستعار کا
چه ئے پس له ده نور تار په تار وُلجه وي  مرد هغه چه پخپل لاس ئے تار په تار کا
چه پرِ تله، ترېلی لا د سواره سخت دی  بلاړئ په پلی ولے شهسوار کا
چه په خدائے باندې غنی، غنی هغه دے  د سبب په غنا څه څوک اعتبار کا
لایزال دے سلطنت د ګدایانو  د زوال ویره ئے نشته نه ئے دار کا
دا د فقر لوئ څه ده نه پوهیږم  چه بهتر د موجودات پرِ افتخار کا
ستا په درکښې ګدا پروت په تورو خاورو  که د درست جهان بادشاهی ځنې عار کا
چه ئے ذره په معدوم تینګ دے تر موجود  ما دِ خدائے تر هسے رنګ څوانانو ځار کا
ورکول په طمع ورکړه د رشوت ده  نا پوهان په ورته وایی چه ایثار کا

که ګنج غواړے رنځ ګلوه عبدالقادر
مزدوری به ئے هم وُموی چه کار کا

Marfat.com

# قصیدهٔ بهاریه

## ۲

شگفته په باغ و راغ شول د بهار گل — هم په بام، هم په کوټه، هم په دیوار گل
نه یوازې گل د گلو بوټی ونیو — بادام گل، شفتالو گل، ونیو انار گل
هر اشیا د مزکې گل پروړ دګار کړه — جمادات گل، نباتات گل، گل اشجار گل
کانړی بوټی خار و خس په گلو پټ شول — د همه وارو عیبونو شه ستار گل
څو د سترګو نظر لګی واړه گل دی — وراند گل دی، ورستو گل، یمین یسار گل
هیڅ یو ځای خالي له گلو پاتو نه شه — په بازار گل، په صحرا گل، په کوهسار گل
که آسمان په شپه په ستوریو بنایسته وی — لا تر مزکه بنایسته کړه په بهار گل
عندلیب ناره وهي چه سبل ئې کانړی — بهار د رومي ریږیدون کا په وار وار گل
لا تر کور، کور دید پروت په کور کښې بنده دې — چه به نه کوري سبو کال د گلزار گل
د بهار په سیل جونه زلمي کښېږي — په اوربل گل، په پټکي گل، په دستار گل
د دلبر صورت تمام لکه گل روغ دی — پښه ئې گل، لاسونه گل، چهره رخسار گل
مې گلگون، ساغر گلگون، بنیبنه گلگون — ساقي گل، حریفان واړه گل، نګار گل
د بهار په سیل وځوره له کوره — د راتلو د هر کور دیر کا انتظار گل
چه گلونه بوی وي احتیاط بویه — چه په شونړو دِ ونه کاندِ پو هار گل
چه د گلو هار په غاړه نازنین کا — په سینه باندې ئې څرخی لکه خار گل
خاص و عام ئې بهره من په ننداره شول — منتونه په هر چا باندې کړه بار گل

Marfat.com

چه د یار له وصله بناد وی ګل به ګوری ... د مهجور به هرګز هیڅ نه وی په کار ګل
چه بې یاره د بهار په سیل دروم ... په خاطر باندې م لګی لکه نار ګل
په هزار رنګه ګلونه شګفته شول ... ولید نه شو یو په شان ځما د یار ګل
چه دا ښه ئې په دکه خُله خندا کړه ... مګر نه وو له خزانه خبردار ګل
په هوس په خوشحالئ ئې آموخته دے ... ګل پرور! مه کړه زر د زره خوار ګل
بلبل هیڅ نه وو خبر د عشق له تاوه ... په فریاد کړ په ناروکړ په چغار ګل
چه د سرائے په مزکه وا د بیسرلی ګل شی ... شرمنده کا د کشمیر د بل دیار ګل
دا رنګ ګل چه په سرکال د غواص وا شول ... د چا یاد نه شی په خوا ښه بسیار ګل
چه نشان د خپل آشنا ور ځنی مومی ... ځکه یاد عبدالقادر کړه په تکرار ګل

په بیاض کښې م د شعر لون لون
شګفته دی تر دا ښه هزار هزار ګل

# قصیده (موعظت)

## ٣

چه دے نه شوے په شرع مُستقیم    د صراط په لار د ویم ښورے بیم

که په اور د ریاضت خپسر وُسوزے    لاله زار به درته اورشی د جحیم

د گناه تورې د سترګو په اُبو ځیٔ    له ژړا دِ قرارے نه کا اُثیم

چه ښیځ ذبرصه د عقبیٰ د سفرنه کړی    د دُنیا په سرائے کښِ ځاګنړی مُقیم

عاقبت به د ارمان ورغوے ژوی    د ښغوچه سشیطان یارشو نس ندیم

د غلیم په ویل وے کړے کارُونه    که ته نه یے د خپل ځان سره غلیم

د دانا صحبت، صحت د رنځور زړه دے    د ناپوه صحت عذاب ګنړه اَلیم

چه راضی په خپل قسمت نه یے، حرص کړے    ننګه پیدا کړه، بے قدیم، بل قسیم

مگر سترګے ئے د ګور خاورے مړے کا    مورِ یه نه شی حرصناک په زروسیم

غابښ مات شوی په خوړل د کانړو ښه دی    نه یوه نمړیٔ خوړلی د لئیم

د الله اَلِف عصا ده، پرِ تکیه کا    په مُلا ځم مه شه مخلوق ته لکه جیم

که په خُلَه کلمه لول موځ روژه کا    دروغجن دے، منافق سره سهیم

د دُنیا کارونه وهم، خواب اَوُ خیال دی    تعلّق به پورِ څه کا ندِ فهیم

چه بے حقّ نور باطل و ته ښکاریږی    هم ښغه سړے دانا بو یه حکیم

چه موجود ئے موجودات کړه له عدمَ    څه مشکل که ژوندوی عظام رمیم

خوشحال کړی ئے هرڅوک په خپل خپل کار دی    په هرچا باندِ ئے لطف دے عمیم

Marfat.com

نا اُمید ئے له درګاهٔ هیڅوک نهٔ ځیٔ — تفاوت د نیک اؤ بد نهٔ کا کریم
چه بهٔ چا ورسره بد کړهٔ، دهٔ بهٔ ښهٔ کړه — مصطفیٰ نهٔ وکړه خدائے خُلقِ عظیم
چه په خویٔ د خدائے په خویٔ وو صفت شوے — ځکه هسے رنګ زغمونے وو حلیم
د نمرود لمبه ئے ځکه باندِ باغ کړے — چه خلیلؑ شو و قضا وته تسلیم
په صفت د کمینی آدم صفت شو — په صفت د تکبر شیطان رجیم
د اِرشاد صابون اَثر ورباندِ نهٔ کا — سیه دِل د ے اَزلی سیه گلیم
په آزارئے آسمانونه په لرزه شی — هر ظالم چه په ژړا کاندِ یتیم
چه دایم د مظلومانو وِینے شومی — ظالمان بهٔ پیاے وُښبنی د حمیم
چه په حال د مسکینانو ترحم کا — په هغو باندِ بهٔ رحم کا رحیم

چه ولاړ نهٔ شے په غفلت عبدالقادر
کهٔ پوهیږے غنیمت د ے دال و میم

---

# قصیدهٔ (ہجویه)

حاکمان اَوُ اُمرایان د دے زمین — چه لیدل شی په دوران د محی الدین

ہیڅ حاجت د عیان نشته وبیان ته — خود ئے حال ډے وہرچا وته مُبین

ہمکی واړه مذموم په خوی خصلت دی — پلبن یَوُ نشته بادشاه ته د تحسین

نۀ بۀ ہم یَوُ څو خبرے له دوئ وایم — چه نن عقل څما زړه ته کړه تلقین

له علماوُ فضلاوُ ئے نفرت دے — په مجلس کښن ئے ارزال کښېنی مکین

وبله وار نۀ ورکوی په پوُچ ویلو — غوږ کانړه کا چه مذکور کېږی د دین

د راجپوت د رافضی په استقبال ځیٔ — عالمانو وته ہسک نه کا سرین

د مسجد په لوری شَل شی نۀ وردرومی — تل ئے اَس په پوُچو چارو ښیے زین

کله کله چه سر وُہی په مسزکه — سل منته بږدی په ربّ العالمین

خو د خلقو اَزار دېر کا د دۀ چېلوی — په نیک خواه د عالم تل وائیٔ نفرین

ده رشتیا خبرهٔ زہر ځنے مرینه — خوش آمد دروغ تر شہدو پرِشیرین

ہم ہغه چه خوشامد کا مصاحب وی — لا ترِ وی په بد ویَلو ځنے خورین

په میدان ئے مشغلان په بربتو مېړی — د قالین مزری مزری وی د قالین

تل ئے ہجو د سَخی د مړنی وی — د مُمسک د بےدِلانو کا تحسین

ہمیشه د ځان صفت د بل عند نه — خودپسند وی، خودنماے وی خوېشتن بین

د محنت په ساعت ځیٔ تحت الثریٰ ته — د راحت په وخت قدم بږدی په پروین

Marfat.com

کهٔ دولت ئې لکه بحر بې پایان شي  بیا سایل وته چین راوړي په جبین
چه فقیر ئې په در ورشي ورکړه پرېږده  په خوابږه ویل ئې نهٔ کا ژبهٔ شیرین
یوٗ دِرَم ئې په ځائې نهٔ دروِمي له کورَ  تل بې ځایه ورکول دِدهٔ آئین
خرڅ ئې واړه په لباس اَوٗ په زیور وي  لکه ښځې آرائش کاندِ تزئین
د یوې روپۍ په ځائې چه لس اَخلي  هم هغه په رعایا کاندِ اَمین
د دهقان په خوارول ئې سترګې سرې شي  په پټي چه زراعت وُوینې سشین
پیشکاران ئې په اَبرو اشارت وُکا  چه څوک وُوینې اَغوستي نَمري سپین
ځان اَوٗ مال ئې له کفارو په اَمان دی  دِیو بدبختو تاخت تاراج کړهٔ مؤمنین
د مجرم جرم لا نهٔ وي ثابت شوې  براتیان ئې کا په کور باندِ تعین
رعیّت د دوې دشمن وي دوې د دیو  دوې وَدهٔ تهٔ دې وَدوې تهٔ کا کمین
هر ظالم چه تعدیٰ په رعیّت کا  په قیامت به ئې مقام کاندِ سجّین

کهٔ باور دِ په دا نهٔ شي ورشه ګوره
په قرآن کښې "بئس مثوی الظّالمین"

Marfat.com

# قصیده
## مرثیه د خپل پلار خوشحال خان ختک

همېشه مې ستا له غمه مشغولا ده — ستا له پسه راته پاتې ښادي داده
خپل پردي راځنې واړه کناره شول — چې تل مله ده راسره اندېښنه ستا ده
په بهانه د آه خپل دم راځنې درومي — له همدمو بېهوده ګله ځما ده
اوښکې هم د وچېدو له وېرې ولاړې — له تودې تېښتنې مې ګرمه سينه لا ده
نا آشنا همېشه خوښ ګرځي هوس کا — په جهان کښې د غم بخره د آشنا ده
د غم تخم آشنائي ده که ئې کورې — ستېره و هر چا ته دا وېنا ده
د هجران غشي په هره سينه لګ دي — چې و هر لوري ته غوږ باسم زګروا ده
څوک چې وائي تر بلا بلا وي سخته — کله سخته تر هجران بله بلا ده
جدائي په نابودي سړے راضي کا — له ژوندون په مرګ مينه د جدا ده
دا چې وائي بد ژوندون تر مرګ بتر دے — اوس پرې ؤ پوهېدم دا وېنا رښتيا ده
مرثيه به د په بېسے مضمون وايم — چې هيڅوک پرې نه پوهېږي چې د چا ده
د تا درد مې په بې دردو پېرځو نه شي — ستا د درد د ورست جهان خوشي بهاده
د فراق په اور د وسوم لوم وچ شو — اوس مې تل په وچو سترګو ستا ژړا ده
چې هر څه د يادوم په زړه ورتېږم — لا چې ډېرم ژړوي د تا خندا ده
زه چې ستا په تلنه د غسره نه تېر نه شوم — که خوارېږم لېسه تا دا مې سزا ده
په ارمان د ملاقات له موږه لاړے — څوک ستا د ليدو ژمنه په عقبا ده

Marfat.com

خپل پردي دَ بانډِ هيڅوک حاضر نه شوه ‌‌‌— نه د پاتې مال او مُلک نه دِ دُنيا ده
چه پيسه دِ پاتې نه شوه و کفن ته — هم دا غنيمت ستا د جود او د سخا ده
له نااهلو کهٔ دِ خپل وو کهٔ پردي وو — څخه تا ليدلې څو رنګ جفا ده
خپل شامت به ځه د لاهوري خراب کا — چه بدي کا د هغو بدي جزا ده
په وطن کښې مسافر عند وفات شوې — خپل خانه در څخه واړه پيښه ستا ده
خپل دِ نه وو چه د حال ورته بيان کړې — له فاني دنيا دِ ووړې ډکه خوا ده
د دُنيا خلقو خو واړو درته شا کړه — ستا تکيه په خپل څښتن په خپل پيشوا ده
بې له صبر له تسليم چاره نشته — موږ وروړې په قضا د حق رضا ده
په حرمت د پاک رسول چه په قرآن کښې — خدائې په څو رنګه دده کړې ثنا ده
د دوزخ له عذابونو په امان شې — بهشتي شې ستا او ورځ م دا دعا ده
تر دې به لاهوري خوش وې فال دِ ښه دې — خدائې چه ليښې د خوشحال نامه پټا ده

نه يوائې هجران لوټ عبدالقادر کړه
په هر مُلک په هر ديار کښې دا غوغا ده

# قصیده (موعظت)

۶

د بقا بهبود ئې هیڅ نشته فاني ده ‌ ‌ ‌ ‌ په دُنیا چه مینه کانډ نادانی ده
د دُنیا د خلقو کار راته ښکاره شو ‌ ‌ ‌ ‌ د سیلاب په مخ ئې کړې ودانی ده
دا چه ته ئې ودانی گڼړې نادانَ ‌ ‌ ‌ ‌ د عاقل تر فهم عین ویرانی ده
تارِکان به ئې د لے سورے خوشحال وَي ‌ ‌ ‌ ‌ تر حاصل د راغبانو پښېمانی ده
جمعیت د زرّه په برخه د یک بین شه ‌ ‌ ‌ ‌ د دوه بین په برخه شوی پریشانی ده
د محنت په لارے ځه که مُراد غواړے ‌ ‌ ‌ ‌ ستا د مراد تر منځ پرده تن آسانی ده
هندو هُم په خوله وَیل کا چه خدائے یَو دے ‌ ‌ ‌ ‌ و قضا ته ځان سپارل مسلمانی ده
نفساني کارونه کُفر و ربنکاریږي ‌ ‌ ‌ ‌ چه ئې برخه له ازله روحانی ده
په پرښېول به د مرادُ مُراد حاصل کړېږے ‌ ‌ ‌ ‌ کام د کام د پاسه کښېږده کامرانی ده
چه په لهو په لعب ئې ضائع نه کړے ‌ ‌ ‌ ‌ دا څو ورځے غنیمت زندگانی ده
نوراني ئې په طاعت په عبادت کړه ‌ ‌ ‌ ‌ که شپه د بېدارانو ظلمانی ده
چه مأذون له حقَ نه وي شیخي کا مَهْ ‌ ‌ ‌ ‌ باور وُکړه شیخي نه ده شیطانی ده
چه صرف ئې د پیرانو په خدمت کړه ‌ ‌ ‌ ‌ هم ښځو بهره موندلی له ځوانی ده
خود پرست د عاشقئ ته هوس نه کا ‌ ‌ ‌ ‌ مرتبه د عشق اول جانفشانی ده
تحیّر په موافق د معرفت دے ‌ ‌ ‌ ‌ څو ئې شناخت هُمره ئې زیات حیرانی ده
په یوه دانه اوه سوه دانے اخلی ‌ ‌ ‌ ‌ په دا شان د نیکو کارو دهقانی ده

Marfat.com

پاسۍ د زړه په اَس قدم پاس د نفس کړه　　پاس په تخت کښېنه شاهي ده خاقاني ده

د مزري غُندِ سرکوزنه ځې په لارے　　په هر لور د لکه سپي نګراني ده

پو هېږده به هر يو شي له رعيته　　هر سړي نه ځه ورکړي سُلطاني ده

حکومت نا ستي په پُل د جهنم دے　　سهل کله د عالم حُکمراني ده

رعيت لکه رمه له لېوه ژغوري　　بادشاهي په حقيقت کښې شپاني ده

په ستم ځه تمامي عالم خراب کړه　　څه عجب د اورنګزيب جهانباني ده

که رُستم غُندِ ځوان لانډ کړه داڅه شي　　د زير دستنو جفا وړه پهلواني ده

عاليشان به په نخوت په کبر نه شے　　کميني کړه کميني عاليشاني ده

په دا قول متفق دي هوښيار واړه　　چه بلا تر هر څه سخته لساني ده

که خبر په حقيقت يے د خبرو　　خاموشي کړه خاموشي سخنداني ده

خپله ژبه ځه په ځان بانډِ بلا شوه　　چه بلبله په قفس کښې زنداني ده

ځان تر هر چا کم کنړه عبدالقادر

که پوهېږے هم په دا کښې کلاني ده

Marfat.com

# قصیده

## مرثیه د خپل پلار خوشحال خان

یاره ستا د هجران غم راته دریاب شه — تر نظرم د دُنیا هوس سراب شه
ستا په تللو د خوشئ بساط و نغښت — مهیّا راته د غم واړه اسباب شه
که پښواړم ډېر دردونه وو لید لی — لا مِ ستا په جدایئ زړه کباب شه
په معنیٰ کښې خټک تیغ وو، ته ئے آب وے — غوځول به اُس په څه کا چه بے آب شه
خدائے له موږه لا په تا بانډِ مینِ وه — چه رحلت دِ له دُنیا په داشتاب شه
د ځ آب ئے هرکور ډېروو بے حساب — مستسقی به ئے په تش لیدُ سیراب شه
نس رېږی ئے لکه گل په واجبین وه — نه به ترِیو په وخت د داد لکه سحاب شه
دوست دُشمن ئے له جمال بهره ور وو — د هرچا د زړه ارمان دده شباب شه
دُرکوهر به ئے له لعلو رېژیدون کړ — چه گویا به په کلام با صواب شه
سپک ویل ئے هرگز نه وتل له خُلے نه — چه به چا وته په قهروپه عتاب شه
د ارمان دِ دالو ډک لکه انار ولاړ — د ژوندون له باغ کله مزه یاب شه
له اندوه رنړا ورځ لکه تیاره شوه — چه غروب دِ دهٔ د کبنلی مخ آفتاب شه
چه ئے خوب په پالنگ نه کیده بے گلو — په بستر د خاوروخه رنگ ئے خواب شه
په سخو رخسارو پرهو تلے خاورے — شماتت ئے چه په گلو د گلاب شه
چه داهسے رنگ ځوانان پکښې پراته دی — په آسمان بانڼِ ډېر فخر د تراب شه
د رُستم د اسفندیار د ځواب ځوانووو — د قضا حکم پرِ راغے لاځواب شه

Marfat.com

عطارد ئے په آسمان مرثیه وایی — د زهره له لاس مات چنګ و رباب شه
په بهانه د باران چه ده وفات کړ — فلک هم د نوحه کړو په حساب شه
غواصی کوم د اوښیو په دریاب کښې — نه ئے مومم معظم دُرِّ نایاب شه
په ژړا په واویلا له موږه ببل شو — هجران هیڅ دل سوځی نه وکړه قصاب شه
که د خپلو په دُعا جنت مونده شی — شکه بے شکه وا په ده د جنت باب شه
درویشت کاله دِ ده عمر زر اتّه نوی — د هجرت حساب په حکم دَ کتاب شه

چه د بنهرودانے وو ځنے ووت
سرلئے نه ځه عبدالقادر دروے خراب شه

Marfat.com

# قصیده
## (تاریخي - جنګي)

دا کاروند چه نن ګاندہ عیانی دی — ہیڅ پہ خوا پہ خاطر نہ وو آسمانی دی
چہ پہ وہم فہم نہ، ہغہ ښکارېږی — ہوشیار ځکہ ہمیشہ پہ حیرانی دی
ګہے ہسے کار ښکارہ شی چہ ګرځن شی — ګاہ کارونہ چہ سبب د شادمانی دی
ساقی راوړہ پیالہ چہ راتہ یوُ شی — غم مینا دی ثبات ہیڅ نہ لری آنی دی
نن نسیم د پښبنور لہ لوری راغے — څو وینا ئے راتہ کړی زبانی دی
چہ نن شپہ مہمندو وُ وہلے توُرے — چہ وہلی نہ افغان نہ توُرانی دی
لیندو غږ پہ غنشیو وکړ کُشاد کانړیَ — پہ سر توُر توُرے وہی جمال خانی دی
چہ لښکرے د مظلومو اِعانت کا — خدائے ئے مل شہ دا لښکرے رحمانی دی
لالہ زار ئے شګفتہ پہ سروَ آبار کړہ — ہرچہ دا بہار نہ ګوری زندانی دی
د بارے اُبہ ئے سرے لکہ شراب کړے — د سربند کانړی ہمہ اَرغوانی دی
یکانہ ځلیمو غږ دَ بلہ وُکسړہ — چہ وہہ فلانی وہہ ہندوستانی دی
توُرہ شپہ، پہ توُرو، ورځ لکہ صبا شوہ — ځلېدل ئے لکہ برقِ نیسانی دی
ہمیشہ پښتنو مہمندو دے دروند کړے — کہ سبب ئے د خفت میرا فغانی دی
چہ پہ طمعَ د دُنیا کانړ جنګونہ — ننګ ئے وُرک شہ کہ رستم دستانی دی
یُوسفزی چہ زر وُوینی ننګ پرېږدی — حریصان دی طامعان نفسانی دی
پہ ځلہ ہر پښتنون د ننګ خبرے کانړ — ننګ ہغہ کا چہ نانی نہ دی جانی دی

Marfat.com

ر نانی شه صدقه ترجانی ځواني — پښتنون ډېردی اما څه په کارنانی دی
ا متل دے تیغ په اصل غوڅول کا — د مهمندو تورے اس نه دی کانی دی
فریدی، شنواری جنګ په غروتو کاندِ — غوریه خیل په میدان جنګ کا میدانی دی
مخ ئے نه دے دکتو رنځ د پرِ سازشی — چه نفاق کا همیشه په پښیمانی دی
فریفته ئے په ویل مه شه نفاق دی — ښځه څوک چه د ښکرپه ویرانی دی
د مغل له دے ښکرو پروا مه کړه — اتفاق ئے سره نشته ځان ځانی دی
په قسم ئے مبادا چه باور وکړے — سوګند ونه ئے داموله شیطانی دی
له بادشاه شاهزادګانو چه وسواسوی — آخته شوی دوی په جنګ سلطانی دی
د سروتو نردبان سازکړه بانِدِ خیژه — مرتبے ته ختل نه په آسمانی دی

نه له چا ئے طمع شی نه لچا ویره
څو خبرے رشتیا کړی کرلانړی دی

Marfat.com

## ۹
# قصیده
## (موعظت)

په زړګی باندِ م غم اَنبار اَنبارشی  
په راتله دِ همه واړه تار په تارشی

همېشه راځنه ناست وُسه په ښنګ کښې  
ستا په ناستِ م زړه آرام نیسی قرارشی

ښایسته د چین ماچین کړ د بل مُلک وی  
همګی د ستا تر کښلیَ ځځ زارشی

ستاله حالَ بۀ و تاونه څهٔ وایم  
پټ اَحوال بۀ مُو په مُو ورته آشکارشی

دا رشتیا ویل ترخه په سړی لګی  
چېر نهٔ وی چه خاطر دِ پر آزارشی

په ترخوکښې نفعَ زیاته تر خوږو ده  
باندِ ځکه رغېدنه د بیمارشی

چه ویل د نېکخواه نغوژی پرِ عمل کا  
هم هغه بهٔ په خپل عُمر برخوردارشی

د زړه غوږ باسه وماته چه وُوایم  
څو خبرے چه کوهرے ترِ نثارشی

د صورت خوبی همه په عاریت ده  
څهٔ خوبنی بۀ د دانا په مستعارشی

ستا ټخوا ښایسته هم وُو وارے بترشو  
په خپل حُسن بهٔ ستا څهٔ رنګ اِعتبارشی

د ښایست خودِ یوُ څو ورځے باقی دی  
پژمرده بهٔ دِ د مخ تازه بهارشی

صباحت به د بدل په قباحت کا  
چه د تور و ویښتهٔ ښکاره په سپین عذارشی

د غه مخ چه دِ تر ګل ښایسته روغ دے  
د ویښتو په ټوکېدل بهٔ لکه خارشی

داچه اُس وو پسے ګرځی د دے ږدے  
همګی بهٔ له تا بیارته په وار وارشی

دغه ناز بهٔ دِ بدل واړه په نیازشی  
څوک بهٔ نهٔ وی چه د ناز دِ خریدارشی

هم هغه چه اُس بلا د تا اَخلی  
تر بلا بهٔ ورته بد د تا دیدارشی

Marfat.com

ستا و ښېښتۀ بۀ لکه خار ور باندِ څرخي — چه په تا مین له تا بوس و کنارشي
د پېغرو په ځاځے بۀ ناستے یے په مجلس کښې — اُس د ناستہ که په غېږ کښې دخپل یارشي
دا چه اُس دِ په لیدلو نۀ مرېږې — ہم ښغه چه تا ته گوري بۀ ئے عارشي
که گهے چه تېر ساعت ورته زړه یاد کا — ستا بۀ سرے اُښکے رواني په رُخسارشي
کۀ د خوئي خصلت د ښو وی خوښ بۀ وے — کۀ خصلت دِ د بدیٔ وی ستا بۀ زارشي
د سیرت خوبی پیدا کړه چه باقی ده — په دُنیا په آخرت بۀ دِ پکارشي
مټ په علم په ادب په ښۀ خُلقت کړه — چه دے سُورے دِ جوړ پرِ کار و بارشي
خود بۀ عِلم خوی ادب در ته بیان کا — څو خویونه بۀ ځما و تا ته شمارشي
نیک اَندیش، نیکو گفتار، نکو کردار شه — چه مُمِد دِ په ہر کار پروردگارشي
لمیني کړه چه ہر چا وته عـزیز وې — کبر مۀ کوه آخر کبرجن خوارشي
ہمیشه خُله پټه وُسه په مجلس کښې — په ضرور د ستا د خله ویل اظهارشي
کۀ دِ سر درومې دروغ مۀ کړه رشتیا کړه — دروغژن سړے بے قدره بے وقارشي
له ہیچا نۀ غیبت مۀ کوه چه اور دے — کُل طاعت به دِ سوخته په دغه نارشي
سخن چین مۀ شه نمّام چه په قیامت بۀ — دا دوه گروہه په دوزخ کښې گرفتارشي
چه وعدۀ وُکړے له چا نوره ئے مۀ کړه — فرق په دا د مسلمان اَوّ د کفّارشي
قناعت په خپل قسمت کړه حریص مۀ شه — د ازل وېش بۀ نۀ کم نۀ بۀ بسیارشي
سخاوت کړه کۀ په لږ وی کۀ په ډېر وی — په دا خویٔ سړے ہر چا وته رُوېدارشي
شجاعت په موافق دَ شریعت کړه — بے د شرعِ بۀ له تا کۀ څوک آزارشي
بے قضا دِ نشته مرگ په غلیم مټ کړه — که په لاس دِ ہمه واره ذوالفقارشي
فخر مۀ کړه په دُنیا د ہندُو ہم وی — د مؤمن په ښو خویونو افتخارشي
له ښغه مجلسَ تښته په کړو ښو — چه ویل په کښې د شر یا د اَشرارشي

Marfat.com

ناست ولاړو له ښغه ځلمیانو ستا وی چه په تا کښې ئې ښکاره د ښو آثارشی
چه ئې مینه په شریروی دې شریرشی هرچه مینه په اغیارو کا اغیارشی
چرې نه وی چه زنا وته زړه ښسک کړې ځوانی مرګ به په دنیا کښې زنا کارشی
د دوزخ د عذابونو به لا سخت وی په قیامت چه بوی روان د دهٔ مردارشی
بنګ شراب مهٔ خوره چه ورځ د قیامت شی خمرخور د بت پرستو په قطارشی
یو ذره خلاف د شرع قدم مهٔ بږده د کتاب په موافق د ستا رفتارشی
که په دا ویل عامل شے حما ځانه ستا مکان به د جنت تحت الانهارشی

ستا په شعر آفرین عبدالقادر !
په پښتو خو به هم ښه رنګ ګفتارشی

Marfat.com

# ۱۰
# قصیده
## (نعتیه)

کهٔ دِ نشته په یقین کښې دَرغلی ــــ دکُوڅې د سپي ئې تل څټه تلی
په مزریو ئې شرف دے د سګانو ــــ چه اِنکار کا د غائیٔ دے دغلی
کهٔ ئې سپے په شور دریاب کا ژبه تَره ــــ ښغه دم بهٔ ئې وُبهٔ شي عسلی
د کمال ویره ئې ځکهٔ د زوال نشته ــــ لا یزال ئې دے کمال لَم یَزَلی
تمامی عالم دِرُود وربانډِ وایی ــــ ځنې ځنې په خُفیه ځنې جلی
موجودات واړه ښکرد دے بادشاه دے ــــ نمر، سپوږمَئ، ستوری ئې واړه مشعلی
اَنبیاءٔ ئې د ښکر جماعت دار دی ــــ سپاه نه پرېږدی چه کا بد عملی
نقیبان دی نُقباءٔ چه اِهتمام کا ــــ دا دِ تا دوی خدمت سزا دلی
هم په دا اُمید اِدریسؑ دِ زاکری کا ــــ که ئې ساز د براق حُل کا بخملی
د صالحؑ ناقه تل سر وهي له کانړی ــــ چه ئې نهٔ شوم په ښکر کښې پرتلی
د خلیلؑ غُندِ به خلاص شے له نیران ــــ کهٔ د دهٔ په عشق کښې نه ...
عرش ئې تخت چه بانډِ ناست دے عدالت کا ــــ چه اُودس پرِ کا کُرسی ئې صندلی
جبرائیلؑ ئې جلو دار زین پوش په غاړه ــــ په رفتار نهٔ کا یوُدَم مُعَطّلی
میکائیل مکیال په لاس خدمت ئې دا دے ــــ چه غلے ئې و ښکر وَته تلی
اسرائیلؑ ئې نفیر نواز حُکم ته کوری ــــ بے دے کارَ په بل نه دے مشغلی
عزرائیلؑ ئې دے شحنه، دوزخ ئې حبس ــــ د دین غلهٔ ئې بے عِزّت ورولی

Marfat.com

و صدّیقؓ نه شُ په وخت د رحلت وُوسے
نائب یے حُما په حُکم اَزَلی

چه اِنکار کا څوک د تا له خلافتَ
د هغو په دین کښِ پرېوزی اَرجلی

چه راځه کا د صدّیقؓ د قدم خاورے
هاله کشف عطا شی د هر ولی

حق ویل د توکّل په قوّت کېږی
د عُمرؓ غُندِ بل څوک توکّلی؟

چه حیا د عثمانؓ پر بوځی په خلق
په ایمان بهٔ در ست جهان شی مُمتلی

حد د چا دے چه علیؓ سره سیالی کا
ورنه خدائے وے "لَافَتیٰ اِلاَّ عَلی"

څلور واړه څلور رُکنَ د اِسلام دی
د اِسلام کو نه یے دوئ وَه خَللی

محبّت د هر اَصحاب پزړهٔ کښِ ځائے کړه
چه حاصِل دِ شی د خدائے پېژندګلی

د اَصحابو محبّت قلب سلیم کا
نه هغه کا چه ئے زړه وی عللی

که په چا د محبّت په چا دِ نه وی
رافِضی شوے، خارجی، معتزِلی

په حُرمت د کربلا د شهید انو
هم رم لرے کړه له زړهٔ طول اَملی

یا الله عبد القادر ور ځنے خلاص کړے
په حصار کښِ د هوا دے قبلی

# ۱۱
# قصیده
## (موعظت)

مَرد ښخه چه په بخشش لکه دریاب وی — په ښنه بد بانډ مُشفق لکه آفتاب وی
لکه مزکه ښیے پست په تواضع وی — د ہمه واړه عالم مرجع مآب وی
په ثبات کښې ترغره لا ثابت قدم وی — په صفا اوُ په نرمیٔ کښې لکه آب وی
تل ئے وُچوے د میا ښتے غُنډ ویل وی — دوست دُشمن ئے له دیدارَ کامیاب وی
قناعت لکه ہُما په اُستخوان کا — نه ظالم نه حرصناک لکه عُقاب[۱] وی
چه د ظُلم لمبے بلے په عالم شی — پرِ بریان د ده خاطر لکه کباب وی
په نعمت کښې شکر کا په محنت صبر — زړه ئے تینګ په مسبّب نه په اَسباب وی
په قضا دحق راضی خورم خورسند وی — ورنه یوُ جنت دوزخ ثواب عِقاب وی
یوُ زمان ئے زړه خالی نه وی له یادو — که په ناسته که په تللو که په خواب وی
اَوامر لکه سنت اَدا کو ینه — ښتٔ خرکند له نواحی په اِجتناب وی
که اَشیاءُ ورنه ښکاره کما هِیَ شی — مُناجات ئے زِدنی علماً یا وهّاب وی
عام عالم نه ناست ښکاره ښی په رفتار کښې — د وصال تر شپے لا تله دده شتاب وی
له تاثیرَ ئے بَد ښه لکه مِس زَرشی — په لمبو د عشق سوخته لکه سیماب وی
ښو چه گرزی د دُنیا په خرابات کښې — په باطن کښې آبادان ظاہر خراب وی
د ډک سیند غُندِ آواز نه کا ښهیږی — نه پُرشوره پُرغوغا لکه سیلاب وی

[۱] اک ۱- محراب.

Marfat.com

د دانا د سوال ځواب په ادب ورکا — وَ احمق ته ئې په پټه خُله ځواب و
د ښو بُوئ ئې په همه دیار پریشان وی — درست وجود ئې په معنیٰ د مُشکناب و
په ظاهر جامه له خلق سره خلق — په باطن کښې تابعین وی یا اُصحاب و
هغه مرد ولی ګڼړه عبدالقادرَ
چه عمل ئې په سنت اَوُ په کتاب وی

Marfat.com

# متفرقات

Marfat.com

Marfat.com

# مربّع

(د خپل پلار خوشحال خان خټک په ستاینه او دعا کښې)

خدا ئې تل لکه خپل نوم لره خوشحال — خوشحالي ئې په نصیب کړه لا یزال
خردمند، نیکو سیرت، نیکو مقال — خود پو پیږې پښتون ئې نه وو سیال
ورکول ئې بې منت د حاتم وو — ورته یو سفال وسنګ، دینار درم وو
وائي په ځان د ښغه چاچه په ده کرم وو — ورځ او شپه به ئې کاوه باند ارغال
شرم و ننګ لکه د ده وو د چا نه وو — شجاعت لکه رستم هسې د ده وو
شور د ننګې ئې په سرکښي پروت په زړه وو — شان د ده دې دربنکاره د ده تر قال
حال د هر سري ښکاره دې تر مقال — حل د هر مشکل کاوه شي له اموال
حد د چا چې ئې ځواب کاوه له قال — حقیقت په مجاز نقل دې محال
خار د سترګو د دشمن پر خپل بهار وو — خاموشي حلم ئې ډېر درلود بردبار وو
خپل پردي له ده همه شکرګزار وو — خټک درست د ده په دور وو نهال
اندېښنه ئې وه هر کوره ډېره لويه — اجنبي به ئې کم نه کاڼړه تر زويه
افغان ده غندې چې وزيږي بل بويه — ازاده وو، هېڅ ئې نه وه مال منال
نوم ئې لاړ وو تر دکن، تر قندهار — نه وو بل هسې نامي له زمیندار
نيم درم ئې هم کور نه ساته له عار — نور پنځ نه وو د ده بې نورې بې حال
خپل خپلوان ور څخه واړه وو خوشنود — خوش خورم وو هم کس د ده له جود
خاص و عام وو تل سودمن د ده له سود — خوش کلام وو، خوش معاش وو، خوش خصال
تواضع ئې د هر چا کړه بې مقدار — تر اندازه کم زيات نه وو د ده کار
تل به ده کړه کبرجن په کبر خوار — تکبر په کبرجنو دې ملال

Marfat.com

کلام ډیر د دهٔ شیرین وو تر نباتَ　　کَمَ دِ دهٔ ترخُطِ ترخه وتل وُچا ته

کارَ ئے دا وو ترحیاتَ ترمَماتَ　　کرم وُکړه په دهٔ بانډ ذوالجلال

اور دننه د عاشق په زړه بلیږی　　اَوَّ رنگین شعر یپے ځئے بنکاریږی

اَرمان داد شهٔ چه څوک لرنه پوهیږی　　اُس لورځهٔ وایم د ہسے حال اَحوال

لام اَوَّ سبے ئۓ د دلبرو دی ستایلی　　لعل اَوَّ دُر ئۓ د وینا په تار پیبیلی

لبرَ و ډیره ما د دهٔ د حال ویلی　　لکه څوک چه د یار ځ کا نمر مثال

Marfat.com

# مخمس

رنړا ورځ په ما بې تا ده توره تمه    راته یو شو د غمونو غرونه سمه
اوښکې[له] وینې تویوم د زړه له غمه    یو زمان م خلاصے نه وی له الَمه
زه دِ تل وینم د خوبو زړونو مرهمه

فراق ډېر راباندِ زور شو نه سهیږم    ستړیه اوٌ ورځ لکه باران بہیے ورېږم
تود نوګے م له خولے ځی په زړه ورتیږم    په راتلو دِ لکه ګل شګفته کیږم
بویه بویه رالیږه آشنا صبا قدمه

چه خوراک ئے همیشه خونِ جګر وی    تل فریاد تل په ژړا په نارو سورو وی
تر مجنون اوٌ تر فرهاد ئے حال بتر وی    د مهجور تر زندګی لا مرګ بهتر وی
که سینه ئے ستی کیږی نه ده ګرمه

که هر څو د خوبی ډکے پیالے شومی    عاقبت به ئے له غمه ویچ شی کومی
له دنیا به هوشیار څه رنګ خوبی موی    چه د سترګو په خنبل له سری دروی
دِل بستګی پر پورِ مه کوه آدمه

د دنیا د مینے سخت زبون بنیاد دے    په دنیا مین بنده [illegible] آزاد دے
د دنیا دولت په مثل لکه باد دے    په دنیا چه ئے زړه ښاد [illegible] ناشاد دے
کله ځ کا کله خته کانږ له بمه

ستا مین به همیش خوار خسته به ژړوی    تل په غم تل په آشوب [illegible] څوروی
خوار خسته حیران پریشان به لکه زه وی    تر هغه به بل ناپېږ په جهان نه وی
چه [illegible] تا [illegible] لری د وفا طمعه

---

له ب م: بے تا اوښکے تویوم د زړه له غمه -

ځو عاشق د یار په مینه کښ خوارېږی ځپل پردی ورځنې عار کا وېزارېږی
لاځٔ عشق وَمعشوقے ته اِظهارېږی په ځپل یار چه ستم نهٔ کری آزارېږی
چېرِ نهٔ وی لاس کوتاه کړے له ستمٔ

کهٔ هرځو په جهان ډېرے دی نګارے آهو چشمے، مُوکمرے، پریوارے
مه جبینے، تن سیمینے، مخ نسرینے، سرو قدے، ګُل رخسارے، خوش رفتارے
د بنایست وېنا په تا بانډِ شوه تمٔ

شرمنده دِ تر بنهٔ مخٔ ګلزار وینم چه بے ستا له مخٔ ګُل د بهار وینم
د هر ګل پانړے په زړهٔ لکه خار وینم د زلفینو تر حلقو دِ عُذار وینم
کهٔ سمن دے ستا په زلفو کښ صنمٔ

راته ځهٔ وایے چه وېره د ځان مهٔ کړه د ځپل یار په محبت کښ نقصان مهٔ کړه
هیڅ و ماته له دے باب بیان مهٔ کړه کهٔ م سر ځی کهٔ م مال ځی ګمان مهٔ کړه
چه بهٔ مینه شی ځما له یارٔ کمٔ

کهٔ له عشقٔ شے سنګسار عبدالقادرٔ وَ منصور غنډِ په دار عبدالقادرٔ
په نارو سوځے په نار عبدالقادرٔ مهٔ کړه بے عشقٔ بل کار عبدالقادرٔ
د عشق چار په لاس کښ وُنیسه محکمٔ

Marfat.com

## مخمس[1]

دا ځما خاطر زبون دے دے له عقله ډېر بېرون دے
په دُنیا پسے مجنون دے څهٔ امید په دا ژوندون دے
نن دیدن ګاندهٔ بېلتون دے

خبر شه د نوحؑ له حالَ چه ئې عمر وو زر کالَ
نهٔ شو خلاص د مرګ له جالَ په اَرمان لاړ له عیالَ
نن دیدن ګاندهٔ بېلتون دے

کهٔ څوک سیل د ګلزار کا ننداره د نوبهار کا
کهٔ پرِ غوږ کا زړهٔ بېدار کا عندلیب پسے چغار کا
نن دیدن ګاندهٔ بېلتون دے

په سپرلی ګلونه وا شی په څو رنګ ئې تماشا شی
چه خزان ورباندِ را شی تورِ خاورے د بېدیا شی
نن دیدن ګاندهٔ بېلتون دے

کهٔ په حسن لکه نمر شی تر یُوسفؑ ښایسته تر شی
خو چه قبر له ورِ ور شی تورِ خاورے ئې په سر شی
نن دیدن ګانده بېلتون دے

اے چه خان اَوُ ملک نُومی په دماغ په کبر دروی
تل به دا خوشی نه مُومی بند به شی د مرګ په لُومی
نن دیدن ګانده بېلتون دے

[1] دا بند پنځ " کښی نشته .

که د مرګ خواری په زړه کړے کور به وران د دُنیا ته کړے
خوشحالی به نوره نه کړے تل به دا ذکر په خُله کړے

نن دیدن ګانده بېلتون دے

چه جُدا یاران په زړه کړم په ژړلو لیمه سره کړم
خوبه ژوندون په دُنیا زه کړم آشنائی به نوره نه کړم

نن دیدن ګانده بېلتون دے

که هر څو نازک بدن شی لکه ګل هسے په تن شی
چه لحد د دهٔ وطن شی د چنجیو په خوردن شی

نن دیدن ګانده بېلتون دے

که څوک جوړ لوئے عمارت کا ؞ تر کسری ئے لا زینت کا
په مثال ئے د جنت کا د مرګ سیند به ئے لت پت کا

نن دیدن ګانده بېلتون دے

په دنیا کښې که قارُون شی لا تر دهٔ نه هم افزون شی
چه و قبر ته ئے پون شی خالی لاس به ترے بېرون شی

نن دیدن ګانده بېلتون دے

که ته نوے کړے ګذارے بنایسته پری رُخسارے
پس له تا به شی دوی خوارے بیا به شی د نورو یارے

نن دیدن ګانده بېلتون دے

که سل زر دِ فرزندان شی لا به دوی په مرګ طوفان شی
ستا خاطر به پر بریان شی لا به پاتو یتیمان شی

نن دیدن ګانده بېلتون دے

اے ځما ناپوهٔ زړه! نصیحت له مرو اخله
څو دُنیا ئے ښتولوله لاړل دا ئے پرېښودله
نن دیدن ګانده بېلتون دے
که ئے وړاندِ هاتیان ځي پسے دے په تخت روان ځي
لور په لور ئے سپاهیان ځي څو به کوښے له جهان ځي
نن دیدن ګانده بېلتون دے
که بادشاه د دست جهان شي سلطنت ئے د سلیمان شي
چه په حکم ئے دیوان شي تر جدا به په ارمان شي
نن دیدن ګانده بېلتون دے
که هر څو ئے دولت ډېر شي د حساب تر شماره تېر شي
چه د مرګ استواځے وېر شي پر به زهر یا ګندېر شي
نن دیدن ګانده بېلتون دے
هر چه نغته د خپل نفس کا د دنیا هوا هوس کا
بېهوده چاړِ عبس کا فریاد هسے رنګ جرس کا
نن دیدن ګانده بېلتون دے
چه به خواه ناخواه تر ځینه نه دِ کا په دُنیا مینه
ځان دِ تلو نے وُګنړینه د قیامت په غم دِ شینه
نن دیدن ګانده بېلتون دے
شپه اوّ ورځ دِ عبادت کا ترک دِ واړه معصیت کا
ځان دِ جوړ په شریعت کا تل دِ زړه ته نصیحت کا
نن دیدن ګانده بېلتون دے

Marfat.com

اے خوب ؤریہ زړہ بیدار شه دچل ځان په غم گرفتار شه
له گناه توبه گار شه تل په ذکر د غفار شه
نن دیدن کانده بیلتون دے
ځبله مه تار په تار یږی یاران یو تر بل ځاریږی
بیحو مه وبزار یږی وبزار څه مه آزاد یږی
نن دیدن کانده بیلتون دے
چه ؤوایے چا ته یار ! نور دنیا کړه ترده ځاره
سر شنده د یار د پاره زړه ساتل غنیمت شماره
نن دیدن کانده بیلتون دے
سترگے ؤخورے دوله نور چه باقی په فانی پلور
په دنیا پسے تل شور دے دے دنیا ونه گورے
نن دیدن کانده بیلتون دے
اے چه ناست یے په تخت باند په شاځے په قهقهه خاند
ځائے د دے تر خاورو لاند مرگ تل دا دنیوره کاند
نن دیدن کانده بیلتون دے
چه جدا له ما محرم شو یو په سل م الم شو
ځما زړه جونگړے دغم شو چه قایل په دا قلم شو
نن دیدن کانده بیلتون دے
اے ځما دلبر ! را شه ماتړے مه کوه پخلا شه
ؤموسیږه په خندا شه خوا په خوا راسره بیا شه
نن دیدن کانده بیلتون دے

Marfat.com

ځی م اُښے لهر لهر ـ وران م شو د خاطر ښهر
ناست په غاړه وُم د نهر ـ دا آواز ئے کړه په جهر
نن دیدن کانده ښېلتون دے

څوک چه غوره په دا بیان کا ـ څهٔ امید به په جهان کا
کور به دے د دُنیا وران کا ـ دا ویل به هر زمان کا
نن دیدن کانده ښېلتون دے

کهٔ په حُسن لکه نمر شی ـ تر یُوسف ښایسته تر شی
څو چه قبر لره ور شی ـ لوړ خاورے ئے په سر شی
نن دیدن کانده ښېلتون دے

زهٔ عبدالقادر نه ښایم ـ چه خپل شعر چاته نمایم
خو مین په دا وینایم ـ هر زمان ئے ځکه وایم
نن دیدن کانده ښېلتون دے

Marfat.com

# ترکیب بند

سخ د بېغه زړه چه کا اشغال د محمدؐ
بخت د بېغ خط چه لری قال د محمدؐ

بے له یوه خدایه چه کمال دے دِ دهٔ علم
نور چا ته ښکاره نهٔ دے کمال د محمدؐ

خوت موسیٰؑ په طور فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ حکم پرؤ
عرش هم مفتخر شه په نعال د محمدؐ

سر به ئے د فخر تر اوهٔ آسمانه تېر شی
هر چه له اخلاص شی پایمال د محمدؐ

خدائے چه خهٔ د خدائے دی، همګی واړه دِ دهٔ وُو
خهٔ شو په ظاهر که نهٔ وو مال د محمدؐ

نور نبیان به واړه د ذرے په دود خرګند شی
وُبرېښی چه نمر غندِ جمال د محمدؐ

خال چه په مخ کښېږدی یو په سل حسن زیات شی
ځکه خال د حورو شو بلال د محمدؐ

په ورځ د قیامت چه خلایق واړه حاضروی
هاله به ښکاره شی جاه جلال د محمدؐ

وایی چه که حُب دِ د خدائے پرېوزی په زړه کښې
حُب په محمدؐ کوه په آل د محمدؐ

خدائے د دهٔ له روَیه تمامی خلق پیدا کړه
دهٔ هم بے له خدایٔ همګی واړه ترشا کړه

خدائے دے صفت کړے په قرآن د ابوبکرؓ
فرض ده ثنا په انس و جان د ابوبکرؓ

بے له دے چه ځانؓ او مال ئے ځار تر محمدؐ کړی
نهٔ وو په خاطر کښې بل ارمان د ابوبکرؓ

بوی به ئے له خُلے د وریتو غوښو همېشه تلهٔ
تل د عشق په اور وو زړهٔ بریان د ابوبکرؓ

اُستاد د انبیاؤ شو عالم د دهٔ له رُخه
ادب ئے در همېش په دل وجان د ابوبکرؓ

ځکه انبیاؤ آرزوی د دهٔ اُمت کړه
چه خیر ئے کړهٔ په لوحِ محفوظ شانؓ د ابوبکرؓ

تل ئے په دوستانو باندِ رحم د رحیم وی
یاد ئے دی په لعن دشمنان د ابوبکرؓ

نور عالم مشتاق دے د جنت، جنت د بیغو
هر چه دی له صدقٔ مشتاقان د ابوبکرؓ

Marfat.com

فقر ئې موندلے وَو د پاک نبیؐ له فقرَ ۔۔۔ ځکه بادشاهان شول گدایان د ابوبکرؓ

خلاصه ئې په رُوئ د محمدؐ له مانه مه کړه ۔۔۔ لاس رام لګولے په دامان د ابوبکرؓ

هیڅ حاجت ئې نۀ غوښت دَه په خدائے راوړ تصدیق

ځکه سر دفتر د اولیاؤ شو صِدّیق ٭

پس چه له صدّیقؓ په صفت د درّه دار شه ۔۔۔ هاله مسلمان سړے سُنیانو سره شمار شه

حُب ئې په سړیو په پېړیو باندِ فرض دے ۔۔۔ هرڅوک چه ئې حُب نۀ لري د نبورے خوار شه

دین د اسلام بیا موندۀ قوّت د دَه له دینَ ۔۔۔ دا رنګه قوّت بۀ په قوّت د کردګار شه

سخت په کافرانو وو تر زړه د کافرانو ۔۔۔ نازل په باب ئې ځکه اَشِدّآءُ عَلَے الْکُفَّار شه

هسے رنګ آیت پر جبرئیل له خدایَ راوړ ۔۔۔ هرچه به په وخت د مشورت د دَه ګفتار شه

کله چه به دے د خدائے د پاره په غضب شو ۔۔۔ شیطان بۀ په کروهونو له سخه ئې فرار شه

صدق د صادق که له صدیقؓ نه ښکاره کړه ۔۔۔ عدل د عادل دِ دَه په عدل کښ اظهار شه

عدل چه دِ دَه لکه آفتاب په جهان وخوت ۔۔۔ پټ په سوراخونو کښِ ظالم شو پرک وار شه

پاک نبیؐ ویل چه پس له ما کۀ پیغمبر وی

روخ ده چه بغه هم د خطاب زویه عمرؓ وی

فرض لکه په خلق باندِ تفضیل دے د شیخین ۔۔۔ هسے رنګ واجب دے محبت د حَسنین

دوه ځله چه نُور د نبوّت باندِ تابان شه ۔۔۔ ځکه مخاطب شو په خطاب د ذی النّورین

بحر د سخا وو غر د حِلم کان د شرم ۔۔۔ یبنے ئې قدم وو د همت په فرقدین

تخمیر ئې د طینت وو د جنت په شهد وشوے ۔۔۔ تریخ ئې چا نۀ ونه وټل هرګز له شفتین

حُیر بۀ ئې له شرمَ و حیا نه کتے نه شو ۔۔۔ تل بۀ ئې په خپل کنار نظر وو د عینین

عُمر ئې تمام په خوشنودئ له خالق تېر کړه ۔۔۔ کړه بۀ ئې په هر ساعت طاعت د ثقلین

خدائے چه "رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ" ورده ته وو هے ۔۔۔ ځکه ئې په خوئ د رحمت بیا موند زیب وزین

لاړ که له دُنیا نه په سرو وینو رنګوے ګرځي په ګلزار کښې دجنت په شين شئ

جمع د ضِدّينُ کړ پر هرچا وی محال
دين اوُ دُنيا جمع کړه و ده ته ذوالجلال

رفض نه دے خلقَ محبت د مرتضىٰؓ خدائے دِ وَما راکړه په حرمت د مرتضىٰؓ
لا به تر ده مینه په بُوبکرؓ په عُمرؓ کا وی ئے چه په زړه کښې محبت د مرتضىٰؓ
هرچه ئے په زړه کښې بُغض پروت وی د شيخينو نُل وی په ښخو باندِ لعنت د مرتضىٰؓ
نشته هسے رنګ بل يوُ ځوان لکه علی وو دا رنګ خدائے کړے دے صفت د مرتضىٰؓ
خدائے چه پرِ خطاب اسد الله له لطف کښېښو نُم په داخطاب شو شجاعت د مرتضىٰؓ
ځان ئے د هجرت په شپه ايثار ترمحمدؐ کړو خدائے ستايه قربنتو ته فتوت د مرتضىٰؓ
کوټ ئے د خيبر په تنها ځان کړ دړے وړے زياتِ دے تر بيانَ زور قوت د مرتضىٰؓ
نبیؐ د علم ښهر دے د دے وَر د ښهر ګوره چرته لاړ شو فضيلت د مرتضىٰؓ
وبخښه چپل خدائے عبدالقادر له د پرفضل په رويَ د مرتضىٰؓ په ذُريّت د مرتضىٰؓ

ستوری د هُدیٰ دی د رسولؐ واړه اصحاب
راضی دے خدائے له دِيو نه رحمت ئے په احباب

# ترجیع بند

دریغ دریغ د دُنیا خونه تالا کړے　　په ژوندونی ځان بترتر خاورو لا کړے
د غرځه غمنِ له خلق تښتېدے　　ځان له واړو آشنایا نونا آشنا کړے
چه په مرګ سره له ځانَ جُدا کیږی　　بیغه واړه لا تر مرګ مخوا جُدا کړے
یَو ساعت مه وے فارغ د ځان له غمَ　　په هوس م د همه خلقو خندا کړے
لېونے شوے چه چا نه پرېښبوے وَ درته　　ودانی د جهان واړه پسے سُا کړے
مخ په بېدی بېدیا وُنیوے ژړ ے
د صحرا د وُنو پانړے پېت خوړ ے
چه آخر دِ له فانی جهانَ تله شته　　ځه پکار که دِ په کورکښِ سپین اَوسره شته
که په تخت د پاسَ کښېنے بادشاهی کړے　　عاقبت دِ بیا له تخت پرېواته شته
که لښکر دِ ترحساب تر شمار تېرشی　　ګمان مه کړه چه دِ بے عمَلٌ مله شته
جمادات د جُدایئ له غمَ ژاړی　　ستا لا هیڅ کله نرمی د خاطرنه شته
ورځ په ورځ شیرین یاران در ځنے درومی　　وُچوے دِلَ! چه لا ستا خواب اَوخواړه شته
مخ په بېدی بېدیا وُنیوے ژړ ے
د صحرا د وُنو پانړے پېت خوړ ے
که هر څو وی ښایسته په رنګ رنګینه　　لاله روُیه، سُنبل مویه، تن سیمینه
تر بنه مخ پورِ د نور د سپوږمئ هیڅ شی　　په سپوږمئ چه پلو واخلهٔ وُدرینه

Marfat.com

لطافت ئې زيات د ګل تر لطافت دے　　په عالم ئې د خوبئ خبرے شينه
کينبلے ځځ په ئې د ګور خاورے بد رنګ کا　　نازک تن به ئې د ګور چيچي وخورينه
چه دا هسے احوال دے په دا دنيا کښ　　پخپل حسن به څوک څه دماغ کوينه

ځځ په بېدې بېديا ونيوے ژړے
د صحرا د ونو پانړے پت خورے

کشکے زه په دا جهان راغلے نه وے　　چه په داغ د بېلتانه داغلے نه وے
يا رم مرګ د هلکوالي په ساعت وے　　چه رم خپل پردي څوک پېژندلے نه وے
يا زووے روند په سترګو وے لګايه　　چه رم ځځ د هيڅ اشنا ليدلے نه وے
يا خير په ښه بد مه وے لېونے وے　　چه د روغو په شماره شمېرلے نه وے
يا هوشيار شوے تل د ځان فکر کوے　　په فکرونو دجهان نيولے نه وے

ځځ په بېدې بېديا ونيوے ژړے
د صحرا د ونو پانړے پت خورے

په خاطر رم د بېلتون لمبے بلېږي　　ځکه اوښے رم د سترګو را تلېږي
دا آسمان چه لکه ژرنده هسے ګرځي　　د دانو په ځائے ياران پکښ دلېږي
د دنيا په صحرائے کښ ځائے د مقام نشته　　کاروانونه په هر دم ځنے چلېږي
غافلان به په دنيا کښ خوشحالي کا　　عاقلان به هميشه کښيني نولېږي
هرګز نور کاروه مه کوه په دنيا کښ　　چه دا هسے رنګ شيرين ياران بېلېږي

ځځ په بېدې بېديا ونيوے ژړے
د صحرا د ونو پانړے پت خورے

په ارمان به يک تنها ووزے له کوره　　خپل پردي به در سره دروي تر ګوره
په لحد کښ به دِ واچوي يوائے　　غوروي به درته خاورے لوند لوره

Marfat.com

تا به پرېږدې د وئ به وُجاروزی بیارته — په هجران به ئې نارې وهې په زوره
کبر تاکبر به په هیبت درلره راشی — چه ئې دواړه سترګې ډکې وی له اوره
نور څه مه کړه په ژوندون عبدالقادر — چه دا حال د ے اے دزړه په سترګو کوره

څخ په بېدی ببدیا وُنیوے ژړے
د صحرا د وُنو پانړے پټ خوړے

چه له دړ دښتن ورتلے بل دَرته — لکه سپے په کاڼرو لُوټو ئې شړے
د جهان د خوبرو هیڅ غرضی مه وے — کُل ترخه م د خوبرو غُنډِ نغرے
د حرص د سپی غابن ما پهٔ قناعت شوے — په زنځیر م بیا د صبر وُ ستړے
عاقبت به په اَرمان ورځنے دروی — کهٔ مدنګ وی په سپېرو اِیرو لړے
په ما نوم د بادشاهئ مه وے پورِ — خوشامد م مهٔ کړے چا تل ئې ربړے
هرکاره په بهادرشاه چرِ خبر کا — حال عبدالقادر مه وایه سپړے

څخ په بېدی ببدیا وُنیوے ژړے
د صحرا د وُنو پانړے پټ خوړے

Marfat.com

# قطعه

زۀ چه ښسے په خپل ځان بانډِ مېن یم　　د جانان وته په جانان بانډِ مېن یم
د خزان مېوه بهار د بهار دے دے　　تر بهار په خزان بانډِ مېن یم

د شیخ سعدی لاهوری خلیفه حضرت بنوری دو وفات تاریخ

شیخ سعدی قدوهٔ اهلِ یقین　　چوں منوّر گشت اَزو زیرِ زمین
اَز خرد جستم حساب رحلتش　　در جوابم گُفت "شیخِ مؤمنین"
(۱۱۰۶ھ)

تاریخ دوبادِ کال

په هر کاله کښې د مرګ ماتم دے　　وبا نیولے اکثر عالم دے
ښنه ښنه یاران ئے ځبله جدا کړل　　تاریخ ئے راغے چه "کال دِ غم" دے
(۱۰۹۵ھ)

د مجنون په مخ سپے په کوځه راغے　　چه په رنځ د پمن والی مبتلا وو
ښغه دم ئے تر پښو پر بوت غږ ئے کښنل کړ　　چه په چم کښې ئے لیدلے د لیلا وو

که د رحم نظر وکړے ربّ ماته　　د زړۀ مینه م به کړے له غیرِ ماته
ربّ نۀ ځما ښښتن زۀ بنده ستا یم　　تا به غواړم، تا به بولم تا به ستایم
تۀ قادر یے، ښۀ صورت راکړه و ماته　　توان د ښو خبرو غواړم راکړه ماته

په نسیم د محبت لکه ګل وا یم　　په تجنیس په نصیحت پند وند وایم
رساله به درته وایم په څو وره　　و معنو ته ئے مېره شه قدم وره

تمت

# فرہنگ

Marfat.com

# مخففات

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ج | = | جمع | ع | = | عربي |
| حص | = | حاصل مصدر | ف | = | فارسي |
| س | = | سنسکرت | ھ | = | ہندی |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| **ا** | |
| آبِق :- | تښتېدلے مریے |
| اَبْشِرُوا یا مَعاشِرَ التُّجّار :- | خبر شئ یَہ سوداګرو ! |
| اَبْصِرُوا اَبْصِرُوا یا اُولوالاَبْصَار :- | وګورئ وګورئ یَه سترګورو ! |
| اَبلے :- | لاحقہ. ګان نه ترشی ویلے. پښے سره راځی لکه پښے اَبلے - پښے برښنې یعنی بے پیزار . |
| اِتَّقُوامِن مَجَالِسِ الاَشرار :- | ووېرېږئ د شریرانو د مجلس نه . |
| اَتاله :- | حمله |
| اَثمار :- | (جمع د ثمر- میوه) میوے. |
| اَثیم :- | ګناه ګار - مجرم- عاصي. |
| اَجلاف :- | (جمع د جلف = رذیل) رذاله- کم ذات - کمینه . |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| اَخ :- | د اَفسوس، تعجّب یا د خوشحالۍ په وخت بے اختیاره دغه نه داکلمه وځي |
| اَخیار :- | (جمع د خیر = نیک - ښه) نیکان - ښه خلق . |
| اَرجَل :- | اکثر برجل سره ویلے شی - اَوول چه په تلو کښې د چا پښے ونښلی. |
| اَرجَلی :- | نښته - غوټه - کنایةً فساد - رخنه. |
| اَرذل النّاس :- | په خلقو کښې د ټولو نه زیات رذیل. |
| اِرغال :- | یرغال - یرغل - حمله. |
| آز :- | حرص- لالچ- طمع- وژستر کتوب. |
| آزرده :- | خفه- زهیر- دِلګیر- غمجن. |
| اَستواځے :- | استاځے - استولے شوے - رېبار - قاصد پیغام یا سوال جواب وړونکے راوړونکے. |
| آستینونه :- | (ف) (جمع د آستین - لستوڼے) لستوڼي |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |
| اَسَدُ اللّٰه :- | ع - مزرے د اللّٰه - د حضرت علی کرم اللّٰه وجههٔ لقب - |
| آسیب :- | صدمه - تکلیف - دشمنی - آفت د پیریانو سورے یا خلل - خرابے - |
| اِشتغال :- | شغل - مشغولا - |
| اَشِدّاءُ عَلَی الکُفّار :- | سختی اَوُ شدت کونکی په کافرانو |
| اَشغال :- | (ع - جمع د شُغل = مشغولا) مشغولا کانے - کارکسب - روزګار - |
| اِشکال :- | مشکل - ګرانے - سختی |
| آشوب :- | شور شر - فساد - |
| اِعتکاف :- | د عبادت د پاره د جماعت په کټ کښې کښېناستل اَوُ دُنیاوی کارونو پرهیزول - |
| اِعتمید :- | اِعتماد - باور - اِعتبار |
| آغله :- | ښائسته - ښکلے - ښکلے - مرغوب |
| اِفتح یا مفتّح الابواب :- | پرانیزه یَه د دروازو یا د دَرُونو پرانستونکیه ! دُعا ده - د اللّٰه پاک نه خواست دے چه ته د فضل اَوُ کرم دروازه پرانیزه - یعنی ګرانم اسانه کړه اَوُ فتح اَوُ کامیابی راته راکړه - |

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |
| اَفزُونی :- | زیاتے - زیاتېدنه - |
| اَفګاران :- | (جمع د اَفګار = زخمی) زخمیان - ژوبل - پرهار ژلی. |
| اَګر :- | یَوُ خوشبوداره لرګے چه د خوشبوئی خورولو د پاره په اور سوے اَوُ لوګوے شی - |
| اَلصَّبوح :- | په عربئ کښې اَلِف لام په ځنو ځایونو کښې چه یَوُ اِسم سره وُلګوی نو مطلب ئے د تاکید یا په یعنی څیز د زور ورکولو وی - صبوح یا صبوحی یعنی شراب ته وایی چه د سحر څښلے شی - په دے مصرع کښې شاعر خپلو دوستانو ته یعنی شراب یادوی - |
| اَلوَے :- | اَلوَے - سَوے - وریت - سَوے پَنتوے (ج :- اَلوی) |
| اَلیم :- | دَرد او اَلَم رَسوُنکے |
| اَما :- | صور - اَمی |
| آماس :- | پړسوب |
| اِمتناع :- | منع کول - بندول - |
| اَمته :- | طمع - اَرزو - طلب - غوښته - |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| اَمته دار :- | پر طمع - طلب دار - غرضي |
| آنند :- | آرام - عیش - |
| آني :- | (آن = وخت) وقتي - وخت سره منسوب - چه مستقل نه وي وخت د وخته وي - |
| اَناعاصي وربّنا غفّار | : زهٔ گنهگار یم - اوٌ رب ځمونږه بخښونکے دے |
| اَنیوه :- | گنړه - گنړه گونړه - راپنډ - |
| اَندرول :- | دا لفظ تحقیق نهٔ کړے شو دلته د گنړلو معنے ورکوي - |
| اوڅار :- | ښکاره ، مشهور |
| اورنگ :- | تخت (د بادشاهئ) |
| اَهرَمَن | د بدئ طاقت - د بدئ دیوتا - شیطان - |
| اَهلِ سعیر :- | (ع - سعیر = اور - دوزخ) دوزخي - |
| آهوَمَن :- | (ښکاري لکه چه دا اِصطلاح عبدالقادرخان وضع کړې وي) د آهو په شان - د سوسئ په شان منځي وهونکے ، اوٌ ناقلاره - |
| اِستاد کول :- | ودرېدل - قیام کول - ایساريدل - |

## ب

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| بادپیمل :- | باد پیمانه کول - باد پېژي - خوشې اوٌ عبث خبرے یا کارونه کول - |
| بال :- | بال = وزر - سانګونه |
| بال کول :- | سرد پاڅ د وزرونو سورے کول - |
| بائے کا :- | بایلل - (بایلل) |
| بَبَر :- | اِص :- شیرِ ببر - ببر مزرے |
| بَدر :- | (۱) د څوارلسے شپے سپوږمئ - پوره اوٌ کامله سپوږمئ (۲) چنار |
| بَدنهاد :- | بد طبیعت ، بد طینت - بد اصل - |
| بڈائي :- | لوئي - کبر - فخر - |
| بڈوی :- | (۱) ډیر لږ توک بغرحصه چه پر تو غابښ پکښې اچوي - (۲) رِشوت |
| بَر :- | (۱) پاس - باندے - اوچت (۲) میوه (۳) غیږ |
| بَرایه :- | (ع : وراء = نږ) ورایه - ولړ نه - |
| بَرجَنه ، بَرزَنه | : میوه داره |
| بَرد :- | ساړه - یخني - ژے - |
| برند :- | ننغ - څرګند - بوک - سایقه یا لا ده |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| | اکثر ستړکې، ستړگو، سترکې سره یو ځائے استعمالیږي. لکه بربند ستر = شوخ چشم - بے حیا. |
| برېر :- | (لا : بڑھ بڑھ) صفتِ فعل دے. ځان نه نه استعمالیږي. دانلو سره ویلے شي. لکه :- بربر راشه ! یعنې زر، چاخ یا په ارتو قدمونو یا لویو گامو راشه ! |
| بربوکئ :- | د بادو یا د هوا په تېزئ چورلیدل. یا چکر خوړل. دېبريانو ډولئ. گرد باد ے. دا په اوړي کبن ډېرے پورته کیږي. |
| بغتةً :- | ناگاه - ناگهان - ناساپه. |
| بکس :- | یو ټے - دېرلږ. ذره. |
| بلادت :- | کُند ذہن کېدل. دا سے کېدل چه ماغزه یا دماغ ئے تېز نه وي. په خبره زر نه پوهیدل. |
| بلوسل / بلوسېدل :- | چېړل - تعرض کول - غرض ساتل. تکلیف رسولو په نیت ځان رسول. |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| بلبېدل :- | تاؤول - نغښتل - چاپېره کول. او رنړی کبن ترل. |
| بلیٰ ونعم کول :- | په عربئ کبن د ایجاب کلمے دي. بلےٰ اؤ د نعم یو معنی دي. یعنی اؤ - هو - ہاں - بلے - جی. |
| بمبره، بنبره :- | مچئ (زیړه - سره - توره مچئ) |
| بنده زاده :- | د مُرېي بچے - د غلام زوے. |
| بوتراب :- | د خاورے پلار - د حضرت علیؓ کنیت. یوه ورځ حضرت علیؓ په مزکه پروت وو. آرام ئے کولو. نو چه حضور علیه السلامؐ ولیدو نو په ډے نوم سره ئے ورته آواز وکړو، اؤ بیدار ئے کړو چه یا بوتراب ! د هغه ورځے نه دا د حضرت علیؓ کنیت شو. |
| بورجل :- | (۱) کور - مکان - د استوږنے ځائے. (۲) سنگر - مورچه - کمین گاه. |
| بوس وکنار :- | چچی کول او په غاړه کبن اخیستل |
| بول :- | (لا) : قول - وینا - خبره. |
| بُوم :- | گونگے (مارغه) چغد. (ص : سپېره - نحس. |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |
| بہیمہ :- | خاروے، چارپایہ، حیوان، ډنګر۔ |
| بئس مثوی الظالمین :- | خراب، بد یا ناکارہ کور یا ځائے د ظالمانو (دپارہ)۔ |
| بے زاد :- | بے توښے۔ ہغہ مسافر چہ ورسرہ د لارے توښہ یا خرڅ نہ وی۔ (زاد = توښہ یا خرڅ خوراک) |
| بیم :- | ویرہ۔ خطرہ۔ وحشت۔ ډار۔ |

## پ

| الفاظ | معنی |
| --- | --- |
| پخساک، پسخاب :- | ټول۔ کړاک۔ غم۔ فکر۔ پریشانی |
| پدیدار :- | ښکارہ۔ څرګند۔ ظاہر۔ نمایان۔ |
| پرتل :- | د سفر سامان۔ مال اسباب۔ د کوچ سازوسامان چہ د فوځ یا د قافلے نہ اول یا وړاندې استولے شی۔ |
| پرتلی :- | بارګیر۔ سامان او اسباب یا کډوہ وړونکے خاروے۔ |
| پربوونہ، پېروونہ :- | "تلے" سرہ یوځائے ویلے شی لکہ پربوونہ یا پېروونہ تلے۔ پہ آسمان کښې د څنو ستورو د یوځائے کیدو نہ څہ ځیز شکل غُند جوړ شوے دے نو پہ ښغوئے ښغہ شان نوم ایښے دے۔ لکہ تلہ (میزان)۔ لړم (عقرب) د غسے پروین ہم یوہ جوړمکہ غُند ښکاری چہ ورتہ اوہ خوبند ہم وایی۔ پېروونہ او تلے سرہ نېژدہ نہ دی۔ |
| پسللے :- | پیسولے چہ پسول ئے اچولی دی (پسول = کالے پترے۔ ګېنړه، زیو...) |
| پلورل :- | خرڅول۔ پہ بیعہ ورکول۔ |
| پورول :- | پورکول۔ پور یعنی قرض اخیستل۔ |
| پوشاپوش :- | د "ګرشئ۔ پچ شئ۔ د ځغلنہ یو ځوا شئ" شورماشور۔ پوش = د پیش شو مخفف دے څہ وخت چہ قافلہ یا ډېرکاډی پہ یو ځائے د یو ځائے نہ روانیږی نو خلقو تہ د ځنځ نہ ګړیدو او پچ کیدو دپارہ اوازکوی چہ پوش، پوش! |
| پخنشو :- | پہ آرام۔ پہ قلار۔ |
| پہوت :- | (اردو) یو ذات ځکے چہ ډېر پیک وی او چہ پوخ شی نو وچوی۔ |
| پہوړہ، پہوړہ :- | (اردو: پھاوڑا) پړوہ، بیل۔ |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| | خو دلته تر مراد ښځه نځته ده چه جوګیان یا ریاضت کونکی فقیران پریږدی څنګه کښېږدی او بیا پرخپل سر کښېږدی، ښځه وخت چه ښځوی څملی ټوله شپه په ناستی تېروی. |
| پېچوے :- | په دره کښې یا ښیے د غوږ سره چه تاؤ راتاؤ لاره وی. |
| پېړل، پېړودل | په بیعه اخیستل. |

## ت

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| تاب :- | تاؤ - وَل. |
| تاړی :- | (۵) لکه د کوېرے په شان یوه دلګه وُنه چه تار ورته وایی. مونږ ته ئے هم تار وایی، چه دا مېوه پخه شی نو تر نه لکه د پیو ټیکے اؤ څوږے اُبه راوځی ـــــــ د غه اُبو ته تاړی وایی. خلق ئے ډیر په شوق څښی۔ خو چه کښېښوے شی نو یؤ څو کښېنتو پس د دے اُبو رنګ بدل شی اؤ بیا ئے چه څوک څښی نو ورته لکه د معمولی شراب نشه ورکوی۔ |
| تاژده :- | (۱) تر او تازه - ملښه - ښښېرازه. (۲) لښته - ښنه تانده :- نری ښنه لښته چه ګزارئے ډېر بد وی. |
| تُبْ عَلَیَّ فَاِنَّکَ التَّوَّاب | په ما نظر وُکره. په تحقیق سره ته ډیر لوئے نظر کونکے یئے په رحمت سره. |
| تجرید :- | یوازے والے. بیلیدل. د هر څه نه جُدا. د ټولو مادی څیزونو نه بے تعلق کیدل اؤ بیل کیدل. |
| تجنیس :- | هم جنس کیدل - یؤ شان کیدل. د علم بدیع د یو صنعت نوم دے چه په کښې په یوه فقره، مصرعه یا یؤ شعر کښې دوه دا سے لفظونه راوړی چه د وایه یو بل سره ډیر مشابهت لری. یا یؤ شان وی اؤ معنی ئے بدلے وی. |
| تخمیر :- | خمیره کیدل |
| ترب سینَ :- | کنایهٔ ټول قرآن شریف - د بسم الله د "ب" نه واخله د "والناس" تر "س" پورے. |
| ترحُّم :- | (۱) رحم، ترس، مهربانی (۲) رحم وُکره! |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| تَرسا :- | گبر- د اورپرستش کونکے. نصرانی، کافر، مشرک |
| تْرو / تْروسکه :- | تو- ګګ- د دے د پاره- ترِ ترېغه- په دے وجه- |
| تْروټه :- | نقصان- تاوان- چټی شوے. |
| تْروړیٔ :- | لُومبړه |
| تَزئین :- | زيب زينت وركول- مېنګلا- سنګباليښت- جوړول، آرايش زيبايش |
| تَصدیع :- | تکليف. سردردے- |
| تَفرّج :- | سيل، تفريح، زړه خوشحالول. |
| تَفضِیل :- | لوئے والے. فضيلت- شرف- |
| تلبِدل :- | (١) توئېدل (٢) په تيلو يا غوړو كښې پخېدل- سوركېدل- ترسكېدل. |
| توامان :- | (ج: د توام= برغد- يَوْماشوم چه د بل ماشوم سره يَوْځائے پيدا شي) جوړه يا برغد ماشومان چه يَوْځائے پيدا شوي وي. |
| تَوَلّا و تَبَرّا | مينه اَوْ نفرت- (تَوَلّا:- مينه محبت يا دوستي ساتل) اَوْ (تبرّا:- کنځل، بدْ وينا، لعن طعن، وېزاري نفرت) |
| تیرهِ دِل :- | تورزړے، ظالِم، ناترسَ- جاہل |

## ټ

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| ټانګ :- | وخت- موقع- ځائے- لاره. |
| ټَپکے :- | د ټپ اسم تصغير- ټپ- کمزورے- ناتوا |
| ټنډ ور :- | اَنبار، دلئ، ډېرے |
| ټنډ ورول :- | اَنبارول |

## ث

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| ثَقَلَین :- | (١) دواړه جهانَ (٢) بنيادم اَوْ پېريان (د |
| ثوابِت :- | (ع- جمع: د ثابِت = قايم) د سيارو ضد- هغه ستوري چه په ځائے ولاړ دي اَوْ گرځي نهَ- |

## ج

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| جاوید :- | ہمیشه- تل- دايم |
| جَحیم :- | د دوزخ اور، دوزخ |
| جَسْر :- | پُل |
| جِکی جِکی :- | د مِنت اَوْ زارئ د اظهار د پاره کلمه |
| جلاجل :- | (ع- جمع د جُلجُل = د ګونګرو يا د ټمبل اَواز) په ټميلوتو اَوْ داريانو کښې چه ګونګرو ګان لګېدلي وي د هغو اَوازونه. |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| جَلی :- | صفا، رونړ، بنکاره، څرګند، غت غټ (ټکی)، په زوره زوره (ذکر یا لوستل) |
| جَل :- | اوبش. |
| جِند :- | (ه - مخفف: دجِندړی = ځان) ځان، تن، وجود، ژوند - |
| چوکه :- | (۱) (ه - جونک) ژوری - جوره. (۲) (ه جهوک) تول - وزن. |

## ځ

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| ځغستنا :- | ځغابنت - ځغل - منډه. |
| ځَل / ځله / ځلے :- | سابقه ده. ځوله یا ځوے سره یوځائے ویلے شی. ځله ځوله یا ځلے ځوے - تېزی. سعی او کوشش. طلب. شوق. مینه |
| ځور :- | (ع - جَور = ظلم) ظلم، ستم، جبر، زور زیاتے - جفا. |

## چ

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| چَر :- | (مخفف د چار = کار) چار، کار، خبره - معامله. |
| چرکینه :- | ګنده - |
| چُوړا :- | (ه - چُوړا = لوئے بنګړے) دلته مراد ترینه د پښو بنګړی یعنی پایلے دی چه آواز کوی. |
| چُومي :- | (اردو، چُومنا = چُمی کول) چُمی کول بوسه اخیستل - |

## خ

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| خَره :- | (ه - چهړا = یوازے، مجرد) بالکل خالص، مجرد - تش لاس - پے وسے |
| څرپے بړپے :- | باقی پاتے. کوچری پوچری - د هر څیز د ګټیدو یا خرڅ کیدو نه پس چه په آخرکښ څه لږ غوندې پاتے شی او بیخه وی خراب. |
| څکړل / څکېړل :- | (ه - جکڑنا = کلک تړل - ټینګول) تړل - راګېرول - په دام، لومه یا ګمند کښ بندول - |
| څلور قُل :- | څلور آخری سورتونه چه د "قُل" نه شروع کیږی :- قُل یا ایها الکافرون. قُل هو الله احد. قُل اعوذ برب الفلق. او قُل اعوذ برب الناس - |

## ح

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| حاقاف :- | ح - ق = یعنی حق |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| حُب :- | مینه، محبت |
| حَبس :- | قید - بند - بندی خانه - جیل. د هوا بندېز - د مرئ یا د ساه خفه کېدل. |
| حَذر :- | (ع - حَذَرَ = خبرداو وسېدل) وېره - ډار - خطره - احتیاط |
| حَرِیر :- | (ع - حَرَّ = گرمېدل) رېښم. رېښمینه کپړا. |
| حَظ :- | (ع - حَظَّ = خوش قسمت کېدل) خوند - مزه - عیش - بخت - اقبال. |
| حَلاوت :- | (ع - حَلوَ = خوږ کېدل) خوند - مزه لذت - خوږوالے - شیرینی - راحت آرام - آنند. |
| حُمات :- | (ع - جمع د حامی = حمایت کونکے) طرف داران - پره داران - ملگری |
| حَمِیم :- | (ع - حَمَّ = تودکېدل) تود - گرم. |
| خاطرکښتان :- | زړه راکښونکے یا راکښونکی. |
| خائف :- | خوف - وېره - خطر - ډار. |
| خپسر | دا د پښه او سر نه مرکب دے یعنی د سر نه تر پښو پورې - ټول وجود - سراپا. |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| خُت :- | قمیص - پیښئ. |
| خرخاری :- | کله کله دوه خرونه، یو بل ته مخامخ نیزدې ودرېږی او دواړه په غاښونو یو بل ته خت په یو انداز گروی - دلته مراد دادے چه د یو کار بدل په هم هغه هُمره انداز خلاصول څه بنه خبره یا نیکی نه ده - لکه الف ولکی او د ب ماشوم ته یو قیصکے جوړ کړی او څه موده پس د ب، هم هغسے یو قیصکے د الف ماشوم ته جوړ کړی، نو داخه بنه بدل نه دے. |
| خفی :- | پټ - رو - پنهان. |
| خیر :- | تیار - آماده - سخت - شرمنده. |

## د

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| داد کول :- | ورکړه - بخښنه کول - ور بخښل. |
| داریال :- | تمبل - دف. |
| داند :- | (س - دانت = ساتلے شوے غویے. یا سخوندر، غځکے - پنجابی - داند = غویے) (۱) غویے (۲) څاروے. |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| دَر :- | (اسمِ صفت) داړونکے - شیرونکے. |
| دَربیشت:- | دَربیش - یوُ قِسم شیرینی ده، چه د وریژو د اړو نه ئے جوړوی. |
| دُرد :- | (د خُم یا د بل لوښی) په وبخ یا تل کښې پاتے (شراب) چه ښځه تینګ اَوْ خیرن وی. |
| دُرد آشام:- | دُرد څښونکے. |
| دُره دار:- | کِنایۃً، حضرت عمرؓ. ښځه به دُره ساتله اَوْ په ځنے موقعو کښې به ئے شرعی سزا په خپل لاس په دُره ورکوله. |
| دَرہم:- | کلو ود - لاندِ بانډِ. |
| دروه :- | (س) دوکه - فریب - چل وَل - دغا. دروغ - ټګی - درغلی. |
| دشنه | (۱) دشمن (۲) دشمنی • |
| د عرفان باب:- | (عرفان = پیژندګلی، معرفت، باب = دَر - دروازه - وَر) ښځه لار یا وَر چه په ښځے د الله تعالیٰ معرفت حاصل شی. |
| دَلق :- | ګُدړَیْ - کَنډ. |
| دَمع :- | اُ بښکے. |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| دنانیر :- | جمع د دینار - د یوے زړے سکے نوم دے. |
| دُوک :- | (ه - دُکھ) دَرد - تکلیف. |
| دُوند :- | (ه - دُھند) خړه - غبار - تیارهٔ. دسترګو د مرض نوم، چه په کښې ئے صفا نه ښکاری |

# ذ

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| ذُرِّیت :- | اَولاد - زامن لونړه - نمسا نمسیٰ کړوسی. |
| ذَکا - ذکی | د ذہن، دماغ، یا د عقل فکر تیزی. |
| ذَلَّ مَنْ طَمَعَ، عَزَّ مَنْ قَنَعَ :- | ذِلّت ئے وموندو چه طمع یا حرص ئے وکړو. عزّت ئے وموندو چا چه قناعت وکړو. |
| ذَم :- | بد ویل - ہجوه - مذمت. |
| ذَہَب :- | سرهٔ زَر - د اَلْګی زیږ |
| ذِئب :- | شرمخ. |
| ذِی النُّورین:- | د دوؤ نُورو خاوند - د حضرت عثمان غنی رضه لقب، ځکه چه د حضور ص دوه لونړه ہیبیا نے رض پرله پسے د دهٔ په عقد |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| | راغلی وے۔ |

## ر

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| راغلہ | جمع : د راتلل - راتلنہ - راتلو۔ |
| رُحَمَاءُ بَیۡنَہُمۡ :- | رحم کونکی یخپلو کښ په یو بل باندې۔ |
| رُستګاری :- | نجات موندل - ځان خلاصول - |
| رِفض :- | (ع - رَفَضَ = پرېښودل) د رافضیانو عقیدهٔ یا مذہب - بدعت - اختلاف - ځکه چه د شیعه کانو دے قولی اؤ حضرت زید بن علی بن حسین رض په لاس بیعت وُکړو، اؤ بیا چه حضرت زید رض دوئ د تبرا نه منع کړل نو دوئ دسغهٔ بیعت مات کړو اؤ هغه ئے پرېښو۔ |
| رَمِیم :- | زاړه، وراستهٔ (بوړوکی) |
| رنتھبور:- | (د بھارت، راجستھان) دے پُور ریاست په سوائی مادھوپور نظامت کښ د غرهٔ دپاسه یوه زړه قلعه چه د اورنګزیب بادشاه په حکم خوشحال خان خټک پکښ یؤ څو کاله بندی ساتلے شوے وو۔ |
| رُوغ :- | قرین - موزون - مناسب - ټیک - |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| | درست - په ځائے - کېدے شی چه - |
| کشایل :- | (ف - کشودن) پرانیستل۔ |
| | روژه کشایل :- روژه ماتول یا افطار کول۔ |
| روکه :- | (ہ - روک) نغده - ثابته - کوره (روپئ) |
| ریش :- | زخم - پرهار - |
| ریشخند :- | خند؟ - په چا خندل - ټوقے ټچوړے |

## ړ

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| ړنګ :- | شاړ - وران - برباد - اُوجاړ - |

## ز

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| زاد :- | توښه - د لارے د خرڅ خوراک سامان |
| زار :- | وېزار - ګلدمن - مُتنفّر۔ |
| زباد :- | ثابت۔ |
| زِدنی علما :- | زیات م کړه علم۔ |
| زرغے سترګے :- | د شنو اؤ دسرو سترګو ترمینځ یؤ قسم شربتی غُنډ رنګ سترګے۔ |
| زِشتی :- | خرابے - ناکاروالے - بدی۔ |
| زَغ :- | زنی - زنه۔ |
| زهوب :- | نوَے - زوړے - د زخم اُبه۔ |
| زیار :- | افسوس - ارمان |
| زیب وزین :- | زیب اؤ زینت۔ |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| **ژ** | |
| ژواک :- | ژوند- |
| ژوے :- | ژوندے- زندہ سر- |
| ژمنه :- | لوظ- قول- وعدہ- عهد- |
| **س** | |
| ساعد :- | مړوند- څنګل- |
| سامعان :- | اوریدونکی- |
| سببے یا مسبب الاسباب :- | سبب جوړ کړے یه سبب جوړونکیه ! |
| سپور :- | سور |
| سپهر :- | اسمان |
| سترګئ :- | چشمه- چشمے- عینک- |
| ستئ :- | ښځه ګنړ ښنده چه مړخاوند سره ژوندئ خپل ځان په اورکښې سیزی- |
| سجین :- | دوزخ- اوم دوزخ- |
| سحاب :- | وریځ- |
| سخ :- | بخت- خوشحالی- |
| سردفتر :- | افسر- حاکم- |
| سرزده :- | سروهلے- سروهلے بروهلے |
| سرنوشت :- | دتندی لیک- قسمت- دکتاب نوم- |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| سفله :- | وذیل- کمینه- سپک- ناکاره- |
| سقر :- | دوزخ- جهنّم- |
| سکد، تروسکد :- | نو- بیا- څکه- (ؤکورئ ترو) |
| سمخ :- | لفظ "سور" سره په طور د لاحقے لګی- لکه سوړ سمخ- یعنی یخ یخ- سوړ- یخ- |
| سمن :- | چامبیل- د چا مبیلو ګل- |
| سمنبر :- | د چامبیلو دګل په شان وجود لرونکی- نازک- لطیف- معشوقه |
| سمند :- | بادامی رنګ اس- اس- |
| سمین :- | غټ- غټ پټ- څرب- |
| سوبه :- | مراد- مطلوب- د زړه غوارنه- |
| سیاره :- | سورے- سوبره- مرض چه پکښې وجود وُچ شی- |
| سیال :- | سارے- یوُ برابر- همسر- اصیل- |
| سیلی :- | ګړه- بنګړے- |
| سانګونډکول :- | ګرځیدل- ګردش کول- څرخ خوړل |
| **ش** | |
| شاهِ نجف :- | حضرت علی کرّم الله وجههٔ- ځکه چه په نجف کښې د دوئ روضه ده- |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| شبان | شپون۔ گډبه۔ |
| شبچراغ | اور اورکے۔ د یځ ہمره وړوکے الوتونکے چینجے، چه په تیاره کښې ځلګی لکه د ډیوے روښانه وی، پرقیږی۔ |
| شرالانام | ضد د خیرالانام۔ په خلقو کښې د ټولو نه زیات شری۔ خراب، ناکاره اؤ بد۔ |
| شُفَتَن | (شُفَت = ستُونلیٔ) دواړه ستُونړے۔ |
| شکستن | (ف) ماتول۔ ماتیدل۔ |
| شکیب | صبر۔ تحمل۔ |
| شناکول | تاریٔ۔ لامبو۔ |
| شنده | د نه کولو کار۔ کانړ۔ فساد۔ تموقے۔ مصیبت۔ |
| شنوا | اوریدونکے |
| شوپرک وار | دشاپیرک پشان۔ |
| شُوملَ | څنبل |
| شُومی | څښمی |
| شپب | بوړا توپ۔ زوړ والے۔ |
| شتیٔ، شوتیٔ، شیتیٔ | (١) توکلہ یا توکہ (٢) غشے۔ |

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| شیخین | دوه شیخان۔ مراد ترینه یؤ حضرت اَبُوبکر صِدّیق رضؓ اَوْ بل حضرت عثمان غنیؓ دے۔ ځکه چه د دواړو عُمر د حضرت عُمر فاروق رضؓ اَوْ د حضرت علیؓ نه زیات وو۔ |
| شید | دوکه۔ دغا۔ فریب۔ مکر۔ "مکر" سره په یؤ ځائے ویلے شی۔ |
| شَین شَین | په خوند خوند۔ په ناز په نخرو۔ په مزه مزه۔ |
| صباحت | سپین رنګ۔ ښایست۔ |
| صرصرد فنا | د مرګ تیز اَوْ تُند باد یعنی مرګ۔ دګڼرو خلقو مرګ۔ وَبا۔ |
| صمصام | (١) زړه ور۔ تُورزن۔ (٢) تُوره۔ تیره تُوره۔ تُوره چه کږیږی نه۔ |
| صنعان | (شَیخ) یؤ مشهور بزرګ، چه په مریدانو کښې ئے شیخ عطار ہم شامل وو۔ وایی چه یؤ ځلی ګمراه شوے وو۔ اَوْ د یؤ نصرانی په لوُر مین شو۔ په دے سلسله کښې ئے څو کاله د ښخوئ سوُرانړ څروُل۔ بیا په سمه لاره راواوښیدو۔ |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| ط | |
| طالع تورکېدل :- | د نصیب د ستورې رنړا تلل - یعنی بد بختی راتلل - |
| طربنا کے اُبّه :- | زړهٔ خوشحالونکی اُبه - یعنی شراب - |
| طولِ اَمل :- | اُوږدهٔ اُمېدونه - کنایهٔ د دنیا حِرص |
| ع | |
| عاریت :- | لږ وخت د پاره یو شے اخپستل - قرض - پور - وام - |
| عالِم رَبّانی :- | د الله تعالیٰ د معرفت علم لرونکے - |
| عَرعَر :- | د سروِ په شان یو خوشبوئ دار بوټے - |
| عَسَس :- | کوتوال - لوئے تانړېدار - |
| عَسَلی | عسل = گبین - عسلی = د گبینه - چه د گبین نه جوړ وی - یا چه گبین په کښې گډ وی - |
| عِصیان :- | گناه - |
| عِظام :- | (ع - جمع د عَظم = هډوکے) هډ وکی - |
| عَلَف :- | گیاه - واښه - |
| عِلّی :- | د عِلتونو اَوُ شک شُبهے نه ډک - |
| عُمّال :- | (ع - جمع د عامل) حاکمان - تحصیلداران - |
| عَمیم :- | عام - ډېر - پرېوانه - پوره |
| عِنَب :- | انگور - کوور - |
| عینَین :- | دوه سترگے - |
| غ | |
| غاوَ :- | شور - شور شار - |
| غُباری جامے :- | د دوړو خاورو جامے - یعنی په وجود دومره دوړے پرتے وی چه وجود پړ لکه د جامو پټ وی - |
| غَضَنفَر :- | مزرے |
| غِل و غِش :- | خیرے - کوټ - کږوالے - خچن والے - |
| غمزُبا :- | غم وړونکے - |
| ف | |
| فَاخلَع نَعلَیک :- | کوزے کا دواړه پڼړے دِ - |
| فُتُوَّت :- | (ع - فَتیٰ = ځوان) ځلمیتوب - مړنتوب - ځوانمردی - |
| فَر :- | رونق - شان شوکت - |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| فرد :- | بے مثال۔ لاثانی۔ |
| فرقدین :- | (جمع د فرقد = دیو ستوری نوم) په آسمان کښې قطب شمالی ته نیږدے دا دواړه ستوری د ماښام څرګندیږی اؤ تر سحره هم هلته نیږدو ګردش کوی۔ |

## ق

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| قَالَ یا لَیتَ ربِّ کُنتُ تُراب :- | ووېٔ ائے کاش (یا ارمان دے) ربه چه زهٔ خاورے وے !۔ |
| قبلی :- | د اول نه۔ |
| قراضے :- | (جمع د قراضه = په قینچئ پرېکړی نړئ نړئ اؤ وړے وړے ذرے) په مقراض یعنی په قینچئ کمارئ نړئ نړئ پرېکړی اؤ بیائے ناویانو ته په تندی پورِ کوی۔ په اردو کښې ورته افشاں وایی۔ |
| قسیم :- | وېشونکے۔ وېش کونکے۔ تقسیمونکے |
| قطعیت :- | پرېکون۔ |
| قفا :- | شا۔ |
| قُل اَعُوذُ بِرَبِّ لیل و نهار :- | ووایه، زه پناه غواړم په رب د شپے اؤ د ورځے سره |
| قوت :- | خوراک۔ روزی۔ |

## ک

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| کاحتی | (قحط) قاحتی۔ قاتی۔ کات۔ خشک سالی۔ کال |
| کانی :- | کنایهٔ د شروع نه۔ |
| کاه :- | واښه۔ |
| کپاروند :- | کفرونه۔ یعنی زبردست کارونه۔ |
| کج رفتار / کج گرد :- | کوږ تلونکے۔ شاعران آسمان دپاره وایی چه ګنی هغه په رفتار کښې راست نه دے، کوږ دے، ځکه چه د بدنصیبئ اؤ د خرابئ ټوے خبرے آسمان سره تړی۔ |
| کَر :- | کونړ۔ |
| کروړی :- | کروړپتی۔ ډېر زیات مالدار۔ |
| کړمون :- | دردونه، کړاوونه۔ غمونه |
| کمین :- | مورچه۔ سنګر۔ |
| کنّاس :- | (۱) چوړے، مهتر (۲) جلاد |
| کنشت :- | آتشکده۔ د یهودیانو د عبادت ځائے۔ |
| کُن فِکان :- | (وشه نو وشول) یعنی دا ټول کائنات |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| کوټ :- | قلعه. |
| کویلے کویل :- | ښکرے. خصوصاً وریژے چه وسوزی اَوُد دېګ یا د دېګچې د بیخ پورِ ونښلی نو دے ته کویلے وایی. "کویل" معنے معلومه نه شوے. غالباً دلته د کویلی د ګروټو یا د کویلی د خوړلو معنے ورکوی. |
| کے :- | (۱) ع. داغ. (۲) ف. څوک. (۳) ف. د ایران د پخوانی کیانی بادشاهانو لقب. لوئے. شاهنشاه. |
| کیش :- | طریقه. مذهب. دود. |

## ګ

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| ګانده :- | صبا. راتلونکی ورځ. |
| ګرت :- | د دوو ګټو په وچ کښې مینځنۍ حصه. |
| ګرد باد :- | (ف) بربوکئ. دېړیانو ډولئ. |
| ګریستن :- | ف. ژړل. ژړا |
| ګرنګ :- | لوپه کنده. لوئے کمر. دسیند غاړه، چه اُبه ئے ډېرے غرقے وی. |
| ګړی :- | (ه. ګهڑی = منټ یا منټو ته) منټ. |
| ګل ولاۓ :- | لوندے خاورے اَوُ خټے. لپه. |
| ګلیم :- | ګدړئ. کنډ. شړئ. |
| ګنډ :- | کنډ. ګدړئ. ګلیم. |
| ګوګل :- | سینه. ټټر. لرمون. |
| ګول :- | (۱) حیران. پریشان. اَریان دریان. (۲) زار. قربان. صدقه. |
| ګهنړه :- | (ه. ګهنا = کاڼے) زیور. کاڼے کالے پترے. ګهنړه. ګانړه. |

## ل

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| لَا :- | (ع) نه. (نفی) |
| لَمّا :- | (ع) چه. هرکله چه. |
| لَن :- | (ع) هرګز نه. هیچرِ نه. |
| لَا تَخَف :- | (ع) مه ویریږه. خوف مه کوه. |
| لَا تَقُل :- | (ع) مه وایه. |
| لا جواز :- | (ع) چه جایز نه وی. |
| لَا فَتیٰ اِلَّا عَلِیؓ :- | نشته څوک ځوان یا مېړه بے دَ علیؓ نه. |
| لاله عُذار :- | ف. دګلِ لاله پشان سره اننګی رونکی معشوقه. |
| لَا یُعَدُّ وَ لَا یُحصیٰ :- | چه شمار اَو حساب ئے نه شی کېدے. |

Marfat.com

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| لایعقل :- | بے عقل - بے شعور- |
| لبیب :- | (ع - لب = عقل) عقلمند - دانا - ہوښیار - (ج : لبیبان) |
| لشل :- | کوچ کول - تلل - کډه کول - |
| لقا :- | ملاقات - لیدل کتل - |
| لقا :- | څېره - مخ - بشره - |
| لل :- | ویل - (کول) لکه شاہدی لی. شاہدی کوی - گواہی کوی یا وایی- |
| للپدل :- | په ګنګئ یا چاړئ ژبه شه ویل- چه صفا نه شی ویلے. |
| لواتے :- | پرانیستی - وازے - وېزارے - فراخ- |
| لوړل :- | قسم خوړل - زاریدله |
| لولو :- | مرغلرے- |
| لوکئ :- | (ف - لوله = کچنئ، کنجړئ، کړېدونکی) چېره بیتا یسته، نازکه - کنجړئ- |
| ل نایه :- | له ځئ - د شپیلئ شه- |
| لئیم :- | بخیل - شوم - کمینه - |
| لیږدل :- | کوچ کول - تلل- |
| لیس فی الدار غیرنا دیّار :- | نیشته په کور کښې بے ځموږ نه نور اُستوږن- |

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| لیل :- | (ع) شپه- |

## م

| الفاظ | معنی |
|---|---|
| مآب :- | د ستنیدو یا د واپس کیدو ځائے - د ادب لفظ. |
| مانړه :- | مانه - ګله - شکوه. |
| ماوی :- | ځائے - ځائیګے. |
| ماوطین :- | اُبه اَوْ خاورے. |
| مېږن :- | ځرګند - ښکاره. |
| مټ :- | متھ - لاس - زور- قوت. |
| مجیب :- | قبلونکے - منونکے. |
| محصّل :- | محصول اَوْ حاصلات وصولونکے تحصیلدار - حاکم. |
| محاکمے کول :- | محاکمے کول - فیصله کول. حکومته کول. شرعی فیصله کول. |
| مخه :- | مقابل - مقابله کونکے. |
| مراجعت :- | واپس کیدل - پښتنه کیدل. |
| مربوب :- | چه د چا پالنه اَوْ پرورش کیږی. |
| مرصّع :- | ګلداره چه کندن پکښې شوے وی. آراسته. |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| مَرغچې :- | نقلی مرغلرے - مُشکنږے. |
| مُستجاب :- | قبول کړے شوے. |
| مشود / مبنود :- | (۱) مېښند. مالښی. (۲) سعی. کوشش. |
| مصاف :- | د صف تړلو ځائے. د جنګ میدان. جنګ. |
| مطول :- | اُوږد کړے شوے. اُوږد. |
| مُعَبّر :- | د خوب تعبیر وړونکے. |
| مُعتزلی :- | د معتزله منونکے. معتزله. د مسلمانانو یوه فرقه چه په عقائدو کښې د حنفیانو نه څه اختلاف لری. |
| مُعَنبَر :- | د عنبرو. چه عنبر پکښې ګډ وی. د عنبرو خوشبوئ لرونکے. |
| مَفطور :- | چه په فِطرت، جبلّت، خاوره یا خمیر کښې څه شے وی. یعنی فطرت کړے شوے. |
| مَقال :- | خبرے. خبرے اترے. چه څه وویلے شی. |
| مُقَدّم :- | قدم د کیښو ځائے. راغلے. راتلنه. |
| مُقِر :- | اقرار کونکے. |

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| مِکیال :- | پېچ - پیمانه. |
| مُمتلی :- | ډک. پُور. |
| منال :- | مال دولت. |
| مُنَغّض :- | خفه. مراوے. بے طبعه. |
| مُنفعِل :- | اَثر قبلونکے. کچه پیکه. شرمنده. |
| منی :- | کبر. غرور. |
| مهال :- | اَف: محل. وخت. موقع. ځائے. |
| مېزر :- | څادر. پړونے. |
| مهور :- | (ه. مور) طاؤس. |

## ن

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| ناځی :- | ګډېږی. |
| ناسره :- | ناکره. کوټه. |
| ناوک :- | غشے. |
| نائی :- | نَے یعنی شپېلۍ غږوونکے. |
| نِتلے :- | نیو لے. |
| نخول :- | نول. زړه خوړل. |
| نَدَم :- | ندامت. شرمندگی. پښیمانی. |
| ندیم :- | دوست. ملګرے. |
| نغال :- | پېزرے. بېزار. |
| نَعَم :- | (۱) اُو. هو. هاں. (۲) څاروے. |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| نِعَم :- | جمع د نعمت - نعمتونه |
| نُغْته، نغوته :- | اِشاره - لمسون - لمسه. |
| نقيبان :- | چوبداران - دربارته د بادشاه دراتلو خبر ورکونکي مُلازمان. |
| نَکال :- | عذاب - دُوک - درد - تکليف. |
| نَمَري :- | جامے. |
| نمخنه :- | حصه - قدرکول - پالل. |
| نورالابصار:- | د سترګو نُور يا رڼا - زړه ته ډير نيژدے - خوږے. |
| نُوم د عَلَم :- | هغه نُوم چه سړے پرمشهور وي. |
| نُون پيوند نه وو له کافَ :- | "ن" د کاف سره لا نه وو يُوځائے شوے - ک+ن يعنې لا "کُن" = وُشه نه وُو ويلے شوي - الله تعالىٰ لا د دے کائنات د پيدا کيدو حُکم نه وو ورکړے. |
| نويد :- | زيرے - خوشخبري. |
| نهار :- | (غ) ورځ |
| نيران :- | اور - دوزخ |

**و**

| الفاظ | معنے |
| --- | --- |
| وارِي وارِي :- | (ط) زار زار - صدقه صدقه. قربان قربان. |
| واژګون :- | اُپوته - اړوے. |
| والا :- | لوئے - اُوچت - بزرګ. |
| وُچُولے :- | تندے. |
| وُرَت وُرَت / رَت رَت :- | د ژړا يو قسم صفت دے چه پکښې زيات والے څرګنديږي. لکه په وُرَت وُرَت يا په وُرتو وُرتو ژاړي. يعنې په غټو اُښکو اَوْ په يو ځ ژاړي. |
| ورځ د ميثاق :- | د وعدے يا د لوظ قول ورځ. هغه ورځ يا وخت چه الله تعالىٰ په عالَمِ اَرواح کښې (دُنيا ته د راتلو نه اول) د بنيادم نه وعده اَخيستې ده. |
| وَرد :- | ګلاب - د ګلاب ګل. |
| ورزان، وزان :- | په چليدو، خوزيدو، الوتو. |
| وزله :- | وسيله - ذريعه - چاره |
| وَقِنا رَبَّنا عَذابَ النّار :- | اَوْ وُساته موږ يه رَب ځمُونږ د اور د عذاب نه. |
| وګړے :- | خلق - بنيادم. |

Marfat.com

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| وَلجہ / وُلجہ / اولجہ | د لوٹ مال۔ پہ میدان جنگ کښې چہ د دُشمن نہ څہ پاتے شی۔ مالِ غنیمت۔ |
| ویاند :۔ | وَیُونکے۔ غږ ہدونکے۔ |
| وِیل | کنایۃً رُونړ۔ روښانَ۔ بختور۔ بریالتوب۔ شان۔ بخت۔ |

## ہ

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| ہجرِ محبوب رأس کل عذاب :۔ | د محبوب بېلتون د ټولو عذابونو سر دے۔ |
| ہرآئین :۔ | ہر شان۔ ہر دستور |
| ہرګور، ہرګوره۔ | اَلبتہ۔ خواه مخواه۔ بالکل۔ ضرور۔ |
| ہراند :۔ | لګیا۔ آرام۔ بانډ۔ د پاسَ۔ ور پورِ |
| ہَل :۔ | اِیوی۔ یوی۔ |
| ہَم بالینہ :۔ | پہ یَوُ بالښت ورسره سر کیښونکی یا ځلا ستونکی۔ |
| ہواد، ہیواده | مُلک۔ وطن۔ |
| ہوډ بالے :۔ | د ہوډ خاوند (ہوډ = ضِد۔ خود داری۔ د مقابلے حِس۔ تفاخر۔ وقار۔) چہ څوک ہوډ لری۔ یعنی پہ ہغہ کښې دا پاس بیان کړې شوی صفتونہ وی۔ |
| ہیداد :۔ | اِہداد۔ زوړنہ۔ |

## ی

| الفاظ | معنے |
|---|---|
| یَسار :۔ | کیڼ۔ کَس اړخ۔ کیڼ لاس۔ |
| یَمین :۔ | ښَے اړخ۔ ښے لاس۔ |
| یُون :۔ | (س : یانَ = تلل۔ حرکت۔ کوچ) مزل (کول)۔ تلل۔ رفتار (کول) |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| ادبي تنقيد | مياں سيد رسول رسا | ۳/۵۰ |
| لوے تونګ | " | ۳/- |
| ...نګ نمونه | " | ۲/۵۰ |
| شمې | " | ۲/۵۰ |
| ...نۍ | " | ۴/- |
| مرور | " | ۴/- |
| خودکشي | " | ۴/- |
| قرآن پيغام (نوے ايډيشن) | " | ۲/۵۰ |
| ...يد يا ګلونه ( " " ) | " | ۸/- |
| باغ او باغ | " | ۱۲/- |
| ارمغان خوشحال مع مقدمه | " | ۲۵/- |
| سيد جمال الدين افغاني | فضل حق شيدا | ۲/- |
| ...سويلي | " | ۸/- |
| تړبور (عرف زيبا) | ايس اے رحمان کاکاخيل | ۴/- |
| ...کرے | " | ۲/۵۰ |
| ... او اديب | " | ۲/- |
| لمعات القرآن | حافظ محمد ادريس | |
| (اوله حصه پنځلس پارے) | | ۲۰/- |
| اسلامي قصے | " | ۲/- |
| تعليمي قصے | " | ۱/۵۰ |
| ديرسے قصے | " | ۱/- |
| زيرے قصے | " | ۱/- |
| کيږے | حافظ محمد ادريس | ۵۰ |
| ثلاثيات احاديث | " " | ۵۰/ |
| تعليم الدين اپښتو ترجمه | " " | ۴/- |
| دا سلام قانون وراثت | " " | ۱/- |
| د زړه قطرے | عبدالله جان اسير | ۳/- |
| قائد اعظم | احسان الله حافظ دانش | ۸/- |
| در او مرجان (ديوان عبدالحميد) ترتيب او حاشيه | ډاکټر سيد انوار الحق | ۲/۵۰ |
| ديوان کاظم خان شيدا مع ترجمه | " " | ۱۵/- |
| تې بې ګوره (نوے ايډيشن) | مياں تکويم الحق صاحب | ۴/- |
| صرف و نحو پښتو | عظيم شاه خيال | ۲/- |
| ګجرے | قلندر مومند | ۴/- |
| بانور | صاحبزاده محمد ادريس | ۴/- |
| زيرے | سيده بشرى بيګم | ۳/- |
| لشے | محمد اعظم اعظم | ۵/- |
| د بلبل زړه فرياد | اعظم خان اعظم | ۳/- |
| د زړونو پيغام | فيض محمد فيض | ۲/۵۰ |
| نوي ولګښتي | قاضي رحيم الله | ۳/- |
| پښتو انشاء کره (نوے ايډيشن) | " " | ۳/۵۰ |
| سنورى | رضا همداني | |
| سرود کهسار | محمد يونس سيتهي | |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| کے بیانے | عزیز مظاهری | ۲/- |
| ترجمہ ضرب کلیم | شیر محمد مینوش | ۳/- |
| تکریون (اول حصہ) | مولینا عبد القادر صاحب | ۷/- |
| " (دویم حصہ) | " | زیر طبع |
| نیم جام | فضل رحیم ساقی | ۳/- |
| مقالہ پښتو ترجمہ | محمد عباس | ۵/- |
| سنګلے پاکستان | پروفیسر عبد الرؤف نوشہروی | ۳/۵۰ |
| د قلم زړا | " " | ۱۰/- |
| تنکے مینہ | مسافر | ۳/- |
| پښتانہ (دَ تاریخ په رڼا کښې) | | |
| | میاں بهادر شاہ ظفر | ۳۰/- |
| تاریخ پښتو | عبد الحلیم اثر | ۱/۵۰ |
| حیدر | اشرف مفتون | ۲/۵۰ |
| سپرلے | " " | ۱/- |

| | | |
|---|---|---|
| پښتنے | سمندر بدرشوی | ۳/۵۰ |
| قافیہ | " | ۲/۵۰ |
| دَ ادب منارہ | " | ۲/۵۰ |
| د الم سوکہ | " | ۱/- |
| شکوہ اوُ جواب شکوہ | | |
| | ترجمہ حمزہ شنواری | -/۵۰ |
| دازہ پاګل دوم؟ اجل ختک | | ۵/- |
| زړونہ او حق | " | ۳/- |
| مکارم الاخلاق | ترجمہ قایم الدین خادم | ۷/- |
| نیک عمل | محمد عباس | ۵/- |
| ترجمہ احیاء العلوم | " | ۲/- |
| خرخ | عائشہ ملک | ۲/۵۰ |
| کادا کے | اشرف مفتون | ۱/۲۵ |
| امام اعظم | اسرار طوروی | ۱/۵۰ |
| رہنمائے پښتو | میاں بهادر شاہ ظفر | ۷/- |

محمد وقار احمد
ذخیرہ

Marfat.com